


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټړون

خپلې قدرمنې، درنې او پښتنې مور ته!

چې د سر وېښته يې د سره اوښتون څپېړو او نادودو، زما د روزنې او سوکالۍ په هيله له وخته مخکې سپين کړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ســــریزه

الحمد لله رب العٰلمین و الصلوآ و السلام علي خاتم الانبیاء و المرسلین و علي آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد :

په نورو ژبو کي په تېره په عربي ژبه کي زموږ د قبلې ( کعبې شريفي )،

مکې مکرمې، مدینې منورې او د حج د نورو سپېڅلو ځایونو د تاریخ او د حج د مناسکو په هکله ډېرکتابونه تالیف سوي دي. عربي تاریخ پوهانو او د اسلامي نړۍ د نورو گوټونو عالمانو په دې هکله ډېرڅه کړي دي .

خو افسوس چي د پښتو ژبي زېرمه د مکې مکرمې او کعبې شریفي د متبرك تاریخ او احوالو له شتون څخه تر اوسه بې برخي پا ته وه، چي په نتیجه کي موږ د خپلي قبلې او دغه ډېر ستر دیني، اسلامي منځي ( مرکز ) له سوابقو او پرمخې باندي د تېرو سوو حوادثو څخه نا خبره وو .

زموږ حاجیان چي به حج ته تله له ځینو کسانو پرته د حج د مناسکو او د حج د مقدسو اماکنو څخه به یې ډېرلږ معلومات درلودل، دا ځکه چي په پښتو ژبه د مکې،کعبې او د حج د تاریخ په هکله تر اوسه هیڅ کتاب نه وو لیکل سوی. او په نورو ژبو زموږ ډېروگړي پوهیږي نه.

له دې امله به زموږ حاجیانو د حج د سپېڅلو اماکنو په باب د مخکنیو معلوما تو پرته د حج د مناسکو د یوه وړوکي کتابګوټي له مخي حج کاوه. خو لکه چي پوهیږو یو عمل هغه هم د حج عبادت هله ډېر ښه خوندکوي چي سړی د هغه له سر، حکمت او سابقې څخه ښه خبروي. او د یوه ځای او اسلامي اثر زیارت هله ډېر په زړه پوري وي چي سړی د هغه له سوابقو څخه بشپړ معلومات ولري .

له بله پلوه موږ هره ورځ په پنځه وخته لمونځونو او نورو عباداتو او چاروکي مخ پر قبله درېږو، خو حال داوي چي له دې قبلې او د هغې د تاریخي څرنګوالي څخه ډېر لږ معلو مات لرو چي داسي نه ښايي.

له فرهنګي لحاظه هم که موږ د هر اسلامي هیواد یوه کتابتون یاکتاب پلورنځي ته ورسو، موږ به د کتابونو په فهرست کي ارو مرو د مکې مکرمې د تاریخ او فضایلو په هکله څو کتابونه ومومو، خوکه زموږ د هیواد کوم کتابتون یا کتاب پلورنځي ته ورسو، موږ به په دې هکله هیڅ کتاب و نه مومو او که وي هم به په نورو ژبو وي چي داسي هم نه ښايي .

له دې خبرو پرته هر مسلمان ته په کار ده چي د مکې اوکعبې، دغه راز د رسول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښار مديني منورې او نورو اسلامي مقدسو عبادتځايونو او آثارو د تېراو اوس مهال څخه د يوه کامل مسلمان په توګه بشپړ معلومات او مطالعه ولري .

نو د دې خبرو په پام کې نيولو سره او زموږ د پښتو خوږې ژبې د دغې بې بضاعتۍ له امله په تېره کله چې دغه خبري ماته په ځانګړې توګه په 1421 س. ( سپوږميز )کال کې د حج په جريان کې جوتي سوې، نو ما وپتېيل چې د مکې مکرمې او په دغه مبارکه بقعه کې زموږ د سپېڅلي قبلې؛ کعبې شريفې تاريخ په پښتو روانه او آسانه ژبه وليکم .

خو بايد اعتراف وکړم چې ما ته ډېر ژرځرګنده سوه چې زه د دغسې ډېردرانه کار د سرته رسولو واك او صلاحيت نه لرم. ځکه دا چاري پراخه مطالعه او ژور ليد غواړي چې زه له دې څخه بې برخې يم.

له بلي خوا زه او مکه شريفه ډېر سره ليري وو چې د دې کارد ترسره کېدو لپاره هلته تلل او راتلل هم څه آسانه کار نه وو. دغه راز د دې موضوع په هکله د کتابونو د برابرولو په اړه هم بايد وويل سي چې دا کار هم خورا ډېر ستونزمن دی. زموږ په هيواد کې په تېره په دغسې ناسمو شرايطو کي ترڅېړني د مخه د دې څېړنه ضروري ده چې د موضوع اړوند کتابونه چيري او څنګه په لاس راتلای سي.

خو په هر ډول څنګه چې مي په دې هکله هوډ کړی وو، خپل همت مي له لاسه ور نه کړ؛ بلکي په تلاښ مي ګوتي پوري کړې. لومړی مي د مکې مکرمې،کعبې شريفې او نورو مقدسو اماکنو په هکله د مأخذونو په تر لاسه کولو پيل وکړ، او بيا د هغو په مطالعه او څېړنه بوخت سوم، څو بالاخره مې وپتېيل چې د مکې مکرمې تاريخ وليکم، چې پای د لوی ښښتن په عميم فضل او احسان دا دی د دې درانه او با ارزښته کار ترعهده را ووتلم. دلته زه بايد ومنم او اعتراف وکړم چي دا کتاب نه زما په پوهه بلکې د لوی خدای ﷻ په اراده بشپړ سوی دی. د کتاب د څرنګوالي په هکله بايد ووايم چې ما په دې کتاب کې د افسانوي او ضعيفو روايتونو له راوړولو څخه تر وسه وسه ډډه کړې ده. او خرافي او مبالغه آميزه خبري مي نه دي پکښي راوړي. د کتاب د مصادرو په هکله بايد ووايم چې ما د دې کتاب په ليکلو کې له څلور ډوله آثارو څخه ګټه اخستې ده :

لومړی د قرآن کريم آيتونه او د رسول ﷺ او اصحاب کرامو صحيح احاديث او ويناوي دي. دوهم هغه تاريخونه دي چې د لومړي لاس موادو په ډله کې راځي،کوم چې په مکه مکرمه کې د تاريخي پېښو په مهال او يا هغو ته په نژدې مهال کې په مکه مکرمه يا مکې ته په نژدې سيموکي ليکل سوي دي. درېيم هغه تاريخونه دي چې په اوس مهال کي د مکې مکرمې يا د هغې د شا وخوا سيمو عربي مؤرخينو او نورو پوهانو د لومړی لاس منابعو پر بنسټ ليکلي دي. څلورم هغه آثار دي چې د موضوع په اړه ورڅخه استفاده سوې ده. لکه د تفسير، حديث، مناسکو، ادب او نورو علومو او فنونو معتبرکتابونه. دلته يوه خبره د يادولو وړده او هغه دا چې ما ډېرکوښښ کړی چې کتاب هرڅه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ وليکل سي او حجم يې غټ نه سي. او څنګه چي دا يو معلوماتي کتاب دی که څه هم ما  د خپلي پوهي سره سم تر بحث لاندي موضوعګاني د څېړني د ميتود او د تاريخ ليکني

د معاييرو سره سمي څېړلي دي خو د کتاب محتوا مې داسي راوړې چي د هرلږ لوستي  د لوستني وړ سي. له دې امله تکرار په تکرار د کتاب په متن او يا د هغه په لمن ليك کي  د مأخذونو تر ښوولو تېر سوم، ځکه که څه هم دا کار د تحقيق له اصولو او نورمونو سره سم کاردی، خو دلته يې يو د کتاب حجم زيا تاوه او بل د دغه ډول کتاب لوستونکو ته  د مأخذ ذکرکول دوني ضروري نه برېښي. خو بيا هم په بېلو بېلو برخوکي د ضرورت له مخي ځيني مأخذونه ښوول سوي دي.  البته بايد ياده کړو چي د دې کتاب په ليکلو کي دکتاب د وروستۍ برخي د ذکر  سوو مأخذونو څخه د کتاب په ډېرو برخو کي ګټه اخيستل سوې. که څوك غواړي چي  د مکې مکرمې په هکله نوره مطالعه وکړي کېدای سي له دغو کتابونو څخه هغه چي د مکې په تاريخ پوري اړه ولري په لاس راوړي او مطالعه يې کړي .

له دغو مأخذونو څخه د امام ازرقي (رح) " تاريخ يا اخبار مکه " ، " سيرآ ابن هشام " ،

د ابن جريرطبري، ابن خلدون او ابن کثير تاريخونه د مسعودي " مروج الذهب" ،

 "سمط النجوم العوالي" او " شفاء الغرام " د لومړي لاس هغه آثار دي چي ما مستقيماً ګټه ځني اخستې. يو شمېر نور اصلي مأخذونه هم سته چي متاسفانه زما لاسته رانه غلل، لکه د علامه ابن ظهيرآ القرشي " الجامع اللطيف في فضل مکآ و اهلها و بناء البيت الشريف "، د علامه

قطب الدين حنفي کتاب " الاعلام باعلام بيت الله الحرام "، د مصرد ابراهيم رفعت پاشا  " مراآ الحرمين " او د علامه بتنوني " الرحلآ الحجازيآ ". خو بايد ووايم چي د دغو کتابونو زيا تره برخي علامه محمد طاهر  کردي په " تاريخ القويم " کي په بشپړه توګه را اخستي کوم چي د مکې مکرمې په هکله يوجامع کتاب دی او په درې ټوکه، شپږو برخو کي چاپ سوی او پر فهرستونو او تصويرونو سربېره څه د پاسه ( 3240 ) مخونه لري. زه د هغه او ځينو نوروکتابونو له متن څخه د دغوکتابونو له محتوياتو څخه مستفيد سوم. د مکې شريفي د تاريخ په اړه په اوس مهالوکتابونوکي همدغه " تاريخ القويم "،

 "تاريخ المکآ المکرمآ " ، " قصآ و تاريخ الحضارات العربيآ " ، " تاريخ الحضارآ العربيآ " ،

 "خلاصآ الکلام" ، " الدين و تاريخ الحرمين " ، " تاريخ ارض القرآن " او " الرحيق المختوم "

او نوردي، چي زما سره سته او ما مستقيماً استفاده ځنې کړې ده. دغه او د کتاب په پانکي نورکتابونه ټول معتبر او موثق منابع دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکې باید ووایم چې دا کتاب ما صرف د پښتو او پښتنو د خدمت او د لوی څښتن  د رضا لپاره لیکلی، نو له خپلو پښتنو او نورو پښتو لوستو ورونو څخه په ډېردرناوی هیله من  یم چې دا کتاب ترلاسه کړي او ویې لولي او ماته د خدای په درباركي د بخښني او مغفرت دعا وکړي. البته زه پوهېږم چې زما په دې کار کې حتماً نیمگړتیاوې سته، انسان له سهوې اوخطا خالي نه دی که کوم ځای کومه غلطي را څخه سوې وي د خپلو نېکو او ښو اخلاقو  له مخې یې تصحیح کړي اوکه ماته د دې کتاب د بشپړتیا په هکله د لوستونکوگټوري نظریې راورسیږي زه به یې ډېر ممنون سم، اوکه خدای وکړه دکتاب په دوهم ځل چاپ کې به یې  په پام کې ونیسو. خو د لوی څښتن له لویه درباره هیله من یم چې کتاب د حاسد او جاهل له بد ویلو وساتې، ما له اجر او ثواب څخه بې برخې نه کړي او په خپل عظیم فضل سره مې تر تېروتنو او گناهونو را تېرسي .

سبحان ربك رب العزآ عما یصفون و سلام علي المرسلین و الحمد لله رب العلمین .

عبد المالك " همت"

د 1382 لمریزکال د غوا یي د میاشتي 23

د 1424 سپوږمیـزکال د لومـړۍ خـور 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه: لومړني معلومات

2ـ جزیرآ العرب

څنګه چي مکه معظمه د عربو د ټاپو وزمي یو ستر، لرغونی او سپېڅلی ښاردی او د دې ښار د تاریخ، مځکي او نورو په هکله معلومات د عربو او د هغو د ټاټوبي سره په ارتباط کي وړاندي کیږي. ځکه نو لازمه ده چي لومړی د عربو د ټاپو وزمګي او د هغو د اصل او نسب په هکله هم څه معلومات وړاندي سي.

د عربو ټاټوبی د طبیعي حدودو له مخې یوه لویه او پراخه ټاپو وزمه ده چي درو خواوو ته یې اوبه او یوې خوا ته یې وچه ده . خو عرب ورته جزیرآ العرب ( د عربو ټاپو ) وایي. دغه ټاپو وزمه د آسیا د لویي وچګګي په سهېل لوېدیزکي پرته ده چي د لمرخاته حد یې د فارس خلیج

( عربي خلیج ) څخه پیل سوی، د عمان د سمندرګي په ګېون د هند پر سمندر پای ته رسیږي. دغه هند سمندر د عربو د ټاټوبي پر ټولو سهیلي حدودو راګرځېدلی او د هغه پر لوېدیزو او شمالي برخو باندي ترسره سمندرګي ( بحر قلزم ) پوري رسیږي. او شمال لوري ته یې د سویز آبنا راځي. بیا یې شمالي حدود له هغې کرښې پیلیږي چي په سرکي یې غزه ده. دغه کرښه پرطبریه یا ( مردار ) سمندرګي تېریږي، د اردن د سیند ختیز ته رسیږي، بیا له دمشق څخه تېریږي،د فرات سیند ته غځېدلې او پرفارس خلیج پای ته رسیږي. البته د ځینو حدودو په هکله اختلافات هم سته .

د عربو ټاپووزمي ته نژدې هیوادونه د ختیز لخوا ایران، د سهېل لخوا هند، د لوېدیزلخوا حبشه، سوډان او مصراو د شمال لخوا سوریه، الجزایر او عراق دي .

عربي ټاپووزمه پراخه مستطیل شکله مځکه ده چي سور یې د ( 1200 ) کیلو مترو، اوږدوالي یې د ( 2000 ) کیلو مترو په شاو خوا کي اټکل سوی دی. ( تاریخ الحضارآ العربیآ الاسلامیآ ) او په قصآ و تاریخ الحضارات العربیآ کي یې د هغې ټول مساحت درې ملیونه مربع کیلو متره ښوولی دی. د عربو د ټاپو وزمي لویه برخه وچه او بې کښته بېدیا ده، سیندونه نه لري خو لوی لوی غرونه لري چي له هغو څخه د اوبو چینې راوتلي او په ځینو برخو کي تالابونه اوښاګان د مځکو ناوې ( وادی ) خړوبوي او شنې کوي. د دغي ټاپووزمي دننه د غرونو یوه لړۍ ده چي " سرات " ورته وایي . دغي لړۍ دغه ټاپووزمه پرلوېدیزاوختیزوېشلې ده. لوېدیزه برخه د سرات له لمني څخه د سره سمندر ګي ترلاندي برخي رسېدلې، ځکه نو د دغي برخي لاندي سیمي ته غور یعني ژوره یا کښته سیمه وایي. او څنګه چي دلته ډېره تودوښه وي. له دې امله یې تهامه بولي. یعني د تندي ځای. ختیزه برخه یې لوړه او سرحدونه یې د عراق سره نښلي. ځکه نو دغي برخي ته نجد یعني لوړه مګځکه وایي. او د دغو دوو برخو په منځ کي چي کومه مځکه ده هغې ته حجاز یعني بېلونکې پوله وایي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربو د ټاپو وزمي د زياترو برخو آب و هوا گرمه او وچه ده، خو ځيني برخي لکه طايف او نور پکښي سته چي د تودوښي په شپوکي يې هوا ډېره ښه او سړه وي. ان چي د يخنی په موسم کي يې ساړه دې کچي ته رسيږي چي د غرونو پر سرونو يې واوري ليدل کيږي. لنډه دا چي د عربو ټاپووزمه داسي يوه ارشوده چي بېلې بېلي هواوي، موسمونه او د ژوند بېل بېل ډولونه پکښي موندل کيږي او په دې ټاپو کي چي کوم وگړي اوسيږي د اروپا د وگړو څلورمه جوړوي .

3ـ عـــرب

عربو ته ولي " عرب " وايي ؟ دې پوښتني ته ډول ډول جوابونه ورکړه سوي دي. " عرب " له اعراب څخه مشتق ( اخيستل سوی ) دی،چي معنايې ژبوري او د زړه د خبري څرگندونه ده. څنگه چي د عربو قوم ډېر ژبور او غړاندی وو، ځکه يې نو خپل نوم عرب کښېښووی او نورو ته يې ( عجم ) يعني گونگي وويل:

د انسابو پوهان وايي: د دې ملك لومړی اوسېدونکی يعرب بن قحطان وو چي د يمن د عربو لومړی پلار دی، ځکه يې نو د دې ملك اوسېدونکو او دې ملك ته عرب وويل. خو دا ښخي د قياس او تاريخي معلوماتو مخالفه خبره بريښي .

د مځکپوهني ( جغرافيې ) پوهان وايي: د عربو د ملك لومړی نوم " عرباَ " وو چي وروسته " عرب " سو. بيا د دغه ملك اوسېدونکي هم عرب وبلل سول، چي دا درسته خبره

بريښي او تر اسلام وروسته هم دغه نوم پا ته سوی دی .

بل سوال دا دی چي دې ملك ته ولي عرباَ ويل سوی دی ؟ اصل دا دی چي په ټولو سامي ژبو کي " عرباَ " د ښېديا مفهوم رسوي. په عبراني کي "عربا " بيابان او ډگر ته وايي او په خپله عربي ژبه کي د دې لرغوني مفهوم پاتي شوني سته، لکه چي د عراباَ معنا بدويت دی او د باديې او صحرا عربو ته تر اوسه هم دغه نوم کارول کيږي .

څنگه چي د عربو ملك زياتره يو بې اوبو او وچ بيابان دی، په تېره هغه برخه چي له حجاز څخه د عربو ترباديې،شام او سينا پوري غځېدلې ده، ځکه نو د دې ملك نوم " عربا " اېښوول سوی او بيا د مهالونو په تېرېدو سره د دغه ملك اوسېدونکو ته عرب ويل سوي دي. په قرآن کريم کي د عربو ملك ته د عرب نوم نه دی کارول سوی. د حضرت اسماعيل  د

اوسېدني په يادونه کي دغه ملك ته " وادي غير ذي زرع " يعني بې کښته ناوه ويل سوې چي دا کټ مټ د عرب ژباړه ده. په تورات کي يې هم د اسماعيل  د اوسېدو ځای " مدبار " بللی دی چي معنا يې ناودانه ښېديا ده. اوکټ مټ د عرب ژباړه او د " وادي غير ذي زرع " مترادف لفظ دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرب لفظ ترټولو د مخه د عیسی؏ تر زېږېدو (میلاد) زرکاله پخوا د حضرت سلیمان ؏ په وختو کي اورېدل سوېدی او بیا په عامه توګه په عبراني، یوناني او رومي تاریخونوکي یاد سوي دي .

4ـ د عربو اصل او نسب

د اقوامو د تاریخ لیکونکو په اند عرب د سامي ټبر یوه څانګه ده او دا ټبر د حضرت نوح ؏ د یوه زوی " سام " اولاده ده. مؤرخینو عرب د نسلي پلوه دري ډلي ښوولي دي :

_1عرب بائده: یعني هغه لرغوني عرب تېرې چي ګردسره له منځه تللي او د هغو په هکله ضروري تفصیلات هم په لاس نه سي راتلای ، لکه عاد، ثمود، طسم، جدیس، عُمالقه او نور .

_2عرب عاربه یا قحطاني عرب : دا د یمن اوسېدونکي دي چي د یعګرب بن قحطان له اولادې څخه دي،کوم چي په تورات کي یې د یارح بن قحطان اولاد بولي .

_3عرب مستعربه یا عدناني عرب: دا د حجاز، نجد او د هغو د شاو خوا سیمو عرب دي چي د عدنان نومي له نسله څخه دي او عدنان د حضرت اسماعیل ؏ له نسله څخه وو. دغه وګړي په ( 19 ) قبل المسیح پیړۍ کي په حجاز کي مېشت سوي دي. دوی ته " مستعربه " ځکه وایي چي د اسماعیل ؏ مورنۍ ژبه عربي نه وه. ده عربي له جرهمو څخه زده کړه،کوم چي یمني قبیله وه. " مستعربه " یعني عرب سوی قوم.

د جنوبي جزیرآ العرب یعني د یمن اوسېدونکي د قحطان اولاد او د شمالي جزیرآ العرب یعني د حجاز،نجد، تهامې او نورو اوسګېدونکي د عدنان اولاد په خپلو سیمو کي دونه ډېر سول چي بېلي بېلي قبیلې ځني جوړي سوې .

قحطاني عرب تر اسماعیلي عربو ډېرد مخه په تمدن کي وړاندي تللي وه او په تېرومهالونوکي یې ستري ستري واکمنۍ درلودې چي زیا تي مشهوري یې حِمْیَرْ ،کهلان

اوسبا وې. اسماعیلي عربو هم ترحضرت مسیح ؏ د مخه او وروسته ځیني نوم وتي واکمنۍ درلودې چي تر ټولو نامتو یې نبطي حکومت وو .

5ـ جـده

څنګه چي جده اوس مهال زیا تره په سعودي عربستان کي د نړۍ د حج کوونکو لومړنی تم ځای بلل کیږي او په تاریخ کي ډېرځلي د مکې اوجدې په هکله په ګډه ځرګندوني سوي دي چي له دې امله هغې ته دحرمینو دروازه وایي. ځکه لازمه ده چي ددې ښار

په هکله څه وویل سي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 26 سپوږمیز. کال کي چي حضرت عثمان  له مدينې منورې څخه د عمرې لپاره مکې معظمې ته تشريف وړی وو، د مکې اوسېدونکو ورته وويل چي د شعيبيې د بېړيو تمځای (بندرگاه) چي د جاهليت له زمانې څخه کار ورځني اخيستل کيږي له مکې څخه ډېرليري دی،نو ته د جدې پرساحل نوی تمځای ودان کړه. له دې امله حضرت عثمان جدې ته ولاړ او د بندرجوړولوځای يې وکتی. او هلته يي د بېړيو د تمځي جوړولو حکم ورکړ .

د مسلمانانوخليفه هلته په سمندرکي غسل وکړاو ويې فرمايل چي:" دا مبارکي اوبه دي."

او حاضرين يې هم غسل کولو ته وروبلل. په دې ډول د شعيبيې پرځای جده د بګېړيو تمځی وټاکل سو چي اوس يې د بېړيو او الوتکو د يوه سترنړۍ وال تمځي ( بندر ) بڼه غوره کړې ده.

جده د سعودي عربستان يو ستر ښاردی چي پر " باب حرمين شريفين " سر بېره " عروس البحر الاحمر" ( د سره سمندرګي ناوې ) هم ورته وايي. مساحت يې تر( 1250 )کيلو مترو زياتيږي او تريومليون زيات وګړي پکښې اوسي. تر1980 ع.کال د مخه جده يو معمولي غوندي ښار وو، خو اوس دې ښار دونه پرمختګ کړی دی چي د امريکې او اروپا د ښارونو سره سيالي کوي. د دې ښارد سمندرپرغاړو باندې پاچهانو او لويو چارواکو لوي لوي محلونه جوړکړي دي چي هغوي ته ماډرني تفريح ګانې برابروي .

په جده کي نه يوازې ستري ودانۍ، پراخ سړکونه، ستر ستر پلونه،غټ اوستر بازارونه اولوی لوی خرڅلاوځايونه سته، بلکي فابريکې، تصفيه خانې،کالجونه، پوهنتونونه او دمدنيت نوري ډېري نخښې نښانې هم سته. د جدې په شاو خوا کي هرځای د تمدن او پرمختګ آثار ترسترګوکيږي. او د غير الکولي مشروباتو لکه کوکاکولا، پيپسې کولا، د مېوو د اوبو اونورو

خوراکي شيانو،کارخانې په کارلوېدلي دي. البته هلته نړۍ وال هوايي ډګر او حج ترمينل هم سته. خو هلته د داسي صنعتونو داسي نخښه نسته چي د هيوادونو د پرمختګ لپاره په کار وي .

د جدې د سوابقو په هکله بايد ووايو چي په شفاء الغرام کي وايي چي ابن جبيرپه خپله سفرنامه کي ويلي دي چي :" په جده کي يو ځای وو چي په هغه کي يوه کلکه، پخه او لرغونې ګمبته وه او ويل کېدل چي دا د بي بي حوا انا مځکي ته د راکوزېدو ځای دی."

او فاکهي په خپل" اخبار مکه" کې د حضرت ابن عباس په روايت وايي چي:" د حوا انا قبر په جده کي دی". شفاء الغرام زيا توي چي:" په جده کي د حوا انا قبر يو مشهور ځای دی."

د ايران د مظفرالدين شاه قاجار د وختو يو چارواکي مهدي قلي خان هدايت (مخبرالسلطنه) دخپل 1321س.کال په يونليك " سفرنامهٔ مکه " کي وايي:" په جده کي د ليدلو وړ ځای زموږ د انا قبردی. دحوا انا قبرنه وو يو قيامت وو؛ پنځوس ګامه اوږد دی د دغه قبر د سر او نو پربرابر يوه نيمه ورانه کوټه غوندي وه ". علامه محمد طاهرکردي په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخ القويم كي د الرحلاَ الحجازياَ د ليكوال علامه بتنوني له خولې د يوه اوږده بحث په ترڅ كي وايي چي د جدې په ختيزلوري كي د يوه كيلو متر په واټن د هغې د ختيزي دروازې په خوله كي ،كومه چي " باب مكه " يې بولي، يو اوږد قبردى چي ( 150 ) متره اوږد، يو مترلوړ او درې متره پلن دى او دغه د حوا انا قبر بولي. خو علامه كردي او علامه بتنوني دواړه دا خبره نه مني اوپه دلايلو وايي چي دغه د حوا انا اصلي قبر نه دى او ځينو ټګمارانو د خرافات خوښو ناپوهانو څخه د صدقو ټولولو لپاره له ځانه جوړ كړى دى. و الله اعلم .

## دوهمه برخه: د مكې مكرمې په هكله معلومات

6ـ مكه مكرمه

د عربو په ټاپو وزمه كي د اسلام د مقدس دين د راڅرګندېدو په مهال يو شمېر خپلواك ښارونه وه چي د ځانګړو سيمه ييزوچارواكو لخوا اداره كېدل. په دې ښارونوكي تر ټولو نوموتى د مكې ښار وو .

مكه د عربو او اسلام په پېښليك كي سترځاى او ارزښت لري، ځكه چي دا په ټوله ټاپو وزمه كي له سترو ديني مراكزو څخه باله سي او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان دحج او زيارت لپاره ورته را درومي او درناوى يې كوي .

د اسلامي هيوادونو دا محور او ملجاء ستر سوداګريز مركز هم دى. خلكو يې هم د تاريخ په اوږدوكي په سوداګري كي ستره ونډه درلوده او اوس يې هم لري. له دې امله يې استوګن د نورو هيوادو له حال احواله ډګ پر خبر او د پراخ نظر خاوندان دي .

په مكه مكرمه كي حضرت محمد  زېږېدلى، پكښي اوسېدلى، قرآن پر نازل سوى، د نبوت اعلان يې پكښي كړى او ديارلس كاله يې خپل رسالت پكښي تبليغ كړى دى .

كه څه هم د مكې ټولو خلكو لومړى اسلامي بلنه و نه منل او د حضرت رسول سره يې ښه نه كول، خو د مكې ترفتحې وروسته يې د اسلام په خپرولو او د اسلامي پوځ او دولت په قيادت او اداره كي ستره برخه واخيسته .

دا ښارداسي سپېڅلي ښار دى چي تراوسه په ټولو سياسي تحولاتو اوكورنيو او بهرنيو جنګ جګړوكي الهي قدرت، هغه او په هغه كي مقدس مكان ( كعباَ الله ) د اغيارو له نيوني او بلوسې ساتلى دى .

خداى دې د قيامت تر ورځي همدغسي، خوندي، ودان او ستر ولري آمين.

7ـ د مكې د نامه په هكله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې ته ځکه مکه وايي چې ګناهونه له منځه وړي. او يا له دې امله مکه ورته وايي چې د لږو اوبو مځکه ده او اوبه جذبوي. قيل : سميت مكآ لانها تمك الذنوب،اى تذهب بها، وقيل: لقلآ مائها. يا له دې امله مکه ورته وايي چې له هره لوري وګړي ورجذبوي او وربولي. وقيل: لانها يوْمها الناس من كل مكان فكانها تجذبهم اليها. يا له دې امله مکه ورته وايي چې وګړي ازدحام پرکوي او يو له بله سره پوري وهي. يا له دې امله مکه ورته وايي چې هر څوك چې هلته ظلم وکړي له منځه يې وړي. و قيل: لانها تمُكُّ من ظلم فيها،اى تُهلِكه. ياله دې امله مکه ورته وايي چې د جابرو واکمنو غرور اولويي له منځه وړي. وقيل : لانهاتمك الجبارين: اتُذهب نخوتهم .

8ـ د مکې شريفې نور نومونه

هداياآلسالك وايي چې مکه شريفه خدای په " بکه " بللې او د مکې هماغه د وګړو د ازدحام او يو له بله دسره پوري وهلو معنايې ورته ليکلې ده. و سما ها الله تعالي " بكآ "، قيل: لازدحام الناس فيها تبك بعضهم بعضاً اى يدفع في زحماآ الطواف. په تفسيرکبيرکي هم

د " بکې " معنا په پورته ډول کوي او وايي:" ځينو ويلي دي چې ما محمد بن علي الباقر وليد چې په مسجد الحرام کي يې لمونځ کاوه او ښځه يې د لمانځه تر مخه تېره سوه، نو وايي چې زه ورغلم چې منع يې کړم، مګر هغه وويل چې پرې يې ږده،ځکه مکه له دې امله " بکه " بلل سوې چې وګړي يو له بله ازدحام پکښې کوي؛ ښځه د نارينه د لمانځه ترمخه تېرېږي او نارينه د ښځې د لمانځه تر مخه تېرېږي، په دې ځای کي دا چاري پروا نه کوي."

په تفسير مظهري کي وايي: " بکه " او " مکه " دواړه په يوه معنا دي، عرب " ميم " په

"ب " بدلوي، لکه " نميط " او " نبيط " او " لازم " او " لازب " او " راتب" او " راتم ". خو ځيني عالمان بيا وايي:" بکه " کعبې او يا د هغې سره د طواف ځای ته وايي او " مکه " د مکې د

ښار نوم دی .

په تفسيرکشف الاسرارکي وايي: " بکه د مسجد نبوي نوم او مکه د حرم نوم دی". او امام فخرالدين رازي په تفسيرکبيرکي فرمايي:" شك نسته چې مراد له بکه څخه همدغه مکه ده. او د بکې د نامه يوه وجه دا بولي چې مکه د جابرانو مغزي ورماتوي او ظالم لا بده اراده نه وي پکښې کړې چې بيا يې غاړه ور پرې کړې وي او له لويی يې اچولی وي ."

همداراز په تفسيرکبيرکي د مکې بله معنا داسي کوي:" ځيني وايي چې مکه د مځکي په منځ کي پرته ده او د مځکي د چينو اوبه د مکې د لاندي څخه سرچينه اخلي. چې په دې توګه ټوله مځکه د مکې څخه اوبه اخلي ."

په تاريخ المكآ المكرمه کي محمد عبدالمعبود د علامه محمد طاهرکردي د تاريخ القويم په حواله ليکي چې:" د ابي قبيس او قعيقعان د غرونو ترمنځ برخه بکه ده اوکعبه د دغو دوو غرو په منځ کي واقع ده او مکه د همدغي مکې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار نوم دی". د مکې معظمې نور ډېر نومونه هم دي چې له هغو څخه ډېر مشهور يې : " ام القرٰی " او " بلد الامين " دي کوم چې په قرآن کريم کې يې هم ذکر راغلی دی.

علامه طاهرکردي په تاريخ القويم کې د مکې شريفې د ډېرشو نومونو په هکله د قاضي

ابوالبقاء بن ضياء الحنفي (رح) يو شعرنقل کړی او محمد عبدالمعبود په تاريخ المکاّ المکرمه کې وايي چې علامه جمال الدين محمد جارالله، په جامع اللطيف کې تردې زيات يعني

( 56 )نومونه راوړي دي .

9ـ د مکې شريفې جغرافيايي موقعيت

د اسلامي تاريخي رواياتو له مخې رب العزت مکه مکرمه د ځمکې د نورو برخو تر پيداکولو دوه زره کاله د مخه پيدا کړېده. ( دکعبې شريفې د پيداکېدو په اړه د دې کتاب په

[93]مخ کې تر[58] سرليك لاندې مفصلې خبرې سوې دي ). په تاريخ المکاّالمکرمه کې وايي چې مکه مکرمه د ځمکې د مخ په منځ کې واقع ده، کومه چې د ځمکې نو باله سي. ځکه نو مکې ته " ام القرٰی " وايي او دا ځکه د بيت المعمور سايه ده. علامه طاهرکردي ليکي چې مکه مکرمه د نړۍ زړه او د ځمکې منځ دی. او کعبه شريفه په مکه شريفه کې داسې نقطې ته ورته ده کومه چې د يوې دايرې په منځ کې وي .

دغه مقدس ښار د طول البلد په 39 درجو،39 دقيقو او30 ثانيو او د عرض البلد په 21 درجو،25 دقيقو کې پروت دی او د سمندر له سطحې څخه ( 330 ) متره لوړ دی. د مکې ښار په يوه تنګه ناوه کې واقع سوی چې چارچاپېر يې غرونو طبيعي دېوال پر راګرځولی دی .

10ـ د مکې څلور خوا وې

په تاريخ مفصل اسلام کې ليکي چې: " مکه د عربستان د ريګستاني ټاپو وزمې په لوېديز پلوکې پرته ده چې شمال ته يې مدينه منوره، ختيز ته يې نجد او رياض، جنوب ته يې يمن او لوېديز ته يې جده او سور سمندر موقعيت لري ".

د مکې د ښارپه هکله محمد بن هوقل په کال331 س.کې ليکلي:" د مکې ښارد شمال څخه ترجنوب پوري په اوږدو د معلا ( د جنت المعلٰی د مقبرې ) څخه تر مسفلې پوري، درې ميله او د جياد له لاندنۍ برخې څخه د قعيقعان غره ترشا پوري په بره، دوه ميله دی .

دغه راز علامه محمد لبيب البتنوني ( رح ) په 1329 س.کال کې د مکې د ښار حدود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شمال څخه ترجنوب پوري په اوږدو درې کيلو متره او له ختيزڅخه ترلوېديز پوري په بره د ابي قبيس له غره څخه د قعيقعان ترغره پوري يو نيم کيلو مترليکلي دي .

تاريخ المکآ المکرمه ليکلي چې د انسايکلو پيډيا اف برټانيکا د 1977 ع. کال په ايډېشن کي يې د مکې مکرمې ټوله رقبه (ارشو) لس مربع ميله ښودلې ده .

خو دې متبرك ښار د سعودي واکمنۍ په مهال ډېره پراختيا موندلې او اوس لا نور هم مخ پرترقي او لا زياته ودانې روان دی .

11ـ د مکې اوبه

په مکه کي د سيندونو او ولو رواني اوبه نسته او ټولي اوبه د مځکي له دننه څخه راباسي. د دې ځای خلکو له ډېره پخوا څخه تراسلام د مخه او وروسته د مکې په اړتيا وړځايونوکي ځاګان کيندلي وه او د چښنګ اوبه به يې ځني رااېستلې. د اسلامي خلافت له لومړيو څخه ځينو خلفاوو او نورو په مسجد الحرام او عرفات کي د چښنګ د اوبو د برابرولو لپاره کوښښونه کړي دي. په دې لړکي يو وخت خالد بن عبدالله القَسري د سليمان بن عبدالملك په امر هغوخوړو اوبو ته چې د ثبير د غره له لمني د " ثقبه " نومي ځای څخه راوتلې، حوض جوړکړاو د هغه اوبه يې د رصاص د نلونو په ذريعه مسجد الحرام ته و رسولې، چې د مقام ابراهيم،حجراسود او زمزم څا په منځ کي جوړ سوي حوض ته د فوارې په بڼه تو يېدلې.

کله چې داکارسرته ورسېدی خالد القَسري لوی خيرات وکړ، اوښان يې حلال کړه، غوښي يې پرخلکو ووېشلې او عامه مېلمستيا يې هم خلکو ته ورکړه. بيا يې خلك د جماعت لمانځه ته راوبلل،کعبې ته نژدې پر منبر وختی، د خدای ترحمد او ثنا وروسته يې وويل : " ای خلکو ! خدای ته حمد ووایاست او هغه امير المؤمنين ته چې تاسي يې د تروو اوبو پرځای په خوږو اوبو اوبه کړاست د عا وکړئ ". تاريخ ليکونکي وايي چې مراد يې له تروو اوبو څخه د زمزم اوبه وې. خو د دغو اوبو چښلو ته چا زړه نه ښه کاوه او د زمزم د اوبو پرچښلو به لا زياته ګڼه ګونه وه.کله چې خالد دا حال وليدی د يوې خطبې په ترځ کي يې د مکې خلك له دې امله ملامت کړه. بياخالد له حوض څخه اوبه د يوه نل په واسطه د صفا د دروازې سره د اودس تازه کولو ځای ته هم ورسولې. د بني اميه وو په پېرکي دغه حوض پرخپل حال پاته وو اوکله چې خلافت بني عباسو ته ورسېدی، د مکې حاکم داود بن علي بن عبدالله بن عباس هغه وران کړاو دغه اوبه يې د مسجد الحرام د دروازې سره يوه حوض ته واړولې. چې په دې کار

خلك ډېرخوشحاله سول. وايي چې بيا د دغه حوض د اوبو پرنل باندي په کال 256 س. کي د هغه وخت د عباسي خليفه يوه چارواکي بشرالخادم څه کار وکړ او په هغه کي د سمون په راوستلو سره يې بيرته د ګټې اخيستني وړ وګرځاوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول ويلای سو چې د اوبو د نلونو لومړي رامنځته کوونکي د مکې مکرمې

اوسيدونکي عرب دي او د اوبو د نل غځوني کار په دوی کي ديارلس سوه کاله پخوا تر سره سوی دی .

12ـ د زبيدې چينه

زبيده چې نوم يې اماَ العزيز وو او نيکه يې له نازه زبيده بلل، د ابي الفضل جعفرلور، د خليفه منصورعباسي لمسۍ او د هارون الرشيد د اکا لور اومېرمن وه.کله چې دا حج ته ولاړه ويې ليدل چې د مکې اوسېدونکي اوحاجيان د اوبو د لږوالي په سختو ستونزو اخته دي. نو په کال 194 س. کي يې په خپل ځاني لګښت د اوبو رسولو يوه ستره پروژه طرح کړه. هغې

د دې چارې د تر سره کولو لپاره ماهر انجنيران را غونډکړه او د " طاد " د غره او د " کراء "

د غره د لمنو د چينو څخه يې کار پيل کړ. چې پای د دې پروژې په پلي کېګدو سره د ولو او

تر مځکې لاندي سوبو له لارې د " طاد " اوبه مکې مکرمې او د " کراء " اوبه عرفات، د عرفات جبل الرحمت، مزدلفې او بالاخره په منا کي يوه لوی تالاب ته ورسېدلې .

"طاد " غرد مکې مکرمې څخه ( 35 )کيلو متره ليري شمال ختيز لوري ته د

مکې ـ طايف لويې لارې ته نژدې د "حنين" په ناوه کي پروت دی. د دغه غره د چينې اوبو د حنين د اوسېدونکو د کرکيلې مځکي او د خرما وني اوبولې. زبيدې د مخه مځکې له خلکو رانيولې، اوبه يې پردغو مځکو بندي کړې او د خپلي جوړي سوي ولې له لارې يې مکې ته ورسولې .

د " کراء " د غره چينه له عرفات څخه ( 12 ) کيلو متره ليري واقع ده. زبيدې د دغي چينې اوبه د " نعمان " د ناوې " اوجر " نومي ځای ته ورسولې او بيا يې له هغه ځايه تر عرفات لوړ د دوو غرونو په منځ کي تېري کړې. د عرفات مځکې، جبل الرحمت، مزدلفې او پاي يې په منا کي هغه تالاب ته ورسولې چې وروسته په " بئر زبيده " مشهور سو .

تاريخونه وايي چې پردې سترکار باندي د زبيدې يو زر اووه سوه زره مثقاله سره زرمصرف سول چې معادل يې يو مليون اووه سوه زره د سرو زرو ديناره کيږي. کله چې دا کارونه پای ته ورسېدل انجنيرانو زبيدې ته د دې کار د لګښت ليکلی حساب وړاندي کړ، هغې چې دغه مهال د بغداد د دجلې د سيند پرغاړه په يوه ستره ماڼۍ کي ناسته وه، امر وکړ چې د حساب دغه ټول کاغذونه دي دجلې ته واچول سي. او ويې ويل چې ما دغه حساب د حساب ورځې ته پرېښود. که پرچا څه پاته وي، هغه د هغو دي او که د چا پر موږ څه پاته  وي وربه يې کړو. بيا يې دغو کارکوونکو ته ښه انعامونه او سوغاتونه هم ورکړه. تردې وروسته

د " طاد " چينه په عين زبيده او د " کراء " چينه په عين عرفات مشهوره سوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بیا د نورو خلفاوو او امراوو لخوا د اړتیا پر مهال په دې ولو کې ډېر سمونونه راغلل. خو د اوومې هجري پېړۍ په وروستیو کې دغه اوبه د سیل د راتللو له امله بندې سوې، چې د مکې د ښار خلك له دې امله بیا د سختو ستونزو سره مخامخ سول. په تېره د حج په مهال د اوبو لړوالی تر دې کچې ورسېدی چې یو مشك اوبه به په لس دراهمه پلورل کېدې. دغه مهال د تاتارو د یوه پاچا سلطان ابو سعید خدابنده نائب السلطنه امیرچوپان عراقي خپل یوه اعتمادي سړي ته پنځوس زره دیناره ورکړه او په کال 726 س. کې یې بیا مکې مکرمې ته اوبه رواني کړې. خو دغه اوبه بیا له کال 930 س. څخه تر 970 س. پوري بندې سوې او خلك بیا له داسې سختو ستونزو سره مخامخ سول چې تقریباًدرې لیتره اوبه به په یوه سره پونډ خرڅېدلې. حاجیانو به له ډېرو لیرو ځایوڅخه عرفات ته اوبه وړلې. په عرفات کې به بې وزلو حاجیانو بېله اوبو د بل شي سوال نه کاوه او یا به یې شتمنو ته له ډېرو لیرو ځایو څخه اوبه راوړلې .

علامه قطب الدین (رح) وایي چې په 930 س.کال کې په لیرې ځاګانوکې هم اوبه وچې سوې. دی وایي : زه دغه مهال غټوکی هلك وم او د خپل پلار سره د عرفات پرډګرولاړوم. کله چې زموږ اوبه خلاصې سوې ما ډېرې لږې اوبه د سرو زرو په یوه دینار رانیولې او فقیرانو به له تندې چیغې وهلې او ویل به یې : " دغونه اوبه راکړئ چې حلق مې په لوند سي ". نو هغه وو چې د خدای فضل وسو، نا ببره باران و اورېدی، سیلونه راغلل او خلکو د سیل اوبه وڅښلې او خدای ته یې په ژړا وو وژړل .

بیا د دغو دوو ولو او چینو د سمون لپاره د سلطان سلیمان عثماني لخوا د مکې له مجاورینو څخه یو ناظر د مصلح الدین مصطفٰی په نامه وټاکل سو چې په 931 س.کال کې په هغوکې اوبه رواني سوې. بیا دغه ناظر د دغو چینو د څارنې لپاره د حکومت په پیسو تورمریان رانیول، د هغو د ژوندانه د لګښت مدرکونه یې ورته برابرکړل او د تل لپاره یې دې چارې ته وګومارل .

هغه یو وخت د دې کارد رپوټ ورکولو لپاره د سلطان سلیمان پلازمیني ته ورغی،خو له بده مرغه مکې ته د ستنېدو پرلار په کال 939 س.کې په سره سمندرګی کې ډوب او شهید سو. کله چې په کال 970 س. کې دغه ولې بیا وچې سوې، سلطان سلیمان د هغو د اساسي چارې

د موندلو لارښوونه وکړه. نو هغه وو چې د څو تنو پوهانو لخوا رایه ورکړل سوه چې د

عرفات واله دې سمه سي،کوم چې لګښت یې دېرش زره د سرو زرو دیناره اټکل کـړي وو .

دغه مهال فاطمه خانم سلطان یا مهر ماه د سلطان سلیمان مېرمنې د دغه کار سر ته رسول پر خپله غاړه واخیستل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خپل يوه اعتمادي نفر ته چې ابراهيم بن طغري بردي دفتردار نومېدی تراټکل سوي لګښت زيات پنځوس زره د سرو زرو ديناره ورکړه او مکې ته يې ولېږی. هغه مکې مکرمې ته په رسېدو سره د پوهانو او مخورو په سلا مشوره لومړی د ځنبلو د اوبو څو ځا ګان پاك کړه او بيا يې د عرفات د ولې په سمون لاس پوري کړ .

هغه پردې سر بيره چې د دې کار لپاره څلور سوه مريان درلوده، څه د پاسه زرتنه نورکارګران، مهندسان، ځاکيندونکي، پښان، ترکاڼان او بنايان له مصر، بلاد الصعيد، شام، حلب او استنبول څخه ډلې ډلې د ډول ډول اسبابو، اوسپنو، پولادو،قلعيو او نورو سره راوغوښتل. او هري ډلي ته يې د ولې په کار کي د هغو ټك ور وټاکی.

هغو داسي ګڼل چې دا کار به تر يوه کال په لږ مود ه کي بشپړ سي، چې بيا به دوی د سلطان دربارته ورسي او ستر ستر منصبونه به وګټي. خوکله چې د دې ولې کار د زبيدې ترڅا پوري، يعني ترهغه ځايه پوري ورسېدی چې زبيدې نورکار پر پرې اينښې وو نو پوه سول چې پخوا تردې وړاندې کار نه دی سوی او زبيدې نورکارله دې مجبوريته پرې اينښی وو، چې د زبيدې له ځا څخه تر هغې سوبې پوري چې ترمځکه لاندې په ډبره کي کيندل سوې وه او د حنين د چينې سوبې ته وزي، يو سخت غرګی واقع وو، چې د بنايانو په ګزه دوه زره ګزه اوږد وو، او په ژور والي هم بايد پنځوس ګزه وهل سوی وای. چې دا کارناشونی برېښېدی، خو څنګه چې په دې کار پېل سوی وو، د عثماني ټولواکمنۍ د حيثيت د ساتلو له امله يې بيرته نه سوای پرېښوولای. نو هغه وو چې د غرګی شاوخوا يې لځه کړه، بيا يې سل باره وچ بوټي د غرګی پر اووه ګزه ساحه د پنځوسو ګزو په لوړوالي واوډل او درسته شپه يې ولګول. خوڅنګه چې داور لمبې لوړي تلې پر ډبره يې ډبره لږ اغېزه کول. کارګرو به پستې سوي، ډبري په اوسپنو جلا کړې او بيا به د اورلګېدل تکرارېدل، څو ببخي په نژدې شاوخوا غرونوکي لرګي خلاص سول او له ليري ليري ځايونوبه يې ورته راوړل .

په دې کارکي ډېرشته ولګېدل، خلك په تنګ سول، د امير ابراهيم ټول هست و نيست،

مريان او خادمان پکښې ولاړل، خو ده پرله پسې دغسي له ستونزو ډك کار په خورا بېړه پرمخ بېوی او بې همتۍ ته بې لار نه ورکول، چې پای يې يو زوی په مصرکې د ده په نشتون کي وفات سو. بيا يې دوه غټوکي زامن د ډېرو مريانو سره مړه سول او پای خپله دی په دې کارکي د 974 س. کال د خدای تعالی د مياشتي پردوهمه وفات سو. بيا دې کار ته د جدې سنجق ( پوځي مشر ) اميرقاسم بيګ وټاکل سو او په همدغه 974 س. کال کي سلطان سليمان هم وفات سو، زوي يې سلطان سليم پاچا سو، او دې کار ته يې د مصر دفتر دار محمد بيګ نومی وټاکی. هغه هم په دې کارکي د ډېرو شتو ترښندلو وروسته په 976 س. کال کي وفات سو .

بياهماغه اميرقاسم بيګ دې کارته بېرته وټاکل سو. دی هم په دې کارکي په 979س. کال کي مړسو. بيا شيخ الاسلام قاضي حسين، د دې کاربشپړېده پرغاړه واخيستل. خو دی په پنځو مياشتوکي د دې کار په پايته رسېدوکي بريالی سو اوترلسوکالو شاقه کارونو وروسته د عرفات د چينې اوبه د حنين په واله کي وبهېدلې اود 979 س. کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میانۍ پر شلمه مکې ته ورسېدلې. چې دغه ورځ خلکو ته د یوه سترجشن او اختر ورځ وه، چې په سترو او پرتمینو مراسمو ولمانځل سوه او د ترکیې دربار ته په تېره خانم سلطان ته په دې هکله زېرۍ ورکړه سو.

تاریخونه وایي چې پردغه لس کلن کار څه د پاسه پنځه لکه اووه زره د سرو زرو دیناره ولګېدل. تردې وروسته بیا هم په بېلو بېلوکلونوکي عثماني پاچهانو او نورو په دې واله کي بدلونونه او سمونونه راوستل. ان چې د تیري پېړۍ په وروستیوکي د دې ولې د سمون لپاره د بسپني ټولولو څوکمیټې وټاکل سوې. خو ملك عبدالعزیز په کال 1344 س. کي په خپل ځاني لګښت د دې ولې د سمون اساسي چاره وکړه او د هغې اوبه یې په نلونوکي مکې ته ولېږدولې .

د سعودي عربستان حکومت د چېنلو اوبو په هکله نور هم ډېرکارونه کړي دي.

د مسجد الحرام دننه او دباندي او د مکې مکرمې په هرلوري د زمزم او نورو اوبو نلونه او ذخیرې جوړې سوي او ملك فهد په خپل ځاني لګښت د حاجیانو لپاره د چېنلو د اوبو یوه خیراتي پروژه هم په کال 1404 س.کي ایجاد کړې چې د پلاستیك په بوتلونوکي یخي اوبه برابروي او پرحاجیانو وړیا وېشل کیږي.

13ـ د مکې هوا

د مکې هوا ډېره سوځنده او توده ده او لږ باران پکښې اوري، خو سره د دې کله کله د مکې معظمې له غرو څخه د باران د اوبو ډېر ستر سیلونه راځي او ورانۍ پېښوي. د مکې شریفې په هوا کي ګړی په ګړی مختلف بدلونونه راځي، له دې امله مکیان وایي: " خدانګګ اویا هوا وي پیدا کړي چې نه شپېته یې په مکه او یوه یې په ټوله نړۍ کي ده ."

ډاکټرایچ. بي. خان لیکي: " دا ښارپه داسي وچو غرونوکي راګیردی چې لوړوالی یې له (200 ) فټوڅخه تر( 600 ) فټو پوري رسیږي". ځیني وختونه د مکې هوا په سړوکي ( 35 ) ډګري سانتي ګراډ او په تودوښه کي ( 50 ) ډګري سانتي ګراډ ته رسیږي. یعني په یخني کي معمولي ساړه وي او په تودوښه کي سخته تودوښه وي. دلته شپه او ورځ زیاتره یو شانته وي او ډېرفرق چې کوي نیم ساعت وي.

14ـ د مکې وګړشمېرنه

محمد عبدالمعبود په تاریخ المکآ المکرمه کي وایي چې: علامه قطب الدین (رح) په کال 923 س. کي د دې سپېڅلي ښار د نارینه وو، ښځینه وو او ماشومانو شمېر دوولس زره تنه ښوولي دي. او علامه لبیب بتنوني د څوارلسمي لېږدیزي (هجري) پیړۍ په پیل کي دغه شمېره یو لك او پنځوس زره ښوولې ده، چې په هغوکي یې لس زره تنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليمانيه او افغانان بللي دي. علامه رفعت پاشا په 1309 س.کال کي د مکې مکرمې د اميريه مطبعي لخوا د يوې چاپ سوي جنترۍ په حواله دغه شمېره تر ( 120000 ) تنو زيا ته بولي.

دغه راز علامه طاهرکردي چې په 1400 س.کي وفات سوی دی، په خپل عصرکي د مکې د وګړو شمېر نيم مليون ښيي،خو وايي چې دا شمېره زما د ګومان اواټکل له مخي ده. بله وروستۍ شمېره د مکې د اوسېدونکو تعداد شپږ لکه تنه ښيي .

15ـ مکه د امن، خوښيو او نعمتونو ټاټوبی

مکه په رشتيا چې د دنيا د عجايبو مځکه ده. خدای تعالي د خپل صنعت او قدرت ټول مظاهر په دې پاکه مځکه کي څرګند کړي دي. په نړۍ کي څونه بدلونونه راغلل، خوکعبه هماغسي په خپل ورځ ترورځي ډېرېدونکي قدرت او عظمت د مسلمانانو په لاس کي پاته ده او چې حضرت ابراهيم  ويلي :" لويه څښتنه ! ماپه يوه وچه، بې اوبو او بې کښته ناوه کي د خپل اولاد يوه برخه ستا د درانه کور ترڅنګ مېشته کړېده، پروردګاره دا ما د دې لپاره کړېده چې دوی دلته ستا عبادت وکړي، نو ته د خلکو زړونه د دوی په تلوسه کړې او ته دوی ته د خوراك مېوې ورکړې، ښايي چې دوی شکروباسي ". [ قرآن کريم، ابراهيم: 127 ]

بې شکه چې پاك خدای د هغه دعا قبوله کړې او دا سپېڅلې اُرشو يې د نړۍ د ټولو مسلمانانو قبله ګرځولې، د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه د ډول ډول آدابو، رسمونو، مذهبونو، لباسونو، رنګونو او ژبو درلودونکي په پاك نيت او پوره اخلاص او مذهبي اواسلامي ولولو ورته ور درومي او د کعبې چارچاپېر طواف کوي. او د خدای پاك حضور ته د خپل عبوديت او په خلوص او عبادت سره، د خدای د خلافت تمثيل کوي، د خدای د اطاعت ډېره ستره مظاهره کوي، د خدای د شعايرو سترتوب او تقدس پرځای کوي، يو د بل له احوالو ځانونه خبروي اود اسلامي وروروليۍ مزي ټينګوي. او چې حضرت ابراهيم  ويلي:" ای زما ربه ! دا ښارد امن ښاروګرځوه او له اوسېدونکو څخه يې چې څوك الله او آخرت مني هغو ته هر ډول مېوې روزي کړه ". [قرآن کريم، البقره: 126 ] بېشکه چې خدای  د هغه دا ټولي دعاوي قبولي کړي، دا ځای يې د امن او امان داسي يوه ستره نمونه ګرځولې چې نه د نړۍ کفارو څه په کړي نه د مسلمانانو بې اتفاقيو د هغه امنيت خراب کړی او نه داسي غلاوي او فسق او فساد پکښي سته، لکه د نړۍ په نورو سيمو کي چې ليدل کيږي .

اوسره د دې چې د مکې مځکه وچ دښتونه او غرونه دي، هلته يې د زمزم داسي اوبه پيداکړي چې د دې دونه ډېروکارولو سره سره هيڅ لږېده نه لري. هلته چې ډېري دي، پاکي او خوندوري اوبه ډېري دي. نه د چښتلو د اوبو کمی سته، نه دغسل او اوداسه د اوبو. هره خوا د چښلو د اوبو ډول ډول وسايل برابراوچمتو سوي او هره خوا ډول عصري تشنابونه او د اوداسه تازه کولو ځايونه سته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحان الله ! د هرشي عجبه پرېماني ده، د هر فصل ډول ډول، ښې ښې مېوې، د وګړو د هوسايي اوراحت ډېر عصري اوښه وسايل، پاکي او نظافت، پراخه او بشپړه علم او پوهه، ښه ښه پوهنتونونه او مدارس، د هر فن په ښکلي او ښه طباعت کتابونه،کتابتونونه او نور علمي او فرهنګي مراکز ګرده خدای تعالي ﷻ هلته په پراخه پیمانه برابرکړي دي.

فلله الحمد .

16ـ نیوکه

پر دغسي ډاډمن امنیت او پرېمانو نعمتونو باید شکر وکاړو. خوکه د دولت لخوا د شیانو پربیو، په تېره د حج په موسم کي،کنټرول وای او لږ څه ارزاني هم وای ډېر به ښه وای. بل د مکې مکرمې او مدینې منورې ټول مارکیټونه د حج په موسم کي د غیر اسلامي هیوادونو، په مصنوعاتو ډك وي او د دې مصنوعاتو د خورا ډېرخرڅلاو له درکه هغو ته ستري ګټې په لاس ورځي،کاشکي د دولت لخوا پردغو اموالو بندیز لګېدلی وای او پرځای یې د اسلامي هیوادونو مصنوعات ننداري اوخرڅون ته وړاندي سوي وای .

بله خبره چې ډېره د تاثر او خواشینۍ وړ ده، هغه د مسلمانانو د بې اتفاقیو خبره ده. په ظاهره خو ټول مسلمانان په ګډه د کعبې طواف کوي، اما زړونه یې مذهبي بدګومانیو او ډول ډول تعصباتو ډېرسره لیري کړي او په نفاق اوکرکو یې اخته کړي دي. سنیان نه وهابي مني، نه شیعه. وهابیان نه سني مني نه شیعه او شیعیان هم نه سني مني اونه وهابي ؟ کاشکي زموږ دیني عالمانو او سیاسي لارښوونکو د دې کرکو د لیري کولو او د ( و اعتصموا بحبل الله جمیعا و لا تفرقوا ) په مقتضا د اسلامي واقعي یووالي لپاره څه رغنده او اغېزمن ګامونه پورته کړي وای .

17ـ په مکه شریفه کي د اوسېدلو په هکله

د مکې شریفي د زیات او منلي فضیلت او درنښت له امله، هلته د خیر او ثواب کارونه لکه طا عات اوعبادات، روژې اوصدقات او داسي نور ستر فضیلت او برکت لري. او کومي ښېګڼي او ثوابونه چې د عبادت په نتیجه کي له همدې مقدسي بقعې څخه د چا په برخه کیږی په بل ځای کي نسي کېدای. خو همدا شان په همدې مبارکه خاوره کي ګناه او خطا کول هم دغونه ډېره جزا لري او د خدای ﷻ د لوی قهر سبب کیږي .

ابن مسعود ﷺ وویل: بېله مکې شریفي په بل هیڅ ځای کي بنده په یوازي نیت سره د مخه تر عمل نه مواخذه کیږي او د خدای ﷻ دا قول یې تلاوت کړ ﷻ:و من یرد فیه بالحاد بظلم نذقه من عذاب الیم ] ﷻ الحج: 25[

ژباړه : او هرچا چې په دغه ( مسجد الحرام ) کي په ظلم سره د بېلاری اوکج روی اراده وکړه، نو موږ به په هغه دردناك عذاب وڅکو، یعني څوك چې په مسجد الحرام کي د بې لاری او کج روی کوم تمایل ښکاره کوي دهغه چا په نسبت چې دغه کار بل ځای کوي، سخته سزا به ورکړه سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه:

که څه هم ځيني علمای کرام مسجد الحرام صرف دکعبې شريفي مسجد بولي، خو نور ډېر عالمان چې په هغو کې امام ابوحنيفه (رح) هم دی، په دې باور دي چې له مسجد الحرام څخه مراد د مکې ټول حرم دی. او دا خبره په خپله د قرآن کريم له څو آيتونو څخه هم ثابته سوې ده. دلته د جز له يادولو څخه کل مراد دی .

په تفاسيروکي وايي : په حرم کي الحاد په يوه قول د حرامو حلال بلل دي. او نورو ويلي دي چې د هرمنهي عنه تر سره کول ان د حرم خادم ته ښکنځل هم الحاد دی. او ډېرعالمان پردې متفق دي چې په حرم کي د گناه اراده د عذاب د استحقاق موجب کيږي. هرڅوك چې پرته له حرمه بل ځای د گنا ه قصدوکړي که يې تر سره کړي سيئه يې پر ليکي، او که يې تر سره نه کړي جزايې نه ورته ليکي. مگرکه په حرم کي د گناه نيت وکړي که يې تر سره هم نه کړي جزايې ورته ليکي .

حضرت ابن مسعود فرمايلي دي:" که څوك په عدن کي نيت وکړي چې پلانی به په مکه کي وژنم، عذاب اليم به وڅکي". ان چې مفسرين له اړتيا پرته قسم خوړل هم په حرم کي الحاد شمېري. د حضرت عبدالله بن عمر په هکله روايت دی چې هغه دوې خېمې يوه په " حل " يعني د حرم له حدودو د باندي، او بله په " حرم " يعني د مکې په دننه کي درولي وې،که به يې خپلوکوروالاوو او خادمانو ته څه سخته خبره کول، نو د مکې د حرم بهرخېمې ته به تی او هلته به يې ورته ويل. دا له دې امله چې ده داسي چاري الحاد بللې. حضرت ابن عباس به ويل :" احتکار او درواغ ويل په حرم کي د الحاد په منزله دي". همدا راز ابن عباس وايي :" که په برکيه نومي ځای کي اويا گناوي وکړم، ښه دي نه دا چې يوه گناه په مکه کي راڅخه و سي ."

له همدې بيري به اصحابو ترحج او عمرې وروسته مکه پرېښوول. په تېره حضرت عمر به له همدې بيري حاجيانو ته ترحج وروسته ويل:" ووځئ او خپلوخپلو وطنو ته ولاړ سئ ."

نو ته فکر وکړه چې په دې د فسق او فجور، حرام خوری، د منهياتو د ترويج او د لهو او لعب او فساد د وسايلو د نشراو خپرېدو په وخت کي به څوك، څنگه له گناه پاك په مکه کي واوسي ؟ دا چې په دې چارو کي د اخته کېدو او ککړېدو ببره وي، او دا چې په مکه کي اوسې اوخپل وطن دي و يادېږي او په مکه کي دي زړه تنگ سي او په خپل وطن پسي کښنده وي، ترديې دا ښه نه ده چې په دې مبارکه أرشو کي و نه اوسو؟ له دې امله ځينو سا لکانو ويلي دي : ښه دا ده چې اوسې په وطن کي او زړه دي په کعبه کي وي .

حضرت امام ابوحنيفه، امام مالك او نورو (رح) ښه ويلي دي چې په مکه کي اوسېدل مکروه دي. ملا علي قاري (رح) په المسلك المتقسط کي وايي : " دا خو امام ابوحنيفه (رح) د خپل مهال په نسبت داسي ويلي دي او که يې د دغي زمانې ( د امام ملا علي قاري د زمانې ـ کوم چې د هرات وو او په کال 1014 س.کي په مکه کي وفات سو ـ )، د مکې د مجاورينو حال ليدلی وای، چې حرام خوري او د مکې تعظيم لکه څنگه چې ښايي نه کوي، حتماً به يې ببله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



كومه شك او شبهې ويلي واى چې په مكه كي اوسېدل گردسره حرام دي. نو ته فكر وكړه چې كه امام صاحب زموږ په زمانه كي واى، څه به يې ويلي واى ؟

زما په نظرخو هرحاجي ته ښايي چې دا د حج يو څو شپې ورځې چې په مكه كي تېروي لا ډېرمحتاط اوسي او په هرقدم او هره شبېه كي پرځان ډېر ډېرفكروكړي او پام يې وي چې خداى مكړه څه خطا ځني و نه سي. خداى ﷻ مو دي له خطا وساتي ( آمين) همدا سبب دى چې ډېرو عالمانو او د خداى ﷻ د لاري سالكانو له ډېري بېري اوله ډېره احتياطه په مكه شريفه كي اوسېدلو ته زړه نه دى ښه كړى. دا چې د مكې شريفي اوسېدل د امام ابو يوسف او امام محمد اونورو (رح) په نزد مستحب بلل سوي، په دې كي خو هيڅ ترديد نسته، )رسول ﷺ ، ابوبكر صديق، بلال اونورو هلته د اوسېدو اود بگېرته د ورگرځېدو هيله كړې( ، خو دا هغو كسانو ته دى چې په ځان ټينگ باور لري چې په مكه مكرمه كي خطا نه ځني صادرېږي او د مكې حق ور ادا كولاى سي او صرف حسنات پكښې تر سره كوي. په دې صورت كي د دغسي نېكمرغو انسانانو هلته اوسېدل افضل د عباداتو دى او په دې ډول هلته اوسېدل په اجماع سره او بېله ترديده فوز عظيم باله سي.

18ـ د مكې مكرمې مواصلات

د سعودي عربستان مخابراتي شبكې خورا عصري دي. دغه هيواد د 1993 ع.كال د معلوماتو له مخي 1،46 ميليونه ټيليفونونه لري. په دغه هيواد كي كورنى ارتباط د مايكرو ويف راډيو ريلي،كاكسل كېبل (Coaxial ) او فايبرـ اوپټيك كېبل ( Fiber-Optic Cable ) له لاري نيول كيږي. سعودي عربستان د بحرين، اردن،كويټ، قطر، امارتو، يمن او سوډان سره د مايكرو ويف راډيو ريلي، دكويټ او اردن سره دكاكسل كېبل او د جيبوتي، مصر او بحرين سره د اوبو لاندي كېبل ( Submarine) له لارې اړيكي لري .

دغه هيواد په آرام اود هند په سمندرونوكي د انتلسات ( 5 ) د عربسات ( يو ) او د هند په سمندركي د انمرسات ( يو ) د ستلايټ مځكني ستېشنونه لري .

د راديويي خپرونو مركزونه يې : AM 13 – 43 ,FM-دي او د راډيوگانو شمېره يې په كال 1993 ع.كي پنځه ميليونه وه. د ټلويزيوني خپرونو مركزونه يې په كال 1997 ع.كي

( 117 )او د ټلويزيونو شمېره يې په كال 1993 ع. كي څلور نيم ميليونه وه. ترديې عمومي

معلوما تو وروسته به په ځانگړې توگه د مكې مكرمې د مواصلا تو او دغسي نورو تاگْ سيسا تو په هكله په راتلونكو پا ڼوكي رڼا واچول سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



19ـ د مکې مکرمې د پوسټ سیستم

د اسلام په تاریخ کې تر ټولو لومړی حضرت محمد ﷺ د نړۍ واکمنانو ته لیکونه ولېږل. بیا حضرت معاویه د پوسټ نظام جوړ کړ. په دغه پېر کې له یوه ځایه بل ځای ته د لیکونو د رسولو لپاره له غاترو، اسانو او خرو او کله ناکله له اوښانو څخه کار اخیستل کېدی چې پر تقریباً هر( 23 ) کیلو متره واټن به ځانګړی ځای جوړ سوې وو، چې تردغه ځایه به د یوه ځاروي په ذریعه او بیا به تر بله ځایه د بل ځاروي په واسطه لیکونه لېږل کېدل. مثلاً د مکې پوسته چې به یې جدې ته وړل د یوه ځاروي په واسطه به یې تر ( 23 )کیلو مترو مسافې پورې الشمیس ( حدیبیې ) ته رسول. بیا به د بل ځاروي په واسطه ( 23 )کیلو متره نور وړل کېدل او بیا به بل وړل، ترڅو چې پر درو ځارویو به یې تر جدې ورسول.

په ځینو ځانګړو مواردوکې به د لیکونو او پیغامونو د ژر رسولو لپاره د یو ډول ځانګړو روزل سووکَوْتَروڅخه کار اخیستل کېدی. دغسې کوترې به ډېرې چټکې الوتې، لکه چې په یوه ورځ به یې تقریباً ( 5040 )کیلو متره واټن واهه. د مکې او مدینې تر منځ ( 500 )کیلو متره واټن دی. دغو ښارونو ته به دغوکوترو په یوه ورځ لس واره لیکونه وړلای سوای. د دې کوترو بیه به ډېره جګه وه چې یوه به د سرو زرو د اوو سوو اشرفیو څخه نیولې تر زرو اشرفیو پلورل کېده او د هغو د دوو هګیو بیه به شل اشرفۍ وې. دغه کوترې به د خاصو وګړو لخوا روزل کېدې او په ډېرو ښو او هوا دارو ځایو کې به ساتل کېدې .

اوس اوس که څه هم نوو ساینسي ایجاداتو د دغوکوترو ارزښت له منځه وړی دی، خو بیا هم په ځینو لوېدیزو هیوادوکې د لرغونو توکو په څېر ساتل کیږي .

په مکه مکرمه کې د پوسټ رسولو نظام په عثماني پېر کې ډېر پرمختګ کړ ی وو. جدې ، طایف، مدینې منورې او ځینو نورو ښارو ته به هره ورځ پوسته لېږل کېده. چې دا دود تر 1347 س.کال پورې روان وو. وروسته بیا د پوستې لېږلو چارې د موټرانو او بیا د هیواد دننه او د باندې ته د الوتکو په ذریعه تر سره کېدې .

په نوي پېر کې د پوستې او نورو مواصلاتي چارو نوی نظام " الاسعاف الخیري" رامنځته کړی دی. د مکې مکرمې د پخواني واکمن شریف حسین په دورکې پرلفافو د پوستې ټکټونو نښلول هم پیل سول. بیا په سعودي پېرکې د مکې شریفې لویه پوسته خانه په " القشاشیه" محله کې جوړه سوه. په 1379س.کې یې هغه د جیاد د سیمې عماراً الاشراف ته ولېږدول ، بیا یې له دې ځایه په " سوق المعلا " کې یوې ستري ماڼۍ ته و لېږدول .

په کال 1385س.کې په مکه مکرمه کې پنځلس پوسته خانې په بېلو بېلو سیموکې رامنځته سوي وې چې ډېرې مهمې یې په قشاشیه، جیاد، مسفله، شبیکه او جرول کې وې. د حج په ورځوکې په مناکې هم پوسته خانه پرانیستل کیږي. اوس اوس د دغو پوسته خا نو شمېرنور هم زیات سوی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



20ـ په مکه مکرمه کي ټیلیګرام او ټیلیفون

په مکه مکرمه کي د ټیلیګرام او ټیلیفون آسانتیا د عثماني ترکیې د واکمنۍ په پېرکي رامنځته سوه. د شریف حسین په وختوکي په مکه مکرمه کي تقریباً ( 20 ) ټیلیفونه د غټو دولتي چارواکو لپاره په کار لوېدلي وه . خو کله چې په 1343س.کي په حجاز کي سعودي حکومت ټینګ سو، د هیواد په هره برخه کي پرمختګ رامنځته سو، چې په دې لړکي په هره دولتي اداره کي ټیلیفونونه هم په کار ولوېدل او ترکال 1358س. پوري تقريباً ( 5000 ) پایې ټیلیفونونه نصب سوي وه. اوس اوس د مکې په هرکور او دکان کي ټیلیفون سته. ډېرخلك ګرځنده ټیلیفونونه هم د ځانو سره ګرځوی، او په ډېرو ځایوکي وګړني ټیلیفون ځایونه هم په ډېرو عصري وسایلو سمبال په دې برخه کي خلکو ته آسانتیاوي برابروي. د حج د متبرکو اماکنو په شاوخواکي هم د سکه اندازو ټیلیفونونو پر مختللي شبکې په کار اچول سوي دي.

21ـ د مکې مکرمې راډیو او ټلویزیون

علامه محمد طاهرکردي وایي: باید اعتراف وسي او د تاریخ په پاڼوکي درج سي چې د

سعودي راډیويي خپرونو رامنځته کوونکی، ملك سعود دی. کله چې دی لا ولیعهد وو په همدې نوي پېرکي په دې خبره باندي په پوهېدو سره چې راډیو د حکومت ژبه او د خلکو د شعور د ویښولو او د هغو د ژوندانه د پرمختیا او د هغو د یوله بله اوبهرنۍ نړۍ سره د اړیکو د ټینګتیا ډېره ښه وسیله ده، نو د هغې د رامنځته کولو په فکرکي سو.

د 1368س.کال په وروستیوکي چې د 1949ع.کال سره سمون خوري د عرفې د ورځې د سهارد رڼا په خپرېدو سره د لومړي ځل لپاره د مکې راډیويې خپروني پیل سوې او تر ټولو لومړي دا غږ ځني خپو رسو :

"هنا مكآ المكرماَ ... ایها المسلمون في مشارق الارض و مغاربها... سلام الله علیکم من الارض الطاهراَ ". یعني: " دا مکآ مکرمه ده ... ای د نړۍ د لراو بر مسلمانانو... له دې سپېڅلي مځکي څخه تاسوته سلامونه لیږو ."

دغي راډیو لومړي د یوې ( 3 ) کیلوواټه لېږدونکي (مرسلې) په وسیله خپرونې کولې.

د 1374س.کال دکوچني اخترد میاشتي پر26 نېټه په مکه کي د " المدیریاَ العاماَ للاذاعاَ و الصحافاَ و النشر" په نامه اداره رامنځته سوه . په 1375س. (1955ع.)کال کي د مکې له راډیوڅخه دنوي لس کیلو واټه مرسلې په واسطه خپروني پیل سوي او د دې ترڅنګ یې په سټډیوګانو کي هم سمون او پراختیا رامنځته سوه، چې په دې لړکي دجدې د پخوانۍ سټډیو پرځای دوې نوي سټډیوګاني نصب سوې .

په کال 1377س. (1957ع.)کي د مکې راډیو ته یوه نوې پنځوس کیلو واټه مرسله په کار واچول سو ه او د دې سره سم د یوې بلي قوي ( 450 )کیلوواټه مرسلې د نصبولو لپاره کار پیل سو. چې همدا اوس د مکې مکرمې راډیو د ډېرو قوي او پرمختللو مرسلو له لارې نړۍ والي خپروني کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: کله چې په نړۍ کې راډيويي خپروني پيل سوې او خلکو په سعودي کې راډيو ګاني واخيستلې په هغود سندرو نيول په ډېره سختي سره منع وه. اوکه به چا له راډيو څخه سندري اورېدلې حکومت به تعقيباوه او راډيو به يې ور ماتول. خو بيا په دې هکله کرارکرار نرمښت راغی، څو چې خبره اوسني حال ته راورسېده .

اما د ټلويزيون له لاري د لومړی ځل لپاره په کال 1378س. (1959ع.)کې په مصر کې خپروني پيل سوې او په سعودي کې د 1385س.کال په لومړۍ خورکي په مکه مکرمه کې ټلويزيون لومړنۍ امتحاني خپروني وکړې، چې بيا په ټوله سعودي عربستان کې دغه خپروني عامي سوې.

په دې وروستيوکلونوکې د سعودي عربستان د ټلويزيون دوه چينله او د راډيو )23(

ستېشنه، د حج پرمهال د حج په اړه اسلامي معلوماتي خپروني کوي،ځيني يې د حج د مناسکو بهير په ټوله نړۍ کې خپروي او ( 12 ) راډيو ستېشنه په بېلو بېلو بهرنيو ژبو،له هغو څخه په پښتو او دری هم نړۍ والي خپروني کوي. دغه راز د سعودي ټلويزيون او راډيو د حج په مهال د اسلامي او عربي هيوادو ټلويزيونونو او راډيو ګانو ته هم خپل پروګرامونه لېږدوي .

22ـ په مکه مکرمه کې له موټرانوکاراخيستل

په کال 1340س.کې د لومړی ځل لپاره مکې مکرمې ته موټر ورغی. دغه موټر د هندوستان يوه مشر سوداګر د حجاز پخواني واکمن د مکې شريف حسين ته په سوغات کې ورکړ. خو شريف حسين له هغه څخه ډېر لږ کار اخيستی، ځکه يو هغه د آس د سپرلۍ ډېر شوقي وو او بل دمکې شريفي تنګي او لوړي ژوري کوڅې د موټرچلولو ته نه وې جوړي .

په کال 1343س. کې چې ملك عبدالعزيز پرحجاز واکمن سو تر ټولو لومړی د حرمينو شريفينو سړکونه پراخه او پاخه جوړ سول .

په 1346س. کې مکې مکرمې، مدينې منورې او جدې ته له لوېديزو هيوادونو څخه د موټرانو د واردولو لپاره يوه کمپنۍ پرانيستل سوه چې دا چاري وروسته ډېري پراخي سوې .

تر 1348س.کال وروسته په مکه مکرمه کې د موټرانو استعمال ډېر زيات سو چې ورسره سم کال په کال د حاجيانو شمېره هم مخ پر زياتېدو سوه .

په 1373 س. کې چې ملك عبدالعزيز وفات سو په مکه کې د اوښ او آس نوم لا نه وو او د ښار پرسړکونو په هرلوري کې ګرندي ګاډي تر سترګوکېدل. اوس هلته داسي کور په مشکل پيدا کيږي چې موټر دي نه لري او د ډېرو شتمنوکورنيو هر غړی ځانته موټرلري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکي دا هم بايد ووايو چې اېرکنډيشنډ بسونه په کال 1398 س. کي په مکه مکرمه کي په کار ولوېدل.

23ـ د مکې مکرمې چاپ خوني

زموږ سپېڅلي کتاب قرآن کريم د لومړځل لپاره په عربي تورو په کال 1113س.کي د آلمان په هامبورګ ښارکي چاپ سو، چې د دغه چاپ يو ټوك او س هم د مصرد قاهرې په

"دارالکتب العربياَ المصريه " کي خوندي دی. بيا په کال 1516ع.کي قرآن کريم د ايټاليې په بندقيه ښارکي چاپ سو. تردې مهاله په اسلامي هيوادونوکي مطبعې نه وې، ځکه نو قرآن کريم هلته چاپېدی.کله چې په عثماني ترکيه کي د دريم سلطان احمد په وختوکي مطبعه په کار ولوېده. د ترکيې شيخ الاسلام په هغې کي د نورو کتابونو د چاپولو د جواز فتوا ورکړه خو د قرآن چاپول يې په هغې کي جايز و نه بلل. بيا عثماني دولت مطبعه بنده کړه. بيا چې لومړی سلطان عبدالحميد پاچا سو بيرته يې د مطبعې په کار اچولو ته اجازه ورکړه. بيا د لومړی سلطان محمود په وختو کي هغې ته ډېره پاملرنه وسوه او لومړی کتاب چې د ترکيې په آستانه کي چاپ سو " صحاح جوهري " وو، چې په کال 1295س. کي يې د چاپ چاري بشپړي سوې .

په کال 1271س.کي د تونس امير محمد پاشا بای هلته مطبعه په کار واچول. په کال 1698ع. کي په حلب کي مطبعه په کار ولوېده. د لبنان يوه ډېره پخوانۍ مطبعه " قزحيا " ده چې په 1733ع. کال کي تاسيس سوه او لومړی يې په سرياني او بيا يې په عربي تورو هم د چاپ کار ترسره کاوه. دغه رازد بيروت ډېره پخوانۍ مطبعه " الشوير" ده چې په 1733ع. کي يې د لومړځل لپاره د داود ۞ مزامير په چاپ کړه. د بيروت بله ډېره پخوانی مطبعه " القديس جاورجيوس " ده چې په کال 1753ع.کي په کار ولوېده. بيا په کال 1822ع.کي په مالټا کي د امريکې يوه مطبعه په کار ولوېده چې بيا په کال 1834ع.کي بيروت ته وليږدول سوه. په کال 1848ع.کي المطبعاَ الکاثوليکياَ په بيروت کي تاسيس سوه چې لومړی يې په ډېرينو او بيايې په حروفي تورو مواد چاپول. چې دا ترټولو لويه مطبعه ده، کومه چې په عربي، انګريزي، يوناني، سرياني، عبراني او ارمنستاني ژبوکتابونه چاپوي. په مصرکي د لومړی ځل لپاره په کال1798ع.کي ناپليون بوناپارت مطبعه نصب کړه. ناپليون کوم چې پرمصر يې يرغل کړي وو په دغه مطبعه کي خپل فرمانونه او اوامر په عربي ژبه چاپول. دغه مطبعه چې " المطبعاَ الاهليه " ( ملي مطبعه ) نومېدل په قاهره کي ترکال 1801ع. پوري له مصرڅخه د فرانسويا نو د وتلوتر مهاله وه. بيا تر( 20 ) شلوکالو په مصرکي مطبوعاتي کار بندوو. څو چې محمد علي پاشا هلته واك ته ورسېدی، دغه مطبعه يې بيرته په کال 1821ع.کي فعاله کړه او په مطبعاَ بولاق ونومول سوه. ځکه چې وروسته هغه په بولاق نومي ځای کي نصب سوه او ترهرڅه لومړی يې په کال1822 ع.کي ايټالويې ـ عربي قاموس چاپ کړ. دغه مطبعه تر نوي کالو زياته فعاله وه. په عربي نړۍ کي دا ترټولو لويه مطبعه وه چې بيا په مطبعاَ الاميرياَ ونومول سوه. او تر اوسه ډېرکتابونه په ډېر ښکلي قطع او صحافت چا پوي. پس له دې په مصر اونوره عربي نړۍ کي يو په بل پسې ډېري مطبعې راووتلې. د افغانستان لوی مفکرحضرت علامه سيد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال الدين افغاني (رح) له هيواده وتلو ته ترمجبورېدو وروسته اميرشيرعلي خان ته د اصلاحاتو يو پروګرام پرېښود. چې هغه د دغه پروګرام د پلي کولو پربنسټ په کال 1287س. (1870ع.) کي د مصطفوي مطبعې په نامه يوه مطبعه د لومړی ځل لپاره افغانستان ته راوړل. چې بيا زموږ په هيواد کي د مطبوعاتوچاري ډېري ښې پرمخ ولاړې. مګرله بده مرغه اوس زموږ د هيواد طباعتي چاري په ډېرو ابتدائي

وسايلو ترسره کيږي او زياتره کتابونه مو په بهرکي چاپيږي، خو مکې مکرمې ته ترموږ ډېر وروسته په کال 1303 س.کي د حجاز والي عثمان پاشا نوري د لومړی ځل لپاره يوه وړه مطبعه راوړه اوحرم شريف ته نژدې په جياد محله کي يې په کار واچول. د عثمان نوري پاشا دغه مطبعه د مصر په مطبعآ الاميرياَ پوري اړه درلوده او مطبعآ ام القرٰ ی يې ورته ويل، چې بيا په سعودي پېرکي په نوو وسايلو سمبال سوه او په (مطبعآ الحکومآ) ونومول سوه. بيا په کال 1327س. کي شيخ محمد ماجد کردي په خپله ځاني پانګه يوه مطبعه په الفلق محله کي په خپل کورکي د ( المطبعآ الماجدي ) په نامه ودرول چې زښت زيات کتابونه يې په طبع کړه. بيا په کال 1345س. کي شيخ محمد صالح نصيف په مکه مکرمه کي المطبعآ السلفيه په کار واچول چې بيايې خرڅه کړه . دغه رازد طبع و نشر لپاره عربي شرکت په مکه مکرمه کي د المطبعآ العربيآ په نامه يوه مطبعه په کار واچول چې د ( صوت الحجاز ) جريده يې په چاپول،کومه چې بيا په ( جريدآ البلاد السعوديآ ) ونومول سوه. بيا په کال 1373س.کي ځينو کسانو د مطابع الندوه په نامه مطبعه په کار واچول. بيا استاد صالح محمد جمال يوه مجهزه مطبعه، بيا استاد احمد السباعي د ( مطبعآ قريش ) په نامه او بيا يې په کال 1368 س.کي د مکې مکرمې د قرآن مطبعه تاسيس کړه او بيا نوري ډېري مطبعې يو په بل پسې راووتلې، چې دادی اوس مکې مکرمې اوسعودي عربستان په ښکلو قرآنونو او ښوکتابونو چاپولو اوجلد جوړولوکي نړۍ وال نوم ګټلی دی .

24ـ د مکې مکرمې اخبارونه او جرائد په عربي نړۍ کي لومړی عربي اخبار په کال 1799 ع.کي د مصر په قاهره کي د ( الحوادث اليوميه ) يعني ورځنۍ پېښي په نامه د ناپليون بوناپارت لخوا راووتی، بيا لومړنی اخبارچي په کال 1858 ع.کي په لبنان کي راووتی ( حديقآ الاخبار ) نومېدی. بيا په کال 1865 ع. کي په دمشق کي د ( سوريا ) په نامه اخبار راووتی. په کال 1869ع.کي په عراق کي د ( الزوراء ) په نامه جريده راووتل. په کال 1879ع.کي په يمن کي د ( صنعاء ) په نامه جريده راووتل او په 1904 ع.کي په فلسطين کي د ( النفير العثماني ) په نامه جريده راووتل. په مکه مکرمه کي لومړۍ جريده د ( الحجاز ) په نامه په کال 1301 س. کي راووتل. دغه جريده چې په عربي او ترکي ژبو يې علمي او ادبي ليکني خپرولې په اوونۍ کي يو ځل د عثماني دولت لخوا تر 1334س.کال پوري خپرېدل اوکله چې په دغه کال د عثماني ترکيې واك پر مکه پای ته ورسېدی، د دغي جريدې خپرول هم پای ته ورسېدل. دغه جريده په څلورو مخونوکي په اميريه مطبعه کي چاپېدل. په کال 1327س.کي په جده کي د ( الصفا ) په نامه جريده په عربي ژبه را ووتل او تر يوې ګڼې خپرولو وروسته بنده سوه. دغه راز په همدغه کال په جده کي د ( الاصلاح ) په نامه جريده د راغب مصطفی توکل لخوا راووتل چې د ليکني چاري يې د يوه لبناني ورځپاڼه ليکونکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اديب هراوي په غاړه وې. دغه جريده هم څو مياشتي وروسته بنده سوه. دغه شان په كال 1327س.كي په مكه مكرمه كي د ( شمس الحقيقآ ) په نامه ورځپاڼه په عربي او تركي ژبو د محمد توفيق مكي په مسؤول مديريت راووتل، چې مرستيال يې ابراهيم ادهم وو. دغه اخبارچي په مكه كي د يووالي او پرمختګ د ټولني خپرنيز ارګان وو هم څو مياشتي وروسته بند سو. بله جريده په كال 1334س.كي د ( القبلآ ) په نامه په مكه كي راووتل چې دا هم د لاري په لومړي سركي ودرېده. په كال 1338س. كي د ( الفلاح ) په نامه جريده راووتل . دا جريده د مخه په سوريه كي خپرېده، خو كله چې فرانسويان سوريې ته ننوتل، د دغي جريدې خپروونكي عمرشاكر هغه په حجاز كي خپره كړه .

دغه راز په همدغه 1338س.كال كي د مكې د كرني د ښوونځي د زده كونكو لخوا د كرني يوه مياشتنۍ مجله راووتل چې د هغې خپروني هم پايښتي نه سوې. په كال 1343س. كي په جده كي د ( بريد الحجاز) په نامه اوونيزه جريده راووتل چې تر 52 ګڼو خپرېدو وروسته په همدغه كال بنده سوه. دا د شريف حسين د وختو وروستۍ جريده وه. بيا د دغه 1343س.كال د لومړۍ خور پر 15 د ملك عبدالعزيز د پېر په لومړيوكي

د ( ام القرٰى ) د جريدې لومړۍ ګڼه راووتل. بيا په كال 1347س. كي د ( اصلاح ) په نامه ديني او اخلاقي مياشتنۍ مجله راووتل، خو په كال 1349س. كي بيرته بنده سوه. په كال 1350س. كي د ( صوت الحجاز ) په نامه جريده د شيخ محمد صالح نصيف لخوا راووتل چې بيا د دغي جريدې امتياز شركآ الطبع و النشر العربيآ ته ولېږدول سو او په اوونۍ كي يوځل، بيا دوه ځله راوتل. بيا د جګړې په كلونوكي دكاغذ د نشتوالي له امله بنده سوه. بيا په كال 1365س.كي د ( البلاد السعوديآ ) په نامه راووتل چې دا ځل په اوونۍ كي دوه ځلي او بيا درې ځلي خپرېده. بيا په كال 1373س.كي ورځپاڼه سوه. دغه اخبارد عربي صحافت او ثقافت حق ډېر ښه اداكړ،چې د هري تيې خلك يې لولي. په كال1355س.كي د ( المنهل ) په نامه مياشتنۍ ادبي مجله په مدينه منوره كي د استاد عبدالقدوس الانصاري لخوا خپره سوه. دغه مجله چې د علم او ادب په ارشوكي ښه وځلېده د 1365س.كال څخه په مكه مكرمه كي هم خپرېږي. بيا د 1366 س.كال د خداى تعالى په مياشت كي د ( مجلآ الحج ) مياشتيزه راووتل چې لومړى مسؤول يې استاد هاشم زواوي وو او په كال 1370س.كي يې د تاريخ القويم مؤلف علامه محمد طاهركردي مسؤول مدير سو. دغه مجله په عامه توګه اسلامي مسايل او په حج پورې اړوند مسايل څېړي. په دې ډول په عامه توګه د سعودي او په ځانګړې توګه د مكې مكرمې د ډله ييزو اړيكو وسايلوكه دولتي دي،كه شخصي ډېره پرمختللې ښه غوره كړې اود ژورناليستيكو اصولو سره سم پر عربي ژبه سربيره په نورو ژبوهم په زړه پوري خپروني كوي چې كميت او كيفيت يې لا هم ورځ تربلي مخ پر زياتېدو او ښه كېدو دى .

25ـ د مكې مكرمې عامه كتابتونونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مکه مکرمه او مدینه منوره کي له شپږمي لېږدیزي ( هجري ) پېړۍ څخه کتابتونونه وه کوم چې د اسلام خلفا وو او امراوو به دحرمینو شریفینو د مدرسو د زده کوونکو لپاره کتابونه ورکول. پیرغلام دستګیرنامي په خپل ( تاریخ مکه معظمه ) کي د مکې مکرمې دوه عامه کتابتونونه راښیي. چې یو یې د " سلیمانیه " په نامه یادېدی کوم چې د باب السلام سره په در یبه نومي ځای کي وو او عثماني پاچا سلطان عبدالمجید خان تاسیس کړی وو. په دې کتابتون کي د بېلا بېلو موضوعاتو په هکله کتابونه راغونډ سوي اوله قسطنطنیې څخه هم ډېر ډول ډول کتابونه ورلېږل سوي وه. بل د حجاز د پخواني والي شرواني زاره محمد رشدي پاشا کتابتون ووکوم چې د مسجد الحرام په باب ام هانئ کي وو. په دې کتابتونونوکي ډېرکتابونه په عربي او ځیني په فارسي، اردو، ترکي او جاوي ژبو وه. پیر غلام دستګیرنامي وایي : " له دغوکتابونو څخه ځیني غلا سول او ځیني سیلاب ضایع کړه". خو نه وایي چې کله او د چا لخوا غلا سول. اما دونه وایي چې دغه کتابتونونه د نجدیانو ترپېرد مخه وه. او د سیلاب کال هم 417 یادوي چې دا هم تېروتنه ده . علامه محمد طاهرکردي هم د تاریخ القویم په دوهم ټوک کي وایي چې په مکه مکرمه کي د وه کتابتونونه سته چې یو یې د ( مکي حرم ) کتابتون دی کوم چې څو پېړۍ پخوا د عثماني ترکانو یوه واکمن تاسیس کړی وو. او لومړی ځای یې د زمزم د څا د پاسه وو. کله چې ترکي دولت د مسجد الحرام ودانۍ له سره جوړه کړه دغه کتابتون یې د مسجد الحرام دننه، په باب الدریبه کي په یوه خاص ځای کي ځای پرځای کړ. بیا کله چې سعودي حکومت په کال 1375س.کي د مسجد الحرام په پراختیا ګوتي پوري کړې او باب الدریبه یې ونړول دغه کتابتون یې د باب السلام په خوا کي ځای پرځاکړ او دغه ځای له پخواني ځایه ترسلو مترو زیات لیري نه دی. له پورته خبرو څخه څرګندېږي چې دغه کتابتون هماغه سلیمانیه کتابتون دی. بل کتابتون علامه کردي د مکې مکرمې د کتابتون په نامه راښیي کوم چې اوس د غزې په بازارکي د رسول د زېږېدني په ځای کي ځای پرځای سوی دی. د رسول د زېږېدو ځای په کال 1370س.کي د مکې د پخواني ښاروال شیخ عباس قطان او د هغه د زوی لخوا له سره جوړ سو. دغه ښاروال وصیت کړی وو چې په دغه ځای کي دي یو سترکتابتون پرانیستل سي. علامه کردي وایي چې دغه کتابتون د څوکالو راپه دې خوا تاسیس سوی دی. ښایي د دې کتابتون یو څه کتابونه د هماغه شرواني زاده د کتابتون وي او له هماغه پخواني ځایه لېږدول سوی او درسول د زېږېدو په محل کي اوډل سوی وي او ځیني نورکتابونه هم پر زیات سوي وي. دغه رازعلامه کردي د تاریخ القویم په څلورم ټوک کي لیکي :" د حرم د ځانګړي کتابتون د جوړولو په اړه د واکمنو لخوا امر سوی دی. ( نېټه یې نه ده ښوولې ) . د دغه کتابتون لپاره چې د مکې مکرمې کتابتون به نومېږي د مسجد الحرام د باب الملك عبدالعزیز د مخامخ میدانۍ په سرکي، مناسب ځای ټاکل سوی دی. پردغه ځای باندي چې کوم زاړه کورونه وه د هغو له څښتنانوڅخه په نه میلیونه ریاله رانیول سول او د کتابتون د ودانۍ کار به د شپږو میلیونو ریالو په لګښت بشپړ سي". په 1423س.کال کي په ریاض کي د تاریخ مکآ المکرمآ په نامه د عالمانو د یوې ډلي لخوا په یوه نوي خپاره سوي کتاب کي د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مکتبآَ مکآَ " په نامه یوکوچنی کتابتون ښوول سوی چې حرم ته نژدې واقع دی اونادري خطي نسخې او ډېر ښه کتابونه پکښې سته. دغه راز د مکې مکرمې په " حي الزاهر" کې د پوهنې د ادارې اړوند عامه کتابتون، په " حي العوالي " کې د " مکتبآَ جامع الفرقان " په نامه اود " ام القری " د پوهنتون اړوند کتابتون هم سته.

26ـ ښوونه او روزنه او د مکې

د زده کړو منځې په نړۍ کې هر ولس که هرڅونه بې څواکه او جاهل هم وي بیا هم د پوهنې د ښوونې لپاره بېل اوځانګړي ځایونه لري. خو دغه ځایونه د یوه ولس د ښوونې د قابلیت د فطري استعداد له مخې په ځینو کې لږ وي او په ځینو کې ډېر. په مکه مکرمه کې تر اسلام د مخه لا د هغه مهال د شرایطو سره سم ښوونځي وه. وایې چې د رسول الله د مېرمنې بي بي خدیجې د اکا زوی ورقه بن نوفل په عبراني ژبه لیکل کول. او د انجیل آیتونه یې هم لیکل چې له دې څرګندیږي چې هلته د هغه په وړوکوالي کې د لیك لوست منځې ( مرکزونه ) وه. د مکې مکرمې په اسلامي پېر کې رسول لومړنی ښوونکی وو. هغه به خلکو ته د قرآن کریم تلاوت او تفسیرکاوه او د اسلام مبارك دین به یې ورته روښانه کاوه. رسول به دغه چارې په جومات او له جومات څخه بهر ترسره کولې؛ لکه چې خلکو به پوښتنې ځنې کولې او ده به جوابونه ورته ویل. وروسته دغه چارې راشده خلفاوو، اصحابو، تابعینو او علماوو او فقهاوو ترسره کولې. ښوونکی به د جومات په یوه خوا کې ناست وو، خلك به پرراګرځېدلې وه. او د پوښتنو له لارې به یې پوهه ځنې ترلاسه کول. عالم به اړنه وو چې د یوې ټاکلې موضوع په هکله ښوونه وکړي؛ بلکې هغه به خلکو ته نصیحت کاوه او د علم او پوهې په بېلو بېلو برخو کې لکه د شعر، نحوي، لغت، تفسیر، حدیث او فقهې او نورو په هکله به یې د هغو پوښتنو ته جوابونه ویل چې په دې ډول پوهنې او د هغې ښوونې په سیخه توګه د اسلامي ټولنې سره اړیکې لرلې. د هغو د اړتیاوو سره د مستقیم تماس په لرلو سره به یې هغو ته خدمت کاوه او د هغو غوښتنو ته به یې جواب وایه. چې هم ښوونه او هم ښوونکې او هم زده کوونکې آزاد وه. او د آزادۍ په فضا کې به یې علم او پوهه ترلاسه کول او دولت به هیڅ مداخله نه پکښې کول. ځکه چې نه ښوونکې د دولت لخوا دې چارې ته ګومارل سوي وه او نه یې کوم معاش ورکاوه. چې دا د اسلام تر راڅرګندېدو وروسته په لومړیو وختونو کې د علم او پوهې د غوړېدو، خپرېدو او تنوع ډېر با ارزښته عوامل جوت سول. بیا څنګه چې د دغسې تعلیم او تعلم چارو پراختیا موندل، نو بېل ځایونه ورته وټاکل سول . دغه ځایونه به یې مدرسې بللې، چې ځینې به د جومات ترڅنګ او ځینې به بیلې وې. د دې ترڅنګ د ماشومانو د ښوونې او روزنې لپاره هم بېل ځایونه جوړ سول چې ( کتاتیب ) به یې ورته ویل. په تاریخ القویم کې وایې چې د مکې مکرمې خلکو د مکې مکرمې او نورو عربو د لومړنیو زده کړو منځو ( مرکزونو ) ته لومړی کتاب یا مکتب ( ښوونځی ) ویل. بیا یې د مهالونو په تېرېدو سره، چې مدنیت څه ډېرخپور سو دغو منځو ته مدرسه وویل، چې د درس او تدریس د ځای معنا ورکوي. او کټ مټ هماغه مکتب او ښوونځی باله سې. اوس عرب د لومړنیو زده کړو منځو ته د کُتاب، مکتب او مدرسې درې سره نومونه کاروي او هسې نه ده لکه موږ چې مدرسه یوازې د دیني علومو د ښوونې ځای ته وایو. دغسې عرب د لوړو زده کړو منځو ته " کلیآَ " ( پوهنځی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



) او " معهد " ( انستيټيوټ ) وايي او پوهنتون ته " جامعاً " وايي. د علم او پوهې د خپرېدو ډېرلرغوني منځي مکه او مدينه بلل سوي دي؛ لکه چې دغه دوه ښارونه د تفسير، حديث، فقهي او تاريخ پرعلومو سربېره د شعر، ادب او نورو هنرونو په برخه کې هم ډېر مشهور وه. وايي کله چې حضرت محمد ﷺ مدينې مورې ته ورغی هلته د ماسکه نومي ځای يوه يهودي کوچنيانو ته ليکل ورښوول. پردې سربېره هلته څه باندي لس تنه داسي کسان وه چې په ليك لوست پوهېدل چې له هغو څخه يو زيد بن ثابت ووکوم چې په عربي او عبراني ژبو يې ليکني کولې او بيا د رسول ﷺ د ليکونکو د ډلې غړي سو. دغه راز د مدينې منورې د اوس، خزرج او ثقيف قبايل هم په ليك لوست پېژندوی (مشهور) وه.

تاريخونه راوړي چې رسول ﷺعبدالله بن سعيد بن العاص ته امر وکړچي خلکو ته په مدينه منوره کې ليك لوست زده کړي او وايي چې دغه صحابي ډېر ښه ليکونکی وو .

له دې څرګنديږي چې ترمکې مکرمې په مدينه منوره کې ليك لوست ډېر خپور سوی وو. په اسلامي پېر کې مسلمانانو په مدينه منوره کې د ليك لوست چارو ته زيات پام اړاوه. وايي کله چې د بدر په غزا کې مسلمانانو يوه ډله قريش اسيرکړل. د هغو نالوستي يې په فديه ورکولو خوشي کړه،خو د لوستو فديه يې دا وټاکل چې هرلوستی دي د مدينې لسو تنو کوچنيانو ته ليك لوست وښيي. ابن ثعلبه وايي چې د رسول ﷺڅخه مې وغوښتل چې يوڅا ته سپارښتنه وکړه چې ليك لوست را زده کړي. نو هغه مبارك په دې هکله ابي عبيده بن الجراح ته سپارښتنه وکړه او ما ته يې وويل چې داسي سړي ته مې وسپارلې چې تعليم او ادب ښه در زده کړي .

په تاريخ القويم کې وايي لومړی سړی چې کوچنيان يې په ښوونځيوکې د زده کړې لپاره راغونډ کړه حضرت عمر ﷺ وو. هغه د هغو ښوونکی، عامر بن عبدالله الخزاغي وټاکي او لګښت يې له بيت المال څخه ورته مقرر کړ .

داسي ښکاري چې د اسلام د مشرانو سره هماغه وخت لا د نا پوهو او نالوستو خلکو په پوهنه اود ليك لوست په ګېنه د سمبالولو غم وو. خو د هغو له دې څخه ښه نه راتله. وايي چې حضرت عمر ﷺد يوه اعرابي سره مخامخ سو او ورته ويې ويل چې څه لوستلای سې؟

هغه ورته وويل : هو. نو حضرت عمر ﷺورته وويل چې ام القرآن ووايه. ( د ام القرآن معنا ده د قرآن مور خو په اصطلاح کې د فاتحې [ الحمد لله ] سورې ته وايي ). اعرابي ورته وويل: قسم دی که مې له لوېو څخه لا څه زده دي ته يې د مور خبره را ته کوې. نوحضرت عمر په دره وواهه او مکتب ته يې واچاوه چې څه ليك لوست زده کړي. هغه ترڅه مهاله هلته واوسېدی او بيا ځني وتښتېدی. کله چې خپل کلي کور ته ورسېدی دا شعر يې ووايه:

اتيـت مهــاجرين فعلموني ثلاثآ اســـطرمـتتابعـات

کـتاب الله فـي رق صـحيح و آيات الـقرآن مفصـــلات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخطوا لي اباجاد و قــالوا تعلــم سعفصاً و قريشــا ت

و مــا انا والــكتاباً والتهجي و ما خط البنين مع البنات

یعني له مکې راغلو مهاجرو ته ورغلم، هغو درې پرله پسې کرښې راوښوولې، یو د خدای کتاب په ښه او درسته باریکي سره، بل د قرآن مفصل آیتونه او بل یې ماته د ابجد توري وکښل او راته وېې ویل چې" سعفص" او " قرشت " زده کړه. او زه وګوره او لیك اولوست اوحروف تهجي ؟ او زه وګوره او دکوچنیو هلکانو او نجونو غوندي لیك زده کول؟!

په هر صورت وروسته اسلام په دې برخه کي ستر او له ویاړه ډك بریالیتوبونه تر لاسه کړه او د اسلام په رڼا کي علوم او فنون هره خوا خپاره سول. هره خوا لویي او وړې مدرسې ډېري سوې او ستر عالمان او شخصیتونه یې وروزل.

په دې لړکي مسجد الحرام د دې ترڅنګ چې د مسلمانانو سترعبادت ځی وو. د هغو د اولادونو ډېر ښه ښوونځی او د اسلامي علومو د زده کړي معتبر پوهنتون هم وو. په دې ستر عبادتځي او پوهنتون کي به ديني او عربي علوم لکه تفسیر، حدیث او د څلورو مذهبونو فقه، بدیع او بیان، صرف او نحو او نور، د سترو اوجامعو پوهانو او عالمانو لخوا تدریسېدل او د تاریخ په اوږدوکي یې اسلامي ټولني ته ډېر ستر او نومیالي عالمان وړاندي کړي دي .

پرمسجد الحرام سربېره په مکه مکرمه کي نوري مدرسې هم وې لکه د یمن د واکمن الملك الافضل عباس بن الملك المجاهد مدرسه چې په کال 770 س. کي یې په مکه مکرمه کي د امام شافعي د مذهب د فقهاوو لپاره جوړه کړه. یا لکه د ( دارالعجله ) مدرسه چې د دغه کال په شاو خوا کي د حنفي مذهب د فقهاوو لپاره جوړه سوه. یا د بنګال د واکمن

غیاث الدین اعظم شاه مدرسه چې په کال 813س. کي د اسلام د څلورو مذهبونو د فقهاوو د تدریس لپاره تاسیس سوه او داسي نوري ډېري مدرسې چې د ټولو یادول دلته امکان نه لري .

خو داسي ښکاري چې د عثماني ترکانو د واك په وروستیوکي د 1300س.کال په د مخه وختونوکي په مکه او نورو ځایونوکي د تعلیم او تعلم چاري ډېري بابیزي سوي وې. اما د دې سره سره هم دغه مهال لاندي مدرسې په مکه مکرمه کي موجودي وې :

_1رشدیه مدرسه چې لومړی مسجد الحرام ته نژدې په اجیادو کي وه او بیا یې د المعلا خواته ولېږدول. دغه مدرسه بیا په " المدرساَ السعودیاَ " ونومول سوه. بیا په کال 1375س.کي د هغې پرځای " رحمانیه ثانوي مدرسه" رامنځته سوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_2مدرسآ برهان اتحاد .

_3مدرسآ الفخريآ العثمانيه .

_4مدرسآ الخيريآ کومه چې د 1315س. په شاو خوا کي د مکې يوه اوسېدونکي شيخ محمد بن حسين الخياط تاسيس کړې وه. د دغي مدرسې نوم د شريف حسين په وختو کي په

"مدرسآ الراقيه " واوښتی .

_5مدرسآ الزراعيآ کومه چې شريف حسين تاسيس کړه او استادان يې له بيروت څخه ورته راوغوښتل . ( دغه څلور مدرسې اوس نسته ) .

تر 1300 س. کال په وروسته موده کي په مکه مکرمه کي د قرآن کريم د زده کړي او حفظ، د ليك لوست د زده کړي او د املاء او حساب د مباديو د زده کړي لپاره ځيني نور لومړني ښوونځي هم پرانيستل سول. خود دې سره سره ډېرو خلکو د جهل او نا پوهی په تور تم کي د بي وزلۍ شپې سبا کولې او لږخلك د علم او پوهي له نعمت څخه برخمن وه. چې په عربي او ترکي ژبو يې ليك لوست کاوه او زياتره دولتي چارواکي ، سوداګر او د مکې اشراف وه. اما په سعودي پير کي کله چې په نوره نړۍ کي د علم او پوهي رڼا هره خوا خپره سوه او نوي علمي او مدني پرمختګونه رامنځته سول د 1355س. کال را په دې خوا په سعودي عربستان کي علم هره خوا خپور سو. ښوونځي او پوهنتونونه ډېرسول. په عصري وسايلو سمبال سول. په ښوونيز او تحصيلي نظام کي سمون رامنځته سو. د تعليم او تدريس په چارو کي ډېر په زړه پوري پرمختګونه وسول. له سعودي عربستان څخه بهرته د لوړو زده کړو لپاره د زده کونکو لېږل عملي سول او په ټولو دولتي او ولسي تعليمي منځوکي د انګريزي، فرانسوي او نورو ژبو ښوول عام سول. د دې سره جوخت د سعودي هيواد په نورو ټولنيزو او فرهنګي برخوکي په زړه پوري بدلونونه رامنځته سول، چې د دې پرمختيا وو په رڼا کي د تاريخ القويم او نورو په مطالعه په دې وختوکي يوازي په مکه مکرمه کي پر ولسي مدرسو سربېره ( 51 ) لومړني ښوونځي، اووه منځني، دوه ثانوي ښوونځي، درې انستيټوټه او د جامعآ ام القری په نامه سترپوهنتون سته چې دا شمېره اوس نوره هم زياته سوې ده او په بېلو بېلو علمي ساحوکي شاګردان روزي.

27ـ ام القری پوهنتون

ام القری پوهنتون د سعودي له سترو پوهنتونونو څخه دی،کوم چې په مکه مکرمه کي واقع دی. د دې پوهنتون لومړنی زېنۍ د شريعت پوهنځی وو چې په 1369س.کال کي پرانيستل سو او په کال 1391س.کي د ځو نورو پوهنځيو سره په جده کي د ملك عبدالعزيزپه پوهنتون پوري وتړل سو. خو په 1400س.کال کي په مکه مکرمه کي د جامعآ ام القری په نامه پوهنتون رسماً پرانيستل سو. دغه پوهنتون اووه پوهنځي اود بهرنيانو لپاره د عربي ژبي د زده کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انستیتوت لري اود طایف د روزني پوهنځی هم پوري تړلی دی. په دغه پوهنتون کي د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه زده کوونکي شامل دي اود ماسګترۍ او دکتورا په سویه ډېر شمېراسلامي پوهان ځني وتلي دي

☒☒☒

28ـ ډېري ستري تاریخي مدرسې

صولتیه مدرسه:

صولتیه مدرسه چې د مکې مکرمې په " الخندریسه " کوڅه کي واقع ده په کال 1292س. کي د شیخ محمد رحمت الله ابن خلیل الله هندي لخوا پرانیستل سوه. شیخ رحمت الله د ډیلي په ( کیرانه ) نومي ځای کي زېږېدلی دی. چې ډېرنامتو عالم وو او د " اظهار الحق " د ډېر نامتو کتاب لیکوال دی. هغه له هند څخه مکې ته ولاړی او ډېره موده په مسجد الحرام کي په لوست ورکولو بوخت سو. کله چې په کال 1292 س.کي د " صولت النساء بیګم " په نامه د کلکتې یوه شتمنه ښځه د حج لپاره مکې ته ولاړه شیخ رحمت الله ورسره وکتل او هغه یې په مکه کي د یوې مدرسې جوړلوته وهڅول. هغې د هغه دغه خبره خوښه کړه ،کافي مقدار پیسې یې ورکړې او دغه مدرسه د هغې په نامه جوړه سوه چې په کال 1293س. کي د شاګردانو روزل پکښې پیل سول. په دغه مدرسه کي ډېرو سترو علما وو لکه د " غنیاَ الناسك " د ډېر معتبر کتاب مولف علامه محمد حسن شاه سواتي او نورو درس ورکړی دی او ډېر ستر علما یې هم روزلي دي چې په مکه مکرمه کي یې ستري ستري دندي په لاس راوړې دي.

الفلاح مدرسې: الحاج محمد علي زینل چې د سعودي یو نامتو سوداګر وو او په بمبئ کي یې د جواهرو او مرغلروکارو بارکاوه په کال 1320س.کي په جده کي یوه مدرسه د ( الفلاح ) په نامه را وایستل. بیا یې بله مدرسه په مکه مکرمه کي په کال 1329س.کي پرانیستل. دوې نوري مدرسې یې په دبی او بمبئ کي هم په دغه نامه پرانیستي دي. د جدې دغه سوداګرد عثماني ترکیې، شریف حسین او سعودي په دروسرو مهالونو کي

د ډېر ښه نوم څښتن وو چې د ډېرو سترو بهرنیو شرکتونو سره یې اړیکي لرلې او په حجاز، پاکستان، هند، بحرین او عمان او نورو ځایونوکي یې د علومو د خپرولو لپاره د یادوني وړ خدمتونه کړي دي. دغه علم خوښوونکی سوداګر د 1389س. کال د برات د میاشتي په لومړۍ ورځ وفات سو. د الفلاح په دغو مدرسوکي ټوله دیني او عصري علوم وړیا ښوول کیږي او سترستر عالمان یې اسلامي ټولني ته وړاندي کړي دي چې ډېرو سترو دندو ته رسېدلي دي. علامه محمد طاهر کردي د تاریخ القویم او نورو ډېرو کتابونو موٌلف د مکې مکرمې د الفلاح له مدرسې څخه تر فراغت وروسته ازهر پوهنتون ته شامل سوی او له هغه څخه تر فراغت وروسته پنځلس کاله د دغي مدرسې مدرس وو.

29ـ له مکې مکرمې څخه بهرته د شاګردانو لېږل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر 1346س. یعني پرحجاز باندي د سعودي د واکمنۍ تردرې کلنۍ پوري څوك له مکې  مکرمې څخه د دولت لخوا بهرته د لوړو زده کړو لپاره نه دي لیږل سوي. هغو د ګوتو په شمېر څو تنو چې د مصر په الازهر پوهنتون کې تحصیل کړی، هغه هم د دوی یا د هغو د اولیاوو په تشبث وو. خو په سعودي پېرکي په کال 1346س. کي لومړۍ ډله شاګردان چې شمېر یې تر دېرشو اوړي له مکې مکرمې څخه مصر ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل سول. چې تر دې وروسته بېلو بېلو عربي، اروپایي او نورو هیوادونو ته د مکې څخه د شاګردانو لېږل تر اوسه تر سره کیږي. دغه راز په کال 1348س. کي د مکې د الفلاح له مدرسې څخه هم ځیني کسان د لوړو زده کړو لپاره د دغي مدرسې د مؤسس لخوا بمبئ ته ولېږل سول چې وروسته هم دې کار ته ادامه ورکړه سوه .

30ـ په مکه مکرمه کي د نجونو ښوونځي

په مکه مکرمه کي به ډېرو لږو نجونو ته په کورونو کي د هغو د کالخوایانو لخوا ښوونه کېده. خو په کال 1355س. کي د جدې یوه فاضل شتمن په خپل کورکي په یوه کوټه کي خپلې او د خپلو ګاونډیانو لوڼې راټولي کړې او یو سپین ږیری او متدین سړی یې د ښوونکي په توګه ورته وټاکی چې له سهارڅخه ترغرمې به یې لیك لوست ور زده کاوه. کله چې دا خبره نورو واورېده، هغو هم خپلې لوڼې ور ولېږلې. په مکه مکرمه کي هم دغسې وسوه. بیا په کال 1379س. کي په ټول سعودي عربستان کي د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو رسمي امر صادر سو. او له دغه مهاله په مکه مکرمه کي د نجونو ښوونځي یو په بل پسې پرانیستل سول. علامه کردي وایي چې: د دغو ښوونځیو ښځینه ښوونکي له بهره را وغوښتل سوې.

31ـ عربي ژبه او ادب

څنګه چې د مکې مکرمې او د هغې د شاو خوا سیمو او هیوادونو وګړي ټول عرب دي، نو زموږ دا تاریخ به هله بشپړ وبلل سي او د مکې په باب به د لوستونکي معلومات هله بشپړ سوي وي چې د عربي ژبي او ادب په هکله هم لږ څه ولیکو .

32ـ عـربي ژبه

عربي ژبه د نړۍ یوه داسې پر مختللې، خوږه، روانه، سپېڅلې او ښکلې ژبه ده چې ساری یې په مشکل موندل کیږي. د دې ژبي د الفاظو مخرجونه پرغوړو ډېرښه پرېوزي. ویندود یې ډېرفصیح او بلیغ، تراکیب یې ډېر زړه راکښونکي اوصوتي اهتزازات یې ډېراغېزمن دي.  د دې او داسې نورو ښېګڼو اوځانګېړنو له امله وو چې لوی څښتن د خپل سپېڅلي کلام لپاره دغه ژبه وټاکل او قرآن کریم غوندي معجز  کتاب یې په دغه ژبه نازل کړ. چې بېله اختلافه د عربي ژبي او ادب داسې یواځنی کتاب دی چې د هغه د یوه سورت ساری هیڅ ادیب او شاعر ترننه نه دی راوړی. ترقرآن وروسته په دغه ژبه د لوی څښتن د استازي حضرت محمد ﷺحدیثونه راغلي چې په عربي ادب کي بېله اختلافه د فصاحت او بلاغت او معنوي جامعیت له پلوه د زرینو ټوټو حیثیت لري.  د ژبپوهانو په اند عربي ژبه د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامي ژبو يوه څانګه ده چې د نوح  د زوی سام اولادې ويل. دغه ژبه د ترلاسه سوو ډېر ليکونو، نقشونو او داسي نورو له مخي ژبپوهانو پر درو ( ګړدودي ) لهجوي ښاخونو وېشلې ده :

ـ1جنوبي عربي لهجه : د دې لهجې کتيبې د يمن په قتبان ، معين، سباء او نورو سيمو کي په لاس راغلي دي .

ـ2شمالي عربي لهجه : د دې لهجې کتيبې د حجاز په شمال کي د ثمود قوم د اوسېدو په سيموکي ترلاسه سوي دي .

ـ3آرامي نبطي لهجه : دغه لهجه د پورته دوو يادو سوو لهجو په نسبت نوې ده .

د دغو درو لهجو د ترلاسه سوو لرغونو آثارو څخه جوتيږي چې د هغو په ليکلو کي لومړی يو له بله ډېر توپير وو، خو وروسته د حالاتو په غوښتنه د لهجو اختلاف له منځه تللی، او د هغو د يوځای کېدو د اړتيا، په تېره د ديني تقاضا وو اواغېزوله امله، يوه سپېڅلې اوخوږه ژبه ځني جوړه سوه. په حجازکي چې کومه ژبه ويل کيږي هغه د عدنانيانو ژبه ده او دا د يمني يا قحطاني ژبي په نسبت نوې ژبه باله سي. ځکه چې عدنان د حضرت اسماعيل  له اولادې څخه دی او د اسماعيل  مورنۍ ژبه عربي نه وه. ده عربي ژبه له جرهمو څخه زده کړه کوم چې د يمني يا قحطاني عربو يوه قبيله وه.  د جرهمو په نيکه ګانوکي قحطان او د اسماعيل  په نيکه ګانوکي فلج سره ورونه وه او موږ ته چې د جاهليت د دورې د شاعرۍ کومه پانګه راپاته ده هغه په دغه عدناني ژبه ده .  ځنګه چې قرآن شريف د عدناني عربو د يوې ستري قبيلې قريشو په لهجه نازل سوی دی نو دغي لهجې پرنورو لوړوالی وګاټه او پای يمني او نوري ټولي لهجې د تل لپاره ختمي سوې او يوازې د قريشو لهجه پاته سوه .

33ـ عربي ادب

د ادب معنا :

لکه چې پوهيږو ډېرو عالمانو په خپلوکتابونوکي د لغاتو د مفردا توپه ټولولو، څېړلو او تنظيمولو لاس پوري کړی، د عربي صرف او نحوي د قواعدو په هکله يې کتابونه ليکلي، ادبي کره کتني او بلاغت ته يې پاملرنه کړې او د مهالونو په اوږدوکي يې د شعر، خطبو، رسالو،کيسو، امثالو، مناظراتو اوداسي نورو ودې، پروربښت او پرمختيا ته خدمتونه کړي دي اود ادب يوې برخي ته يې پر پاملرنه بسنه نه ده کړې؛ بلکي دا ټوله يې څېړلي او راغونډ کړي دي. البته چاچي به د ادب په يوه ځانګړې ارشوکي څېړنه کوله، نو د هغې ارشو ځانګړی څېړونکی به سو او په هغې کي به يې نوم وايست. چې په دې ډول د ثقافت اوکلتور په هکله د دوی پوهه او درك عام او پراخه وو او د دې ټولو خوا وو په هکله به يې د دوی پوهه او معرفت تمثيلاوه چې له دې امله د خلکو او په خپله د فرهنګيانو لخوا د اديب او فرهنګي تعريف داسي کېدی : ( هغه څوك چې د هري پوهي په يوه پلو پوه وي ). چې دا صفت په عامه توګه په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ادبي تاليفونوکي هم څرګنديږي لکه چې هيڅ يوه کتاب د ادب پر يوه ډول بسنه نه ده کړې. نودې ټکو ته په پاملرنه سره هر ويي پوه ( لغوي )، پېښليك پوه، مځکپوه او د نورو پوهنو د اړخونو څېړونکی اديب باله سي. خود دوو اوسمهالومصري پوهانو، استاد احمد اسکندري او استاد مصطفٰی عِناني له نظره ادب عبارت دی له هرغوره فعاليت او تمرين څخه چې انسان د هغه په مټ د يوې ښېګڼې د ترلاسه کولو په لاره کي ورتيا او مهارت ومومي. دغه فعاليت او رياضت لکه چې په کار اوپه چاروکي په دقت او پاملرنه او د نورو له تجربو څخه، په ګټه اخيستنه، ترسره کيږي، د

حکيمانه ويناووپه پلي کولو ـ کومي چې د هرولس ژبه يې لري ـ هم تحقق مومي. ادب پوهان وايي چې په قرآن کريم کي کوم چې د ټولو سترو اخلاقي تعاليمو او انساني ښېګڼو جامع کتاب دی د ادب کلمه او د هغې مشتقات نه دي راغلي. خو لکه چې ښکاري د ادب لفظ رسول ﷺکارولی دی. روايت دی چې حضرت علي کرم الله وجهه رسول ﷺته وويل: " ای د خدای رسوله ! موږ اوتاسي ټول له يوې مور او پلارڅخه يو، خو زه وينم چې ته د عربو له پلاوو سره په داسي ژبه خبري کوې چې موږ يې په ډېرو نه پوهيږو". نو هغه مبارك وفرمايل : " ادبني ربي فاحسن تاءديبي وربيت في بني سعد ". يعني ماته زما څښتن ادب ښوولی او ډېر ښه ادب يې راښوولې. او بل زه د بني سعدو په قبيله کي روزل سوی يم . ( يعني: د بي بي حليمې سعديې په کورنۍ کي روزل سوي يم کومه چې هغه مهال د عربو په قبايلو کي په فصاحت او بلاغت نومانده وه ). ډاکټر عبدالحليم ندوي په تاريخ عربي ادب کي وايي : " ترکومه ځايه چې ماته معلومه ده د [ ادب ] لفظ د لومړي ځل لپاره په عربي ژبه کي د حضرت محمد ﷺ د مبارکي ژبې څخه راوتلی دی او غالب ګومان دادی چې ترهغه د مخه په عربي ژبه کي دغه لفظ نه ووکارول سوی". بله خبره دا ده چې د " ادب " جمع " آداب " ده نه " ادبيات ". لکه چې په هيڅ يوه معتبرکتاب کي د ادب جمع ادبيات نه ده بلل سوې. خو اکادميسين ډاکټرجاويد د دغه ټکي د څرګندولو په ترڅ کي وايي :" که څه هم د ادبيات کلمه د ژبې د قواعدو له مخي درست محمل نه لري خو له هغه ځايه چې ډېره ښکلې برېښېدلې، ځکه نو منلې سوې او معموله سوې ده". دغه راز استاد جاويد د ادبياتو د تعريف په هکله وايي: " د ادبيه علومو مباحثو ته په پاملرنه کېدای سي چې وويل سي چې ادبيات عبارت دي د عقايدو، اندونو، دودونو او منثورو او منظومو ليکلو او ناليکلو آثارو له مجموعې څخه. په بل عبارت د وګړو ټولي ذهني او فکري ښکارندي او لاسته راوړني او د هغو د ذوق او اندونو يېبري او په عامه معنا د يوه ولس فرهنګ په هره لهجه او ژبه، او په هره موضوع او مطلب کي چې وي، ادبيات باله سي". د ادب په هکله خبري ډېري دي خو موږ پرهمدغونه خبرو چې ومو کړې بسنه کوو.

34ـ د عربي ادب دورې

عربي ادب د تاريخ د بېلو بېلو پړاوونو، او د مهالونو ډول ډول لوړو ژورو څخه تېر سوی او اوسنۍ بڼې ته رسېدلی دی. چې د هغه په پرمختګ او تلپاته کېدوکي يې ستر رول لوبولی دی. ځکه نو غوره ښکاري چې د هغه بشپړ تاريخ پرهغو دورو او پړاوونو ووېشو چې له هغو تېر سوی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استادجاوید وایي: " شیخ احمد الاسکندري او شیخ مصطفي العناني په[ الوسیط] کي او استاد احمد حسن زیات په[ تاریخ الادب العربي ] کي چې د عبدالرحمان طاهر سورتي لخوا په اردو ژباړل سوی اود ډاکټر سید طفیل احمد مدني لخوا تلخیص سوی، د عربي ادب تاریخ پر پنځو دورو وېشلی دی". ددې دورو تفصیل په" الوسیط في الادب العربي وتاریخه" کي په لاندي ډول ذکر سوی دی:

_1د جاهلیت پېر: چې د اسلام په راڅرګندېدوپای ته رسیږي او موده یې ( 150 )کاله ده.

_2د صدراسلام پېر: دغه پېرچي دبني امیه وو عصر هم پکښي راځي د اسلام له را

څرګندېدو څخه پیل کیږي اوپه کال132س.کي د بني عباسو په واکمن کېدوسره پای ته رسیږي .

_3عباسي پېر: چې د بني عباسو په واك ته رسېدو سره پیل کیږي او د تاتاریانو په لاس د بغداد په سقوط سره پای ته رسیږي .

_4د ترك توکمو د یو په بل پسې حکومتونو پېر: دا پېرد بغداد په ړنګېدوسره پیلیږي اود نوي نهضت په پیلېدو سره په 1220س.کال کي پای ته رسیږي .

_5د نوي نهضت پېر: چې په مصرکي د محمد علي پاشاالباني دکورنۍ له واکمن کېدو

څخه پیلیږي او تر اوسمهاله یې لړۍ روانه ده.

خو ډاکټرعبدالحلیم ندوي او نوردغه دورې شپږ ګڼي او داسي یې توضیح کوي :

_1د جاهلیت زمانه:

دغه مهال په دوو دورو وېشل کیږي:

لومړۍ دوره : د پنځمي عیسوي پېړۍ څخه د مخه مهال یعني الجاهلیاّ الاولی .

)د جاهلیت لومړي مهالونه .(

دوهمه دوره : د پنځمي عیسوي پېړۍ څخه تر23 _ 622 ع.کلو پوري چې د اسلام تر راتلو نژدې ( l50 ) کاله د مخه پیل کیږي او د رسول ﷺد هجرت په کال یعني 23_ 622 ع. پای ته رسیږي .

_2اسلامي زمانه :

دا زمانه هم پردوو دورو وېشل سوې ده:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ دوره : د اسلام لومړي کلونه کوم چې د رسول له هجرت څخه پېل کيږي او د حضرت علي تردورې رسيږي يعني د لومړي لېږديز(هجري) کال څخه تر40 ل. س. کال پوري. ( له 23 _ 622 ع. څخه تر 62_ 661 ع. پوري ).

دوهمه دوره : د بني اميه وو پېردی، کوم چې د حضرت معاويه له خلافت څخه پيل کيږي. اود عباسي خلافت تر رامنځته کېدو يعني له 41 س. څخه تر132س. پوري رسيږي .

)له 62_ 661 ع. څخه تر750ع. پوري .(

_3عباسي زمانه :

دا زمانه هم پردوو پړاوونو وېشل کيږي :

لومړۍ دوره: (د ترقۍ او عروج مهال ) له کال 132 س. څخه تر332س. پوري .

)له 750 ع. څخه تر 946 ع. پوري .(

دوهمه دوره: (د ملوك الطوايفی زمانه ) له کال332س. څخه تر656س. پورې رسېږي.( له 946ع. څخه تر 1258 ع. پوري ).کوم چې پر بغداد باندي د مغولو د تاړاك مهال دی .

_4عثماني زمانه يا د ځوړتيا او انحطاط مهال :

دغه زمانه له کال656س. څخه ترکال1220س. پوري رسيږي. ( له 1258ع. څخه تر 1797ع. پوري ) .

_5عبوري يا لنډ مهالې دوره : دغه زمانه په کال 1798ع. کي د ناپليون لخوا د مصرد نيولو څخه يا په کال 1801ع. کي په مصرکي د محمد علي پاشا له واکمن کېدوڅخه پېل کيږي. پرکال 1919ع. پای ته رسيږي .

_6اوسنۍ دوره : له کال 1920ع. څخه پېل سوې او تر اوسه روانه ده .

35ـ عربي نثر

عربي نثر تراسلام د مخه ډېر محدود وو. په دې پېرکي نثر چې مُسجع به وو، زياتره په افسانو،کيسو او دکاهنانو په ويناووکي کارېدی.

قرآن کريم:

قرآن کريم د لوی څښتن هغه سپېڅلي کتاب دی،چې پرخپل وروستي پيغمبرحضرت محمد يې د حضرت جبرئيل په ذريعه، د عربي ژبي په قريشي لهجه نازل کړی دی. دغه سپېڅلی کتاب په مکه مکرمه او مدينه منوره کي او د رسول د ځينو سفرونو پرمهال نازل سوی دی. د قرآن کريم لومړني آيتونه، د سورت العلق لومړي پنځه آيتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې په كال 611 ع. كي په مكه مكرمه كي نازل سول، او د هغه وروستۍ سوره " النصر " ده چې د حجآ الوداع په مهال د ايام تشريق (د لوی اختر د ورځو) په منځ كي په منا كي نازله سوې ده. البته له مختلفو روايتونو څخه څرګندېږي چې له دې وروسته ځيني نور آيتونه هم نازل سوي دي. چې ښايي د رواياتو د اختلاف پربنا د نساء د سورې وروستی آيت ﴿ يستفتونك قل الله يفتيكم فی الكلالآ ﴾ يا د البقره د سورې﴿ واتقوا يوماً ترجعون فيه ﴾ وي. د قرآن د مذهبي سپېڅلتيا او ارزښت څخه قطع نظركه يوازي د ژبي او ادب له نقطهٔ نظره ورته وكتل سي نو جوتيږي چې دا لومړۍ صحيفه ده چې په عربي ژبه او ادب كي په كتا بي بڼه او په ډېر ښه اوډون ترتيب سوې ده. يمنيانو اوحِمْيَريانو به بېله شكه خپلي ځيني كار نامې او مهم واقعات مرتب كړي وي. خو په كتابي بڼه د هغو د ترتيبولو ذكرنه دی موندل سوی. ټوله سترسترعالمان، مفكرين اوكره كتونكي پردې په يوه خوله دي چې قرآن كريم د خپل فصاحت او بلاغت، اعجاز او ژبي او بيان له مخي په عربي ادب كي ستر بدلون راووست. قرآن د عربي نثريو داسي منفرد او يواځنی ډول دی چې د يو ډول پېودلوجملو د اوډون د ډېرلوړ معيارد فني نثرله ګډون څخه يې د بيان يو بې ساری اسلوب غوره كړی دی. ځكه نو چا تر اوسه د قرآن غوندي د بيان اسلوب نه دی رامنځته كړی او هرد سليم عقل څښتن څوارلس سوه كاله د مخه د عربو غوندي له هره پلوه په ډېر وروسته پاته چاپيريال كي د دغسې بې ساری نثر چې څو ټوټي هم نه، بلكې( 6666 ) آيته او ضخيم كتاب دی، نازلېدل په يقيني توګه د لوی څښتن له لوري بولي او بس. قرآن اود هغه د بيان اسلوب پر عربي ژبه او لغاتو ځانګړې اغېزه وكړه چې له دې امله هغې ته يوځانګړې سپېڅلتيا او درنښت او ارزښت ور په برخه سو. د قرآن كريم په بركت په عربي ژبه كي نوي علوم را منځته سول. لكه چې د هغه د تشريح او توضيح لپاره تفسير پوهنه او د تفسير اصول تدوين سول. د هغه د معناوو او مطالبو د څرګندتيا لپاره د صرف او نحوي علوم او د بيان، بلاغت او بديع علوم ايجاد سول. له هغه څخه د مسايلو د استنباط په غرض،د فقهي، فرائضو يا وراثت پوهي، دفقهي اصول او علم كلام او داسي نورڅرګند سول .

دغه راز د قرآن د ښه ليكلو په غرض ليك پوهنه رامنځته سوه او د عربي ليكونو دونه نمونې راووتلې چې په هيڅ يوه بله ژبه كي نه موندل كيږي .

احاديث :

د رسول الله ﷺ خبرو،كړنو او تقرير ته حديث وايي. ( تقرير يو اصطلاحي لفظ دی چې مطلب يې دی، چې هغه مبارك څوك له كوم عمل يافعل څخه چې د ده په حضوركي يې ترسره كړی وي، نه وي منع كړی).

احاديث د عربي نثر يو بل داسي ښكلی ډول دی چې ساری يې د قرآن را وروسته د دې ژبي د نثرپه نورو ډولونوكي نه موندل كيږي. ټوله كره كتونكي او د ادب او لغت پوهان پردې متفق دي چې په عربي ژبه كي ترقرآن وروسته چې د رسول ﷺپه احاديثو كي د فصاحت، بلاغت ، ايجاز، اغېزمنتيا او د بيان د اسلوب له مخي كوم ښايست او زړه راكښون سته هغه د بل هيچا په خبرو كي نسته. د هغه مبارك احاديث له مهملو، لغوو او چټي خبرو څخه بېخي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاك دي. له احاديثوڅخه په عربي ژبه كي نوي علوم او فنون را ووتل؛ لكه چې علم حديث، اسماء الرجال، اسلامي تاريخ، د رسول سيرت او نور ډېر علوم د رسول د احاديثو په بركت

رامنځه سوي دي. پر عربي ژبه باندي د اسلام اغېزې: تراسلام وروسته د عربي ژبې په هكله يو ستر بدلون راغی، ځكه د قريشو په لهجه د قرآګن د نازلېدو له امله نوري ټولي عربي لهجې په هغې كي ضم او مدغمي سوې او يوه عربي ژبه را منځته سوه چې د عربو او نورو ټولو مسلمانانو په يووالي او پيوستون كي يې ستر رول ولوباوه. د بې شمېرو اسلامي سترو عالمانو او ډول ډول علومو او فنونو په رامنځته كېدو سره، د اسلامي سترو فتوحاتو په پايله كي، د ستر او ځواكمن اسلامي دولت په ټينګېدو او د اسلام د معتقدينو او پلويانو په ډېرېدو سره دا ژبه يوه ستره، پياوړې، غني ديني او دولتي اسلامي ژبه وګرځېده .

عام فني نثر: د دې ټولو بدلونونو او ارزښتونو په رامنځته كېدو سره په عربوكي ډېرفني او ښكلی نثر دود سو، چې هم به اغېزمن وو او هم به يې د پوهي سره مرسته كول. په پېل كي دغه نثرډېرساده وو، چې له موضوع سره به يې مستقيم تماس نيوی. عبارت به يې لنډ او موجز وو او الفاظ به يې واضح وه. د دغه نثر( عام فني نثر ) مهم اشكال رسالې، خطبې، روايتونه او تاريخي اخبار وه. بيا د ټولنيزي او پوهنيزي پرمختيا سره جوخت په دې نثركي هم پرمختيا راغله. په موضوعاتو او فنونوكي يې تنوع او تعدد رامنځته سو. معنا وي يې دقيقي سوې او په اسلوب او عبارت كي يې بدلون راغی. د دغه ډول عربي نثر لومړنی ستر ليكوال عبدالحميد الكاتب او عبدالله بن المقفع بلل سوي دي. بيا چې جاحظ راغی هغه ته يې نوره دونه پراختيا او شتمني ور وبخښله چې بېخي په دې هكله امام وګرځېد، او نورو يې پيروي وكړه. خو وروسته پردې نثر د لفظي ښايست، د معنا ګانو د دقت او د موضوعاتو د ژوروالي په حساب د بديعي محسنا تو د ډېرښت او اسراف ښكار طغيان وكړ. لكه چې دا نخښي د عربي ژبې د وروستيو ليكوالو په ليكنو اوكتابونوكي په څرګنده ليدل كيږي. حقيقت دا دی چې د دغه فني نثر ښكلا ان د ډېرو تاريخ پوهانو، مځكپوهانو، فقهاوو او فلاسفه وو په كتابونوكي هم په څرګنده ليدل كيږي .

36ـ عربي ليك

ډاكټر عبدالحليم ندوي وايي:" زرګونه كلونه وړاندي كله چې مصريان د تهذيب او تمدن، صنعت، حرفت او حكومت لوړو پوړيو ته ورسګېدل نو د زړه د خبروكولو او په ليكلې توګه د هغو د ادا كولو لپاره يې د نخښو يا ځانګړو نقشونو د جوړولو يوه ځانګړې طريقه ايجاد كړه چې په عام عرف كي ( هيرو غليفي ) ليك نخښي يا لرغونی رسم الخط ورته وايي. له دغه پخواني مصري ليك دود څخه عربي ليك نخښي راوتلي دي، په دې ډول چې له دغه مصري رسم الخط څخه فنيقي ليك راووتی. له هغه څخه آرامي او مسند ليك راووتی. مسند ليك چې د پيدا كېدوځای يې يمن دی بيا پرصفوي، ثمودي، لحيا ني اوحيري يا انباري ليكونو وويشل سو، چې د عربو د ټاپو وزمي په شمالي برخه كي صفوي، ثمودي او لحيا ني ليك دود سو او په جنوبي خوا كي يې حِمْيَرِي ليك دود سو. د تاريخ القويم موْ لف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه محمد طاهرکردي او ډاکټرندوي وايي چې عربي ليك له يمن څخه د کنده او نبط د خلکو په واسطه د عراق حيره او انبارته رسېدلی، او بيا له دغو ځايونو څخه حجاز ته لېږدول سوی دی چې د اسلام تر راتلو پوري هلته دود وو او په حجازي ليك ونومول سوکوم چې د نسخ ليك بنسټ بلل کيږي. اما مکې مکرمې ته د دغه ليك د رسېدو په اړه ټول مؤرخين پردې متفق دي چې لومړی سړی چې دغه ليك يې په مکه کي رواج کړ، حرب بن اميه بن عبدشمس وو. حرب دغه ليك په ځينو سفرونوکي له بشر بن عبدالملك او عبدالله بن جدعان څخه زده کړی وو او دغو دوو تنو بيا ليك د حيره او انبار له خلکو زده کړې وو. د اسلام د مبارك دين په ظهور سره په دې ليك کي ستر سمون او بدلون راغی، او د هغه په خپرېدو او ښکلا کي يې ستر رول ولوباوه. اسلامي عالمانو د دې ليك تورو ته سترخدمت وکړ. د تجويد صرف او نحوي او ليك پوهني او ښکلو هنرونو پوهانو او هنر مندانو ټولو په پېړيو پېړيو د دې ليك د سمون، معياري توب، پراختيا، تنوع او ښکلا لپاره کار وکړ، چې په پايله کي يې همدغه اوسنی عربي داسي ښکلی ليك رامنځته سو چې نور نو د ښايست نه و رته جوړيږي .

37ـ عربي شعر

شعر په عربي ټاپو وزمه، په تېره په حجازکي ډېره اوږده سابقه لري. د نړۍ په ولسونوکي ښايي عرب هغه ولس وي چې د شعر او شاعرۍ ذوق د دوی په خټه کي اخښل سوی وي .

د اسلام ترلمرختو ډېرد مخه دې ولس بدوي ژوند درلود او هرډول آزادي ورپه برخه وه. نه څوك پرحاکم وو او نه د حکومت د قيد و بند څه پروا وه. هره خوا چې ليدل کېدل پراخه صحرا وه. د ورځي ځلاند لمر د شپې سپينه سپوږمۍ او د ستورو سترگکونه، د سهار نسيم وو او د ماښام غروب او د هسك سرې کنگرې، او عربي شاعر په دې چاپيريال کي خپلي ننگېرني(احساسات)څرگندول، ځکه نو د دغه مهال شعرکه څه هم په جاهلي پېرکي وو ستايل کيږي او ښه شعر بلل سوی دی. د جاهلي شاعر په خپل قوم کي ډېر عزت کېدی، ځکه هغه د خپل قوم ژبه وه، د هغو له ننگونو او وياړونو څخه يې ننگه کول او د هغو د دښمنانو نيمگړتياوې به يې څرگندولې او غندلې. د دې درناوي بل لامل دا هم وو چې د دغه مهال شاعر د واکمن او شتمن دروازې ته نه دربدی او غوږه مالي يې نه ورته کول. د عربو سوداگر، ممتاز شاعران، ويناوال، د قبايلو مشران او مخور به هرکال کله چې حج ته تلل دکوچني اختر، او په بل روايت د ميانۍ ( ذىالقعدې ) په مياشت کي شل ورځې د عکاظ په مېله ځانکي راغونډېدل. ( عکاظد نخله او طايف په منځ کي له مکې څخه درې منزله ليري يوکلی دی ). په دغه ځانکي به له 540ع.کال څخه مېلې او د مالونو د پېراو پلور بازارونه جوړېدل. تراسلام وروسته هم په دغه ځای کي دا لړۍ روانه وه، څو په کال 129س. کي د ابوحمزه خارجي د لوټمار له بيري د تل لپاره پای ته ورسېدل. په دغه مېله کي به د شاعرۍ محفلونه جوړېدل او شاعرانو به خپل شعرونه پکښې ويل. د مشاعرې په پانکی به دکال د ډېري ښې قصيدې په هکله پرېکړه کېده او هغه به يې د قباطي په نامه د کتان پر يو ډول ټوکره د سروزرو په اوبو ليکل او د کعبې شريفي پر دېوال يا دروازه به يې ځړول چې دا به د هغې د ويونکي لپاره ډېر ستر وياړ وو. دغسي قصيدې يې " معلقات " ( دکعبې پردېوال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځړول سوي قصيدې ) بللې او د اسلام تر راتګ پوري يې شمېر اووته ورسېدى. چې بيا د اسلام په پېر کي هغه د کعبې له دېوال څخه راکښته کړی سوې او وروسته د کتاب په بڼه د " سبع معلقات " په نامه خپرې سوې. عربي شعر د جاهليت له زمانې څخه د عباسي خلفاوو د دورې تر لومړيو پوري په خوله يو بل ته لېږدېدى. له دې امله دی چې د جاهلي دورې ډېر اشعار له منځه تللي او موږ ته يې ډېره لږ برخه رسېدلې ده، کومه چې د هغګې لرغونتوب تر اسلام د مخه تر 150 کلونو نه اوړي. دا هم د اسلام برکت وو چې د عربي ټولني دغه ارزښتونه يې سوچه او په ځانګړو ټولګو کي يې تدوين او غونډ کړه. د جاهلي دورې د شعر هغه مهمي ټولګي چې موږ ته رسېدلي دي په لاندي ډول دي :

_1المعلقات: دغه د ډېرو لرغونو عربي اشعارو ټولګه ده چې د جاهليت د مهال د اوو نامتو شاعرانو اووه اوږدې قصيدې حماد الراويه ـ چې په156 س. کال وفات سوی دی ـ پکښې راغونډې کړي دي .

_2المفضليات: دغه ټولګه د " کتاب الاختيارات " په نامه د مفضل الضبي لخوا ـ چې په کال 164س. کي وفات سوی دی ـ ترتيب سوې ده. خو وروسته وروسته د ده نامه ته په نسبت ورکولو سره په" المفضليات" مشهوره سوه. په دې ټولګه کي د 47 تنو جاهلي شاعرانو د 14 تنو المخضرمينو ( هغو چې په جاهليت کي زېږېدلي او په اسلام کي يې ژوند کړی )او د شپږو تنو اسلامي شاعرانو ټولي ( 126 ) قصيدې اوډل سوي دي .

_3الاصمعيات: په دغه ټولګه کي نامتو اديب الاصمعي د 61 شاعرانو 72 قصيدې چې ( 1163 ) بيته کيږي راغونډې کړي دي .

38ـ اسلام او عربي شعر

لکه چې پوهيږو د اسلام مبارك دين د عربو او نوري نړۍ د خلکو په ژوند او نورو چارو کي ژور او بنسټيز بدلونونه راوستل. په دې لړ کي اسلام د جاهليت د زمانې شعر هم کره کړ، د هغه منفي او ناسم اړخونه يې وغندل او د اسلام د مبارك دين د اصولو سره سم يې هغه ته لوری ورکړ. د مشرکينو د شاعرانو په هکله د قرآن کرريم نظر :و الشعرآء يتبعهم الغاون الم تر انهم في کل وادٍ يهيمون و انهم يقولون ما لا يفعلون 

[ الشعرآء: 224 _ 262] ژباړه : د مشرکينو په شاعرانو پسي غولېدلي او ورك لاري خلك ځي. آيا ته نه وينې چې هغوی په هره ناوه ( هرلوري ) کي سرګردانه دي او داسي خبري کوي چې عملي کوي يې نه او محمد  داسي نه دی او د هغه حال هيڅ د شاعرانو حال ته ورته نه دی. د اسلام د اصولو سره د ناسم شعر په وړاندي د رسول  برخورد: په صحيح مسلم کي روايت دی چې ابو سعيد خدري وايي چې موږ د رسول  سره د مکې پرلار د عرج په سيمه کي ګرځېدو چې نابېره يو شاعرڅرګند سو چې شعر يې وايه. نو رسول  وويل چې:" دغه شيطان ونيسئ يا يې منع کړئ، ځکه تردې چې د يو چا نس له شعره ډك سي، دا ښه ده چې له نوونو ډك سي". وايي چې دغه شاعر داسي شعر وايه چې د رسول  او د اسلام له نقطهٔ نظره د اعتراض وړ وو. دغه راز له نورو احاديثو څخه څرګنديږي چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول ﷺ په شعرکي بې حيايي، فحش ويل، بد اخلاقي، په چټي خبرو سرکېدل، په تکلف مُسجع ويل، د درواغو ستايني او بد ويل، مبالغې، بې عمله ويناوي، په ريا ښکلي ښکلي خبري کول او په هغو د خلکو غولول او له منځ لارې څخه تېرېدل او ډېري خبري کول، دا ټول په کلکه غندلي دي. د اسلام د اصولو سره د سم شعر په هکله د قرآن نظر : لکه چې د مخه مو وويل اسلام عربي شعر له ناوړو اړخونوکره کړ او په اسلامي ارزښتونو يې وپسولی. په دې هکله قرآن کريم د جاهلي دورې د مشرکو شاعرانو ترغندلو وروسته داسي وفرمايلﷻ :الا الذين آمنوا و عملوا الصٰلحٰت و ذكروا الله كثيراً و انتصروا من بعد ما ظلموا و سيعلم الذين ظلموا اى منقلب ينقلبون ] ﴿ الشعرا: 227[

ژباړه: په استثنا د هغو شاعرانو چې ايمان يې راوړ، غوره عملونه يې وکړل او خدای ﷻيې ډېر يادکړاوکله چې ظلم پر وسو، نو يوازي يې غچ واخيست او ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه سي چې دوی له څنګه برخليك سره مخامخ کيږي. په دې آيت کي د شاعرانو له غندني څخه چې په مخکنيو آيتونوکي وسوه، هغه شاعران مستثنا کړای سوي دي چې څلور صفته ولري: لومړی دا چې مؤمنان وي. دوهم دا چې پخپل عملي ژوندانه کي صالحان وي، بد کاران، فاسقان او فاجران نه وي او له اخلاقي بنديزونو څخه آزادي غوره نه کړي. درېيم دا چې د خدای ﷻ ډېر يادوونکي وي. څلورم دا چې د شخصي اغراضو لپاره د هيڅا سپکاوی و نه کړي، خو کله چې د ظالمانو په مقابل کي د حق د ملاتړ لپاره اړتيا پېښه سي نو بيا له ژبي څخه هغه کار واخلي چې يو مجاهد ې له وسلې څخه اخلي. په هر وخت کي مړ ژواندی اوسېدل او د ظلم په وړاندي د عاجزۍ عريضې وړاندي کول، د مومنانو خاصه نه ده. د اسلام د اصولو سره د سم شعر په وړاندي د رسول ﷺ کړندود: د جاهليت د زماني د شاعرانو هغه شعرونه چې فحش او هجو او داسي نوري ناوړي خبري به نه وې پکښېکي رسول ﷺ هم اورېدل او هم يې خوښوول، لکه چې په صحيح مسلم کي وايي چې عمرو بن الشريد له خپل پلار څخه روايت کوي چې هغه وويل : يوه ورځ د رسولﷺ ترشا سپور وم چې هغه مبارك راته وويل: " آيا د اميه بن ابي الصلت کوم شعردي په ياد دی ؟ ". ما ورته وويل: هو. هغه راته وويل چې: ويې وايه. ما د هغه يو شعر ووايه. بيا يې وويل نور ووايه. مايوبل شعر ورته ووايه. بيا يې وويل چې نور ووايه. بيا مې هغه ته د اميه سل شعرونه وويل. اميه يوشاعر وو چې پرکفر تېر سوی دی. خو څنګه چې يې د حکمت او نصيحت شعرونه ويلي وه، رسول ﷺ د هغه په هکله ويل: " آمن شعره وكفر قلبه ". يعني د اميه شعر د مسلمان دی خو زړه يې د کافر دی. څرګنده ده چې رسول ﷺشاعر نه وو؛ لکه چې لوی څښتن فرمايي : ﴿ و ما علمنٰه الشعرو ما ينبغي له ﴾ [ يٰسن : 59 ] يعني نه مو حضرت محمد ﷺ ته شعر زده کړی دی او نه شاعري له ده سره ښاييږي .

خوکله کله يې د سليمي طبعي په مقتضا بېله قصده موزون کلمات له خولې وتلي دي. لکه چې په بخاري او مسلم کي له جندب ﷺ څخه روايت دی چې په يوه غزا کي د رسول ﷺ ګوته ويني سوه، نو يې ګوتي ته وويل:

يعني ته داسي ګوته يې چې دغه ويني کېده دي د خدای ﷻپه لاره کي وليدل، چې البته دا نه ضا ئع کيږي او اجر لري. او لکه چې پوهيږوکوم موزون کلمات چې د مو زونيت له ارادې پرته له خولې ووزي شعرنه بلل کيږي. همدا شان رسول ﷺ د نورو شعرونه او موزون کلمات هم د تمثيل په ډول ويلي دي. لکه چې رسول ﷺ د جاهليت د زمانې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامتو شاعر طرفه بن العبد د معلقې دا بیت ویلي دي: ستبدي لك الايام ما كنت جاهلا ويأ تيك بالاخبار من لم تزود يعني ای هغه څوکه چې د سفر توښه دي نه ده برابره کړې، ژر دی چې د مهال شپې او ورځې تا په هغو چې نه يې ورڅخه خبر، خبرکړي. دغه راز مشکوآ د بخاري او مسلم په حواله له براء ﷺ څخه روايت کوي چې رسول ﷺ د خندق د غزا په ورځ خاوري وړلې.کله چې يې نس مبارك په دوړو سپېره سو، نو د عبدالله بن رواحه ﷺ دا رجز يې وايه: يعني په لوی څښتن لوړم چې که د خدای لطف نه وای موږ به سمه لار نه وای موندلې. نه به مو خيرات ورکولای او نه به مو لمونځ کولای، نو ای څښتنه موږ ته سوکالي را په برخه کړې. که د دښمن سره مخامخ سو پښې مو ورته ټينګي کړې، ځکه چې دوی پرموږ تېری کړی دی، څو موږ له دينه څخه د اوښتلو په فتنه اخته کړي، خو موږ يې ګردسره نه منو. او " ابينا ابينا " به يې بياځلي ( په تکرار ) او په لوړآواز ويل. رجز هغو اشعارو ته وايي چې عربو به د جګړو په مهال ويل. دغه راز رجز د شعر له نولسو بحرونو څخه يو بحر هم دی. دغه شان رسول ﷺ شعر ستايلی او د هغه په هکله يې فرمايلي دي:" ان من البيان لسحراً ". رواه البخاري. يعني ځيني داسي ښې او غوره خبري او څرګندوني دي چې د زړونو په لاس راوړلوکي د سحرغوندي دي. بل ځاي رسول ﷺ فرمايي:" ان من الشعر حكماً ". رواه البخاري. يعني ځيني شعرونه دپوهي اوحکمت متضمن دي او په شعرکي ځيني داسي ګټوري خبري سته چې سړی له جهل اوکم عقلی څخه را ګرځوي. بل ځای رسول ﷺ د مسلمانو شاعرانو په ستاينه کي وويل: " ان المؤمن يجاهد بسيفه و لسانه ". مشكوآ . يعني مسلمان په خپله توره او ژبه دواړو جهاد کوي. بي بي عائشه (رض) وايي چې د رسول ﷺ په مخکي د شعر يادونه وسوه. هغه وفرمايل: " هوكلام، فحسنه حسن و فبيحه قبيح ". مشكوآ. يعني شعر داسي خبري دي چې ښې يې ښې دي او بدي يې بدي. حسان بن ثابت د مدينې منورې د جاهليت او اسلام د وختو ستر او نامتو شاعردی، چې شپېته کاله په جاهليت او شپېته کاله په اسلام کي ژوندی وو، او د رسول ﷺستايونکي وو. رسول ﷺ د قريظه د پېښي په ورځ ورته وويل: " د مشرکانو هجو ووايه، جبرائيل ﷺپه دې هکله ستا ملګری دی". او همدغه راز به يې ورته ويل: " کافران چې په ماپسي څه وايي د هغو جواب ووايه". او فرمايله به يې : " ای خدايه ! د حسان د جبرائيل په واسطه ملاتړ وکړې. ( متفق عليه ). په بخاري کي له عائشې بي بي څخه روايت دی چې رسول ﷺ به په جومات کي حسان ته منبر ايښووی او هغه به پر منبر درېدی او د رسول ﷺپه هکله به يې وياړني ويلې. او رسول ﷺ به ويل چې:" خدای تعالي د حسان په روح القدس (جبرائيل ) ملاتړکوي". د عربي شعر په وړاندي د صحابه وو کړنلاره:

کوم نظر چې رسول ﷺ د عربي شعر په باب درلود،کټ مټ نظر اصحاب کرامو هم درلود. هغو په خپل وار شعر او شاعرۍ ته زياته پاملرنه وکړه. لکه چې مشهور روايت دی چې حضرت عمر ﷺحضرت ابو موسٰی اشعري ته وليکل چې خلکو ته د شعر زده کولو حکم ورکړه، ځکه چې د شعر په برکت سړی په ښو اخلاقو روزل کيږي؛ د سمي رايي په ګېڼه سمباليږي او د انسابو په هکله علم ترلاسه کولای سي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز حضرت علي كرم الله وجهه او د هغه د اكا زوی عبدالله بن عباس  به پر شاعرۍ، صرف او نحوي او تاريخ او رياضي باندي وينا وي او تقريرونه كول او ځينو نورو اصحابو به د قرائت د علم او د خطابت او ليکوالۍ د هنرونو په هکله درسونه ورکول.  د شعر په هکله د اسلامي عالمانو نظريې :

علامه ابن عابدين شامي په ردالمحتاركي له شهاب خفاجي څخه نقل كوي او وايي چې  د عربو بلغاء په شعر او وينا كي پر شپږو ډلو وېشلي دي:

_1د جاهليت شاعران کوم چې عاد، قحطان او مخضرمون دي. ( مخضرمون هغو ته وايي چې په جاهليت او اسلام دواړوکي يې ژوند کړی وي). 2_ د اسلام شاعران ،

_3مولدين، 4_ محدثين، 5_ متاخرين، 6_ هغه چې له متاخرينو وروسته په اوسنی عصر پوري اړه لري. چې د لومړيو درو ډلو تلاښ د شعرد بلاغت او جزالت لپاره وو، او د دوی د شعرونو په هکله پوهه ترلاسه کول، د فقهاوو په نزد فرض كفايي ده. ځکه چې په دې سره د عربي ژبي د قواعدو په هکله پوهه ترلاسه کيږي، کومه چې په هغې سره، سړی د قرآن او نبوي سنت په معنا وو پوهيږي .

دغه راز علامه ابن عابدين وايي:" شعرد ځان كسب او پيشه گرځول او په داسي ډول تل ترتله ويل چې سړی د خدای  له ذكره او د شرعي علومولـه زده كړي راوگرځوي مكروه دی، خو لږ ويل يې چې مطلب يې ځني د ښکلو او خوږو نکتو، لطايفو او تشبيهاتو ترگندول وي باك نه كوي،كه څه هم د باړخو او قد او قامت په هكله وي. ځکه چې د بديع عالمانو د دې مقصد لپاره د مولدينو او نورو دغسي اشعار د مثال او شاهد په توگه راوړي دي".  او امام ابن الهمام په فتح القدير كي وايي:" كه په شعركي د ټاكلي ژوندي هلك يا ښځي صفت، يا د شرابو داسي ستايل وي چې د سړي شوق پر راولي او يا پکښي د مسلمان او ذمي هجو وي، نو د داسي شعر ويل حرام دي ". خو په عالمگيري كي وايي:" په شعركي د ټاكلي ژوندي هلك يا ښځي صفت او د فسق او شرابو يادول مكروه دي ".  او امام غزالي (رح) د اسلامي تصوفو او اخلاقي نظره لا يعني خبري كول، فضول كلامي، په باطلو وينا وو سرکېدل، جدال او مِراء ( چې د نورو د ويناوو د نواقصو په را سربېره کولو او پرهغو باندي په ايراد او اعتراض كولو سره طعن ويل او د ويونكي سپكول او تحقيرول او د خپل ځان د پوهي او لوړتيا ځرگندول دي )، په باطلو او بېله علمه خصومت، په تكلف او په سجع او تصنع خبري كول، فحش ويل، لعن و طعن ويل، حرام ساز اوحرام شعر ويل، ډېري ټوكي كول، مسخرې او پوسخند وهل، د خلكو پټ رازونه لڅول، په درواغو ژمني كول، د درواغوقول او لوړه، غيبت، چوغولي، دوه ژبي، مدح او د خطاوو له باريكيوڅخه غفلت، دا ټول د ژبي له آفاتو څخه بولي. چې د امام غزالي دې خبرو ته په پاملرنه كېدای سي وويل سي چې په شعركي له دغو آفاتو څخه ژبه نه ساتل د اخلاقو مخالف كار دی. ځكه نو اوسنی عالم او فقيه دكتور وهبه الزحيلي په " الفقه السلامي و ادلته " كي غوټ حكم كوي چې شعر په اباحت او نه اباحت او كراهيت او استحباب كي د خبرو حكم لري چې ښه يې ښه او بد يې بد دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



39ـ په عربي شعر کي بدلونونه

په دې ډول د اسلام د مبارك دين په راتلو او خپرېدو سره عربي شعر د عربو له صحراوو څخه ښارونو ته راغی او د نوي اسلامي ژوند په غوښتنه نوي موضوعات پر ور زيات سول. کله چې د مهال په تېرېدو سره اسلامي امت پر بېلو بېلو ډلو اوگوندونو ووېشل سو، سياست هم په شعر ورگډ سو. دغه مهال عربي غزل هم بېل رنگ خپل کړ، چې په پايله کي دوه ډوله غزل رامنځته سوه: سپېڅلې غزل؛ چې ځانگېړني يې ساده والی، رښتينولي او پوختيا وه. او د ښاري او سوکاله ژوند غزل؛ چې ډېري ابتکاري معنا گاني او ښکلي خيالونه يې ورزيات کړل او الفاظ يې ور سوچه کړل. بيا په عباسي پېرکي په شعر کي ډېر بدلون راغی چې په ځينو برخو کي ضعيف او په ځينوکي غښتلی سو، او داسي مطالب پکښي رامنځته سول چې پخوا نه وه، يا لږ ليدل کېدل او پردې سربېره يې په معنا، خيال او الفاظوکي هم بدلون راغی .

په دې پېرکي سياسي او حماسي شعر او سپېڅلې غزل بابېزسوه، او د مدحي او مرثيو اشعار قوي سول. دغه راز د دغه مهال په شعر کي د مدنيت او ودانوني ښکارندي توصيف سوې او د زهد، تصوف، فلسفې، ښووني اوکسيو اونورو نوو موضوعاتو شعرونه څرگند سول. د دغه مهال شاعرانو به کوښښ کاوه چې د قصيدې په اجزاووکي تناسب او په معناووکي ترتيب په پام کي ونيسي. دوی به خفيف اوزان غوره کول او واضح او لطيف الفاظ به يې کارول. او د شعر بياني او بديعي ښکلا ته به يې زيات پام اړاوه، چې په دې ډول عربي شعر په تدريج سره د ساده او روانو معناوو او خيالونو څخه معقدو، تکلفي اوله مبالغې ډکو معناوو، صنايعو، استعارو او تشبيهاتو ته ور واوښت.

40ـ عربي کره کتنه

عربي ادب او کره کتنه د جا هليت په پېر کي:

دکتورحميد رضاشايگان فر، په خپل کتاب " نقدادبی " کي وايي:" د عربو د جاهليت د پېرد شعر دکره کتني ډېر پخواني ځايونه د مدينې، مکې اوطايف د شاوخوا بازارونه وه ". ډاکټر نورالحسن نقوی په خپل کتاب گ" فن تنقيد " کي وايي:" په عربوکي له ډېري پخوازمانې څخه ادبي کره کتنه ډېر ستر ارزښت لري ". دوی دواړه اوډاکټرعبدالحليم ندوی په تاريخ " عربی ادب " کي او نور پوهان د دې خبري د ثبوت لپاره وايي چې د عکاظ په مېله ځای کي به يې ( کوم چې مخکي د عربي شعر ترسرليك لاندي خبري پر وسوې ) يو پوه، د اعتماد وړ او د پاخه عمر شاعر، چې ټولو ته به منلی وو، د دريم گړي يا " د مشاعرې دمير " په توگه

ټاکی . شاعرانو او هنرمندانو چې به خپل کوم هنري آثارلوستل،دغه دريم گړي به ترکره کتني لاندي نيول او د هغو په هکله به يې پرېکړه کول. چې دا پرېکړه به ټولو ته د منلو وړ وه. د دې کره کتني په پايله کي به چې د چا قصيده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېري ستايني او شاباسي وړ وګرځېده، هغه  به يې ـ لکه چې مخکي موهم وويل ـ په زرينوکرښو ليکل او دکعبې شريفي پردېوال يا دروازه به يې ځړول .

د عُکاظ په مېله کي به په دوديزه توګه د جاهلي پېرنامتو شاعر" النابغاَ الذبياني" د مشاعرو مير يادريم ګړی ټا کل کېدی. ده ته به يې د ځرمني ځانګړې، سره خېمه درول اوهغه به په هغې کي په ډېر سترتوب اوعزت ناست وو. ادبپوهان وايي چې د عربو د دغه مهال کره کتنه په ځانګړې توګه ډېره متوازنه وه. دې کره کتني نه موضوع له پامه غورځول نه اسلوب. يعني اړينه وه چې په شعرکي چې کومه خبره کيږي بايد هم ارزښتناکه وي او هم يې د ويلو ډول زړه راکښونکی وي. عربي ادب او کره کتنه په اسلامي پېر کي: د اسلام مبارك دين د خپلي رڼا په خپرېدو او د عربو او نوري نړۍ د خلکو په ژوند او نورو چاروکي د بدلونونو د راوستلو په ترڅ کي د جاهليت د زمانې شعرهم ترکره کتني لاندي ونيو. د هغه منفي او ناسم اړخونه يې وغندل او د اسلام د سپېڅلي دين د ارزښتونو سره سم يې هغه ته لوری ورکړ. په دې لړکي هم قرآن کريم، هم رسول اوهم صحابه وو په خپل خپل وار عربي شعرتر اسلامي کره کتني لاندي نيولی او د هغه په هکله يې ارزښتناکي څرګندوني اولارښووني کړي دي. چې په پايله کي عربي شعر د اسلام په ښکلې ګېڼه سمبال او نور نوي موضوعات هم پرور زيات سول. دغه رازقرآن کريم د ختيزي، اسلامي ادبي کره کتني او د بلاغت او نورو ډېرو علومو د قواعدو په بنسټ ايښوولوکي هم پرېکړوني اغېزه درلودلې ده. عربي ادب او کره کتنه په اموي پېر کي: د اسلام په اموي پېرکي چې د شام خليفه ګانو اود هغو نورو چارواکو شعر و شاعرۍ ته پام لاره، نو شعر او ادب زيات دود سو. چې له دې امله کره کتني ته هم بشپړتيا ور په برخه سوه . په دې دوره کي هم د ادبي کره کتني خورې ورې نخښې ترسترګوکيږي، لکه چې يزيد بن معاويه پردې سربېره چې د شعر ديوان يې درلود پخپله هم شعرترکره کتني لاندي نيوی. عبدالملك بن مروان هم ادبي اوکره کتنيزه قريحه درلوده. هشام بن عبدالملك او وليد بن يزيد بن عبدالملك هم شعرونه ترکره کتني لاندي نيول. دغه مهال په حجاز او عراق کي شاعرانو او نورو د يو بل ويناوي ترکره کتني لاندي نيولې،لکه چې عمر بن ابي ربيعه او کُثَيرِ، يو د بل پر شعرونوکره کتني کولې. د دې دورې له کره کتونکو څخه بل هم ابن ابي عتيق دی چې د حضرت ابوبکرصديق لمسی کيږي . دغه راز د دې دورې په ادبي کره کتونکوکي د حسين بن علي لور " سکينې" نوم هم يادوي او د ادب په کتابونوکي يې د هغې دکره کتنيزو رايو او ملاحظو يادونه هم کړې ده) .1(

عربي ادب او کره کتنه په عبا سي پېرکي:

د اسلام د عباسي پېر په رار سېدو سره د عربو په ژوندکي يو ډول اوښتون راغی. چې د هغه سره د شاعرۍ رنګ هم بدل سو. او علومو او هنرونو ته د قدر په سترګو د کتلو او د هغو د خپرېدو، په تېره عربو ته د ژباړې له لاري د يوناني پوهنو د رسېدو په پايله کي دکره کتني ذوق نور هم د عربو سره مونده سو. او له دې سره سم په عګربي ادب کي بنستېزه کره کتنه پېل سوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوعمرو بن العلاء، حمادالراویه ، مفضل ضبي، خلیل بن احمد، خلف احمر، ابوعبیده او اصمعي د دغه پېرد شعرد پخوانیوکره کتونکو څخه شمېرل سوي دي. چې له هغو څخه مفضل ضبي، خلیل بن احمد او اصمعي لیکلي آثار هم پرې ایښي دي. دغه رازکوموکره کتونکوچي دکرکتني اصول وضع کړل او عربي ادب یې دکره کتني پر محك وڅېړه اوځینو یې په دې هکله کتابونه لیکلي دي، په هغوکي د یادوني وړ نومونه دي د: محمد بن سلام الجُمَحي، ابن قتیبه دینوري، عبدالله بن المعتز، قدامه بن جعفر، ابن رشیق قیرواني، ابن خلدون، جاحظ، ابوهلال عسکري، عبدالقاهرجرجاني، محمد بن یزید المبرد، احمد بن یحیٰی ثعلب، ابومنصور ثعالبي، محمد بن احمد العبیدي، حسن بن بشر آمدي، ضیاءالدین بن الاثیراونور. د عربي کره کتني پر پېل او پر مختیا چې غور و کړو، نو دې پایلي ته رسیږو چې

(1)د یادوني وړ ده چې دغه خبرابوالفرج اصفهاني په" الاغاني" کي، دکتور عبدالحسین زرین کوب په " آشنایې با نقد ادبي" کي او نورو ډېرو، کړې ده، خو علي محمد علي دُ خَیل د" سکینه" رسالې لیکوونکی یې ردوي او نه یې مني .

د لرغوني عربي شاعرۍ آره پانګه د قصیدو په بڼه ده. د دغو قصیدو نرۍ ډېره پراخه ده اوپه هغوکي د عربو بشپړ ژوند انځورسوی دی. اولکه چې پوهیږو دغو قصیدو تلپاتي ژوند ګټلی دی. البته کوم شي چې دغه قصیدې تلپاتي کړي دي، هغه دعربو سپېڅلی کره کتنیزشعور دی. د عامو خلکو په مخکي د مقابلې له مخې د څېړني اوکره کتني هنر او عمل لکه څنګه چې په عربوکي وده او پرمختیا ورکړه سوې ده، د هغه سا رې په نړۍ وال ادب کي لږ ترسترګوکیږي.

د عربي ادب او کره کتني د ځوړتیا او انحطاط پېر:

ترابن اثیر وروسته ترډېري مودې د عربي کره کتني او ادب په تاریخ کي کومه ځلانده څېره څرګنده نه سوه. په تېره څنګه چې د مغولو د تاړاك په پایله کي بغداد سقوط وکړ عربي واکمني ګردسره ړنګه سوه. او د دې سره علوم او ادبیات د ستر ناورین سره مخامخ سول. په دې پېرکي نه کوم سترشاعراو لیکوال پیدا سو نه کوم کره کتونکی. ځینو لیکوالو چې د ادب او ادیبانو په هکله څه لیکلي د هغو په تالیفونوکي دکره کتني په باب زیات څه نه ترسترګوکیږي. صلاح الدین صفدي ( په764س.کال مړ ) کره کتني ته دونه پام نه دی اړولی، خو بیاهم په دې هکله په خپلو هممهالوکي یوه نادره استثناګ وه. دغه راز ابوالعباس قلقشندي

( په823س. کال مړ ) هم په خپل کتاب ګ" صبح الاعشٰی في صناعاَ الانشاګء " کي ځیني کره کتنیز ټکي ځای کړي دي.

دغه ځوړتیا د عثماني واکمنانو په پېرکي خپلي وروستۍ کچې ته ورسېده. په دې پیرکي شهاب الدین خفاجي ( په 1069س.کال مړ )، تاشکبري زاده ( په968س.کال مړ )، د ادب اوکره کتني په برخه کي د یادوني وړ دي. دغه راز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف بدیعي ( په1073س.کال مړ ) دخپل مهال ستر ادیب وو، چې د متنبي او ابوتمام په هکله یې دوه په زړه پوري کره کتنیزکتابونه لیکلي دي.

د عربو د بیا و یښتیا پېل: د دیارلسمي سپوږمیزي پېړۍ په لومړیوکي د عربي هیوادونو او ولسونو په احوالوکي لړلړ بدلونونه رامنځته سول. مصرد ناپلیون د یرغل په پایله کي اود محمدعلي الباني اود هغه د ځای ناستو په پیرکي د اروپایي فرهنگ او تمدن سره آشنا سو. په تونس او الجزایرکي د عربو او فرانسویانو ترمنځ د سولي او جګړې اړیکي رامنځته سوې. شام، لبنان اوعراق د عثماني واکمنۍ د بې واکۍ له امله د اروپاد تمدن او سیاست سره مخامخ سول. دې حال احوال پر عربي ادب اغېزه وښندل، په تېره اروپایي فرهنگ او تمدن د عربو په وړاندي د فرهنگ او تمدن په هکله نوي ورونه پرانیستل. ځینو شاعرانو او لیکوالانو د نوو وطني او ټولنیزو مضامینو لیکلوته مخه کړه . دې چارو ورو ورو په عربي ادب کي نوي بدلونونه رامنځته کړل چې په کره کتنه کي یې هم انعکاس وموند. په لبنان کي بطرس البستاني او احمد فارس الشدیاق په خپلو لیکنوکي د اروپایي کره کتني کړندود خپل کړ، د لبنان له ادیبانو څخه شیخ ناصف یازجي لغوي کره کتني ته پام واړاوه . نامتو لیکوال، مؤرخ اوڅېړونکي جرجي زیدان هم مهم او په زړه پوري کتابونه ولیکل او په " الهلا ل " مجله کي یې خپل کره کتنیز، علمي، دقیق او معتدل ذوق څرگند کړ . په دې دوره کي د شام او مصر له ادیبانو څخه ځوتنه نور هم چې کره کتنیز ذوق یې لاره کېدای سي چې یاد سي. خو دکره کتني وروستی، بشپړ او بنسټیز نهضت له لویه سره د مصر د ځو تنو وروستیو او اوسمهالو لیکوالو او ادیبانو د هلوځلو یېبره ده. چې په دې هکله یې ځانگړې پاملرنه کړې او ارزښتناك آثاریې لیکلي دي. له دې لیکوالو اوکره کتونکوڅخه دي : ابراهیم مازني، عباس محمود العقاد، محمدحسین هیکل بگ، احمد امین او طه حسین اونور .

41ـ عربي شعر او ټولنه

عربي شاعرانو او ادیبانو د جاهلیت له دورې څخه تر ننني نوي ادبي نهضت پوري ستر شعري او ادبي ایجادات په میراث پرې ایښي دي. د دوی د شعرفکر، لغت ، عبارت او لفظ روڼ ، د خیال او جمال تصویرونه، ښکلي او معنا وي یې دقیقي دي. چې د شاعرانو له عواطفو او افکارو او د خلکو د ژوندانه او چاپیریال څخه نماینده گي کوي. د دې ترڅنگ د عربي شعر یوه برخه په تېره په عباسي پېرکي په ټولنه کي د حاکمو او شتمنو ډلگیو نماینده وه چې د دغو ډلگیو د لوستونکو او اورېدونکو ذوقونو ته به یې جواب وایه او د دوي هیلي او غوښتني به یې منعکسولې او د دوی د خیالي او رشتیانیو لویانو ستاینې به یې کولې .

البته دا ښکارندې ټولنیز لاملونه لري، چې ډېر مهم یې د واکمنو او د دوی د مرستندویو سوداگرو او مځکوالو د لړکیو په لاسونو کي د واك او شتو تمرکز، د وگړو د سترو ډلو بې وزلي او د شتمنو او واکمنانو د ستاینې په بیه د شاعرانو د ښه ژوند څخه د هغو نه خبرېدل دي. چې دا ښکارنده په ټولو پخوانیو ټولنوکي څرگنده وه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دې سره سره عربي شعر ان په عباسي دوره کي هم ټوله د دروغجنو ستاینو شعر نه وو. رشتیا دا ده چې ډېرو ولسي شاعرانو د خلکو د احوالو سره تماس نیولی، د دوی د ستونزو او دردونو شاعران وه. او د ولس فکر، ژوند او غوښتني به یې په خپلو اشعارو کي منعکسولې چې د دې حقیقت ډېر ښه ساری په اسلامي فتوحاتو او صلیبي جګړو او نورو کي ببخي ډېر موندل کیږي .

42ـ د عربي ادب اغېزې د ختیز پرآدابو باندي

د عربي ادب شعر، نثر اوکیسو د موضوعاتو، معنا وو او اسالیبو، شعري اوزانو، د لغاتو د مفردا تو او فصاحب او بلاغت له مخي د ختیزو ولسونو پرآدابو باندي اغېزه ښندلې ده. د پښتو، فارسي، ترکي او نورو هغو ختیزو ژبو پر وده او تطور باندي چې د عربي اسلامي ثقافت په چاپیریال کي، یا هغه ته نژدې رامنځته سوي دي. د عربي ادب اغېزې په څرګنده ښکاري .

دغه راز د ختیزو ولسونو فرهنګیانو عربي ژبه زده کړه او خپل تالیفونه یې په ولیکل چې له دوی څخه د عربي اسلامي ثقافت په بېلو بېلو برخو کي بې شمېره نابغه شخصیتونه راڅرګند سول. د اسلام د مبارك دین په رڼا کي پښتو او دري آداب د عربي ادب ترڅنګ د اسلامي آدابو په څېر راڅرګند سول او وغوړېده. پښتو او دري ژبو ادیبانو اوپوهانو په پښتو او دري ژبو په عربي توروکتابونه ولیکل او ډېر الفاظ یې له عربي ژبي څخه خپلو ژبو ته ولېږدول .

دغه راز ډېرو پښتنو او دري ژبو شاعرانو، د عربي شعرڅخه وزنونه، لغات او قافیې اقتباس کړې او په خپلو ژبو یې پرخپلو شعرونو او لیکنو تطبیق کړې. په تېره پر دري نثر باندي د عربي اغېزې ډېري ښکاري. خو په قرآني آیتونو، احادیثو، متلونو او عربي شعرونو استدلال او استشهاد په دواړو پښتو او دري ژبوکي ډېرکیږي. د پښتو او فارسي ژبو ادیبانو په خپلو شعري او نثري تخلیقا توکي د عربي بدیع او بلاغت قواعد هم پلي کړي او عربي اصطلاحات یې ډېر اخیستي دي .

دغسي پر ترکي او کردي ادب هم کومي خبري چې د پښتو او دري په هکله وسوې، تر ډېره حده صدق کوي. د دغو ژبو آداب هم په مستقیمه توګه یا د فارسي ادب له لاري، په غیر مستقیمه توګه د عربي ژبي څخه اغېزمن سوي دي. د هندوپاك ادب هم په ډېره ژوره توګه د اسلامي ادب تراغېزې لاندي راغلی دی. په هندي او پاکستاني مسلمانانوکي ډېر ستر ستر لیکوالان راڅرګند سول، چې په عربي ژبه یې ډېر کتابونه ولیکل؛ چې زیاتره یې پر دیني، لغوي او تاریخي مسایلو راګرځي. پردې سربېره د عربي او فارسي ثقافت تراغېزو لاندي نوې ژبه د اردو ژبي په نامه رامنځته سوه، چې ډېر موضوعات او معنا ګاني یې له عربي ادب څخه اخیستي دي .

43ـ د عربي ادب اغېزې پرلوېدیزو آدابو باندي عربي ادب د هغو ولسي سندرو، بدلو اوکیسو له لاري کومي چې د خلکو په منځ کي مشهوري وې او په خوله یې یو بل ته لېږدولې پرلوېدیزشعر باندي ستره اغېزه ښندلې ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسپانیې اوهغې ته د نژدې اروپايي ملکونو لکه فرانسې او ایټالیې د نصراني امراوو په ماڼیو کې د اندلس د سندر غاړو سندرو ته ډېره پاملرنه کېده. په یوولسمو او دوولسمو میلادي پېړیوکې په اروپا کې یوه ډله بدل بول شاعرا ن راڅرګند سول، چې سندرې او نغمې به يې د باجې سره يوځاى غږولې. دغو شاعرانو ته په "طروبادور" وويل سول. طرو بادور د عربي له "طرب" څخه اخيستل سوې کلمه ده. دا ځکه چې عربي رنګ د دغو شاعرانو په شعرکې ډېر ښکاره وو.  دغه ډول ډېرې عربي کیسې هم په اروپايي ژبو و ژباړل سوې؛ لکه چې لومړى " کلیله و دمنه " په دیارلسمه میلادي پېړۍ کې په اسپانوي او لاتيني اوبیا په نورو

ژبو و ژباړل سوه.  له دې امله دی چې د عربي کیسو اغېزې د ایټالوي لیکوال پوکاچو د " دیکامیرون " په کیسو کې په څرګنده ترسترګو کیږي. دغه رازد ادب تاريخ لیکونکو دابي العلاء المعري د " رسالآ الغفران" اغېزې د ایټالوي شاعر دانته په " الهي کومیډې " کې هم جوتي کړي دي .

په اوولسمه عېسوي پېړۍ کې عربي ادب ته د لوېديزو اديبانو پاملرنه زښته زياته سوه چې د ادب تاريخ ليکونکو لخوا د دې ګ پاملرني اسباب د اروپا پراختيا، د رومانتيکي غورځنګ رامنځته کېدل اود ختيزو پوهانو د غورځنګ منظم کېدل ښوول سوي دي. دغه مهال د حي بن يقظان کیسه په لاتيني ژبه وژباړل سوه اود يو زر و يوې شپې ( الف ليلاً وليلاً ) کیسه په 1704ع. کال کې د لومړي ځل لپاره په فرانسوي و ژباړل سوه، چې بېخي ژر په اروپا کې خپره سوه او په ډېرو نورو اروپايي ژبو هم واړول سوه .

44ـ د مکې د اوسنيو ليکوالانو او شاعرانو په هکله

د مکې د يوه ليکوال څرګندوني

د مکې مکرمې د تاريخ ( تاريخ القويم ) ليکوال علامه محمد طاهرکردي  ( 1321 _ 1400س.) په خپل کتاب کې د مکې مکرمې د اوسنيو ليکوالو او شاعرانو په هکله څه څرګندوني لري چې موږ يې غټ ټکي را اخلو :

علامه کردي په دې عقيده دی چې څنګه چې شاعران په هره لوړه، ژوره کې سرګردانه او اديبان په هره برخه کې ليکني کوي، نو دوی په خپل فصاحت او بلاغت اوحسن اسلوب کولاى سي چې د خلکو لارښوونه وکړي. ده په خپل تاريخ کې د (160) تنو په شا و خوا کې د اسلامي عالمانو، ليکوالانو، شاعرانو او اديبانو اود هغو د تاليفاتو په هکله څرګندوني کړي او عقيده څرګندوي چې:" که اديبان د شعر او ادب او ليکوالۍ خدمت ته وزګار سي، نو به په رشتيا چې ستر تخليقات رامنځته کړي. خو له بده مرغه چې هغو د ژوندانه پېټې پر اوږو اخيستي او په نورو دندو او کارونو بوخت دي".  دی زياتوي :" زه باور لرم چې زموږ په مهال د شعر او ادب صنعت د بشپړتيا تر وروستي پړاوه رسېدلاى سي. ځکه چې زموږ سره اوس د پوهې سرچيني او اداني ډېري دي. خو موږ داسي ډېر اديبان او فاضلان لرو چې د حيا او ضعف له امله په ورځپاڼو او مجلوکې د خپلو ليکنو خپرولو ته زړه نه ښه کوي. ځکه دوی ګومان کوي چې که د دوی کومه ليکنه خپره سي د اعتراضونو اوکره کتنو هدف به وګرځي، چې د دوی دا نظر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درست او غوره نه دی. ځکه د آس په سپرلي کې هغه مهال مهارت تر لاسه کیږي. او سړي هغه وخت آس سپور باله سي، چې څو واره له آسه ولویږي. نو ځوانو لیکوالو او شاعرانو ته په کار ده چې علم او ادب او نورو ښو چارو ته په مېړانه او زړه ورتیا ور ودانګي؛ لکه چې پخوا لا یوه شاعر ویلي دي : یعني چې د خلکو د خبرو پر واکوي له غمه به مري. او زړه ور او مېړه سړی به په خوند خوند وژغورل سي. دی مشرو او فاضلو ادیبانو ته سپارښتنه کوي چې د ادب بڼ ته د نوو ورننوتلو ځوانانو

سره په مینه او نرمښت چلند وکړي. له ځینو خطا وو څخه یې سترګې پټې کړي او د تُندو او مرچکي کره کتنو په غشویې زړونه ور زخمي نه کړي، څو د هغو قلمونه د ادب او لیکوالۍ په هنرکي ښه غښتلي سي او د ویښتیا، پاڅېدني او شجاعت اروا وده پکښې وکړي. او که داسي وسي د شعر او ادب بازار به ښه تود سي". دغه راز علامه کردي د " تاریخ القویم " په یوه بله برخه کي ادیبانو او شاعرانو ته څه توصیې کړي او وایي:" علم بېله عمله او بېله عقله څرګند خسران دی او ادیب بېله ادبه او شاعر بېله شعوره وبال د ځان دی. عالم ښایي په علم پسوللی وي او د جاهل کارونه و نه کړي. ادیب ښایي په ادب ښایسته وي او بې ادبه نه وي. شاعر ښایي د شعور او احساس څښتن وي او د بې احساسوخلکو غوندي بې خبره نه وي. او د دوی له علم او پوهي څخه باید خلکو ته ګټه ورسیږي". ( اروا دې ښاد وي ).

45ـ روغتیایي خدمتونه

پیرغلام دستګیر نامي په تاریخ مکه معظمه کي چې په 1346س.کال یې لیکلی دی په مکه مکرمه کي د " خاصکیه " په نامه د یوه ستر روغتون یادونه کوي، چې لګښت یې عثماني سلطان سلیمان قانوني ورکاوه. دغه راز هغه وایي چې څلور ډسپنسرۍ ( واړه روغتونونه ) هم هلته د ناروغانو درملنه کوي چې دوه یې د مسعٰی سره، یو په جیاد محله کي، او یو بل ځای دی. چې دغه څلورم یې بېخي د عطار د یوه معمولي دکان غوندي دی. د مصر په خانقا کي هم یو روغتون وو، چې کلنی لګښت یې اووه سوه مصري پونډه کېدی. علامه کردي په تاریخ القویم کي وایي چې په مکه مکرمه کي د عثماني ترکانو او شریف حسین په وختوکي یو روغتون په اجیاد کي او بل په " المدعاء " نومي ځای کي د " القبا ن " په نامه فعال وه چې په دواړوکي پنځه تنه ډاکټران د ناروغانو په درملنه او دارو درملو ورکولو بوخت وه. دغه مهال هلته یوازي یو درملتون د " حسنین " په نامه موجود وو. په دغه پیرکي یوناني طبابت ډېر دود وو، ځکه نو هلته د یوناني درملو دکانونه پرانیستي وه چې ځینو مسلمانو، هندي طبیبانو د طبیعي بوټو څخه جوړ سوي درمل پکښې پلورل. وروسته چې د مکې ودانۍ او وګړي ډېر سول سعودي حکومت ډېر ډاکټران له نورو ملکونو ور وغوښتل، ډېر روغتونونه او درملتونونه پرانیستل سول. او ډېر سعودي ډاکټران په بهرکي وروزل سول. اوس په سعودي عربستان کي، د یوې احصائیې له مخي هرو ( 297 ) تنو ته د روغتون یو کټ او ( 720 ) تنو ته یو ډاکټر رسیږي. ( په افغانستان کي هرو[1730] کسانو ته د روغتون یو کټ او [585]کسانو ته یو ډاکټر رسیږي. او په پاکستان کي هرو [2064] کسانو ته د روغتون یو کټ او[4000]کسانو ته یو ډاکټر رسیږي ). د سعودي د عامي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتيا وزارت هركال منظم پلانونه وضع او پلي کوي څو د حاجيانو د روغتيا ساتني په هکله وړخدمتونه ترسره کړي. په 1412س. (1992ع.)کال کي حاجيا نو ته د روغتيايي خدمتونو د وړاندي کولو لپاره ( 22 ) روغتونونه د ( 5363 ) کټونو په درلودلو سره او( 137 ) روغتيايي اساسي مرکزونه په مکه مکرمه ، عرفات، منا، مزدلفه، د مدينې پرلويه لار او په مدينه کي په کار بوخت وه. د حج په مهال لس زره تنه ډاکټران، ټکنيشنان، روغتياپالان ( نرسان ) او په روغتيايي ارشوکي نور بوخت کسان د حاجيانو روغتيا ساتني ته ګومارل کيږي. دغه راز د تودوښي له امله د جولې وهلو حاجيانو د درملني لپاره د سعودي د عامي روغتيا وزارت په اړوندو روغتونونوکي ( 105 ) روغتيايي ډلي هم په کار بوختي دي. پر دې سر بېره د لومړنيو روغتيايي مرستو ( 6 ) مرکزونه په مکه، عرفات، منا او مدينه منوره کي د جولې وهلو حاجيانو سره روغتيايي مرستي کوي، چې هر مرکز ( 140 ) کټه او اووه متخصص ډاکټران او نور پرسونل لري. څوکاله د مخه د سعودي د عامي روغتيا وزارت د لندن د ټراپيکل ډيزيزکالج په مرسته د کټ غوندي يوه داسي آله جوړه کړه چې د جولې وهلي ناروغ په علاج کولوکي کارول کيږي. وروسته يې دغه آله د نوي لوړي ټکنالوژۍ سره سمه نوره هم بشپړه کړه.

پردې سر بېره د سعودي د " ملي ګارډ " او"ګ دفاع او هوايي چلند وزارت " هم د حاجيانو لپاره ثابت او ګرځنده روغتونونه لري چې ناروغان وړيا ګوري، وړيا درمل ورکوي او وړيا يې عمليات کوي. او د نا وړو پېښو ( ايمرجنسي ) په مهال د پوځ هليکوپټرونه چې د دغسې پېښو لپاره تيار ولاړ وي، ناروغ سمدستي د جدې پوځي روغتون يا د طايف د شهزاده منصور پوځي روغتون ته رسوي .

46ـ سعودي سره مياشت

څنګه چې حاجيان او نور خلك په پخوا وختوکي د علاج او روغتون ته د رسېدلو په لار کي د زياتو ستونزو سره مخامخ کېدل، نو ځينو نېك چارو، د لومړنيو مرستو او روغتيايي خدمتونو د ملي ټولني جوړلو ته لاس واچاوه. او په 1354س. کال کي د " جمعياَ الاسعاف الخيري " (د روغتيايي مرستو خيريه ټولنه)، جوړه سوه، چې حاجيانو او نورو ته يې روغتيايي او نور خدمتونه وړاندي کول. د 1383س.کال د امامانو د مياشتي پر ( 16 ) د دې لپاره چې دغه ټولنه وکولای سي ښه او هر اړخيز خدمتونه ترسره کړي هغې ته د "جميعاَ الهلال الاحمر" (د سري مياشتي د ټولني) نوم ورکړه سو، چې په 1963ع.کال کي يې د نړۍ وال سره صليب د سازمان غړيتوب هم ترلاسه کړ. په دې ډول دې ټولني ته دولت هم ډېره پاملرنه وکړه اوپه همهغه 1383س. کال کي يې يو ميليون رياله تخصيص ورته ورکړ. دغه ټولنه د رياض پر مرکزي دفتر سر بېره د سعودي په سترو ښارونوکي دفترونه او د روغتيايي مرستو مرکزونه لري. حاجيانو ته د خدمت په لړکي په 1412س.کال کي دغي ټولني ( 250 ) روغتيايي مرکزونه درلوده چې له هغو څخه ( 141 ) يې ګرځنده وه او د ( 428 ) امبولانسونو او ( 15899 ) تنو کارکوونکو په درلودلو سره يې خدمت کاوه.

47ـ قرنطين ځايونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"Quarantine" "(کورنتینا یا قرنطینه یا قرنطین ) هغه ټاکلې موده ده چې په هغې کې مسافر یا د وبا وهلي سیمي ناروغان یا په وبا ککړ سوي وګړي یا مالونه یا بېړۍ له نورو څخه بېل ساتل کیږي، څو ناروغي خپره نه سي. (د یوې انګرېزي ــ فارسي ډکشنرۍ په خوله دغه موده څلوېښت ورځې ده). وایي چې قرنطین له لویه سره فرانسوي لغت دی. کله چې د فنیسیا فرنګیانو ولیدل چې وباوي د ختیز او د افریقې په شمال کې د المغرب څخه اروپا ته ننوزي نو د لومړی ځل لپاره یې په1348ع. کال کې مامورین وټاکل، څو هغه بېړۍ چې له بهر څخه د دوی د هیواد پولو ته له دغه لوري رسېږي وپلټي او په دې پسې په 1403ع.کال کې

د ادریاتیك په یوه وړه ټاپوکي لومړی روغتیایي قرنطین ځای، د لازاریټ ( Lazarette ) په نامه پرانیستل سو چې بیا یې د مهالونو په تېرېدو پراختیا وموندله . څنګه چې مکې مکرمې ته هرکال د حج او عمرې د ادا کولو لپاره په لکونو وګړي د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ور درومي نو د وبا یې او نورو ساري ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي او له دغسي ناروغیو څخه د سعودي د اوسېدونکو او حاجیانو د ژغورني لپاره دې چاري

ته هم پام واړاول سو. د ترکانو په وختوکي د قرنطین روغتیایي عملیات د اړتیا په مهال د جدې ساحل ته نژدې په دووکوچنیو ټاپوګانوکي ترسره کېدل. له دغو قرنطین ځایونو څخه تر 1911ع.کال د مخه کار اخیستل کیدی. خو وروسته د روغتیایي علومو د پرمختګ له برکته دغو ځایونو ته اړتیا نه لیدل کېدل. خوکله چې په 1947ع.کال کي په مصرکي کولرا ښرګنده سوه، دغه قرنطین ځایونه بیا له مصرڅخه د راتلونکو مسافرو د تر قرنطین لاندي نیولو لپاره وکارول سول. سعودي حکومت وغوښتل چې په 1926ع.کال کي چې په پاریس کي د نړۍ د دولتونو لخوا په دې هکله کوم روغتیایي تړون لاسلیك سوی وو، د هغه ځیني مادې دي له منځه یووړل سي او ځیني دي هم تعدیل کړای سي. ځکه چې د فني شرایطو سره سمون نه خوري. له دې امله له بهرڅګخه پلاوی راغی او د جدې دغه قرنطین ځایونه یې له نژدې وکتل او نظریې ورکړچې که دغه ځایونه پراخه سي او سمون پکښې راسي د حاجیانو د راتلو په مهال د قرنطین خدمتونو ته په بشپړه توګه بسنه کوي. نو هغه وو چې سعودي حکومت د دغو قرنطین ځایونود پراختیا او بشپړتیا کارونه ترسره کړه. اما د یوه بل قرنطین ځای لخوابه چې په " کمران " ټاپوکي وو، د هغو حاجیانو بېړۍ د روغتیایي نظره پلټل کېدې، چې د جنوب له لوري به جدې ته رسېدلې. خو څنګه چې سعودي حکومت دغه کار ته د جدې په مینا نومې ځای کي خپل چارواکي وټاکل، نو په 1951ع. کي یې د کمران د ټاپو قرنطین ځای لغوکړ. د جدې د قرنطین ځای ( 150 ) ودانۍ په نژدې ( 229000 ) مربع متره مځکه کي په داسي ځای کي جوړ سوی چې د اوسېدو له سیمي څخه ډېر لیري دی. د دغه ځای ټولي ودانۍ په برېښنا رڼا سوي او اداري دفترونه، د ټیلیفون منځی ( سنټرال )، د موټرانوګاراجونه، باغچه، د ترکاڼۍ کارځای ( ورکشاپ )، حمامونه، د چښنګ اوبه، پخلنځي، تشنابونه او نور ټول لازم تجهیزات لري. پردې سر بېره په دغه قرنطین ځای کي د روغتیایي روزني ( ټرینینګ ) ښوونځی، د قرنطین ځي د اړتیاوړ یخي جوړولو فابریکه، عام روغتون، درملتون، د ډاکټرانو او نورو کورونه او داسي نور لوازمات ټول جوړ سوي دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



48ـ د سعودي پیسې

د اسلام له پیل څخه د پیسو تاریخ:

ځيني وايي چې د رسول ﷺ په زمانه کي د فارس، روم، یمن او المغرب درهمونه او دینارونه چلېدل چې د فارس او روم پر درهمو به د هغو ځايونود پاچهانو تصويرونه وه. خو څنګه چې په کتابونوکي د هغو د وزنونو په هکله ډول ډول خبري سوي دي، دقيق وزنونه يې نسي ويل کېداى .

اسلامي سکه ( درهمونه او دينارونه ) د لومړی ځل لپاره د عبدالملك بن مروان په پېړکي په 75س.کال کي ووهل ( ضرب ) سوه. خو جرجي زيدان د مصر په تاريخ کي وايي چې د راشده خلفاوو په وخت کي د مسو ساده سکه ضرب سوې وه او د سپينو زرو سکه د خليفه عبدالملك په وختو کي راووتل. ځيني وايي چې په اسلامي پېړکي د لومړي ځل لپاره د حضرت علي ( ك ) په وختو کي درهم ضرب سو، چې بيا حضرت معاويه ﷺ او حضرت عبدالله ابن الزبير ﷺ درهمونه او دينارونه را و ايستل .

په تاريخ القويم کي وايي چې په 1276س.کال کي جواد نومي يوه ايراني د سپينو زرو يوه عربي سکه چې په 40 س.کال کي په بصره کي ضرب سوې وه " دارالسعادت " ته وړې وه چې پر يوه مخ يې په کوفي ليك ليکلي وه: " الله الصمد لم يلد و لم يولد و لم يکن له کفواً احد ". او چار چاپيره يې ليکلي وه : " محمد رسول الله ارسله بالهدٰی و دين الحق ليظهره على الدين کله ولوکره المشرکون ". او پر بل مخ يې ليکلي وه : " لااله الا الله وحده لا شريك له ". او پر شاو خوا يې ليکلي وه : " ضرب هٰذا الدرهم بالبصراً سناً اربعين ."

په يوه بل کتاب کي وايي چې : " حضرت عمر ﷺد اړتيا له مخي پاڼي او څرمني د نقودو په توګه استعمالولې. په هرصورت په تاريخ القويم او تاريخ الحضاراً العربياً الاسلاميه کي د راشده خلفاوو، امويانو، عباسيانو، فاطميانو، سلجوقيانو او صلاح الدين ايوبي د وختو د درهمونو او دينارونو تصويرونه خپاره سوي دي .

د حجاز د پيسو تاريخ :

په 827س.کال کي چې شريف علي بن عنان په مصرکي وو، د مصر واکمن " برسباي " هغه د مکې والي وټاکی. نو هغه وو چې شريف علي د لومړي ځل لپاره له مصر څخه مکې ته د پيسو د ضرب مطبعه راوړه. په يوه بل روايت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وایي چې په 1100س.کال کي د مکې شریف احمد بن غالب ته احوال ورغی چې ځیني خلك په کورونو کي دراهمونه جوړوي، نو هغه د دوی د کورونو د نړولو حکم وکړ؛ له مکې یې وایستل او د سکو جوړولو وسایل یې ځني ضبط کړه. پر مکه مکرمه باندي د عثمانیانو د واك په موده کي عثماني پیسې چلېدلې. بیا چې په 1334س.کال کي د عثمانیانو واك پر مکه پای ته ورسېدی. هلته په همدغه کال د شریف حسین سکه راووتل. بیا چې په 1343س.کال کي د ملك عبدالعزیز واك پرحجاز ټینګ سو، په همدغه کال د نیم قرش او د قرش د څلورمي برخي سکه راووتل. د نیم قرش پر یوه خوا لیکلي وه: " نصف قرش ضرب في ام القرٰی " ( ام القرٰی یعني مکه مکرمه ) او پر بله خوا یې لیکلي وه : " عبدالعزیز بن عبدالرحمن الفیصل سنآ 1334 " بیا په 1344س.کال کي د یوه قرش نکلي سکه را ووتل چې پر یوه مخ یې لیکلي وه: " قرش واحد 1344 ". او پر بل مخ یې لیکلي وه : " عبدالعزیز السعود ملك الحجازو سلطان نجد ". نیم قرش او د قرش څلورمه هم په دغه ډول ورسره راووتل. په 1346س. کي د سپینو زرو ریال را و وتی چې د هغه د لومړي مخ په منځ کي لیکلي وه : " عبدالعزیز بن عبدالرحمٰن السعود " او پر شا و خوایې لیکلي وه : " ملك الحجاز و نجد و ملحقاتها ". البته پردغه مخ د سعودي رسمي نښان هم ضرب سوی وو او پر بل مخ یې لیکلي وه:

"ضرب في مکآ المکرمآ سنآ 1346ګ ". او پر شاو خوایې د ( 1 ) پر عدد سربېره لیکلي وه: "ریال عربی سعودی واحد " او ښې او کیڼې خوا ته یې د خرماو ني رسم سوي وې. په 1370س.کال کي د لومړي ځل لپاره د سرو زرو جنیه ( پونډ یا دینار ) راووتی چې د لومړي مخ پر منځ یې د سعودي د رسمي شعار سره لیکلي وه:" عبدالعزیز بن عبدالرحمٰن السعود ". اوچارچاپیره یې لیکلي وه:" ملك المملکآ العربیآ السعودیآ ". او د بل مخ پرمنځ یې لیکلي وه:" ضرب في مکآ المکرمآ سنه 1370 ". او شاو خوا یې د ( 1 ) پر عدد سربېره لیکلي وه : "جنیآ عربی سعودی". او ښې او کیڼې خوا ته یې د خرماوني رسم سوي وې. د جنیه په هکله د دیوبند د دارالعلوم د استاد مولانا وحید الزمان کیرانوي په" القاموس الجدید" کي لیکلي دي: "جنیآ انکلیزي: د سرو زرو انګریزي ګني، اشرفي. جنیآ انکلیزي، د پاڼي (کاغذي ورقي ) پونډ". خو علامه طاهرکردي وایي:" د ( جنیآ ) کلمه عربي نه ده او معنایې دینارد‌ی او زموږد مهال په اصطلاح د سرو زرو یاکاغذي پیسو ته جنیه وایي. د جنیه نوم د افریقا د څنډو د یوه هیواد ګینیا د نامه څخه اخیستل سوی دی. په کال 1588 ع.کي یوه انګریزي تجارتي شرکت د دغه هیواد په محصولاتوکي د هغه دکانونو سره زرهم د انګریزانو ملك ته ولېږل. انګریز حکومت له هغو څخه سکه ضرب کړه او د ګینیا په نامه یې ونومول . بیا چې په کال 1817 ع. کي انګریزي لېره را ووتل. ګینیا ناچله سوه . د سعودي عربستان د لسو ریالو کاغذي نوټونه د لومړي ځل لپاره په کال 1372س.کي راووتل. پردې نوټ باندي د " نائب رئیس مجلس الاداراآ الشیخ عبدالعزیز بن عبدالله السلیمان " او" المحافظ المسترجورج بلاور" او" نائب المحافظ راسم الخالدي" لاسلیکونه سته او پرنورو عربي او انګریزي لیکونوعلاوه داکرښې هم پرچاپ سوي دي: دس ریال، عشرآ ریالات، ده ریال، سقولآ ریال.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مهال د سعودي عربستان کاغذي پيسې د 1_ 5_ 10 _ 50 او100 ريالو نوټونه دي. يو ريال سل هلا يا شل قرشه کيږي او فلزي پيسې (توري ) يا ما تي هم لري .

49ـ د مکې مکرمې د خلکوکالي اوچلتار

مشهور سياح ابن بطوطه په کال726 س.کي د مکې مکرمې د خلکو دکالو په هکله وايي: " د مکې خلك ډېر ښه کالي اغوندي. سپين لباس يې ډېر خوښ دی، رانجه، عطر او مسواك هم ډېر استعمالوي."

ابراهم رفعت پاشا په کال 1327 س. کي د مکې د اوسېدونکو دکالو اغوستلو دود داسي بيانوي: " د مکې خلك په کالو او خوړوکي له زياتي مبالغې کاراخلي. دکالو زرغونه، سره، گلابي او ژړ رنگونه ډېرخوښوي. په کورونوکي د ښکلا او سينگار ډېر بيي شيان ډېرساتي. ښځې چې بازارونو ته وزي نو د پنډ ټوکره داسي بوغره اغوندي چې د سترگو پر برابر دوه واړه سوري لري او د دې سره، زياتره ژړ رنگه بوټونه په پښوکوي ."

نن مهال د مکې زياتره نارينه داسي سپين اوږده کميسونه اغوندي چې تربجلکو پوري يې رسيږي گگ دغوکميسونوته توپ وايي ـ تردې کميسونو لاندي نېکرونه اغوندي اوبوټونه، هوايي يا نورچمپلونه په پښوکوي. ښځي هم اوږده کميسونه ( توپ ) او کوتنې اغوندي او پوړني پرسرکوي. د دوبکالي زياتره رنگه او ډېر بيي وي. او نارينه او ښځې جرابي هم په پښوکوي. بازار يا حرم ته چې ځي د پخوا په شان توري بوغرې اغوندي، چې يو ډول د نوي طرز نری نقاب پرمخ اچوي. البته بايدياده کړو چې د مکې ښځې ډېري بازارونو ته نه وزي او د بازار سودا نارينه کوي .

څنگه چې په مکه مکرمه کي ساړه نسته د دغه ځای د خلکو د ژمي او دوبي جامې تقريباً يو شانته وي. مکيان ډېر پاك خوره دي،کالي، بستر، لوښگي،کورونه او هرڅه ډېر پاك ساتي. پخوا به د حجاز خلکو يو بېل ډول لنگوټې تړلې چې چا به په خپله نه سوای تړلای او بېل خلك به وه چې په ځانگړو بازارونوکي به يې دغه کارکاوه. دغه لنگوټې به شل گزه، سپين نازك ټوکر وو. بل ډول عادي دوه گزه لنگوټې وې چې هرچا به په خپله تړلې. بيا په 1350 س. کي يا يو کال ترهغه د مخه ملك عبدالعزيز بن عبدالرحمان آل سعود امر وکړچي د دولت ټول چارواکي دي يو ډول چوخه ( المَشْلَح ) اغوندي او پرسردي دستمال اچوي اوچلتار دي پرتړي. چې چلتار ته " عقال " وايي. له دغي نېټې څخه په ټول سعودي کي دغه لباس دود سو او د لنگوټو تړل له منځه ولاړل. لنگوټه تقريباً د ټولو اسلامي هيوادونو خلکو په تېره عالمانو او طالبانو تړل او اوس يې هم

په ډېرو ملکونوکي تړي، خو د دې ترڅنگ يې ځيني نوري خولۍ اوخولۍ يالنگوټې غوندي نورهم د عقال،کوفيه، طربوش، طاقيه، شُطفه او داسي نورو په نومونو له ډېر پخواڅخه پرسرکول او تړل او تراوسه يې لا هم په ډېرو ملکونوکي استعمالوي. اوس اوس په مکه او نور سعودي کي زيات شمېر لوستي ځوانان ـ لکه د نورو ډېرو اسلامي هيوادو غوندي ـ لڅ سرهم گرځي. خو خپل د سر وربښتان پر وخت او داسي جوړوي چې بد ونه ايسي. ښه پاك يې ساتي، د وربښتانو په ځانگړو غوړويا کريمونو يې غوړوي او ږمونځوي يې. داسي نه لکه زموږ ببرسري اوبې سواده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موډکيان چې الف په څکرکي نه لري، نه د سر وربښتان سم اوپر وخت اصلاح کوي او نه يې غوړوي او ږمونځوي. چې په دې ډول يې له سره څخه د وحشيانوکوډل جوړه کړې وي .

50ـ د مکې مکرمې حج ښوونکي

هغه کسان چې په مکه مکرمه کي د حاجيانو سره د حج په چارو او د حج د مناسکو په ادا کولوکي مرسته کوي " مطوفين " يې بولي او په مدينه منوره کي چې کوم کسان د حاجيانو سره مرسته کوي هغو ته " الادلاء " وايي، چې موږ يې په عامه توګه د حج معلمان ( حج ښوونکي ) بولو. په ډېرو پخوا وختونوکي نه حج ښوونکي وه او نه د حج ښووني فيس. خو په کال 760س. کي چې د مصر پاچا قايتباى حج وکړ، هغه احساس کړه چې د حاجيانو د خدمت، هوسايي اولاږښووني لپاره د ښو او نيك چارو وګړو ټاکلو ته د معلمينو په توګه اړتيا سته. نو هغه وو چې د دغه پاچا د دغي هيلي له مخي د مکې شريف ابونمي څو پوهان او د تقوا خاوندان دې چاري ته وټاکل او د خداى د کور د مېلمنو خدمت ته يې وګومارل. چې داکار په راوروسته مهالونوکي عام او دود سو او پاى يې د مهالونو په تېرېدو سره دادى د يوې پېښې بڼه غوره کړې ده

د استاد احمد السباعي د ګګ" تاريخ مکه " کتاب څخه څرګنديږي چې په کال 1205س. کي د مکې امير شريف غالب (رح) او همداراز په کال 1318س.کي د مکې بل اميرشريف عون (رح) مکې ته د ورتلونکو حاجيانو د هيوادونو د معلمۍ چاري پر بېلو بېلو سيمو سره وېشلې او معلم ته يې پرحاجي باندي له دې درکه اجوره وټاکل او شريف عون به د دغو سيمو د معلمۍ حقوق پرمعلمانو پلورل، چې په دې ډول به د حاجي څخه د معلم د ټاکلو په هکله پوښتنه نه کېده اوهغه به اړوو چې د هغه معلم معلمي ومني چې د ده د هيواد د معلمۍ حقوق يې رانيولي وه. د ابراهيم رفعت پاشا د "مرآآ الحرمين " او د علامه محمد طاهر کردي د " تاريخ القويم " له مطالعې څخه ښکاري چې دغسي کړنه تر شريف عون وروسته د مکې نورو اميرانو هم کول.د 1385س.کال د لومړۍ خور پر دوولسمه د مکې مکرمې په " الندوه " جريده کي د سعودي عربستان د پاچا ملك فيصل د 1385س.کال د دريمي خور د نهمي نېټې د ( 12 ) لمبرفرمان متن، خپور سو، چې د هغه له مخي حاجي ته د معلم په ټاکلو کي مطلقه آزادي ورکړه سوې وه او پکښې څرګنده سوې وه چې له هر يوه حاجي څخه په مکه مکرمه کي د مطوف د خدماتو اجوره پنځوس رياله. په جده کي د وکيل د خدماتو اجوره اووه رياله.په مکه کي د زمزمي (د زمزم د اوبو رسوونکي) د خدماتو اجوره درې رياله او دېرش هلله. له الوتکي او اورګاډي څخه د حاجي او د هغه د سامانو د وړلو او راوړلو اجوره شپږ رياله او د الوتکي لګښت اووه رياله اوياهلله. په مدينه منوره کي د هغه حاجي د لارښووني اجوره چې زيارت کوي،لس رياله. جمله ( 84 ) رياله اخيستل کيږي. چې ښايي پرهمدې اساس به وو چې څوکلونه د مخه به له د غو معلمانو څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینوکسانو افغانستان ته د خپلو نومونوکارتونه او ان خپل لیکلي او چاپ کړي د حج د مناسکو کتابونه رالېږل، او حاجیانو به دلته یا په لاره کي د یو بل په مشوره خپل معلمان ټاکل. ځینو نورو ګاونډیو هیوادوته به هم خپله معلمان او یا د دوي وکیلان راتلل او د حاجیانو سره به یې د ډول ډول خدمتونو ژمني کولې، خو بیا به یې هلته نه ترسره کولې. له لویه سره معمول داسي وو چې په جده کي به یې د پاسپورټ دکتلو په مهال د معلم د نامه پوښتنه کول. نو حاجي چې به د هر معلم نوم ور ته واخیستی، هغه به یې معلم وبلل سو. بیا به معلمانو د مکې مکرمې دروازې ته نژدې د حاجیانو هرکلی کاوه، خو اوس دا دود نه دی پاته. د افغانستان د وخت د اوقافو د عالي اداري اړوند د " اوقافو " مجلې د 1356ل. کال د تلي، لړم اولندۍ د میاشتو د ګڼي په 59 مخ کي "د حاجیانو په باب دسعودي عربستان مقررات" ترسرلیك لاندي لیکل سوي دي:" په مکه معظمه کښي د معلمینو اوپه جده کښي د معلمینو د نمایندګانو او د حمالانو او دلیل یعني په مدینه منوره کښي د معلمینو د پاره ( 294 ) ریاله حق الزحمه ده ". بل ځای لیکي :" له دې امله چې د حاجیانو معلم او دلیل د سعودي عربستان د هیئت له خوا ټاکل کیږي، حاجي ته په کاردي چه د خپلي کورنۍ او عایلې شمېر چه له ده سره په دغه سفر کښي ملګري دي د حاجیانو د توزیع هیئت ته ور معرفي کړي. همدارنګه ښځي حاجیاني باید خپل محارم د توزیع هیئت ته ور وپېژني تر څو د هغو سره یوځای د یوه معلم ترلارښودني اوکنترول لاندي وي. له دې څخه څرګندیږي چې دغه مهال د سعودي هیواد لخوا د افغانستان حاجیان د معلمانو بېلو بېلو ډلو ته ور پېژندل کېدل، یعني لکه اوس غوندي د افغانستان حجاج د یوه مطوف په دفتر پوري نه وه تړلي او د معلم د ټاکلو واك هم د دوی په لاس نه وو .

اوسمهال سعودي حکومت د دې خدمت او څه نورو خدمتونو له درکه د هر حاجي څخه ډېري پیسې اخلي او زیات شمېر معلمانو ته د دولت لخوا د دې کار رسمي اجازه ورکول سوې. نړۍ یې پرڅو برخو وېشلې او هر معلم ته یې له هغو څخه د ځینو برخو د حاجیانو د خدمت چاري سپارلي دي. چې هغو بیا د دې کارو لپاره ستر ستر دفترونه پرانیستي او زیات شمېر وسایل اوکارکوونکي یې په کار اچولي دي .

زموږ ځیني خلك چې حج ته ځي داسي فکرکوي چې هلته حج ښوونکي ( معلمان ) موږ ته د حج د مناسکو د ادایني په هکله معلوما ت راکوي. خو نن سبا خبره داسي نه ده؛ بلکې حج ښوونکي زیاتره د خپلو وکیلانو او نوروکسانو په واسطه په مکه او مدینه کي د حاجیانو د اوسېدو د ځایونو او خیمو د ټاکلو او برابرولو، د پاسپورټ د ساتلو، له جدې څخه مکې او له مکې څخه منا، عرفات ، مزدلفې، بیا بیرته مکې او بیا مدینې منورې ته د حاجیانو د رسولو د وسایطو د برابرولو او داسي نورو په هکله خدمات ترسره کوي چې په دې چاروکي ځیني حج ښوونکي څه بې پروا یې هم کوي. لکه چې په 1421س. کال کي یې زموږ د افغانستان په حاجیانو د ذي الحجې په اوومه ورځ احرامونه وتړل او د ذی الحجې د اتمي ورځې په مخکي شپه یې منا شریفي ته ورسولو. او بیا یې له منا شریفي څخه د سهار ترلمانځه د مخه د شپې زیات شمېرحاجیان عرفات ته بوتلل. په داسي حال کي چې سنت طریقه داسي ده چې حاجي د " یوم الترویې" یعني د ذي الحجې د اتمي د سهار لمونځ په مکه شریفه کي وکړي، بیا تر لمرختلو وروسته منا شریفي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ولاړ سي او د اتمي ورځې د ماپښين، مازديگر، ماښام او ماخستن لمونځونه او د نهمي ورځې د سهار لمونځ په منا کي وکړي. بيا ترلمرختلو وروسته، کله چې لمرد منا د ثبير پر غره وليدل سي، عرفات ته ولاړ سي.

51ـ په مکه مکرمه کې د جمعې لمونځ

د اسلام په لومړيوکي په مکه مکرمه کي د پنځو لمونځونو جماعت او د جمعې لمونځ

نه سول کېدلای. له دې امله هلته تريو ويشتوکالو پوري د جمعې لمونځ و نه سو. خو په مدينه منوره کي ډېر د مخه د جمعې د لمانځه ادا کېدل پيل سوي وه. کله چې د هجرت په اتم کال رسول ﷺ عتاب بن اسيد ؓ د مکې په امارت وټاکی چې هغه يا هبيره بن سهل يا معاذ بن جبل د لومړي ځل لپاره په مکه مکرمه کي د جمعې لمونځ په جماعت ورکړ.که څه هم د مهالونو په تېرېدو سره د مکې اوسگېدونکي زياتېدل، خو بيا هم خلك د جمعې د لمانځه د ادا کولو لپاره مسجد الحرام ته حاضرېدل. دا چاره د اتم سپوږميزکال څخه تر 1375س. کال پوري همدغسي ترسره کېدل. بيا کله چې د ښار وگړي ښېخي ډېر او ودانۍ يې تر ډېرو ليرو ځايونو پوري پراخه سوې، نو په مسجد الحرام کي د جمعې لمونځ د مکې د ليرو سيمو وگړو ته ستونزمن او ان ښېخي نا ممکن سو. د دې ترځنگ د مکې په شاو خواکي نوي جوماتونه هم يو په بل پسې ودان سول. لکه چې تر 1375س. ( 1955 ع.)کال پوري په مکه کي ( 150 ) جوماتونه رامنځته سول.  د دې سره سره د مسجد الحرام د پراختيا او تعمير د پلان د پلي کېدوکار هم تر لاس لاندي ونيول سو. د دې حالاتو او اړتيا وو له مخي سعودي حکومت د مکې په بېگلو بېلو جوماتونوکي د جمعې د لمانځه د ادا کولو اجازه ورکړه چې ترديې اعلان وروسته د سعودي د اوقافود اداري د څرگندونو سره سم په کال1384س. (1964 ع.) کي د مکې په ( 15 ) جوماتونوکي د جمعې لمونځ ادا کېدی.

52ـ د مکې مکرمې جوماتونه

په مکه مکرمه او د هغې په شاو خوا کي پخواني او نوي جوماتونه خورا ډېر دي چي موږ يې د څو پخوانيو جوماتونو يادونه د الف بې په ترتيب کوو :

ابراهيم جومات :

دغه جومات د ابي قبيس غره پر سر په لومړۍ هجري پيړۍ کي جوړ سوی دی. امام ازرقي (رح) دغه جومات ابراهيم القبيسي ته منسوب بللي دي،کوم چې د دغه غره پر سراوسېدي. دغه جومات چې د علامه کردي په قول يوه هندي جوړکړی دی، د تاريخ په اوږدوکي څو ځلي تجديد بنا او ترميم سوی دی .

اجابه جومات :

دغه جومات د مکې له لورې د منا په لار کي ښي اړخ ته په " ثنياآ اذا خر" نومي ځای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي واقع دی. زموږ ستر پيغمبر ﷺ د دغه جومات پرځای لمونځ کړی دی. دغه جومات په کال 720س. کي ودان سوی او څو ځلي نړېدلی او تجدید بنا او ترمیم سوی دی .

تنعیم جومات :

د دغه جومات ښي لوري ته چې کوم غر پروت دی هغه ته " نعیم " وایي. د هغه کیڼ لوري ته چې کوم غر واقع دی، هغه ته " ناعم " وایي او د د غو غرو په منځ کي ناوې ته

"نعمان " وایي. له دې امله د دغه جومات سیمي ته " تنعیم " وایي . په کال 10 س. کي چې رسول ﷺ حج ته تشریف وړی وو، بي بي عایشه (رض) هم ورسره وه. هغې د حج مناسك ادا کړه، خو د ښځینه میاشتنۍ ناروغۍ له امله یې طواف او سعی و نه کړای سول. کله چې له ناروغۍ ووتل، رسول ﷺ د عمرې راوړلو لپاره د هغې د ورور عبدالرحمان ﷺسره تنعیم ته چې مکې مکرمې ته ترحرم د باندې تر ټولو نژدې سیمه ده ولیږل. هلته هغې د احرام نیت وکړ او عمره یې راوړل. البته د دې د غه عمره ترحج وروسته وه او له دې امله دغه جومات ته مسجد عایشه هم وایي .

ابن حیثم وایي: کله چې ما عطا بن ابي رباح، مجاهد ، عبدالله بن کثیر الداري او ډېر نور ولیدل چې د روژې د میاشتي په ( 27 ) شپه د تنعیم څخه عمره ادا کوي نو ما هم ټوله عمر خپل معمول وګرځاوه، چې هرکال په دغه شپه له تنعیم څخه عمره ادا کړم، خو چې بوډا سوم دا کار را څخه پاته سو. پردغه ځای باندې د لومړي ځل لپاره محمد بن علي شافعي جومات ودان کړ او بیا نورو ډېر ښکلي جوړکړ. بیا په کال 619س. کي ملك مسعود. په کال 1011 س. کي سلطان محمود عثماني او بیا ځینو نورو تجدید بناء کړی او ترمیم کړی او په اوس وختونو کي سعودي واکمنو ډېر ستر او ښکلی جوړکړی او د هغه په خوا کي یې د اوداسه او غسل ډېرښه ځایونه جوړ کړي دي .

د جعرانې جومات :

رسول ﷺله دغه ځایه د عمرې احرام تړلی دی. بیا د قریشو یوه سړي پردغه ځای دغه جومات جوړکړ. دغه جومات ته یې د امام ازرقی په وختوکي " مسجداقصٰی " ویل. وایي چې له جعرانې څخه درو سوو نبیانو د عمرې احرام تړلی دی. هلته یو څا دی چې رسول ﷺ په خپله د هغه په کارولوکي برخه اخیستې او بیا یې د هغه اوبه چښلي دي او نورو ته یې هم ورکړي دي. د دغه څا اوبه ډېري رڼې او خوږې دي. دغه ځای د قریشو یوې ښځې ته منسوب دی کومه چې نوم یې رایطه وو او د کعب نومي لور او د اسد بن عبدالعزٰی مېرمن وه او لقب یې" جعرانه " وو. د جعرانې جومات په کال 1263س.کي د هند د حیدر آباد د سالارالملك مېرمني له سره ترمیم او جوړ کړی دی .

جن جومات :

دغه جومات د مکې مکرمې په پاسنۍ برخه کي حجو ن ته مخامخ په سوق المعلٰی یا غزه کي پروت دی. د امام ازرقي په وختوکي یې دغه جومات مسجد الحرس باله. او مسجد جن یې له دې امله بولي چې په دغه ځای کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرانان د رسول  حضور ته ورغلي وه او ايمان يې پر راوړى وو. اما په بل روايت کي وايي چې رسول  د دغه جومات پرځاى عبدالله بن مسعود  کښېنولى وو او د هغه چار چاپېر يې کرښه راګرځولې وه څو د پېرانانو له اغېزې وژغورل سي. بيا خلکو پر دغه ځاى جومات جوړکړ او په دغه نامه يې ونوماوه. دغه جومات په کال 1012س. کي د جدې والي ابراهيم بيګ له سره جوړکړ او بيا په کال 1363س.کي ترميم سوى دى. په دغه مسجد کي د  قل او حي ... سوره تر اخره پوري نازله سوې ده .

د خالد بن الوليد جومات :

علامه محمد طاهر کردي وايي چې دغه جومات په هغه ځاى کي جوړ سوى دى چې د مکې د فتحي په ورځ خالد بن الوليد خپل بيرغ پر درولى وو دغه جومات اوس هم د مکې څخه د تنعيم پرلار ښي اړخ ته د " حاراَ الباب " ترڅنګ ودان دى کوم چې په کال 1280س.کي حسن افندي نومي جوړکړ او بيا په دغه کال يوه هندي پراخه کړ. دغه مسجد په کال 1376س. کي د سعودي د مکې د عامه اوقافو ادارې په ډېره ښکلې بڼه جوړکړ، چې کار يې په کال 1377س.کي بشپړ سو .

خيف جومات :

دغه جومات په منا کي تر ټولو ستر او مشهور جومات دى. د دې جومات په فضايلوکي د رسول  ډېري ويناوي روايت سوي دي. امام ازرقي (رح) وايي چې په دې جومات کي اويا تنو او په بل روايت پنځه اويا تنو انبياوو لمونځونه کړي دي. امام ازرقي په اخبار مکه کي او د عربي لغاتو د قاموس ليکوال په خپل کتاب " الوصل والمنٰى في بيان فضل منٰى " کي په جيد سند روايت کوي چې ابو هريره  به ويل: که چيري زه په مکه کي اوسېدلاى، زه به هره شنبې خيف جومات ته تلاى او لمونځ به مې پکښې کولاى.

په دغه جومات کي زموږ سترنبي  لمونځ کړي او زموږ ځينو ديني مشرانو هم توصيه کړې چې ترڅوکېداى سي حاجيان دي په دغه جومات کي لمونځ کوي. خو افسوس چې زموږ مسلمانانو ترمنځ کرکي ترديې پولي رسېدلي چې ډېرحاجيان په دغه ستر متبرك جومات کي پرلمانځه د منا د خيمو لمونځونوته ترجيح ورکوي .

دغه مسجد په کال 241 س.کي مکې ته د جعفر المتوکل على الله د لېږل سوي بنا اسحق بن سلمه لخوا له سره جوړ سوى. بيا په کال 256س. کي د المعتمد احمد بن متوکل په وختوکي ترميم سوى. په کال 559س.کي وزير محمد بن علي جواد اصفهاني. بيا د خليفه ناصرعباسي مور. بيا د يمن واکمن ملك مظفر. بيا په کال 674 س. کي د يمن بل واکمن منصور عمر بن علي، په کال720س.کي د دمشق يوه سوداګراحمد بن عمر ابن المرجاني،په کال820س.کي شيخ علي بغدادي، په کال853س.کي ملك ظاهرجقمق، په کال 874س.کي ملك اشرف قايتباى، په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال1072س.کي سلطان محمد قزلار آغا او په کال 1092س.کي د سلطان محمد خان عثماني په حکم سليمان آغا نومي ترميم کړ او اوس مهال سعودي حکومت په کال 1396س.کي په بشپړه، پراخه عصري او ښکلې توګه جوړکړېدی .

ذي طوٰی جومات :

رسول ﷺ چې به کله د عمرې يا حج لپاره مکې مکرمې ته تی، نو په ذي طوٰی نومي ځانکي چې اوس " زاهر " ورته وايي تم کېدی. شپه به يې تېروله او د سهار تر لمانځه وروسته به يې مکې مکرمې ته تشريف وړی. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به هم دغسي کول. دغه راز رسول ﷺ د مکې د نيولو لپاره هم خپل پوځونه په دغه ځای کې تم اوسره ووېشل. څه موده وروسته يوې بختوري مېرمني زبيدې بازج په دغه ځای کې جومات جوړکړ .

الرايه جومات :

د دغه جومات پرځای رسول الله ﷺ د مکې د فتحي په ورځ خپله جنډه رپولې وه او د جبير بن مطعم بن عدي څا ته نژدې يې لمونځ کړي وو، ځکه نو دغه جومات ته مسجد الرايه يعني د بيرغ؛ رپې يا جنډې جومات وايي. دغه جومات چې عبيدالله بن عباس بن محمد بن علي بن عبدالله بن عباس جوړکړی د مکې مکرمې په پاسنۍ برخه کې له مکې څخه معلیٰ ته د تلونکي ښي لاس ته د " زاوياَ الرفاعي " مخامخ د زبيدې د چينې د ولې په خوا کې په " جودريه " نومي ځای کې واقع دی. دغه مسجد په کال 640س. کې مستعصم عباسي، په کال 801 س.کي اميرقطلبك حسامي، په کال 898 س.کي ابوالعباس مشهور په ابي شامه، په کال 1000 س.کي سلطان محمد خان عثماني، ترميم کړی او بيا په کال 1361س.کې د ملك عبدالعزيز په امر له سره جوړ او پراخه سو. خو وروسته په کال 1379س.کي دغه جومات او د هغه شاو خوا کورونه د مکې د سړکانو د پراخېدو په لړکي ونړول سول او پرځای يې (250) متره ليري، نوي جومات ودان سو .

صخرات جومات :

دغه جومات د عرفات د جبل الرحمت د غره په لمن کي معروف جومات دی چې کوچنی دېووال پر راګرځېدلی دی اوسر يې لڅ دی. وايي دغه جومات د عرفات په ورځ د رسول ﷺ د درېدو پرځای تر درېيمي هجري پيړۍ وروسته جوړ سوی دی. خو لکه څنګه چې د ديني عالمانو له کتابونو څخه څرګندېږي دا نه ده جوته چې دغه ځای به واقعاً د رسول ﷺ د درېدو ځای وي .

صديق جومات :

دغه جومات د مکې مکرمې په مسفله محله کي واقع دی کوم چې د ابوبکرصديق ﷺ کور وو. له دغه ځايه رسول ﷺ د ابوبکرصديق سره يو ځای مدينې ته هجرت کړی وو. علامه ابن جبير اندلسي په خپله سفرنامه کي د دې جومات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله وايي:" د ښار په وروستيوکي د خرما، انارو او انګورو د شنو بڼونو په منځ کي دغه جومات چې پخوا د ابوبکر صديق کور وو، واقع دی.  سعودي حکومت دغه جومات دوه پوړه جوړکړی، چې په لاندي پوړکي يې " فرقانيه مدرسه " او دفتر دی او په لوړ پوړ کي يې لمونځ کيږي .

صولتيه جومات :

د مکې مکرمې د حارت الباب محلې د صوليته مدرسې دغه جومات په  کال 1302س. کي مشهور عالم مولانا رحمت الله هندي جوړ کړی دی.

د مزدلفې جومات :

دغه جومات په مزدلفه کي يوازنی مشهور جومات دی . دغه جومات په کال 760س.کي مشهور اميريلبغا خاصکي، په کال 842س.کي د سلطان جقمق په امر امير سودون، په کال 874 س.کي د سلطان قايتبای په امرد مکې امير شريف محمد بن برکات او په کال 1072س.کي د سلطان محمد عثماني په امرد جدې والي سليمان بيګ ترميم کړی دی. اوس مهال سعودي واکمنو په خورا ښکلې او عصري توګه جوړکړی دی .

د نمِرې جومات :

دغه جومات ته مسجد ابراهيم ، مسجد عُرُنه او مسجد عرفات هم وايي. د رسول  په وختوکي دغه ځای خالي ډاګ وو. نمِره او عُرُنه له عرفات څخه وتلي ځايونه دي. په دغه ځای کي د جوړ سوي جومات يوه برخه له عرفات څخه ده او بله برخه يې په عرنه کي واقع ده. د دغه جومات جوړونکی نه دی معلوم، خو د تاريخونو له مطالعې څخه دونه څرګنديږي چې ښايي د عباسي دولت په لومړيو وختونو يعني د ( 150 ) س. په شاوخواکي جوړ سوی وي. وروسته دغه جومات په 559 س.کال کي جواد اصفهاني، په 843س.کال کي د سلطان جقمق په امر امير سودون، په 847س.کال کي سلطان قايتبای، په 1074س.کي د سلطان محمد عثماني لخوا، د جدې والي سليمان بيګ ترميم کړ. اوس مهال سعودي واکمنو هغه په خورا شانداره او عصري توګه ډېرستر او پراخه جوړکړی دی .

53ـ د مکې مکرمې زيارتونه ( مولد ا لنبي او جنت ا لمعلیٰ )

په مکه مکرمه کي ځيني داسي سپېڅلي او متبرك ځايونه وه چې زموږ د اسلافو يادګار او اسلامي لرغوني آثار بلل کېدل او زيارت يې مستحب او اجر او ثواب يې درلود. خو دغه ځايونه تقريباً ټوله د حرم او مکې د ښار د وروستيو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخولو او نوي جوړولو له امله له منځه تللي دي. یوازي د رسول ﷺ د زېږېدو ځای او معلیٰ هدیره پاته دي. چې موږ يې په لاندي ډول يادونه کوو :

ﷺ ﷺ ﷺ

مولد النبي ) د رسول ﷺ د زېږېدو ځای: (

د صفا او مروه تر منځ د مسعیٰ ختیز لوري ته د حرم د باندي د میدان په سرکي یوه ودانۍ ده، چې همدغه د رسول ﷺ د زېږېدو ځای دی. د رسول ﷺ نیکه عبدالمطلب کله چې په سترګو ړوند سو په خپل ژوند کي خپل حق خپلو اولادونو ته ووېشی چې دغه مولد النبي د رسول ﷺ پلار عبدالله ته ورسېدی. بیـا رسولﷺ ته په میراث پاته سو. امام ازرقي (رح) وایي :

"کله چې رسول ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ دغه ځای د رسول ﷺ د اکا زوی عقیل بن ابي طالب ونیو ". خو ابن اثیر اونور وایي چې هغه يې عقیل ته بخښلی وو. په هر صورت د مکې د فتحي په مهال رسول ﷺ هغه له عقیل څخه وا نه خیستی او وروسته عقیل هغه د مشهور ظالم امیرحجاج پر ورور محمد بن یوسف ثقفي وپلوری او هغه په خپل کورګډکړ.کله چې په کال 171س.کي د هارون الرشید مورخیزران حج ته ولاړه، دغه کور يې رانیوی او جومات يې ځني جوړ کړ. خو د مهالونو په تېرېدو سره دغه جومات بیرته په کور واوښت، چې په بېلو بېلو مهالونوکي واکمنو تعمیر او ترمیم کړ .

بیا عثماني واکمنو دیني مدرسه ځني جوړه کړه. په کال 1343س.کي دغه ځای ونړېدی. بیا په کال 1370س. کي د مکې مکرمې یوه پخواني ښاروال شیخ عباس بن یوسف القطان په خپل ځاني لګښت د هغه د جوړولوکار پیل کړ، خو دوې میاشتي وروسته وفات سو. بیا د هغه زوی دغه کار بشپړکړ. اروابناد عباس قطان وصیت کړي وو چې په دغه ځای کي دي یو سترکتابتون پرانیستل سي چې د دغه وصیت سره سم په دغه ځاىکي د " المکتباَ المکاَ المکرماَ " په نامه سترکتابتون پرانیستل سوی وو. خو لکه چې قاري شریف احمد وایي په کال 1415س.کي پردغه ودانۍ باندي د کتابتون لوحه یا کومه بله داسي نخښه نه لیدل کېدل. ما هم په کال 1421س.کي پر دغه ودانۍ دکتابتون کومه لوحه و نه لیدل. د ودانۍ ورونه تړلي وه او څوك نه پوهـېدی چې دننه يې څه دي .

جنت المعلی ( د مکې مکرمې تاریخي هدیره ) :

معلیٰ، معلاآ یا معلا هدیره ( حظیره )، په مکه کي یو مشهور او تاریخي متبرك ځای دی چې په هغې کي حضرت بي بي خدیجاَ الکبريﷺ ، د رسول ﷺ د زامنو قاسم او طیب، د رسول ﷺ د نیکه عبدالمطلب، د اکا ابوطالب او ښځتو زیاتو صحابه کرامو، تابعینو، د خدای د ولیانو او دیني عالمانو زیارتونه دي. خو د هیڅا زیارت په هغې کي په ټاکلې توګه نه دی معلوم. لکه چې وایي چې یوه صالح سړي د بي بي خدیجې قبر په خوب کي لیدلی چې د فضیل بن عیاض د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبر ترخنگ واقع دی. چې بیا یې د دغه خوب پربنسټ پردغه قبرگمبته جوړه کړه .  لکه چې د اسلام د تاریخ له ځینو کتابونو څخه څرګندیږي په دغه هدیره کي پرېړېرو قبرونو ډېري ښکلي گومبتي جوړي سوي وې. په تېره د بي بي خدیجې قبر په ډېرو ښکلو " ډېرو جوړ سوی وو. پردغه قبر په کال 940س.کي یوه سړي چې امیر سید محمد بن سلیمان چرکسي نومېدی گمبته جوړه کړه او په ډېر ښه ډول یې تزئین کړه چې بیا یې د غولي او روضې کار هم بشپړ سو. خو په کال 1289 س.کي د دغي هدیرې ټولي گومبتي د سعودي واکمنو لخوا ونړول سوې.  دغه هدیره د مسلمانانو په هدیروکي د مدینې منورې ترجنت البقیع وروسته افضله هدیره ده چې په فضیلت کي یې ډېر احادیث وارد سوي دي. او د دغي هدیرې زیارت مستحب دی. د دغي هدیرې سیمي ته ( غزآ ) وایي او هغې ته نژدې بازار ته سوق المعلیٰ وایي. د جن جومات هم ډېر ورته نژدې دی. په دې وروستیوکي په مکه مکرمه کي د نوو نقشو د پلي کېدو له امله د دې هدیرې په منځ کي سړك تېر سوی چې له دې امله هغه پر دوو برخو وېشل سوې ده. اوس د دغي هدیرې په یوه برخه کي د مړو ښخول منع سوي دي خو په بله برخه کي یې د مکې د خلکو او عامو حاجیانوکوم چې هلته وفا ت کیږي د ښخولو ممانعت نسته.

54ـ په مکه مکرمه کي کاروانسرایونه

او رباط افغاني

کاروانسرای او مسافرخانې ته په عربي رباط وایي. په مکه مکرمه کي په تېرو مهالونو  کي یوشمېرواکمنو اوشتمنو چې ځیني همتناکي ښځې هم پکښېکي دي په مکه مکرمه کي، زیات شمېرکاروانسرایونه جوړکړي او د مسافرو حاجیانو، بې وزلو اود علم د طالبانود هوسا او آرام اوسېدو لپاره یې وقف کړي وه. په دغو کاروانسرایونو کي به خلك بېله دې چې څه خواړه ورکړه سي اوسېدل، چې ځیني به د نارینه وو د اوسېدو لپاره وه او ځیني به  د ښځولپاره. دغه ټول رباطونه ترهمدې نژدې وختونو پوري په مکه کي موجود وه، خوکله چې په کال 1375س.کي سعودي حکومت د مسجد الحرام او د مکې د ښار د و دانیو او واټونو په پراخولو او په نوې بڼه سمولو لاس پوري کړ دغو رباطونو زیات شمېر یې ونړول اوله منځه یې یو وړل.  له ښه مرغه د افغانستان هغه کاروانسرای چې لومړی په رباط سلیماني نومول سوی وو او وروسته په رباط افغاني او رباط احمدشاهي مشهور سوی دی تردغو نقشولاندي نه دی راغلی او روغ رمټ پرخپل ځای پاته دی. د دغه کاروانسرای د سوابقو په هکله ستر مؤرخ عزیزالدین وکیلي په خپل تاریخ " احمدشاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان " لومړي ټوك کي لیکي: " اعلیحضرت احمدشاه دردران د1133ل.کال په پسرلي کي چې د 1167س.کال د دریمي خور، خدای تعالی او برات د میاشتو او د 1754ع.کال د اپریل، می او جون د میاشتو سره سمون خوري، وپتېیل چې د حجاز ( اوسني عربستان ) په سپېڅلې مځکه کي افغاني حاجي خانه ودانه کړي او د هغې د بنسټ ایښوولو امر یې صادرکړ. چې د جوړولو کاریې د 1135ل.کال د لېندۍ ( قوس ) د میاشتي (د 1170س.)کال په لومړۍ خور پای ته ورسېد. څنګه چې افغانان سلیمان غره ته ( 1 )، کوم چې شاوخوا یې د افغانستان لرغونی منځۍ باله سي، په نسبت ورکولو سره سلیماني بلل سوي دي او عرب، افغانان په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نامه ډېرښه پېژنينو اعليحضرت احمد شاه بابا(رح) ددغه ځای نوم [ رباط سليماني ] كښېښود. اعليحضرت احمد شاه بابا چې دغه مهال په لاهوركي په سوبو بوخت وو، په دې اړه يوفرمان وليکی او مهرېې کی اوحاجي محراب خان نورزي ته چې د احمدشاه بابا لخوا په [ ديندارخان ] مخاطب وو او حاجي عبدالكريم خان باركزي ته يې كوم چې د دغه رباط د جوړولو چاري هم ورسپارل سوي وې، حكم وكړ چې د دغه رباط د تاريخ لوحه پر ډېره وليكي اود هغه د دروازې له پاسه يې ولګوي". د دغه ډېرليك (كتيبې ) متن، چې عزيزالدين وكيلي په نوموړي كتاب اوفاضل استاد اكاډميسين پوهاند عبدالشكور " رشاد " د احمدشاهي شاهنامې پرهغي شرحي باندي چې تراوسه لا چاپ سوې نه ده، د كندهار د طلوع افغان جريدې د 1311ل.كال د چنګاښ د مياشتي د لومړۍ نېټې له ګڼې څخه را اخستی دی په دې ډول دی :

ګشاده باد به دولت اين درګاه بحـق اشـهـد ان لا الـه الا الله حسب الامر مقدس امر و مقرر شدكه برسنګ سر دركاروانسرائكه در كعبه معظمه زاد ها الله شرفاً و تعظګيماً ساخته مې شود بنويسد كه چون جماعهْ سليماني كه عبارت از جماعـهْ ( 1 ) د سليمان د غره لړۍ له څو لويو او كوچنيو غرونو څخه جوړه سوې ده. دا غر د پېګواړ د غاښي په جنوب كي له سپين غر څخه بېل سوی،لومړی جنوب او بيا جنوب لوېديز ته غځېږي. دا غرټول شپږسوه كيلو متره اوږد دی او پر دوو برخو وېشل كيږي : ختيز سليمان راغ او لوېديز سليمان راغ. د سليمان د غره ختيزه برخه چې د ختيز سليمان راغ په نامه يادېږي، له افغانستان څخه ذ باندي پرته ده او د وزيرستان سيمه يې جوړه كړې ده.لوېديزه برخه يې له پكتيا او پكتيكا څخه تر بلوچستان پوري پرته ده. د دې غره لوړه څوكه د سليمان د تخت په نامه (3383)متره جګه ده. د سليمان پر غره باندي اورښت زيات كيږي اوځيني برخي يې په ځنګلونو پوښلي دي. (دنړۍ هينداره: آسيا،لومړی ټوك) د پښتنو په لرغونو اوسېد نځايونو كي يوه ډېره مشهوره او تاريخي سيمه د سليمان د غرونو لمني دي.د دې غرونو لمني د شپږو سوو كيلو مترو په شاو خواكي اوږدوالی لري اوپښتانه له ډېري لرغوني زمانې تراوسه په كافي تعداد د دغو غرونو په لمنو كي استوګنه لري. د غه د سليمان غرونه په ځينو كتابونو او تاريخي آثارو كي (دكسي غره ) په نامه هم راغلي دي او د جنوبي پښتونخوا،بلوچستان،ډېرو ( ډېره جاتو ) او د كندهار د شاوخوا خلك اوس هم د سليمان غرونه دكسي د غره په نامه يادوي. ( د پښتو ادبياتو تاريخ ) افغاني باشد در مكه معظمه زاد ها الله شرفاً و تعظيماً محل سكونت را نداشتند و بخصوص چګونګي آن بعرض اقدس رسيد، بنابر دعای خيرجهاً ذات بابركات شاهنشاه دردران خلد الله ملكه وسلطانه دربلدهْ مقدسهْ معلٰی فرمودندكه خود جماعهْ سليماني چه دراني وغيردراني هرافغانيكه درين جا وارد ګردد دركاروانسراء كه ساخته مې شود فرود آيد و بحسب قسمت الیٰ هروقتيكه درحجره های كاروانسرای مذكور ساكن باشد احدی به ايشان رجوعی نداشته بعلت وجه كرايه مزاحمت نرساند. بنابرآن عاليجاه حاجی الحرمين الشريفين حاجی محراب ديندارخان دراني نورزايي و حاجی الحرمين الشريفين حاجي عبدالكريم خان دراني باركزايي را مامور ساختن كاروانسرای در آن بلده مقرر و مامور فرموديم و به اهتمام ايشان به اتمام رسيده است. و هركس ازجماعهْ سليمانی چه دراني و غير دراني كه افغان بوده باشد وارد اينجا ګرديده درحجره های كاروانسرای مذبور ساكن شود تا مادامیكه درينجا باشد هيچكس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعلت کرایه ازو چیزی نگیرد تاکه این دولت خدا داد روزافزون به ثواب همایون ما ازجناب اقدس الٰهی پایدار باشد. کرایهٔ حجره های کاروانسرای مذکور بجماعهٔ سلیماني بخشیده ایم و من بعد الیٰ یوم رستخیز نیزکرایهٔ آن بجماعهٔ سلیماني چه درانی و غیر درانی هرافغاني که بوده باشد در کاروانسرای مذکور سکونت نماید وقف باشد. وهرگاه حجره های کاروانسرای مذبور اضافه از جماعهٔ مذبور باشد به اشد رضا به دیگر مردم بکرایه داده بعداً کرایهٔ آنرا اولاً به تعمیر آن صرف کند و اضافهٔ آن هرچه باشد آنرا نیز بجماعهٔ سلیماني صرف ما یحتاج نماید و سوای این جماعهٔ سلیماني چه دراني و غیر دراني و هر افغاني بوده باشد دیگری در آن طمع و توقع نکنند و در وجه جماعهٔ مذکور الیٰ یوم رستخیز وقف دانند و هرگاه احدی درین جا طمع و توقع نماید نزد خدا ورسول مواخذه و مخاطب بازخواست خواهد گردید. في غرهٔ شهر ربیع الاول روز پنجشنبه 1170هـ وکیلي زیاتوي :" د دغه ډېر لیك لیکنه په کال 1311ل.کي لیدل سوې ده او د هغې د موندلو څرنګوالی په دې ډول دی: اعلیحضرت محمد نادرشاه د دغه کاروان سرای د بیا ودانولو لپاره خپل د دربار وزیر او د اکازوی احمد شاه خان، د مولوي سیف الرحمان خان، آخوندزاده عبدالقیوم خان او مولوي سید مبشرخان طرازي چې په ابونصرملقب وو، په ملګرتیا د هیات په توګه د 1310ل.کال دکب په میاشت کي له کابل څخه د جلال آباد او هند له لاري عربستان ته ولېږل، چې د 1311ل.کال د وري پر اوومه د یکشنبې په ورځ مکې مکرمې ته ورسېدل او د سعودي عربستان د پاچا ملك عبدالعزیز لخوا یې هرکلی وسو. د اړوندو چارواکو سره د خبرو اترو په پایله کي څرګنده سوه چې د دغه کاروانسرای د دېوالونو د نړېدو له امله دغه ډېرلیك بل خوندي ځای ته وړل سوی دی. هغه وو چې افغاني هیات پورتنی متن له دغه ډبرلیك څخه نقل کړ. استاد رشاد وایي چې د دربار وزیرد اعلیحضرت محمد نادرشاه لخوا دمبشرطرازي او مولانا سیف الرحمان خان الکوزي په ملګرتیا حج ته ولاړ، هلته یې دغه کاروانسرای ترمیم کړاو د پښتنو د ټاټوبي ځای یې وګرځاوه. ( مولوي سید مبشرطرازي اصلاً د تراز وو چې په کال1307ل.کي د اعلیحضرت امان الله شاه غازي په بلنه اندخوی ته راغی، د سقاو د اغتشاش په مهال بیرته خپل وطن ته ولاړ، په کال 1309ل.کي بیا کابل ته راغی او په ارګ کي د عربي او ترکي ژبو د ژباړن په توګه ومنل سو؛ عربي ژبه یې د یوه مصري عالم غوندي زده وه؛ دري، ترکي او روسي ژبي یې هم زده وې؛ پای د ظاهرشاهي پېر په منځنیو وختونو کي له افغانستان څخه وایستل سو. او مولوي سیف الرحمان د افغانستان د جمعیت العلما غړی وو). خلیل الله خلیلي چې په 1345 ل.کال په سعودي کي د افغانستان سفیر وو،ستر موْرخ وکیلي ته یولیك استولی چې هغه په نوموړي تاریخ کي راوړی دی. له دغه لیك څخه څرګندیږي چې دغه کاروانسرای تر دوو سووکالو پوري نه وو ترمیم سوی او له شپېتو کالو څخه د سعودي دولت هغه تر خپل تصرف لاندي راوستی وو. بیا د انیس ورځپاڼي د1348ل.کال د مرغومي د شپږمي نېټي له ګڼې څخه ښکاري چې د افغانستان لخوا یو هیات په مکه مکرمه کي د دغه رباط د بیا جوړولو په هکله د سعودي چارواکوسره خبري اتري کړي وې. چې بیا د معلوماتو له مخي دغه کاروانسرای ترهمدې نژدې وختونو پوري فعال وو او افغاني حاجیان به پکښي اوسېدل، خو په دې وروستیوکلونوکي په داسي حال کي چې ډېر خراب سوی دی، بیرته ترړل سی دی. د ارشاد، حج او اوقافو د وزارت د ځینو چارواکو له خولې افغانستان په مکه مکرمه کي ځیني نور ملکیتونه هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، خو متاسفانه چې له هیڅ یوه څخه هم د افغاني حاجیانو په خدمت کي هیڅ کار نه دی اخیستل سوی. په داسي حال کي چې زیاتره اسلامي هیوادونه د خپلو حاجیانو د خدمت او هوساینې لپاره ستري ستري ودانۍ په واك کي لري. په هغو کي زموږ ګاونډی هیواد پاکستان په مکه مکرمه کي د " پاکستان هاوس " په نامه یوه ستره اووه پوړیزه ودانۍ لري چې روغتون، دحج دفتر او نور پکښې ځای پرځای سوي دي. هیله ده زموږ اړوند چارواکي پرخوځښت راسي او دغه ځایونه د خپلو حاجیانو خدمت ته چمتو کړي. سردار شاولي خان فوفلزي چې د احمدشاه بابا د دیوان اعلی کشکچي باشي وو، په خپله " تاریخیه رساله " کي د رباط سلیماني په هکله داسي منظوم عبارت لیکلی دی: زهجرت هزار و صدوشصت وهفت پیش محاسب چوازسال رفت اراده بفرمود مالك رقاب زمین ازشریف معلی جنا ب

بخواهد دراطراف بطحادیار مکانی بسازد شه کامګار

که افغان و غیره سکونت دران نمایند در آن مقدس آستان

بآن قصد مکتوب پیش شریف که بودست مسعود نام آن منیف

فرستاد پس شاه محراب خان که آن کرده بودست حج پیش ازان

چو ازحکم سلطان عالی مکان بشد جانب کعبه محراب خان

پاته دي نه وي چې په پورته نظم کي ویل سوي دي چې احمدشاه بابا مکتوب د مکې شریف مسعود ته واستاوه،خو دغه مسعود بن سعید په 1165س.کال کي مړسوی دی اوترهغه وروسته مساعد بن سعید تر1171س.کال پوري د مکې والي وو.

55ـ د مکې مکرمې ښاروالي

پخوا د حجاز په ښارونوکي ښاروالۍ نه وې. کله چې ترکان له حجازه ووتل او د مکې شریف حسین په کال 1334س. کي د حجاز خپلواك واکمن سو، نو د خپل هیواد ودانۍ او د خلکو د ژوند ښه کولو ته یې پام واړاوه. څنګه چې مکه مکرمه د حجاز یو ستر متبرك ښار او له پخوا څخه د حجاز مرکز وو، نو هغه یې د هیواد پلازمېنه هم وټاکل. شریف حسین هغه مهال چې د ترکانو لخوا د حجاز د والي په توګه وټاکل سو، په کال 1332س.کي د " اماناً العاصماً " په نامه د مکې د ښاروالۍ د تشکیلېدو امر وکړ. د مکې د هغه مهال ښاروالۍ یو رئیس او شپږ تنه غړي درلوده، چې په هغو کي یو تن یې انجنیروو. هغه یو ځل د مکې ښار یان او نور راغونډ کړه او ورته ویې ویل: هرچیري چې مو واورېدل چې د ودانیو خاوندان د مځکي یا ودانۍ پرسرجنجال سره لري، موږ په خبرکړئ ځو موږ هغوی سره جوړکړو او یو پر بل تېری ونه کړای سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز يې هغو ته څرګنده کړه چې که له تاسو څخه کوم يوه ځان ته کور جوړاوه، نو د هغه نورکسبکار ملګري دي درې ورځې وړيا کار ورسره وکړي. پردې سربېره د دغه مهال ښاروالۍ د خلکو سره دکور جوړولو په چاروکي هم مرستي کولې. بيا کله چې ملك عبدالعزيز آل سعود پر حجاز واکمن سو د مکې مکرمې په هره برخه کي ستر پر مختګونه او بدلونونه راغلل، چې د دې بدلونونو سره د مکې د ښاروالۍ کار او پرسونل هم پراختيا وموندل .

56ـ د مکې مکرمې غرونه

د مکې مکرمې په غرونوکي ځيني تاريخي او مذهبي ارزښت لري. ځکه نو موږ له دغو غرونو څخه ځيني په لنډه توګه درپېژنو:

حرا غر:

دغه غر د مکې مکرمې څخه منا ته د تلونکي کيڼ لاس ته پروت دي. دغه غره ته نور غر

( جبل نور ) هم وايي. په دغه غره کي د حرا سمڅه ده چې رسول  به ترنبوت د مخه عبادت پکښې کاوه. پر رسول لومړۍ وحي په دغه غره کي نازلې سوي دي. دغه غر له حرم څخه دوه ميله ليري دی .

ابي قبيس غر :

دغه غرچي ( 420 ) متره جګ دی د مسجد الحرام په ختيز لوري کي پروت دی اود مسجد الحرام له دننه او د باندي څخه معلومېږي. د ځينو روايتونو له مخي خدای تعالی دغه غر تر نورو ټولو غرونو د مخه پيدا کړی دی. د ايادو د قبيلې يوه سړي ابو قبيس نومي تر ټولو د مخه پردغه غره کور جوړکړی وو، چې له دې امله هغه " جبل ابو قبيس " بولي. د جاهليت په وختوکي يې دغه غر " امين " هم باله ځکه چې حجر الاسود د نوح د طوفان له مهاله د ابراهيم تر وختو په دغه غره کي خوندي وه. چې بيا د حضرت ابراهيم  په لاس د کعبې په کنج کي ځای پرځای سوه .

ثور غر :

دغه غر ( 759 ) متره جګ او له مسجد الحرام څخه تقريباً څلورکيلو متره ليري دی. دغه غره ته نژدې ثور بن عبدمناف اوسېدی، ځکه نو "جبل ثور " ورته وايي. د دغه غره په سرکي د ثور په نامه سمڅګه ( غار ) دی کوم چې نبي  د ابوبکر صديق په ملګرتيا په هغه کي د مکې څخه د هجرت په مهال درې شپې پټ وو. دغه سمګڅه څه د پاسه څلور متره اوږده ده او دوې خولې لري چې يوه يې کوچنۍ او بله يې څه غټه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 1299س. کال کي د مکې امیر شریف عون د هغه یوه خوله نژدې یو متر پراخه کړه. په کال1318س. کي دغه غره ته پرختلې لار د خلکو د هوسايی لپاره څلور ځایه دکانچې جوړي سوي وې. چې بیا د مهالونو په تېرېدو سره هغه د ډېرو په کوچنیوکوچګني کوټو بدلي سوې .

په کال 1299 س. کي د حجاز والي عثمان پاشا نوري او په کال 1307س. کي د حجاز بل والي سید اسماعیل حقي پاشا دغه لار پراخه کړه . دغه غار ته پرختلو باندي نژدې دوه ساعته تېرېږي، ضعیفه او ناروغ وګړي دي دې غار ته نه خیژي. ځکه ډېرخلك هلته لاندي رالوېدلي او مړه سوي دي.

57ـ د مکې مکرمې فضایل

د مکې مکرمې د سترتوب او فضیلت لپاره دا کافي ده چې په خپله لوی څښتن په قرآن کریم کي د هغې ستاینه کړې اوکعبه غوندي متبرکه خونه یې په دې مبارکه بقعه کي ودانه کړې ده. مکې ته په همدغه سترکتاب کي " ام القرٰی " ( د وطنو مور ) ویل سوي. اوپه دې پاکه ارشوکي حضرت محمد  غوندي سترپیغمبر او د نړۍ ژغورونکی، زېږېدلی دی. په دې ځای کي پرهغه باندي د خدای لخوا وحي راغلي او له دې څخه د خدای

د توحید په لوري بلنه پیل سوې، او د اسلام رڼا خپره سوې ده .

د مکې د فضایلو په باب په قرآن کریم کي ډېر آیتونه راغلي او د احادیثو په کتابو کي ډېر احادیث روایت سوي دي، چې موږ دلته ځیني د نمونې په توګه ذکر کوو :

ان اول بیت وضع للناس للذي ببکاَ مبٰرکاَو هدی للعٰلمین فیه اٰیٰت م بینٰت مقام ابراهیم و من دخله کان اٰمنا [  آل عمران : 96]

ژباړه: بېشکه لومړۍ کوټه چې تر ټولو د مخه د خلکو د عبادت لپاره جوړه سوې ده، هغه کوټه ده چې په مکه کي ده.کومه چې برکتناکه او خلکو ته لارښوونکې ده په دې کي څرګندي نخښې سته، له هغو څخه د ابراهیم مقام دی او هرڅوك چې په دې ( د حرم په حدودګو ) ننوځي نو امن یې په برخه سي. مولانا ذکریا (رح) وایي: دغه ځای په دوو وجهو د امن مقام دی: یو د آخرت په اعتبار چې په هغې کي د لمانځه، حج او نورو په کولو سره د دوږخ له اوره په امن کیږي او دوهم چې څوك د هغې د باندي څوك و وژني او دې ته ننوځي، نو د هغه په بدل کي هلته نه قصاصیږي. البته پر هغه به خوراك او نور بند وي. څو راوتلو ته اړ سي او چې د باندي

را ووتی بیا به قصاصیږي. بل د مکې شریفي د ډېري سپېڅلتیا له امله دی چې خدای پاك په هغې په قرآن کریم کي په دې الفاظو قسم کړی دی :

و التین و الزیتون و طور سینین و هذا البلد الامین ]  التین : 1 _ 3]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: قسم دی په انځر او زیتون او په طور سینا غره او قسم دی د مکې په دې امان ورکوونکي ښار. دغه راز څښتن تعالی فرمايي ﷻ :لآ اقسم بهذا البد ﷻ [ البلد: 1 ] ( قسم خورم د مکې په دې ښار ) .

د تاریخ المکآ المکرمه مصنف لیکي چې:" په قرآن کریم کي د مکې مکرمې ذکر تقریباً پنځوس ځایه سوی، چې دا ټوله په خپله د هغې پر فضیلت باندي ستر دلیل دی". عن ابن عباسﷺ قال: قال رسول الله ﷺ لمکآ : " ما اطیبك من بلد و احبك الی، و لولا ان قومي اخرجوني منك، ما سکنت غیرك " . مشکوٰآ . ژباړه : له حضرت ابن عباس ﷺڅخه روایت دی چې حضرت رسول الله ﷺ مکې ته په خطاب کي وويل:" ته څه عجبه ښکلی ښار یې او ما ته څه عجبه ګران سوی یې.که زما قوم زه له تا څخه نه وای ایستلی، زه به بېله تا بل ځای نه وای اوسېدلی". عن عبدالله بن عدی قال: رایت رسول الله ﷺ واقفا علي الحزورآ، فقال: "و الله انك لخیر ارض الله الی الله و احب ارض الله الی الله ولولا اني اخرجت منك ما خرجت ". مشکوٰآ. ژباړه : عبدالله بن عدیﷺ وايي چې ما رسول الله ﷺ ولیدی چې په حزوره نومي ځای کي ولاړ وو او مکې ته یې په خطاب کي وويل :" په رشتیا چې ته د خدای ﷺ ډېره غوره مځکه یې، او د خدای ډېره خوښه مځکه یې، او که زه له تا څخه په وتلو نه وای اړ سوی، زه له تا څخه نه وتلم ."

قال النبي " : ﷺ صلاآ في مسجدی هذا افضل من الف صلاآ فیما سواه، الا المسجد الحرام. و صلاآ في المسجد الحرام افضل من صلاآ في مسجدی هـذا بمائآ صلاآ ". رواه احمد و ابن حبان باسناد صحیح .

ژباړه : رسول ﷺ وايي چې زما په دغه مسجد ( مسجد نبوي ) کي یو لمونځ د بل مسجد تر زرو لمونځو افضل دی، ماسیوا د مسجد الحرام څخه چې هلته یو لمونځ زما د مسجد په پرتله په سل ګونه افضل دی، یعني په مسجد الحرام کي یو لمونځ د بل مسجد تر یو لکو لمونځو افضل دی". په دې هکله یو شمېر احادیث په بېلو بېلو الفاظو روایت سوي چې ټول صحح بلل سوي او مضمون یې دا دی چې د مکې مکرمې، په مسجد کي لمونځ د یو لکو لمونځو ثواب لري. حسن بصري (رح) فرمايي:" په مکه کي یوه ورځ روژه د بل ځای د روژې په پرتله د یو لکو روژو ثواب لري. هلته د یوه درم خیرات په بل ځای کي د یو لکو درمو د خیرات ثواب لري. دغسي هلته هره ښېګڼه د بل ځای د یو لکو ښېګنو ثواب لري ."

د پام وړ یادونه :

مولانا محمد ذکریا (رح) وايي :" ښه دا ده چې حاجي مسجد الحرام ته داخل سي د اعتکاف نیت وکړي". هسي خو د هر جومات دا حکم دی، هر مسجد ته چې سړی د لمانځه لپاره ننوځي، د اعتکاف نیت باید وکړي، څو په مسجد کي د اوسېدو په مهال د اعتکاف ثواب وګټي. او په مسجد الحرام او مسجد نبوي کي باید په ځانګړې توګه دا خبره په پام کي ونیول سي. امام نووي (رح) لیکي:" دا ډېره مهمه خبره ده او باید ډېر پام ورته وسي ."

د دغو ذکر سوو احادیثو په استناد، امام اعظم او د هغه اصحاب او امام احمد بن حنبل (رح) وايي چې مکه مکرمه د ټولي نړۍ ترښارونو؛ بلکې تر مدینې منورې هم افضله ده، خو لکه چې ملا علي قاري (رح) په مرقات کي وايي :"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مدينې منورې هغه برخه چې د رسول ﷺ مبارك اعضاء پكښې ښخ سوي دي تر مكې او كعبې او عرش هم افضله ده ."

د مكې فضايل بېخي ډېر دي خو موږ په دغونه ويلو بسنه كوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېیمه برخه: د کعبې شریفي په هکله معلومات

58ـ کعبه شریفه

قال الله تعالی﴿ان اول بیت وضع للناس للذي ببکآ مبارکا و هدی للعٰلمین﴾

]آل عمران : 96 [

ژباړه : بېشکه تر ټولو لومړی عبادتځی چې د انسانانو د عبادت لپاره ودان سوی دی، هماغه دی چې په مکه کي دی. هغه ته خیر او برکت ورکړه سوی، او د ټولو نړۍ والو لپاره

د لارښووني منځی ( مرکز ) ګرځول سوی دی. د کعبې د پیدا کېدو د څرنګوالي په هکله په کتابونوکي څو قوله را غلي دي: یو دا چې کعبه لومړی کوټه ده چې خدای تعالي د آسمانونو او مځکي تر پیدا کېدو دوه زره کاله پخوا پیدا کړې؛ د اوبو پر مخ یې را څرګنده کړې او بیا یې مځکه ترهغې لاندې غوړولې ده. بل دا چې کعبه لومړۍ کوټه ده چې د ملایکو لخوا د خدای په امر د آدم تر پیدا کېدو دوه زره کاله د مخه پر مځکه ودانه سوې ده چې ملایکو طواف پرکاوه. بل دا چې کعبه لومړۍ کوټه ده چې آدم ﷺ پر مځکه ودانه کړې ده چې په هغې کي یې لمونځ کاوه او طواف یې پرکاوه . د دغو درو سرو قولونو د هر یوه د ثبوت لپاره په کتابونوکي ډول ډول آثار او روایتونه راغلي چې ډېر یې ځینو صحابه وو او تابعینو ته او لږ یې حضرت نبي کریم ﷺ ته منسوب دي. او د زیاترو مأخذ د امام ازرقي (رح) تاریخ مکه یا اخبار مکه دی .

اخبار مکه ډېر ستر اوګټورکتاب دی او امام ابوالولید ازرقي ډېرلوی عالم او مؤرخ او د امام بخاري (رح) هم عصره وو. په اخبار مکه کي هغه زیاتره روایتونه له خپل نیکه احمد بن محمد الازرقي څخه کړي دي کوم چې د امام بخاري استاد وو او امام بخاري په خپل کتاب " صحیح البخاري " کي ډېر روایتونه له هغه څخه اخیستي دي. خو لکه چې ښکاري په اخبار مکه کي د کعبې د پیدا کېدو اړوند روایتونه زیاتره ضعیف دي. لکه چې د دغه کتاب په ( 41 ) مخ کي د ( آسمانو او مځکي تر پیدا کېدو د مخه کعبه پر اوبو ولاړه وه ) تر سر لیك لاندي څلور روایتونه راغلي چې په هغوکي یو روایت کعب الاحبار ته منسوب دی. کعب الاحبار ثقه تابعي او لوی عالم دی،خو ده ته زیاتره هغه خبري منسوبیږي چې له پخوانیو اسرائیلي کتابونو څخه را اخیستل سوي،کومي چې کېدای سي له لویه سره تحریف سوي اونا سمي وي. وایي چې کعب الاحبار به حضرت عمر ﷺته د اهل کتابو خبري اورولې،هغه به د ده پر خبرو اخلاقاً غوږ نیوی، خو بېله څو خبرو چې د شرعي سره سمي وې نوري یې مسلمانانو ته نه بیانولې. دغه راز حضرت معاویه ﷺ د کعب الاحبار په هکله ویلي دي چې هغه په هغو وګړو کي چې له اهل کتابو څخه خبري کوي، ډېر رشتینی دی، خو بیا هم څنګه چې د هغه خبري د اهل کتابو پخوانۍ خبري وې موږ به ازمایلې چې نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې درواغ نه وي. دغه راز عبدالله بن مسعود اوحذيفه رضي الله عنهما په ځينو مواردو کي د کعب خبري درواغ بللي دي. خوځيني وايي چې د معاويه او ابن مسعود اوحذيفه مراد دانه وو چې پرکعب د درواغو تور ولګوي، بلکي مطلب يې داوو چې هغه د اهل کتابو د خبرو په نقل کي کله کله تېروتى. وګورئ صحيح البخاري کتاب الاعتصام بالکتاب والسنآ، باب قول النبي " ﷺ لاتسألوا اهل الکتاب عن شيءٍ " (1298) مخ، فتح الباري (409/13) مخ، د ابن کثيرد تاريخ اردو ژباړه (61/1) مخ او الرد القويم (223/1) مخ. د غه راز ځينو وروستنيو اسلامي عالمانو؛ لکه د تفسير المنار مؤ لف محمد رشيد رضا اود فجر الاسلام، ضحى الاسلام او نوروکتابونو مؤ لف استاد احمد امين او د الاسرائيليات و الموضوعات في کتب التفسير ليکوال دکتور محمد بن محمد ابو شهبآ اونورو هم د هغه ناسمو اسرائيلي روايتونو ته په خپلو کتابونو کي ګوته نيولې ده. د دوهم او څلورم روايت چې مجاهد ته منسوب دی، په راويانوکي يو هشام بن سعد دی. د هغه په هکله د اخبار مکه د پاى څوړ ( حاشيې ) ليکونکى د المعارف په حواله ليکي: " کان شيعيا لآل ابي طالب ". چې البته دابه د روايت په هکله دونه اغېزه نه لري. د درېيم روايت چې حضرت ابن عباس ﷺ ته منسوب دی، په راويانو کي يو سعيد بن سلام القداح دی. د هغه په هکله د دغه کتاب د حاشيې ليکونکى د تقريب التهذيب په حواله ليکي: " صدوق يهم رمى بالارجاء، من کبار التاسعآ ". او دوهم طلحه بن عمرو دی. د هغه په هکله د دغه کتاب د حاشيې ليکونکى د تقريب التهذيب په حواله ليکلي: " متروک من الطبقآ السابعآ ". او علامه الباني په سلسلآ الاحاديث الضعيفه کي ليکي: " طلحآ بن عمرو، قال النسايي: متروک الحديث و قد انکر عليه عبدالرحمٰن بن مهدي ". دغه راز د دغه کتاب په ( 44 ) مخ کي ( د آدم تر پيدا کېدو د مخه د ملايکو لخواد کعبې د ودانولو د بيان ) ترسرليک لاندي حضرت علي بن الحسين ( امام زين العابدين ) ته منسوب يو روايت راغلى چې د هغه په راويانوکي يو القاسم بن عبدالرحمان انصاري دی. د هغه په باب د دغه کتاب د حاشيې ليکونکى او علامه الباني ليکي :" ضعيف الحديث مضطر به، منکر الحديث، ليس بشئ."

دغسې د دغه کتاب په ( 49 ) مخ کي د ) مځکې ته د آدم ﷺ د راکوزېدو، د هغه لخوا د کعبې د جوړېدو او پرهغې باندي د هغه د حج او طواف بيان ( ترسرليک لاندي ( 13 ) روايته راغلي چې حضرت ابن عباس، وهب بن منبه، محمد بن اسحاق، عمرفاروق ﷺ ابان، عطاء بن ابى رباح، قتاده او عبدالله بن ابي زياد ته منسوب دي. چې د لومړي روايت په راويانوکي دوه تنه هماغه سعيد بن سالم او طلحه بن عمرو دي .

د دوهم روايت په راويانوکي کومه خبره نسته خوکوم روايت چې وهب بن منبه ته منسوب دی يو بې اندازې اوږد دی. بل د عقل او مشاهدې خلاف خبري پکښې سته او الفاظ يې هم د هغه پر ناسم والي دلالت کوي .

بل د هغه په وروستى برخه کي پخپله وهب وايي : ( د لومړنيوکتابونو په يوه کتاب کي مې لوستي دي )، چې له دې څخه په څرګنده جوتيږي چې دا يو اسرائيلي روايت دىکوم چې کېداى سي له لويه سره جعلي وي. وهب بن منبه ثقه تابعي دی، د صنعاء قاضي وواو د اهل کتابو له علم او پخوانيوکتابونو څخه په پوهه کي يې نوم درلود. اوڅنګه چې يې اسرائيلي روايتونه ډېر روايت کړي دي، ځينو متاخرينو ده ته منسوبو ناسمو اسرائيلي روايتونو ته د انتقاد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته نیولې ده.  درېیم، شپږم او نهم روایت په راویانوکي یو ابراهیم بن محمد بن ابي یحیٰی دی.  د هغه په هکله علامه الباني وايي:" وهو ضعیف جداً، و قد کذبه مالك و غیره وضعفه الجمهور". او د اخبار مکه حاشیه لیکونکی وايي: " قالوا: قدری، معتزلی، جهمی ". د څلورم روایت د راوي او د پنځم روایت د ویونکي عثمان بن ساج په هکله دغه حاشیه لیکونکی وايي: ( فیه ضعف، وهو من الطبقاَ التاسعاَ ) د اووم روایت د ویونکي ابان په هکله دغه حاشیه لیکونکي وايي:" احد الضعفاء، قیل: متروك الحدیث و قیل: کان نسیاً للحدیث ". د اتم، لسم او یوولسم روایت په راویانوکي هم هماغه سعید بن سالم او عثمان بن ساج دی. د دوولسم روایت ویونکی قتاده دی. په دې روایت کي وايي چې:" آدم  له جنته د هند پر مځکه را  کښته سو، چې سر یې په آسمان کي وو او پښې یې په مځکه کي وې " (؟) چې دا په خپله د منلو وړخبره نه ده ) .درسول  په صحیح حدیث چې په صحیح بخاري اوصحیح مسلم اود امام احمد په مسند کي له ابو هریره  څخه روایت سوی دی، قطعي ثابته ده چې د آدم  قد زموږ په متعارف ګزه [ذراع] شپېته ګزه وو .( په دیارلسم روایت کي یو راوي عبدالعزیز بن ابي عمران دی چې متروك او د شپږمې طبقې څخه بلل سوی دی. او بل راوي یې عمر بن ابي معروف دی چې " منکر الحدیث " بلل سوی دی. او د روایت ویونکی هم عبدالله بن ابي زیاد دی چې رښتیني او له لسمې طبقې بلل سوی دی.  دغه راز د دغه کتاب په ( 58 ) مخ کي )د آدم  د حج او خپل ځوځات ته د هغه د دعا په هکله ( ترسر لیك لاندي اووه روایته راغلي دي چې عثمان بن ساج، ابو هریراَ، عبدالله بن ابي سلیمان، محمد بن المنکدر، ابن لبید المدني، سعید بن المسیب او ابن عباس ته منسوب دي چې د لومړي روایت په راویانوکي هماغه سعید بن سالم او عثمان بن ساج دي. د دوهم روایت په راویانوکي هماغه ابراهیم بن محمد دی. د درېیم روایت په راویانوکي یو عبدالله بن ابي سلیمان دی چې د کتاب حاشیه لیکونکی د هغه په هکله وايي:" د ده په هکله کوم معلومات لاس ته نه دي راغلي ". د څلورم، شپږم او اووم روایت په راویانوکي هم هماغه سعید بن سالم ، عثمان بن ساج او طلحه بن عمرو دي.  الحاج عباس کراره (رح) په تاریخ الحرمین کي وايي :" دا چې د کعبې په هکله ویل سوي چې د مځکي تر پیدا کېدودوه زره کاله د مخه پیدا سوې ده. په دې هکله اخبار او روایات ټوله د ځینو اصحابو او تابعینو وېناوي دي او د رسول هیڅ قول په دې هکله نسته. خو یو صحح حدیث په دې هکله په بخاري او مسلم کي په دې ډول سته: عن عبدالله بن عباس  قال: قال رسول الله  یوم فتح مکاَ : " ان هذا البلد حرمه الله یوم خلق السمٰوٰت  و الارض، فهو حرام حرماَ الله الي یوم القیاماَ ".  ژباړه : حضرت عبدالله بن عباس وايي: رسول د مکې د فتحې په ورځ وویل:  " خدای تعالي په هغه ورځ چې آسمانونه او مځکي پیدا کول دغه مکه حرامه ګرځولې ده. نو له دې امله دا د خدای په حرمت د قیامت تر ورځې حرامه ده ".  خو دا حدیث د کعبې د حرمت پر لرغونتوب دلالت کوي نه پر دې چې کعبه د آسمانونو او مځکي تر پیدا کېدو د مخه پیدا سوې ده. خو د دې سره سره عباس کراره په پخپل کتاب کي د امام ازرقي له اخبار مکه څخه همدغه روایتونه نقل کړي دي. دغسي نورو مؤرخینو هم دغه روایتونه په خپلوکتابونوکي له اخبار مکه څخه را اخیستي دي.  د دغو روایتونو په مقابله کي چې څوك د صحیح بخاري، د " کتاب بدء الخلق " ( د مخلوقاتو د پیدا کېدو بیان ) وګوري نو ور ته جوته به سي چې د حضرت محمد  د صحیح حدیث له مخي یو خدای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، بل هيڅ نه وه. د خدای عرش پر اوبو ولاړ وو؛ يعني اوبه يې پخوا پيدا کړي وې، او بيا يې عرش پر اوبو پيدا کړ، او د هرشي په هکله يې په لوح محفوظ کي وليکل او آسمانونه او مځکه يې پيدا کړه. د قرآن کريم آيتونه هم دغسې وايي او اسلامي مؤرخين، لکه ابن کثير، ابن خلدون او نور هم دغسي وايي . د دغو مطالبو د ليکولو په مهال د " اسرائيليات و الموضوعات في کتب التفسير " په نامه يو کتاب په کوته کي په لاس راغی چې نوی پاکستان ته راوړه سوی وو. دغه کتاب د مصر د ازهراو د مکي مکرمې د ام القرٰی د پوهنتونونو د قرآن او حديث د علومو استاد دکتور شيخ محمد بن محمد ابو شهباَ ليکلی او د " مکتباَ السناَ، دار ثفاقياَ للنشر و التوزيع و البحث العلمي " لخوا نوی چاپ سوی دی، خو د چاپ ځای او نيټه يې نه ده پر ليکل سوې. په دغه کتاب کي د کعبې د جوړولو په هکله د اسرائيلي رواياتو په هکله يو فصل ځانګړی سوی چې لنډيز يې دا دی : " سيوطي (رح) په خپل تفسير الدر المنشور کي د قرآن کريم د و اذ يرفع ابراهيم القواعد من البيت د تفسير په ترڅ کي د ازرقي او د هغه غوندي نورو مؤرخينو او مفسرينو ځخه کوم چې هرڅه وايي او د سمو او نا سمو توپير نه کوي، د کعبې د ودانۍ او تر ابراهيم د مخه د هغې د ودانوونکو په هکله ډيرڅه نقل کړي، چې زياتره يې اسرائيليات دي کوم چې له اهل کتابو ځخه اخيستل سوي دي. خو که هغه ( سيوطي ) پرهغه روايت باندي چې بخاري په خپل صحيح کي روايت کړي اختصار او بسنه کړې وای، موږ او ځان دواړه به يې هوسا کړي وای. او په دې اسرائيلياتو به يې د خلکو د ماغونه نه خرابولای کوم چې د قرآن کريم آيتونه او د رسول صحيح احاديث موږ هغو ته نه احتياجوي. په دې هکله ابن جرير طبري هم په خپل تفسير کي له اسرائيلياتو ځخه ډېر څه ليکلي دي". دلته د اسرائيلياتوکتاب د ساري په توګه دوه روايته راوړي کوم چې يو يې هماغه دی چې وايي:" کله چې آدم له جنته را کښته سو پښې يې په مځکه اوسر يې په آسمان کي وو (!)". چې دې روايت ته هغه هم د شك او تعجب په سترګه کتلي او دا ټول يې اسرائيلي خرافات بللي او وايي چې په دې باره کي له رسول ځخه څه نه دي ثابت سوي. دغه راز دغه کتاب له ابن کثير (رح) ځخه خوښي ځرګنده کړې چې د بيهقي د دلايل النبوت هغه روايت يې کوم چې د عبد الله بن عمرو بن العاص له لاري رسول ته منسوب سوی دی، ناسم بللی او ويلي يې دي چې دا د ابن لهيعه، له مفرداتو ځخه دی، او هغه ضعيف دی. اوکېدای سي چې دا پرعبد الله بن عمرو بن العاص موقوف وي او د اهل کتابوله هغوکتابونو ځخه رانقل سوی وي چې، هغه ته د يرموك په غزا کي په لاس ورغلي وه. اسرائيليات کتاب وړاندي ليکي :" ابن کثير په البداياَ و النهاياَ کي ويلي چې: له رسول ځخه په صحيح خبر کي دا نه دي راغلي چې تر ابراهيم دمخه ګواکي کعبه ودانه وه". داوې د اسرائيليات د کتاب ځرګندوني. بايد زياته کړو چې د شفاء الغرام ليکوال هم د ملايکو او آدم لخوا د کعبې جوړول درست او ثابت نه بولي. خو لکه چې د امام فخر الدين رازي (رح) په تفسيرکبيرکي د آل عمران د سورې د ( 96 او 97 ) آيتونو د تفسير په ترڅ کي د هغه رايه ګورو هغه هم په دلايلو وايي چې کعبه د آدم په زمانه کي موجوده وه. او د نورو ډېرو اسلامي عالمانو له تاليفونو ځخه هم دغه خبره په ګوته کيږي. بل کله چې د قرآن کريم دې آيت ته چې وايي :ربنا انی اسکنت من ذريتی بواد غير ذی زرع عند بيتك المحرم ] ابراهيم: 37 ]، دقيق سو ځني ځرګنديږي، چې کله حضرت ابراهيم خپله مېرمن بي بي هاجره او خپل زوی اسماعيل عليهما السلام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې ته بوتله اوهلته يې خوشي کړه خدای  ته يې عرض کړه چې پروردګاره ! ما په يوه بې اوبو او بې وښو ناوه کي د خپل اولاد يوه برخه ستا د [ محترم کور تر څنګ مېشته کړېده ] يعني د عند بيتك المحرم  له جملې څخه څرګنديږي چې کعبه د ابراهيم  د مخه د بيت حرام په توګه مشهوره وه او ځای يې مشخص او ټاکلی وو، که څه هم د زماني د حوادثو له امله ورانه سوې وه .

له دې امله موږ په دې هکله اړيو چې و منو چې د ابراهيم  تر ودانۍ د مخه کعبه په همهغه بڼه وه اوځای يې معلوم او مشهور وو، خو دا نه ده معلومه چې هغه تر ابراهيم د مخه د چالخوا اوکله جوړه سوې وه. ځکه چې په دې هکله کوم صريح آيت او د رسول  کوم صحيح حديث په نظر نه دی راغلی او هرڅه چې په دې باب ويل سوي د اصحاب کرامو، تابعينو او مؤرخينو څرګندوني دي. چې ښايي تر اسلام د مخه، د قديموکتابونو او روايتونو په حواله وي، او ښايي له هغو څخه ځيني څرګندوني د روايتونو د تعدد او قدامت او  د ځينو راويانو د ضعف له مخي د واقعيتونو سره هم سمي نه وي.  خو څنګه چې په مطلقه توګه د کعبې موجوديت د حضرت ابراهيم  د مخه  د پورتني آيت او د مشهورو اقوالو له مخي جوت او ثابت امرباله سي، نو موږ به کوښښ وکړو چې په دې هکله د دغو رواياتو له منځ څخه هغه چې د حقيقت سره سم برېښي را نقل کړو .

59ـ د کعبې لومړنی پيدايښت

د تفاسيرو او نورو تاريخي کتابونو له مخي، دکعبې شريفي مځکه هغه سپېڅلې ټوټه ده چې د ټولي مځکي د پيدا کېدو بنسټ باله سي. د عبد الله بن عمر ، مجاهد، قتاده او سدي په قول کوم چې ډېر مشهور دی،کعبه ترمځکي دوه زره کاله د مخه پيدا سوې ده. اوکله چې مځکه او آسمانونه پيداکېدل،کعبه د اوبو له مخي څخه ترټولو لومړی څرګنده سوه. په پيل کي کعبه سپين ځګ وو چې ورووسته وچ او سره ونښتۍ او بيا مځکه تر هغې لاندي داسي وغوړېدل لکه د اوړو د زوالې څخه چې سړی ډوډۍ پخه کړي. ځکه نو مکه " ام القرٰی" يعني د ښارونو مور وبلل سوه.

60 ـ د ملائکو لخوا د کعبې ودانول

خو ځيني بيا وايي چې کعبه لومړنۍ خونه ده چې پر مځکه ودانه سوې ده. د علي بن الحسين) امام زين العابدين () څخه پرکعبه باندي د طواف د پيل او څرنګوالي په هکله چا پوښتنه وکړه، هغه جواب ورکړ: " کله چې خدای  ملائکو ته وويل چې : زه په مځکه کي ځانته يو خليفه دروم . نو هغو ورته وويل چې:" ته په مځکه کي هغه څوك خليفه کوې چې په هغې کي به وراني او فساد کوي او په ناحقه بهويني تويوي ؟ حال دا چې موږ ستا په تسبيح، حمد او تقدس بوختي يو". لوی څښتن ورته وفرمايل  :په هغو چې زه پوهيږم تاسي نه پوهيږئ . نو ملائکو داسي وګڼل چې د دوی په دې خبره خدای پردوی په غضب سوی دی. نو يې عرش ته پناه ووړه او د هغه ګرد چاپېر يې اووه واره طواف وکړ، څو چې خدای ځني راضي سو، او دوی ته يې د طواف لپاره بيت المعمور وټاکی. بيا يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملائکوته وفرمایل چې ما ته په مځکه کې د بیت المعمور غوندې یوه خونه جوړه کړئ او د مځکې خلکو ته یې وفرمایل چې پر هغې باندې داسې طواف وکړئ لکه د آسمانو خلك چې یې پر بیت المعمورکوي .

61ـ د آدم او شیث علیهما السلام لخوا د کعبې بیا جوړول

څنګه چې خدای تعالی قادر مطلق دی،کولای یې سوای چې کعبه شریفه، چې د ده پاك ذات ته منسوبه ده د قیامت تر ورځې پورې د هماغسې لومړنۍ ودانۍ په شکل باقي وساتي. اوکه یې دا اراده وای چې څوك دې د هغې د ترمیم کار و نه کړي، نو د جواهرو داسې یوه ټوټه به یې ګرځولې وای چې باد او باران او نورو حوادثو هیڅ اغېزه نه پرکولای او ترڅو دا مځکه، دا آسمان وای هغه به پر یوه حال ودانه وای. خو څنګه چې دا نړۍ، حادثه ( نوپیدا ) او طبیعتاً د هغې د ټولو اجزاوو سره د بدلون او تغیر په حال کې ده؛ لکه چې حادث خدای تعالی د خپل حکمت بالغه په مقتضا متغیرخلق کړی او له یوه حالته بل حالت ته متحول دی. نو له دې امله د خدای تعالی په حکم د تاریخ په اوږدوکې کله نا کله کعبې بیا رغونې ته اړتیا پیدا کړې. چې خدای خپلو ځینو غورو بنده ګانو، او د مځکې ځینو نورو اوسېدونکو ته د هغې په جوړولو او بیا رغولوکې په برخه ورکولو سره، ځانګړې نېکمرغي ور په برخه کړې ده. په دې ډول د مځکې د سر په وګړوکې لومړی د دې سپېڅلې خونې د جوړېدو نېکمرغي د ابو البشر آدم ؑ په برخه سوې ده.  ابن عباس ؓ وایي: لومړی سړی چې د لومړي ځل لپاره یې پر مځکه کعبه ودانه کړې او لمونځ یې پکښې وکړ، او طواف یې پر وکړ، او د حج مناسك یې تر سره کړه، آدم ؑ وو. اوکله چې ملائکې ورسره مخامخ سوې، ورته ویې ویل چې ستا حج مبرور دی ځکه موږ تر تا دوه زره کاله د مخه د دغې خونې حج کړی دی. بیا چې تر آدم ؑ وروسته د کعبې شریفې ودانۍ بیا جوړونې ته اړتیا پیدا کړه، نو حضرت شیث ؑ ته د هغې د تجدید بنا نېکمرغي ور په برخه سوه .

د یادولو وړ خبره :

علامه ابن حجر عسقلاني په فتح الباري کې وایي:" کله چې آدم ؑ دکعبې د ودانولو څخه وزګار سو، نو د خدای په حکم بیت المقدس ته په سیاحت ولاړ او کله چې هلته ورسېدی د کعبې شریفې ترجوړولو څلوېښت کاله وروسته یې هلته د بیت المقدس مسجد ودان کړ، چې بیا دغه مسجد سلیمان ؑ ودان کړ ."

62ـ د نوح ؑ طوفان

په ځینو روایتونوکې راغلي دي چې د نوح ؑ د طوفان په پېښه کې؛کوم چې کیسه یې په قرآن کریم کې ذکر سوې ده، سره د دې چې د طوفان اوبو د مځکې ټوله کره پر سر واخیسته او د ډېرو لوړو غرونو ترڅوکو څلوېښت ګزه لوړې سوې، اما پرکعبه شریفه یې د پورته کېدو قدرت نه درلود، بلکې اوبه لکه لوی لوی غرونه د هغې شاوخوا ولاړې وې. په دې حالت کې د نوح ؑ بېړۍ د مکې مکرمې لوري ته مخه کړه او څلوېښت ورځې یې پرکعبه طواف کاوه. بیا "جودي" نومي غره ته چې په " موصل" کې واقع دی ورسېده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځینو نورو روایتونوکي بیا وایي چې د نوح ؑ طوفان کعبه له بېخه وایسته او د خدای ﷻ په امر آسمان ته پورته او هلته ودانه سوه. ترطوفان وروسته د کعبې ځای د سرې غونډۍ غوندي ښکارېدی چې سیلونه نه سوای پر پورته کېدلای. هلته د نرۍ له ګوټ ګوټ څخه وګړي د زیارت لپاره ورتلل، انبیاوو ؑ به یې حج کاوه او مظلومانو او بې وزلانو به په دې سپېڅلي مکان کي خدای ته دعا وي کولې. نو داسي وګړي به ډېر لږ وه چې خدای به یې دعا نه قبلول.

63ـ د نوح ؑ ترطوفان وروسته د مکې او کعبې حالت

لکه چې تاریخ ارض القرآن د ابن قتیبه او یعقوبي د تاریخونو په حواله لیکي د نوح ؑ زوی سام د حرم په شاوخوا مځکوکي استوګن سو. او نوري تاریخي څېړني هم جوتوي چې د سامي قومونو مسکن کوم چې عرب هم له هغو څخه دي، همدغه د عربو ملك دی چې د زماني په تېرېدو سره یو شمېر یې د بېلا بېلو موخو او لا ملونو له مخي له دغه ځا یه نورو ملکو ته خپاره سوي دي.

دغه راز تاریخي شواهد ښیي چې د نوح ؑ ترطوفان وروسته د ابراهیم ؑ تر وختو پوري د مکې معظمې په شاوخوا سیموکي عرب قبایل اوسېدل. لکه چې په تاریخ طبري او تاریخ ابن خلدون کي راوړي: " کله چې پر عادیانو د دوی د هلاك د پیلامې په توګه کاختي ( قحطي ) راغله، نو یې څو تنه د باران د اورېدو د دعا لپاره مکې ته واستول او هغو لومړی د مکې او حرم د باندي د بکر بن معاویه په کورکي واړول او بیا د باران اورېدو لپاره مکې ته ولاړل". دغه راز مکه مکرمه د عیسٰی ؑ تر زېږېدو ( 2500 ) کاله د مخه د هغه کاروان تم ځای وو، چې له یمن څخه تر شامه ( سوریې ) یې تګ راتګ کاوه. له دې او نورو دغسي روایاتو څخه معلومېږي چې تر ابراهیم ؑ د مخه هلته د مکې په شاو خوا کي وګړي اوسېدل. خو په خپله د کعبې پرشاوخوا او په مکه معظمه کي څوك نه اوسېدل. او لکه چې مخکي هم وویل سوه د نوح ؑ د وختو څخه د ابراهیم ؑ تر وختو پوري دکعبې ځای د سرې غونډۍ غوندي ښکارېدی، چې ترنوح وروسته هود او صالح علیهما السلام د کعبې د دغه مقدس ځای حج کړی، او نور وګړي هم هلته د حج او زیارت لپاره تلل. خو په دې موده کي کعبه چا له سره نه ده ودانه کړې.

64ـ د کعبې معنا او د هغې نور نومونه

څنګه چې کعبه، دغه د خدای ﷻ کور همدغه ستر ذات ته منسوبه ده د هغې د سترتوب، شرف او عزت له امله په کعبه نومول سوې ده. ځکه عرب چې کوم شي ته د سترتوب او شرافت په سترګه ګوري، نو د کعب کلمه ورته کاروي. البته کعبې ته له دې امله هم کعبه وایي چې مکعب او مربع ده یعني څلورکنجه کوټه ده او هره ودانۍ چې لوړه او څلورکنجه وي، هغې ته کعبه ویل کیږي. دغه راز وایي چې له دې امله یې کعبه بولي چې د مځکي په منځ کي واقع ده. اوځیني وایي له دې امله یې کعبه بولي چې له نورو ودانیو څخه بېله پرته ده. د خدای دغه کور په قرآن کریم کي دوه ځلي د کعبې په نامه یاد سوی دی. دکعبې نور نومونه " بکه "، " بیت الحرام "، " بیت العتیق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"، " قادس"،" نادر "، " القرياَ القديمه "، " البنياَ "، " الدوار" او " المسجد الحرام " او نوردي، چې هر نوم ځان ته علت او فلسفه لري چې په اسلامي روایاتو کې نغوتي ( اشارې ) ورته سوي دي .

داچي ولي کعبه څلور کنجه جوړه سوې ده او څلور رکنه لري، وايي چې کعبه د بیت المعمور پر برابر او بیت المعمور د عرش پر برابر واقع دی او عرش څلور ضلعي اورکنه لري، ځکه نو کعبه هم مربع جوړه سوې ده. د یوه بل روایت له مخي ښتګه چې هغه کلمې چې د اسلام بنسټ پر ایښوول سوی دی، څلور دي، یعني څلور تسبیح ( سبحان الله و الحمد لله ولا اله الا الله و الله اکبر ) دي، ځکه نوکعبه هم څلور کنجه جوړه سوې ده. نو کوم حاجي او عمره کوونکی چې د ژور لید څښتن وي هغه په دې اند وي چې پرکعبه، بیت المعمور او عرش الله طواف کوي او د څلورو تسبیحاتو پر بنسټونو ګرځي راګرځي، چې د دغسي حاجي او عمره کوونکي زړه د خدای عرش ګرځي. د کعبې د کنجونو د نومونو د وجهي په هکله د دې کتاب ( 311 ) مخ وګورئ .

65ـ ابراهیم

ښتګه چې د همدغي اوسنۍ کعبې ودانۍ له لویه سره هماغه ده، چې ابراهیم  يې بنسټ ایښی دی ( که څه هم لږ و ډېر بدلون پکښې راغلی دی ) او ښتګه چې ابراهیم 

د حضرت محمد  سرنیکه؛ بلکي جد الانبياء دی، او زموږ سپېڅلی دین، اسلام د هماغه ابراهیمي دین پر بنسټونو ولاړ دی. او د مکې اوکعبې تاریخ له همدغه ستراو سپېڅلي شخصیت څخه را پیلېږي، نو لازمه ده چې د کتاب په دې برخه کي د خدای  د همدغه ستر نبي او د هغه د سپېڅلي ژوندانه او د هغه د زمانې د حاکمو شرایطو په باب څه معلومات وړاندي کړو: حضرت ابراهیم  د " ابراهام "، " براهم "، " براهیم " ، " ابرام " او " براهماَ " په نومونو هم یاد سوی، د پلار نوم يې " تارخ " وو،کوم چې د خپل قوم مشر او لارښود وو، او موږ ته د" آذر" په نامه راپېژندل سوی او د مور نوم يې " نونا " وو. د نوو څېړنو سره سم په کال 260 یا 189 قبل المیلاد کي د " بابل " د هیواد د " اور " په ښارکي زېږېدلی. ( دغه ځای ته چې د هماغه مهال ډېر سترصنعتي او تجارتي ښار وو، اوس عراق وايي ). په دې وروستیوکي د لرغون پېژندونکو د کیندنو له امله د غه ښار څرګند سوی کوم چې د فارس د خلیج په خوله کي او د عراق پلازمیني بغداد ته نژدې پروت دی. د ده ( ابراهیم ) نیکه ګان عرب نه وه؛ بلکي په عبراني ژبه يې خبري کولې. ابراهیم هم عبراني نوم دی، چې معنا يې ده " د سترتوب را منځته کوونکی ."

66ـ د بابل واکمني او ابراهیم

د عیسی  تر زېږېدو تقریباً دوه زره کاله د مخه د بابل سلطنت ډیر په غوره کي وو. مالي او اقتصادي حالت يې ډېر پیاوړی وو، ستر پوځي ځواك يې درلود. هره خوا يې امنیت وو، او ښې او ښادۍ پکښي پرېمانه وې. له دې امله د دغه ځای د دغه مهال واکمن دونه مغروره سوی وو، چې د ټولواکمنۍ په لویه بت خانه کي يې د خپل ځان زرینه مجسمه ایښې وه او رعیتو ته يې حکم کړی وو، چې د هغه عبادت وکړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی څښتن  د دغه لار ورکي قوم سمي لارې ته د بېرته را اړوني او لارښووني لپاره حضرت ابراهیم  د پیغمبر په توګه وګوماری. هغه په خپل سم او سالم فکردا جوته کړه چې خدای یو او پر ټوله دنیا او مافیها واکمن دی. کوم بتان چې خلك جوړوي او عبادت يې کوي د خدای په وړاندي هيڅ هم نه دي. نو يې وپتېيل چې خلك د خدای وحدانیت ته را وبولي، خو دوخت د پاچا غوبړونه ؛ لکه زموږ د زمانې د ډېرو واکمنانو غوندي د حق له اورېدو څخه پردي وه، ځکه نو د توحید غږ بد پر ولګېدی. دا له دې امله چې که يې د ابراهیم  بلنه منلې وای د خدایي له رتبې څخه د بنده ګۍ مرتبې ته راټیټېدی، چې دا دغسي وګړو ته ناشونې خبره ده .

پای د حضرت خلیل الله  ستر دښمن سو، او د هغه د زورولو او له مینځه وړلو په لټه کي سو. چې د ابراهیم  او د دغه ظالم واکمن کیسه ډېره مشهوره ده او په ډېرو کتابونو په تېره د تفسیر په کتابونو کي په تفصیل سره راوړه سوې ده. د حضرت ابراهیم  کورنۍ واکمن ته ډېره نژدې وه او له دې امله هغو هم د ابراهیم  سره واخیسته .

67ـ د حضرت ابراهیم  هجرت

حضرت ابراهیم  چې د کورنۍ، قوم او د وخت د واکمنو مخالفت ولید، نو يې  خدای په حکم د وطن پرېښوولو او هجرت لار ونیول. هغه د خپلي مېرمني بي بي ساره، خپل وراره لوط  او هغو لږو وګړو سره چې پر ده يې ایمان راوړی وو، په داسي حال کي چې څه مالونه او څاروي هم ورسره وه " حران " نومي ځای ته ولاړ او ترڅه مهاله پکښې و اوسېدی. بیا مصرته ولاړ، هلته له پخوانیو فرعونانو څخه یو ظالم فرعون واکمن وو. وايي چې بي بي ساره ډېره ښایسته وه، نو یو چا فرعون ته د هغې د ښکلا او جمال صفت وکړ. هغه سړي ور واستول او پوښتنه يې ځني وکړه چې دغه ښځه دي څه ده ؟ ابراهیم  وبېرېدی چې که ورته ووایم چې مېرمن مې ده مړ به مې کړي. نو يې ورته وویل چې دا مې خور ده. فرعون ورته وويل چې دا به جوړه کړې او ماته به يې راولېږې. نو هغه وو چې ابراهیم  بي بي ساره ته ورغي او ورته ویې ویل چې : ته د ایمان له مخي زما خور بلل کېږې او ما دغه ظالم پاچا ته هم وویل چې دا زما خور ده، نو هوښ کوه چې ما ورته درواغجن نه کړې. هغه وو چې سارا يې فرعون ته ولېږل.کله چې ورغله او ورته کښېنستل، فرعون لاس ور واچاوه، خو لاس يې د خدای  په امر وچ سو. فرعون ورته  وویل چې خدای  ته دعا وکړه چې زما لاس بېرته روغ کړي. زه وعده درسره کوم چې تاوان به نه در رسوم؛ بلکې احسان به درسره وکړم. نو هغه وو، چې د سارا د دعا له امله يې لاس جوړ سو. دغه ظالم بیا لاس ور واچاوه، چې بیا يې لاس ترد مخه لا ډېر وچ او په درد سو. بیا يې عذر ورته وکړچي بیا يې د سارا د دعا له امله لاس جوړ سو. نو هغه وو چې فرعون بخښنه ځني وغوښته او بي بي هاجره يې د هغې د دلاسايي لپاره ور وبخښل. ( زياتره ويل کيږي او مشهوره ده چې بي بي هاجره مینځه وه. خو ډېرو محققینوجوته کړې ده چې  دا آزاده او د فرعون لور وه ) .

کله چې بي بي سارا، ابراهیم  ته ورغله هغه پوښتنه ځني وکړه چې څه وسوه ؟ دې ورته وويل: لوی څښتن  د کافر، فاجر مکرونه په نطفه کي ورخنثٰکړه او  هاجره بي بي يې د خدمت لپاره راکړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردي وروسته ابراهیم  فلسطین ته ولاړ او هلته یې استوګنه غوره کړه، او په زړوالي یې د خدای  څخه د نېك اولاد غوښتنه وکړه. بي بي سارا ورته وویل: ماته خو خدای اولاد نه راکوي او مشوره یې ورکړه چې دغه بي بي هاجره چې ښکلې، سپېڅلې او فرمان وړنکې ښځه ده، په نکاح کړه، ښایي له دې څخه خدای  اولاد درکړي .

68ـ ابراهیم، هاجره، اسماعیل  او مکه

څو موده وروسته پر هاجرې او اسماعیل  د بي بي سارا نیت بد سو او کست یې په وسو، نو یې بالاخره له حضرت ابراهیم  څخه وغوښته چې هاجره او زوی یې یوه لیري ځای ته بوزي. په دې وخت کې ابراهیم  ته د خدای لخوا امر وسو چې د سارا خبره ومنه. نو یې هاجره او اسماعیل له ښاره را وایستل او مزل پر مزل یې مکې شریفې ته ورسول. هلته یې د " ابو قبیس " د غره په لمن کې د خدای بیتې ته نژدې کومه چې ورانه وه پرېښوول. حضرت اسماعیل دغه مهال تی رودی. ابراهیم  په یوه خورجین کې څه خرما او په یوه مشك کې څه اوبه ور پرېښوولې او خپله ځنی رهي سو. بي بي هاجره په پسې سوه او پسي ناري یې کړه: ما او زما دغه پرتي ماشوم په دې بتې بیابان کې چاته پرېږدې؟ حضرت ابراهیم  ورته وویل: ماته خدای امرکړی دی، چې دلته مو پرېږدم. بي بي هاجرې وویل نو چې داسي ده هیڅ پروا نه کوي موږ هغه خدای ساتي.

په دې ډول حضرت ابراهیم  له دوی څخه بېل سو او بیرته فلسطین ته ولاړ. کله چې له دوی څخه لیري سو د کعبې په لوري یې مخ کړ؛ لاسونه یې پورته کړه او دا دعا یې وکړه : ربنا انی اسکنت من ذریتی بوادٍ غیر ذي زرع عند بیتك المحرم ربنا لیقیموا الصلاۤ فاجعل افئداً من الناس تهوی الیهم و ارزقهم من الثمرات لعلهم یشکرون [ ابراهیم : 37 ] ژباړه : ای ربه ! ما زما له اولادې څخه ( چې اسماعیل او اولاد یې دی ) ستا د درنې او سترې کوټې سره په یوه بې کښته ناوه کې استوګن کړه، څو ستا عبادت د هغه د ټولو حقوقو سره سم تر سره کړي. نو ای ربه ! د ځینو خلکو زړونه د دوی په مینه متمایل کړه او له هر ډول میوو څخه روزي ورکړه، څو شکر وباسي. کله چې د بي بي هاجرې او اسماعیل هغه څه خواړه او اوبه خلاصي سوې او دواړه تږي سول، نو بي بي هاجره د اوبو په لټون اووه ځلي له " صفا " تر " مروه " ولاړه، راغله، خو نه یې اوبه وموندلې او نه داسي یو څوك چې اوبه ورکړي. او تنده یې نوره هم زیاته سوه. عن ابن عباس  قال: قال النبي " :  فلذالك سعٰی الناس بینهما ". یعني حضرت ابن عباس وایي چې رسول  وویل:" له دې امله حاجیان د صفا او مروه تر منځ سعی کوي". کله چې بي بي هاجره د وروستي ځل لپاره مروه ته پورته سوه یو آواز یې واورېد، چپ سوه، چې غوږ یې ونیوی بیا یې آواز واورېد. نو ویې ویل : غږ خو مې واورېد، ښایي څوك وي چې مرستي ته مې را و دانګي ؟ هغه وو چې نا ببره د زمزم د څا پرځای یوه ملائکه ) حضرت جبرائیل ( خرګند سو او د پښې پونده یا وزرېي د اسماعیل ترقدم لاندي په مځکه ووهل او اوبه راووتلې .

بي بي هاجرې له دې بیري چې وچي نه سي اوبه ډم کړې، خپل مشك یې ځني ډك کړ او ویل یې: " زمزم " " ای اجتمع " یعني ډم سئ او ودرېږئ ، خو اوبه همدغسي پرخوټېدو او ډېرېدو وې. لنډه دا چې بي بي هاجرې اوبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچښلې او خپل کوچني ته یې هم ورکړې. په دې وخت کې ملائکې هاجرې ته وویل: بېرېږه مه ! دلته دغه ورانه بیته دغه هلك او د هغه پلار جوړوي او خدای تعالی خپل دوستان نه هلاکوي.

رسول ﷺ وایي: " خدای تعالی دې د اسماعیل پرمور ورحمیږي که یې تلوار نه وای کړی یا یې د زمزم اوبه همدغسې پرې ایښې وای، خامخا به بهېدلې او رواني سوي وای. لکه چې مخکې مو وویل دغه مهال د کعبې ځای د سرې غونډۍ غونډي ښکارېدی چې سیلونه به یې له ښي او کیڼي خوا تېرېدل او هاجرې هلته شپې او ورځې تېرولې چې آخر د جرهم په نامه د یوه قوم د کوچیانو یوه ډله یا یوه کورنۍ هلته ورغله او د کعبې شریفې نژدې شا و خوا ته د هاجرې په اجازه میشته سول. په دې ترڅ کې حضرت ابراهیم ﷺ هغه خوب ولېد کوم چې د اسماعیل د قرباني مشهوره کیسه اوستره ازموینه ځني رامنځ ته سوه. وروسته اسماعیل په دغه قوم کې و روزل سو، عربي ژبه یې ځني زده کړه او کله چې ځوان سو له هغو څخه یې یوه ښځه هم په نکاح کړه. په دې ډول هلته کلی ودان سو، چې بیا ورو ورو د مکې لوی ښار ځني جوړ سو .

وروسته د اسماعیل ﷺ مور وفات سوه او یو وخت ابراهیم ﷺ د هغو د پوښتني لپاره ورغی. اسماعیل یې ونه موند او د هغه مېرمن یې پیدا کړه او د اسماعیل پوښتنه یې ځني وکړه. هغې ورته وویل: وتلی دی چې کور ته څه راوړي. بیا یې د هغو د ژوند حال ځني وپوښتی. هغې ورته وویل چې ژوند مو ښه نه دی، په خواري او ارياني اخته یو. مطلب ناشکري یې څرګنده کړه اوښه وضع یې ورسره و نه کړه. نو ابراهیم ﷺ ورته وویل کله چې دې خاوند راغی زما سلام ورته ووایه. او ورته ووایه چې د کور د دروازې چارچوب دې بدل کړه .

کله چې اسماعیل ﷺ کورته راغی مېرمني یې ورته وویل چې یو سپین ږیری راغلی وو، ستا پوښتنه یې را څخه وکړه او بیا یې زموږ د ژوند احوال وپوښتی، ما ورته وویل چې ژوند مو سم نه دی. هغه را ته وویل چې زما سلام اسماعیل ته ووایه او دا هم ورته ووایه چې د دروازې چارچوب دې بدل کړه. هغه ورته وویل چې دا زما پلار وو او په دې خبره یې ماته امر کړی دی چې تا طلاقه کړم، نو ته دې د خپلوانو کره ولاړه سه .

بیا اسماعیل د جرهم له قوم څخه بله ښځه وغوښتل. ابراهیم ﷺ بیا یو وخت راغی، بیا یې اسماعیل ونه موند او د هغه مېرمن یې وموندل او د هغه معلومات یې ځني وغوښت، هغې ورته وویل: تللی دی چې څه راوړي. ابراهیم ورته وویل چې ژوند مو څنګه دی ؟ هغې د خدای ﷻشکر ووایه او ورته وېې ویل چې ډېر ښه ژوند مو دی. ابراهیم ﷺ ورته وویل چې څه شي خورئ او چښئ ؟ هغې ورته وویل: د ښکار غوښې خورو او د زمزم اوبه چښو. ابراهیم ﷺ ورته وویل چې نور څه خواړه او ډوډۍ نه لرئ ؟ هغې ورته وویل چې نه. ابراهیم ﷺ وویل چې : ای باري خدایه ! د دوی په غوښو او اوبو کې برکت واچوه. حضرت ابراهیم ﷺ وصیت ورته وکړچې اسماعیل ﷺ ته ووایه چې د کور د دروازې چارچوب دې پرځای پرېږده. کله چې ابراهیم ﷺ ولاړی، اسماعیل ﷺ کورته راغی. ښځې یې ورته وویل چې داسې یو سپین ږیری سړی راغلی وو. هغه ورته وویل چې دا زما پلار وو او ما ته یې ستا په هکله د ښو او احسان امرکړی دی. په دې ډول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماعیل ؑ په مکه کي اوسګېدی، او ابراهیم ؑ په شام کي د خپلي مېرمني بي بي سارا سره ژوند کاوه. او کله کله چې به یې فرصت پیدا کړ، د اسماعیل ؑ پوښتني ته به ورتلی .

69ـ د کعبې د جوړولو امر

کله چې د لوی ښتن لخوا حضرت ابراهیم ؑ ته امر وسو چې کعبه شریفه ودانه کړي، له شام څخه د اسماعیل ؑ کره راغی او هغه یې په داسي حال کي وموند چې

د زمزم د اوبو د څا پر غاړه تر یوې وني لاندي د غشي په توږلو بوخت وو. اسماعیل چې خپل پلار ولید مخي ته ورغی، روغبړ یې ورسره وکړ، یو د بل غاړي ته یې لاسونه سره واچول او بیا ترهغه ونه لاندي کښېنستل، حال احوال یې سره وپوښتی او بالاخره حضرت ابراهیم ؑ وویل چې : زویه ! خدای جل شانه ما ته امرکړی دی چې دلته د خدای خونه جوړه کړم. ( دکعبې پرځای سرې غونډۍ ته یې اشاره وکړه ). اسماعیل ؑ د دې کار لپاره په ډېره مینه خپل تیاری وښود. نوهغه وو چې پلار او زوی د خدای ؑ د لارښووني سره سم یوم اوکلنګ را واخیستل، په کار یې پیل وکړ. هغه غونډۍ یې وکیندل، څو چې د کعبې شریفي همهغه د آدم ؑ د ودانۍ لومړني تهدابونه ښکاره سول، او بیا یې د کعبې شریفي د دېوالونو په پورته کولو پیل وکړ. ابراهیم ؑ یې بنایي کول او اسماعیل ډبري ورته راوړلې،څو چې دېوالونه دونه لوړ سول، چې د ابراهیم ؑ مبا رك لاسونه نه ور رسېدل. نو هغه وو چې ابراهیم ؑ پر داسي یوه معجزه لرونکې ډبره پورته سو چې هرڅونه به دېوال لوړېدی، دغه ډبره به هم په هماغه کچه لوړېدل ) .دغه ډبره مقام ابراهم دی کوم چې د ابراهیم ؑ د پلو نخښې باندي سته او اوس هم د یوې څرګندي معجزې په توګه،کعبې شریفي ته نژدې ځای پرځای سوې ده. په دې هکله نور تفصیل په [320 ] مخ او د هغه په وروسته مخونو کي وګورئ ).

کله چې د دې ودانۍ کار پای ته ورسېد ابراهیم ؑ ، اسماعیل ته وویل چې داسي یوه ډبره راوړه چې د دې متبر کي بیتې په دېوال کي ځای پرځای سي، څو د خلکو د طواف د پیل او پای لپاره نخښه وي. کله چې اسماعیل ؑ په ډبره پسي ولاړی، جبرائیل ؑ حجر اسود ورته راوړه او ابراهیم ؑ د کعبې په دېوال کي نصب کړه. اسماعیل ؑ چې ډبره راوړه ویې لیدل چې ابراهیم ؑ ډبره ایښې وه. نو یې ورته وویل چې دا چیري وه او چا درته راوړه ؟ هغه ورته وویل چې دا هغه چا راته راوړه چې نه مې تا او نه مې ستا ډبري ته اړباسي. ( په دې هکله بشپړ تفصیل په [ 304 ] مخ کي وګورئ ) .

70ـ د ابراهیمي کعبې د ودانۍ ځانګېړني

محمد عبد المعبود د تاریخ القویم او تاریخ مکه په حواله لیکي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ1حضرت ابراهیم ؑ کعبه د حضرت آدم ؑ د کعبې پربنستونو ودانه کړه.

ـ2هغه یوه ډبره پر بله و اوډلې او دېوالونه يې پورته کړه. ختې، اهاك یا کوم بل شی يې نه دی پکښې کارولی .

ـ3حضرت ابراهیم ؑ کعبه مستطیل شکله ( اوږده ) جوړه کړه .

ـ4د هغه د کعبې ودانۍ څلورکنجه درلوده. ( د حجراسود کنج [ رکن ] ، عراقي، شامي او یماني کنجونه چې د څلورو وارو استلام به کېدی ) .

ـ5په لمرختیز دېواله کې یوه دروازه وه چې چارچوب يې نه درلود او دروازه نه وه پکښې اېښوول سوې، ( دکعبې شریفي دروازه لومړی تبع پاچا چې اسعد الحمیري نومېدی پکښې اېښې او قلف هم، هغه د لومړي ځل لپاره ور اچولدی ).

ـ6دروازه يې د مځکي سره برابره وه، لوړه نه وه .

ـ7حطیم ( حجر اسماعیل ) په کعبه کې شامل وو .

ـ8کعبې چت نه درلود .

ـ9کعبې شریفي غلاف نه درلود ( غلاف هم تر ټولو لومړی تبع ورکړ ).

ـ10د دېوالو لوړوالی نه گزه ( 13ـ پټه، 6ـ انچه یا 4ـ متره 10 سانتی وو ) .

ـ11د دروازې یعني دلمرختیزلوري دېوال 23 گزه ( 48ـ پټه، 6 ـ انچه یا 14 ـ متره 33ـ سانتی وو .(

ـ12د حطیم د لوري یعني د عراقي رکن څخه تر شامي رکن پوري دېوال 22 گزه 33 )ـ پټه یا تقریباً لس متره وو .(

ـ13د رکن شامي څخه تر رکن یماني پوري 31 گزه (46ـ نیم پټه یا 13ـ متره 58ـ سانتی وو .(


ـ14د رکن یماني څخه تر حجر اسود پوري 25 گزه ( 30 ـ پټه یا 9 ـ متره 15ـ سانتي وو .(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیت الله شر یفي د ابراهیمي ودانۍ شکل په لاندي ډول وو:




71ـ د ابراهیم  لخوا خلکو ته د حج لپاره بلنه

کله چې ابراهیم  د کعبې له ودانولو وزګار سو. نو خدای  وحي ورته راولېږلې چې  :و اذن فی الناس بالحج  [ الحج: 27 ] یعني خلکو ته د حج لپاره عمومي بلنه ورکړه. حضرت ابراهیم  عرض وکړ چې ای پروردګاره ! دلته خو تر ډېرو لیرو سیمو پوري څه ودانۍ نسته او چیري چې ودانۍ سته هلته خو زما غږ نه رسیږي ؟ خدای تعالی ورته وویل: ته اعلان وکړه، رسول یې پر ما دي. نو ابراهیم پرمقام ابراهیم یعني پرهغه مشهوره ډبره باندي کومه چې اوس هم په حرم شریف کي پرته ده، وختی او د دې مقام په واسطه لوړ پورته سو څو د ابي قبیس غره ترڅوکو لوړ سو او ناري یې کړه : ای خلکو ! خدای تعالی خپل کور جوړکړی او د هغه حج یې پر تاسي فرض کړی دی، نو د خپل خدای بلنه و منئ او حج ته راسئ ! خدای  دغه بلنه په هرځائکي هر روح ته ورسول. نو د هرچا چې حج په نصیب وو د هغه روح دغي بلني ته جواب ورکړ چې: ( لبیك، اللهم لبیك، لبیك، لا شریك لك، لبیك ، ا ن الحمد و النعمآ لك و الملك ،لا شریك لك ). یعني زه ستا د فرمان پلي کولو او ستا چوپړ ته حاضر او تیار ولاړیم. لویه څښتنه ! ستا د فرمان د پلي کولو اوستا چوپړ ته حاضر او تیار ولاړ یم. ستا د فرمان د پلي کولو او ستا چوپړ ته حاضراو تیار ولاړ یم. تا لره هیڅ شریك نسته، زه ستا د فرمان د پلي کولو او ستا چوپړ ته حاضر او تیار ولاړ یم. په ریښتیا سره ټوله ثنا، صفت او نعمتونه تا لره دي، او ټولواکي تا لره ده، تا لره شریك نسته. په دې ډول حضرت ابراهیم  د حضرت اسماعیل  او د جرهم  د قوم د مسلمانانو سره یو ځای د حج مناسك ادا کړل او دحج د مناسکوڅخه ترفراغت وروسته خپل وطن شام ته ولاړ او هلته وفات سو) .د سمط النجوم العوالی د دربیم ټوك په (503) مخ کي وایي چې :" د المسترشد بالله عباسي خلیفه په زمانه کي په کال 514 س. کي د حضرت ابراهیم، او حضرت اسحاق او حضرت یعقوب  قبرونه کشف سول او د دوی اجسام مبارك داسي پکښي ولیدل سول لکه هماغه ګړی چې پکښي ښخ سوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او د دوي د اجسامو سره د سرو او سپینو زرو قندیلونه او څه نورشیان هم وموندل سول. خو په دغه کتاب کي دا نه دي ویل سوي چې دغه قبرونه چیري وموندل سول .( نو څوك چې حج کوي دغه ناره یې اورېدلې وي، چا چې یو ځل جواب ورکړی وي، یو ځل حج کوي. چې د وه واره یې جواب ورکړی وي دوه پلا حج کوي، او چې ډېرځله یې جوابونه ورکړي وي ډېرحجونه کوي. خو چا چې د حضرت ابراهیم  دغه دعوت ته لبیك نه وي ویلی، هغه د خپل بد بخت له امله د حج له دې نعمت څخه بې برخي پاته وي .

72ـ هاجره او اسماعیل

په لرغونوکتابونوکي بي بي هاجرې ته د ( هاجر ) لفظ استعمال سوی دی چې اصل یې عبراني لفظ " هاغار" دی. د هاغار معنا ده : پردی او اجنبي. هاجره د مصرد فرعون یا د مصر د یوه قبطي پاچا لور وه . دغه بي بي چې کله مړه سوه په حطیم کي د کعبې شریفي د رحمت تر ناوې لاندي خاورو ته وسپارل سوه. اسماعیل په اصل کي " شماع ایل " دی چې دا هم عبراني لفگګظ دی او معنا یې ده " خدای اورېدل ". څنګه چې حضرت ابراهیم  او بي بي هاجرې له خدایه اولاد غوښتی وو او خدای یې دغه دعا واورېدل، ځکه یې نو د هغه نوم " شماع ایل " کېښېښووی، چې عربي او پښتو تلفظ یې اسماعیل دی او په عربي د ( اسمٰعیل ) په بڼه لیکل کیږي. حضرت اسماعیل  په 2074 قبل المیلاد کي په فلسطین کي زېږېدلی دی .

73ـ د حضرت اسماعیل د قرباني لنډه کیسه

په قرآن مجیدکي ویل سوي دي چې خدای تعالی حضرت ابراهیم ته په خوب کي وښوول چې هغه خپل زوی حضرت اسماعیل  حلالوي. دا خوب یو ډول الهي حکم وو او پلار او زوی دواړه د دې حکم د تر سره کولو لپاره تیار سول او چې دواړو دا حکم ومانه او پلار، زوی د حلالولو لپاره پر مخي پرې ایستی، نو خدای تعالی ورته ور غږ کړه  :ای ابراهیمه ! تا خوب رښتیا کړ. موږ نیکي کوونکو ته دغسي غوره مکافات ورکوو .

په رښتیا چې دا یوه څرګنده ازموینه وه او خدای  یوه لویه حلاله ( لوی او چاغ پسه ) په فدیه کي ورکړ او اسماعیل له حلالي وژغورل سو ] .سورهْ صٰفٰت : 103 _ 107 آیتونه[

74ـ د ذی الحجې د اتمي، نهمي او لسمي په هکله

وایي چې حضرت ابراهیم  دغه خوب درې شپې پر له پسې ولید. لومړی یې د لوی اختر د میاشتي ( ذي الحجې ) د اتم په شپه خوب ولیدی، سهار چې را پورته سو تر ماښامه یې په دې هکله چورت او فکر واهه چې آیا دا خوب به د خدای  له لوري وي که د شیطان له لوري. ځکه نو دغه ورځ " یوم الترویه" وبلل سوه، یعني د غورکولو او چورت وهلو ورځ. دوهمه شپه یې بیا هماغه خوب ولید، نو وپوهېدی چې دا خوب د خدای له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري دی. له دې امله دغه ورځ د ( عرفې ) په ورځ ونومول سوه. بيا يې درېيمه شپه هم دغسې خوب وليدی. نو يې د خپل زوی د حلالولو تکل وکړ. له دې امله دغې ورځې ته " يوم النحر " يعني د حلالي ورځ وويل سوه .

75ـ د جمراتو د ويشتلو په هکله

وايي کله چې حضرت ابراهيم  ته د هغه د زوی د حلالولو حکم وسو، نو شيطان  د انسان په بڼه حضرت ابراهيم ته ورغی، ځو هغه وغولوی اوله دې کاره يې راوګرځوي.  خو ابراهيم  د هغه خبره و نه منل. بيا کله چې هغه عقبې جمرې ته ورسېدی، شيطان مخې ته ورغې او د هغه د غولولوکوښښ يې وکړ. خو حضرت ابراهيم  وپوهېدی چې دا شيطان دی. نو يې خدای ته دعا وکړه او د خدای د حکم سره سم يې اووه شګې واخيستې او شيطان يې په وويشتی او هغه وتښتېدی. بيا چې ابراهيم  منځنۍ جمرې ته ورسېدی هلته يې شيطان مخې ته ورغی، خو هغه بيا په اوو شګو وويشتی او شيطان وتښتيدی. بيا چې ابراهيم  جمراً الاولی ( لومړنۍ جمرې ) ته ورسېدی بيا شيطان مخې ته ور ولوېدی او حضرت ابراهيم  بيا په اوو شګو وويشتی او شيطان ځنې وتښتېدی. چې د دې واقعې په ياد حاجيان په منا کې دغه درې ځايونه کوم چې ځانګړې ځلې پرجوړ سوي دي په شګو ولي .

76ـ د حلال سوي پسه د ښکرونو په هکله

په معتبرو روايتونو سره ثابته سوې ده چې د حضرت اسميعل  په فديه کې چې کوم مړ حلال سوی وو، د هغه ښکرونه د کعبې په خونه کې د حضرت عبد الله بن الزبير  تر زمانې پورې ساتل سوي وه. وروسته بيا کله چې حجاج بن يوسف په حرم کې ابن الزبير محاصره کړ او کعبه يې ورانه کړه، نو هغه ښکرونه هم ضايع سول. ابن عباس او عامر دواړه د دې شاهدي وايي چې هغو په خپله د کعبې په خونه کې دغه ښکرونه ليدلي دي .

77ـ د قربانۍ د ځای په هکله

دا خبره له پېړيو پېړيو راهيسي د عربو په روايتونوکې محفوظه وه، چې  د قربانۍ دغه پېښه په منا کې سوې وه او دا يوازې روايتونه نه وه، بلکې له هغه وخت څخه د پيغمبر تر زمانې پورې دا کارهم د حج په مناسکوکې شامل وو او پر له پسې کېدی. د منا هغه ځای ته به خلک ورتلل،چيرې چې حضرت ابراهيم قرباني کړې وه او هلته به يې ځاروي قرباني کول. بياکله چې حضرت محمد  مبعوث سو نو هغه هم دغه کړنلار جاري وساتل، ان چې ترنن ورځې پورې د حج په ورځو کې د لوی اختر د مياشتې په لسمه ورځ په منا کې قرباني کيږي.

78ـ د مکې د ښار ودانول او د هغې تاريخي لرغونتيا

تقريباً څلور زره کاله د مخه د مکې مځکه ژرګو او نورو اغزنو ونو نيولې وه. هلته نه اوبه وې، نه شين ګيا او نه ځاروي او نه انسانان، هرلور جګ جګ غرونه ولاړ وه او مځکه يې هم ډېره لوړه وه. د اورښت اوبو به د غرونو خاوري، رېګ، جغل او ډبري لاندي راوړلې او پرله پسې د مځکي په لاندنيو برخوکي يو ځای کېدلې.  پردې سر ببره کله چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د ښا ر ودانول پیل سول او ورو ورو د عربو قبایل له نورو ځایونو څخه راغلل، نو خلکو هم داکارکاوه. هغو به هم د غرو څخه ډبري او نور راکښته کول اود مځکي پرمخ به یې اوډل، چې په دې توګه ورو ورو د غرونو جګوالی کم سو. لکه چې لومړیکعبه شریفه پریوه غونډۍ باندي ودانه سوې وه، خو اوس دغه غونډۍ ګردسره نه معلومیږي اوکوم ځایونه چې کښته وه، هغه اوس دونه لوړ سوي چې له هغو څخه " شامیه محله " ترکعبې شریفي تر سل متره زیاته لوړه سوې ده .

هغه مهال ټولي لاري له کرکنډو، ډبرو، ریګګو او اغزنو بوټو څخه ډکي وې. هلته د لومړي ځل لپاره د ودانۍ او رفاهي ترقۍ د بنسټ ډبره حضرت اسماعیل ▯ او د هغه مور بي بي هاجرې کښېښوول. بیا جرهمیانو په دې کار کي برخه واخیسته او په دې ترڅ کي حضرت ابراهیم ▯ اوحضرت اسماعیل ▯ کعبه هم هلته ودانه کړه. چې له دې سره د انسانانو شمېر هم هلته زیات سو او له دې امله په ودانیو، استوګن ځایونو او خیموکي هم زیاتوب راغی، او د دې ترڅنګ د یمن او شام د تجارتي قافلو تګ را تګ هم پیل سو. په دې توګه دعربو ټولو قبایلو مکې ته د زړه له کومي احترام او درناوی کاوه او تراسلام وروسته هم د نړۍ د مسلمانانو قبله او تر ټولو ډېرسپېڅلي ځای وګرځېد او زیات شهرت او د رنښت یې وموند. دغه رازد عربو او نورو ګاونډیو سوداګرو لپاره یو عمومي او بین المللي با زار وو چې خپل تجارتي مالونه به یې هلته وړل اوخرڅول. لکه چې د یمن، غسانیه، د فارس د خلیج د سواحلو، عمان، سره سمندرګي شام او نورو ځایونو د سوداګرو د قافلو سترکاروانونه به د تجارت لپاره ورته راتلل او د مکې قریش به هم هرکال په ژمي یمن او په دوبي شام او نورو ځایونو ته تلل، چې بالاخره دې مقدس ښار پړاو په پړاو دا دی دونه پرمختګ وکړچي نن د نړۍ په ښکلو او متمدنو ښارونوکي شمېرل کیږي او د دین او مذهبي تقدس سره سره، ستر تجارتي مرکزهم دی .

79ـ مکه اوکعبه په یوناني او مسیحي تاریخونوکي د زبور د څرګندونو سره سم حضرت داود ▯ د عیسي ▯ تر زیږېدو یوولس سوه کاله د مخه د بیت الله شریفي د زیارت لپاره خپله لیوالتیا داسي څرګندوله :

"ای د لښکروخدایه. ستا کورڅونه زړه راکښونکی دی. زما اروا هغو دربارونو ته لیواله ده؛ بلکې پسې نولیږي. زما زړه او زما ژوندی پړی د خدای لپاره له خوښی څخه ټوپونه وهي. سپېڅلي دي هغه چې ستا په کورکي اوسیږي. دوی تل ستا ستاینه کوي. د چا چې په زړه کي د " صیون " لویې لاري دي هغه د " بکا " له ناوې تېریږي او د هغه ځای په چینو کي ځان ته ځای جوړوي". [ زبور: 84 باب: 6 شمېره ]

مسیحي تاریخ لیکونکی جرجي زیدان په عرب قبل الاسلام کي لیکي : " د یونان په لرغونوکتابونوکي د مکې اوکعبې نوم نه ترسترګوکیږي، خو " دیودورس الصقلي (Deodars) sickles ) "په 100 کال قبل المیلاد کي د نبطي قوم د پېښو د بیانولو په ترڅ کي لیکي: " په حجازکي یو معبد دی چې ټول عرب یې تعظیم او درناوي کوی ". " للاب لوبس شیخو یسوعي" هم د نړۍ د مشهورو معبد ونو د یادولو په ترڅ کي لیکي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د نړۍ په ټولو معبد ونوكي ترټولو زيات مشهور د حجازكعبه ده. دكومي ذكر چې په تاريخ كي تر ټولو دمخه "د يود ورس الصقلي" په كال 100 قبل الميلاد كي كړی دی ". ( النصرانياَ و آدابها ). دغه رازجرجي زيدان ليكي:" ځيړونكو په دې كي چې مكه د كومي ژبي لفظ دی اختلاف كړی دی. خو زموږ په اند سم قول دا دی چې دا د كلداني يا بابلي ژبي لفظ دی. ځكه چې په بابلي ژبه كي د مكې معنا كور دی، كوم چې همدغه كور ته عرب كعبه وايي. په كال 1800 قبل الميلاد كي چې عمالقه هلته ورغلل، نو دوی پردغه ځای دغه نوم كښېښود. دلته ترټولو د مخه د عمالقه وو ځای پرځاكېدل ترلمرڅرگند دي. وروسته دغه ځای د ځينو جابرو واكمنو د واك د هوس نخښه سو. ترعمالقه وو وروسته د قحطانيانو يوه ټبې " جرهميان " له يمن څخه كډه سول او دلته ورغلل، د عمالقه وو سره يې جگړه وكړه او دغه ځای يې ځني لاندي كړ. بيا ډېره موده وروسته بني اسمعيل ( د اسماعيل اولاده ) پرهغو برلاسي سول ". د " انسايكلو پيډيا اف برټانيكا " د 1970 ع.كال په چاپ كي د مكې د لفظ د تشريح په ترڅ كي ليكي:" په عربستان كي دكعبې په نامه يو عبادت ځای وو، چې د لرغونو روايا توسره سم حضرت ابراهيم  ودان كړی وو. كعبه د ټولو عربو په سترگوكي متبركه وه او له ډېري مودې يې د هغې حج كاوه ". دغه راز جرجي زيدان ليكي : " د حجاز په ښارونوكي مكې ځكه زيات شهرت درلود

چې هلته د حج مناسك ترسره كېدل. او تر پر له پسې څو سووكالو وروسته هغه يو تجارتي مركز جوړ سو. د حج په مهال د حاجيانو د ورتگ او د پلورني او پېرودني د ډېرښت له امله دغه ځای د لويو لويو قبايلو او سردارانو د پاملرني او سرابښې منځۍ جوړ سوی دی". امريكايي پادري ايس. ام. زوسمير ليكي:" په دې كي شك نسته چې حجراسود د مكې تر ټولو لرغونې زېرمه ده ". پطرس بستاني په خپل دايرآ المعارف كي ليكي: " حج په بېلو بېلو ولسونوكي له ډېري پخوا زمانې څخه دود دی. كه څه هم په يقين سره نه سي ويل كېدای چې تر ټولو لومړی په كوم ولس كي حج كول پيل سول، خو د عربو د جاهليت په زمانه كي له ډېرو ليري ليري ځايونوڅخه ډلي ډلي وگړي د بيت الله د حج لپاره راتلل. له دې څخه څرگندېږي چې دا تر ټولو لومړی قوم دی چې د حج كول پكښې دود سوی دی. عرب وايي چې آدم  له آسمان څه تر راكوزېدو وروسته كعبه جوړه كړې وه او بيا د نوح  تر طوفان وروسته ابراهيم او اسماعيل بېرته ودانه كړه."

80ـ دكعبې توليت، دمكې امارت او اسماعيل

كله چې حضرت ابراهيم  بي بي هاجره او اسماعيل په مكه كي دكعبې تر څنگ پرېښوول، نو يې دعاوكړه چې: " پروردگاره ! ما په يوه بې اوبو او بې وښو ناوه كي د خپل اولاد يوه برخه ( اسماعيل او بي بي هاجره ) ستا دمحترم كورترڅنگ مېشته كړه. پروردگاره ! داكار ماد دې لپاره كړی دی چې دوی دلته ستا طاعت وكړي. نو ته دا ملك ( مكه ) د امن ټاټوبی وگرځوه او د هغه له اوسېدونكو څخه چې څوك تا او آخرت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مني، هغو ته هر ډول مېوې روزي کړه. او د خلکو زړونه د هغو په تلوسه کړه."  او بیا چې یې کعبه جوړول نو یې دعا وکړه:" پروردگاره ! زموږ څخه دا خدمت ومنه.  ته د هرڅه اورېدونکی او په ټولو شیانو پوهېدونکی یې. ای ربه موږ دواړه تاته غاړه ایښوونکي وګرځوه او زموږ له اولادې څخه یو داسي قوم رامنځتهکړه چې تاته غاړه ایښوونکي وي.  موږ ته د خپل عبادت لارې اولیکي رازده کړه او زموږ لنډپاری وبخښه. ای ربه ! په دې خلکوکي ددوی له قومه څخه یو داسي پیغمبررا وپاڅوه چې دوی ته ستا آیتونه واوروي؛  هغوته کتاب اوحکمت ورزده کړي او پاك او ستره ژوند ور په برخه کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه برخه: مکه او کعبه د حضرت محمد په وختونو کي

97ـ د حضرت محمد rنسب، ولادت او بعثت

نسـب:

حضرت محمد rد عبد الله زوي د عبد المطلب ( شيبه ) لمسی او د هاشم ( عَمٌرو ( کړوسی دی ، چې د نسب لړۍ يې حضرت ابراهيم  ته رسيږي. د حضرت محمد r

د انا نوم فاطمه وو، چې د عمرلور او د عا ئذ لمسۍ وه. د حضرت محمد rنيکه، د عبد الله واده د بي بي آمنې سره وکړ. عبد الله د عبد المطلب لخوا مدينې ته د خرما راوړولو لپاره ولېږل سو، خو هلته مړسو. ځيني اهل سير وايي چې هغه د تجارت لپاره شام ته تللی وو، د قريشو د يوې قافلې سره مکې ته د بيرته راتګ په لاره کي د ناروغه کېدو له امله په مدينه کي پاته سو او هلته مړسو او د نابغه جعدی په کورکي يې د تدفين چا ري تر سره سوې. دغه مهال د هغه عمر ( 25 ) کاله وو. د ډېرو تاريخ ليکونکو په قول د عبد الله ترمړيني پوري حضرت محمد rنه وو پيدا سوی. خو ځيني بيا وايي هغه د عبد الله تر وفات دوې ميا شتي

د مخه زېږېدلی وو.

ولاد ت:

حضرت محمد مصطفٰی r د مکې په شعب بنی هاشم کي د 571 ع. کال د لومړۍ خور پر ( 12 ) چې د اپريل د ( 20 ) سره سمون خوري د دوشنبې د ورځي په سهار وزېږېدي.

البته دا د پخوانيو سيرت ليکونکو او تاريخ پوها نو خبره ده. خو د اوس مهال د محققو تاريخ ليکونکو؛ لکه علامه قاضي محمد سلميان منصور پوری (رح) او د مصرنامتو هيئت پوه علامه محمود پاشا فلکي (رح) په ډېر زيار او څېړنه او په رياضي دلايلو ثابته کړې چې حضرت محمد r د 571ع. کال د لومړۍ خورپه نهمه چې د اپريل د شلمي سره سمون خوري د دوشنبې په ورځ زېږېدلی دی. او دا څېړنه ډېرو درسته بللې او منلې ده.

د ابن سعد روايت دی چې د رسول rمور وفرمايل:" کله چې آنحضرت پيدا سو، نو له ماڅخه يو نور پورته سو، چې ټول شام يې رڼا کړ". امام احمد د حضرت عرباض بن ساريه څخه هم تقريباً دغسي يوه خبره روايت کړې ده. په ځينو روايتونوکي ويل سوي دي چې د حضرت محمد rد زېږېدو په مهال د کسرا د ماڼۍ کنګرې ونړېدلې، د مجوسو اورتون سوړ سو، د ساوه په نامه سمندرګی وچ سو او د هغه ځای کليساوې وراني سوې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا خبري امام محمد غزالي (رح) درستي نه دي بللي. کله چې عبد المطلب ته د خپل لمسي د زېږېدو احوال ورسېد ، ورغی هغه يې را واخيستی کعبې شريفي ته يې يووړ او د محمد نوم يې پرکښېښود .

د حضرت محمد rدايي ته سپارل:

څو ورځې وروسته يې محمد د عربو د هغه مهال د دود سره سم د هوازن د سيمې د حارث نومي مېرمني بي بي حليمې ته وسپارئ، هغې تر دوو کالو شيدو ورکولو وروسته د هغه مور بي بي آمنې ته راوړ. خو څنګه چې هغې له يوې خوا په حضرت محمد r کي خير او برکت ليدلي وو او له بله پلوه په مکه کي وبا خپره سوې وه، نو بي بي حليمې بېر ته واخيستي.

د ټټرڅيرلو پېښه :

کله چې د حضرت محمد rعمرڅلور يا پنځه کلنۍ ته ورسېد، يوه ورځ يې دکوچنيانو سره لوبي کولې چې حضرت جبرائيل  ورغی، د هغه مبارك ټټر يې څيري کړ، زړه يې څني وکيښ او له هغه څخه يې دويني يوه ټوټه را و ايستل او ويې ويل:" دا په تا کي د شيطان برخه وه ". بيايې د هغه زړه په يوه "طشت " کي د زمزم په اوبو پرېولی. کوچنيان د هغه دايي ته په ځغاسته ورغلل او خبرېي ورکړ چې محمد يې وواژه. کله چې هغه ور ورسېده، نو هغه روغ رمټ وو، خو بڼه يې الوتې وه.

حضرت محمد r د مور په غېږ کي:

تردې پېښې وروسته حليمې خطره احساس کړه او هغه يې خپلي مور ته وسپارئ. محمد rد شپږو کالو وو چې موريې د هغه د پلار د قبر د زيارت لپاره مديني ته ولاړه او حضرت محمد r يې هم ورسره بوتئ. هلته يې يوه مياشت تېره کړه، د بېر ته راتلو په مهال په لار کي ناروغه سوه او د مديني او مکې په منځ کي په " ابوا " نومي ځای کي مړه سوه اوهلته يې د يوه کوچني غره پرسرخاورو ته وسپارل. عبد المطلب خپل لمسی مکې ته راوست او په ډېر محبت او ناز يې ساتئ. د حضرت محمد عمرلا د اتوکالو، دوو مياشتو، لسو ورځو وو، چې عبد المطلب مړسو او محمد د هغه د شفقت له سيورى بې برخي سو، او بيا د هغه پالنه د هغه اکا ابو طالب پر غاړه واخيسته .

کار او واده:

د ځوانۍ په لومړيوکي رسول الله r کوم ټاکلی کار نه درلود. البته دا خبره جوته ده چې هغه د مکې دخلکو وزې د څوقيراطو په بدل کي پوولې. کله چې د ( 20 ) کالو سو د حضرت بي بي خديجې رضی الله عنها مال يې د تجارت لپاره شام ته يووړ. بي بي خديجه د خويلد لور يوه بډايه او دعزت خاونده سوداګره مېرمن وه چې خلکو ته به يې خپل مال د تجارت لپاره ورکاوه. کله چې هغه بېرته مکې ته راغی او بي بي خديجې ته د رسول r رشتينولي امانت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښه اخلاق څرګند سول، د هغه سره یې واده وکړ. دغه مهال لکه چې مخکې مو وویل د رسول r عمر د ( 20 ) کالو وو او بي بي خدیجه د دوو مړونو څخه ( 40 ) کلنه کونډه وه .

په حرا سمڅه کې عبادت او وحي: پر رسول لومړی ترشپږو میاشتو وحي د داسې ښو خوبونو په لیدلو راتلې چې هغه به د سپین سهار غوندې رشتیا کېدل. او هرڅونه چې د حضرت محمد r د نبوت زمانه رانژدې کېدل هغونه، هغه په ذهني او فکري لحاظ د خپل قوم څخه ګوښه کېدی او یوازې توب یې خوښېدی. تردې چې څه ځوری او د خوراك، څښاك لوښې یې واخیستل او له مکې څخه دوه یا درې میله لیرې حرا سمڅې ( غارحرا ) ته ولاړ او هلته په میاشتو میاشتو و اوسېدی او د خدای په عبادت لګیا سو. کله چې به یې ځوری خلاص سو بیا به بي بي خدیجې ته راتی او هغې به د ځو زیاتو ورځو لپاره نور ځوری ورکاوه. څو چې جبرائیل امین د ده د مبارك عمر په څلوېښتم کال ورته ورغی او د خدای تعالی له لوري یې وحي ورته راوړې؛ ورته ویې ویل: ولوله ! محمد r ورته وویل: زه خولوستونکي نه یم. جبرائیل هغه دونه په غېږ کې ټینګ ونیو چې هغه بېخي بې حوصلې سو . بیا یې خوشې کړ او ورته ویې ویل: ولوله ! هغه بیا ورته وویل: زه خولوستونکي نه یم. ملایکي بیا هغه په غېږ کې ټینګ ونیو ترڅو په هغه کې زغم پاته نه سو، بیایې پرېښود او ورته ویې ویل: ولوله ! هغه بیا ورته وویل: زه خولوستونکي نه یم . ملایکی بیا هغه د درېیم ځل لپاره په غېږ کې ټینګ ونیو، ترڅو په هغه کې نور زغم او حوصله پاته نه سوه. بیا یې هغه پرېښود او ورته ویې ویل: ] اقراء با سم ربك الذی خلق تر ما لم یعلم[ پوري. یعني ولوله د خپل رب په نامه چې هغه پیدا کړ، دکلکي سوي ويني له يوې ټوټې څخه يې انسان پيدا كړ. ولوله ! او ستا رب ډېر مهربان دی، چې هغه د قلم په مرسته علم وښووی، انسان ته یې هغه علم او پوهه ورکړه چې نه په پوهېدی. وروسته رسول په رېږ د سو،کور ته ولاړی او دا حال یې بي بي خدیجې ته ووایه او ورته ویې وېل چې پر ما یوشی واچوئ، پر ما یو شی واچوئ. بیا یې ورته وویل چې دا په ما څه سوي دي، او زه پرخپل ځان بېرېږم. هغې ورته وویل: ته هیڅکله مه بېرېږه، بلکې خوښ اوسه. په څښتن لوړم چې هغه به هیڅ وخت تابې پردې نه کړي. ځکه ته له خپلوانو سره ښه چلند کوې، رشتیا وایې اما نتونه اداکوې، د بې اسرې خلکو د اوږو پېټې سپکوې، بې وزلوکسانو ته د ورکړې لپاره زیار باسې، مېلمه پالنه کوې او په ښو چاروکي مرسته کوې. بیا هغې دی خپل د اکا زوي ورقه بن نوفل ته وروستی کوم چې د تورات او انجیل عالم وو او ډېر بوډا او په سترګو ړوند سوی وو . کله چې هغه دا سرګذشت واورېدي ویې فرمایل: دا هغه ناموس ( جبرائیل ) دی چې لوی څښتن موسیٰ ته لېږلی وو. کاشکې زه ځوان وای او ترهغه مهاله چې قریشو ته له مکې ایستلای، ژوندی وای . مابه ستا سره بشپړه مرسته کړې وای. په دې خبره رسول r حیران پاته سو چې زه خو له خپله قومه سره په رشتیا او صداقت روان یم. او قوم هم زه په امین اوصدیق پیژندلی یم، نو دوی ولې ماله مکې باسي ؟ ورقه ورته وویل: دا ځکه چې هر چاچې ستا غوندې خبرې قوم ته راوړې، هغو ارو مرو د ښمني ورسره اخیستې ده. ورقه څو موده وروسته ومړ او وحي هم تر درو کالو بندي سوې. مولانا صفي الرحمان مبارك پوري په الرحيق المختوم کې وایې چې زموږ د څېړنې سره سم پرحضرت محمد r باندې د لومړی ځل لپاره د وحي د نازلېدو دغه پېښه د روژې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میاشتي پر ( 21 ) نېټه د دوشنبې په شپه وسوه. چې ور پسې ورځ یې د 610 ع. کال د اګست لسمه وه. د سپوږمیزکال په حساب حضرت محمد r د څلوېښتوکالو شپږو میاشتو دوولسو ورځو وو. او د لمریزکال په حساب د ( 39 ) کالو دوو میاشتو دوه ویشتو ورځو وو .

د تبلیغ لومړي وختونه :

کله چې رسول r د خدای د استازیتوب د ستري دندي د ترسره کېدو په تکل کي سو  دکلونوکلونو لپاره د ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ سو. که سړی په دقیقه توګه هغو ستونزو ته چې هغه پر ځان منلي وې ځیرسي او فکر ورته وکړي وبه مني چې په رشتیا داسي ستونزي بېله ده غونډي اولوالعزمو پیغمبرانو او د خدای Yلخوا مامور سوو کسانو پرته، نور ساده وکړي پرسر نه اخلي. او که د چا د پیغمبرۍ دعوه په درواغو وې، حتماً وایې چې دا په دونه تکلیفونو نه ارزي او ارو مرو تر تېرېږي او د پیغمبرۍ دعوه پرېږدي .  حضرت محمد r د دې ستري او سپېڅلي فریضې د ښه ترسره کېدو لپاره له ډېرو هوښیارانه تدبیرونو څخه کار واخیست، او په ورو ورو یې هغه رسالت وړاندي بوت. هغه لومړی یوازي هغه کسان په ایمان مشرف کړل چې دی یې ښه پېژندی او د ده اخلاق، عادات اوحرکات او سکنات ښه ورته معلوم وه. په دې ډول پرهغه تر ټولو لومړی بي بي خدیجآ الکبري، حضرت ابوبکر صدیق، حضرت علي مرتضی او حضرت زید بن حارثه ـ دحضرت محمد  لخوا آزاد سوي مریي ــ ایمان راوړ. بیا د نبوت پر پنځم کال کله چې د ایمان راوړونکوکړی پراخه سوه، نو حضرت نبی  د ارقم بن ابي الارقم مخزومی کور چې د صفا غره کېنې لور ته د ( 35 ) یا ( 40 ) مترو په واټن پروت وو او د اسلام د دښمنانو له سترګو لیري واقع وو د خپل رسالت د تبلیغ لپاره مرکز وټاکی. همدلته به حضرت محمد  لومړنیو ایمان راوړونکو ته په جماعت لمونځ هم ورکاوه او دلته حضرت عمر هم مسلمان سو. بیا کعبه شریفه د اسلام د تبلیغ منځی جوړه سوه.

بخولي او ویرونه:

د حضرت محمد  د سرښندونکو اصحابو د شمېر په زیاتېدو سره، هغو نه د هغه او  د هغه د اصحابوکرامو بخولي او ناورینونه هم زیاتېدل، او ورسره ورسره د قریشو د عناد اورلا زیات تازه کېدی. ځکه نو مسلمانا ن اړسول چې حبشې او بیا مدینې ته هجرت وکړي. د نبوت په لسم کال رسول  او اصحابوکرامو ته د ډېر ستر ویر او غم پېښې یو په بل پسې دا وې چې لومړی ابوطالب او دوې میاشتي یا درې ورځې وروسته بي بي خدیجه وفات سول چې د دوی دواړو وفات رسول  او مسلمانان نور هم په ویر اخته کړه. ځکه چې د ابوطالب تر وفات وروسته د مسلمانانو په زورولوکي د قریشو جسارت نور هم زیات سو. له دې امله رسول  د دغه کال نوم " عام الحزن " ( د غم کال ) کښېښووی، او دا کال په تاریخ کي په دغه نامه مشهورسو. د رسول  د زیات کوښښ سره سره د هغه اکا  د ایمان له نعمته بې برخي پاته سو خو د خدیجې بي بي په هکله به یې ویل:"په ټوله نړۍکي څلور ښځي غوره او ممتازي دي: بي بي مریمه ، بي بي خدیجه، د فرعون مېرمن  بي بي آسیه او بي بي فاطمه."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



98ـ د سپوږمۍ دوې ټوټې کېدل

قال الله تعالى ﷻ : اقتربت الساعآ و انشق القمر و ان يروا آيآ يعرضوا و يقولوا  سحر مستمر ] ﷻالقمر : 1_2 [

ژباړه: د قيامت ګړی را نژدې سو او سپوږمۍ و چاودل. خو د دغو خلکو حال دادی چې که هره نښانه و ويني مخ اړوي او وايي دا خو داسي کوډي دي چې تر آسمانه رسيږي.  په صحيح بخاري، مسلم او نوروکي د انس بن مالك، عبد الله بن مسعود او نورو له روايتونو څخه او د فتح الباري او نورو کتابونو څخه جوتيږي چې مدينې منورې ته د رسول ﷺ ترهجرت نژدې پنځه کاله د مخه د قمري مياشتي څوارلسمه شپه وه، سپوږمۍ تازه راختلې وه، رسول ﷺ په مناکي وو، چې د مکې مشرکانو ورته وويل چې موږ ته يوه معجزه راوښيه، څو موږ ايمان در باندي راوړو. نو خدای تعالى د خپل استازي د رشتينولی د جوتولو لپاره سپوږمۍ دوې ټوټې کړه. يوه ټوټه يې د مخامخ حرا غره يوې خواته او بله يې بلي خواته ولېدل سوه . دغه کيفيت يوازي يوه شېبه دوام وکړ او بيا بيرته دواړي ټوټې سره يوځای سوې . حضرت محمد ﷺ خلکوته وويل :" وګورئ او شاهدان اوسئ ". خوکفار د دې معجزې په ليدلو سره هم اسلام ته راوانه وښتل او ويې ويل چې د محمد ﷺ سحر پرآسمانو هم اغېزه کوي. ځينو وويل چې که داکوډې وي نو هغه خو د ټولي نړۍ پرخلکو اغېز نه کوي، بايد انتظار و باسو، او له نورو مسافرو څخه په دې هکله معلومات وکړو . نوکله چې له ليرو ليرو سيمو څخه مسافر راغلل له هغو څخه يې په دې هکله پوښتنه وکړه هغوهم وويل چې په دغه شپه مو سپوږمۍ وليدل چې دوې ټوټې سول. خو بيايې هم اسلام ته غاړه کښې نه ښوول او ويې ويل چې د محمد ﷺ سحر ډېر قوي دی . په بخاري شريف کي د منا خبره نسته او يوازي وايي چې د مکې خلکو له حضرت محمد ﷺ څخه دا غوښتنه وکړه. خو په مسلم او نوروکي راوړي چې عبد الله بن  مسعود ﷺ ويلي چې موږ د رسولﷺ سره په منا کي وو،چې دا پېښه وسوه.  ځکه نو علامه محمدطاهرکردي په سختی سره داخبره ردوي چې د سپوږمۍ  د دوه ټوټې کېدو پېښه د مکې د ابي قبيس پرغره سوې ده. او وايي چې دغه  روايت چې په خلکوکي عام او مشهور سوی دی درواغ دی اوکوم اصل نه لري.  دغه راز هغه وايي : کوم کيسه کوونکي چې وايي چې سپوږمۍ د رسول  ﷺ په ګرېوان ننوتل اوله لستونـي يې راووتل داهم کوم اصل نه لري. دغه خبري مولانا  ابو الاعلیٰ مودودي هم ردوي. او دا چې رسول ﷺپه ګوته د سپوږمۍ خواته اشاره وکړه دا هم بېخي بې اساسه بولي .

99ـ د حضرت محمد ﷺ معراج

قال الله تعالى ﷻ :سبحٰن الذیّ اسرٰی بعبده ليلاً من المسجد الحرام الی المسجد  الا قصا الذی بٰرکنا حوله لنريه من آيٰتنا انه هو السميع البصير ﷻ[ بنی اسرائيل: 1 ] ژباړه: پاك دی هغه ذات چې يوه شپه يې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه ليري جومات ( مسجد الا قصیٰ ) پوري بوتی، چې د هغه چا پېريال يې برکتي کړی دی، څو هلته په هغه خپلي ځيني نښانې وګورو. بېشکه چې هغه د هرڅه اورېدونکی او ليدونکی دی. لکه چې پوهيږو دغي پېښې ته " اسراء " او " معراج " وايي. د " اسراء " معنا د شپې بېول دي. دغه حيرانوونکی سفر له مسجد حرام ( مکې مکرمې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



) څخه مسجد الاقصیٰ ( بیت المقدس) او بیا له هغه ځایه تر ملاء اعلیٰ پورې د رسول ﷺ په جسد د شپې سوی دی. ځکه نو قرآن کریم دغه سفر " اسراء " وباله. " معراج " لوړ ختلو ته وایې. څنګه چې حضرت محمد ﷺ په دغه شپه د ملاءاعلیٰ د لوړ تللو مزل وهلی، او اوو اسمانو، سدرآ المنتهٰی او تر هغه هم اوچت سوی او د لوی څښتن قدرت یې لیدلی، ځکه نو دغه سفر معراج بلل سویدی. مدینې منورې ته د رسول ﷺتر هجرت څه موده مخکې یوه شپه هغه مبارك په یوه روایت د کعبې شریفې ترڅنګ په حطیم کې، او په بل روایت د حضرت علی کرم الله وجهه دخور ام هانئ بي بي په کورکې کوم چې مسجد الحرام ته نژدې د صفا او مروه په منځ کې واقع وو. په بل روایت د مسجد حرام. او په بل روایت د ده په کورکې د خوب او ویښتیا تر منځ وو چې ویې لیدل چې حضرت جبرائیل ﷺ د څو ملایکو سره تشریف راوړ، او هغه مبارك یې د زمزم څا ته بوتی هلته یې سینه مبارکه ورڅیري کړه، زړه یې ځني وکیښ او د زمزم په اوبو یې پرېوی. بیا یې د ایمان او حکمت څخه د سرو زرو یوډك تش راوی او د هغه مبارك په سینه کې یې خالي کړ او بیا یې سینه ور وګنډل. بیا یې ترخره لوی او تر غاتري کوچنی سپین براق راوستی او رسول ﷺیې پر سپورکړ دغه مهال هغه شوخي وکړه. جبرائیل ﷺ ورته وویل شوخي مه کوه، ترننه پوري پرتا باندي تر محمد ﷺزیات غوره وګړی نه دی سپور سوی. براق چې دا واورېده خوله خوله سو . پردغه براق رسول ﷺ بیت المقدس ته ورسېدی، هلته یې په اقصیٰ جومات کي دوه رکعته لمونځ وکړ. کله چې له جوماته بهر راووتی جبرائیل ﷺ د شرابو او شیدو دوې پیالې ورته ونیولې. هغه مبارك د شیدو پیاله ځني واخیسته. جبرائیل ﷺ ورته وویل چې تا فطرت غوره کړ، که دي د شرابو پیاله اخیستې وای امت به دي بې لاري سوی وای. بیایې د جبرائیل ﷺ سره یو ځای آسمانو ته تشریف یووړ، په لومړی آسما ن کي یې حضرت آدم ﷺ، په دوهم کي یې حضرت یحیٰی او حضرت عیسٰی ﷺ ، په درېیم کي یې حضرت سوسف ﷺ ، په څلورم کي یې حضرت ادریس ﷺ ، په پنځم کي یې حضرت هارونﷺ ، په شپږم کي یې حضرت موسٰی ﷺ ، په اووم کي یې حضرت ابراهیم ﷺ ولیدل .

حضرت ابراهیم ﷺ د بیت المعمور په خواکي ناست وو،کوم چې هره ورځ او یا زره ملا یکي ور ننوزي او بیا نه ځني راوزي. بیا سدرآ المنتهٰی ته ورسېدی. بیا بیت المعمور ور وښوول سو. بیا د شرابو، شیدو او عسلو پیالې ورته راوړه سوې، چې له هغو څخه یې بیا د شیدو پیاله واخیسته او ویې خوړلې. بیا جبرائیل ورته وویل چې تا فطرت غوره کړ، له دې امله به ته او ستا امت پرفطرت ولاړ وې . بیا د خدای له لوري هغه څه ورته وحي سول چې بېله خدای او رسوله هیڅوك نه دي په خبر. خو لکه چې خپله حضرت رسولﷺ وایي دغه مهال پرده او د ده پرامت باندي پنځوس لمونځونه فرض سول. چې بیایې د موسٰی ﷺ په مشوره څوځلي د خدای له حضوره په هغه کي لږوالی وغوښتی چې پای د ورځې پنځه لمونځونه فرض سول .

100ـ د مشرکینو لخوا د معراج نه منل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابن عباس وايي کله چې حضرت رسول ﷺ په هماغه شپه له معراجه بيرته راستون سو، سهار په حجر اسماعيل کې ګوښه او غمګين کښېنستی، ځکه پوهېدی چې قوم يې دا خبره نه ورسره مني. دغه مهال نا ببره ابوجهل راغی د هغه مبارك څنګ ته کښېنستی او په مسخره او استهزاګۍ يې ورته وويل: بيا خودي کوم نوی شی نه دی موندلی ؟ هغه ورته وويل: تېره شپه زه بيت المقدس ته او له هغه ځايه آسمانو ته بوتلی سوم. ابوجهل ورته وويل: د شپې دي بيت المقدس ته سفرکړی او په سهار يې زموږ سره په مکه کې اوسې ؟ هغه ورته وويل: هو. نو ابوجهل ورته وويل: دغه خبره دي قوم ته هم کوې ؟ هغه مبارك ورته وويل: هو. نو ابوجهل ناري کړه چې ای د بنی کعب بن لوئي اولادي راسئ ! کله چې خلك را غونډ سول، نو ابوجهل رسولﷺ ته وويل: اوس هغه خبري چې ماته دي وکړې دوی ته وکړه. رسول ﷺ وويل: هو ! زه د شپې بوتلی سوم. هغو ورته وويل چيري ؟ ده ورته وويل بيت المقدس ته. هغو ورته وويل: او په سهار يې بيا زموږ سره اوسي ! ده ورته وفرمايل: هو. نو دوی په حيرت او تعجب کې ولوېدل او ويې ويل چې: دا ډېره عجبه خبره ده. ځينو له ډېره انکاره لاسونه مروړل، ځينو پرخندل، ځينو له حيرته لاسونه پرسرو ونيول، او ځينو چې پرده ايمان راوړی وو له دې امله بيرته له دينه واوښتل. وايي څنګه چې د قريشو زياتره وکړی د شام سوداګروه او بيت المقدس يې په پلاو پلاو ليدلی وو، نو هغو رسول ﷺ ته وويل چې که ته رشتيا وايې نو موږ ته و وايه چې بيت المقدس څنګه ځای دی ؟ رسول ﷺد دې خبري په اورېدو ډېرخفه سو. ځکه هغه خو د بيت المقدس د ليدلو لپاره نه وو تللي، بلکې هغه هلته دشپې رسېدلي وو او له هغه ځايه په هما غه شپه معراج ته تللی وو. خو لوی څښتن سمدستي  د هغه له مخې مادي پېښولونه پورته کړه، چې په دې ډول يې دکفارو سوالونو ته دقيق جوابونه وويل. بي بي عايشه (رض) وايې بيا ابو جهل او څونور کسان حضرت ابو بکر ته ورغلل او ورته ويې ويل ايا ته دا منې چې ستا ملګری د شپې بيت المقدس او بيا آسمانو ته تللی وي ؟ هغه وويل، محمد ﷺ دغسې وايي؟ هغه ورته وويل: هو. ابو بکرو‌ويل: که هغه رشتيا دغسې ويلي وي نو رشتيا وايې. هغه ورته وويل ته دا منې چې هغه دې د شپې شام ته تللي وي او بيرته دې په دغه شپه د سهار د مخې راسي ؟ هغه ورته وويل: هو. نو له دغي ورځې حضرت ابو بکر په صديق ونومول سو.

101ـ له مکې څخه مدينې ته د حضرت

محمد ﷺ هجرت.

لومړنۍ پيلا مې:

د يثرب ( مدينې منورې ) خلکو د هغه ځای له يهودو څخه اورېدلي وه چې يو نبي  د خدای له لوري را لېږونکی دی چې هغه به د مکې خلك له هغه ځايه وباسي، يثرب ته به راسي، موږ به يې پيروي وکړو او د هغه په ملګرتيا به تاسي د " عاد اِرَم " غوندي ووژنو. نو هغه وو چې د نبوت په يوولسم کال د حج په مهال چې د 620ع. کال د جولای سره سمون خوري، رسول ﷺ په منا کې د شپې لخوا د يثرب د خزرج د قبيلې د شپږو تنو ځوانانو سره مخامخ سو. د خبرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اترو په ترڅ کي يې هغو ته د اسلام حقيقت څرګند کړ، قرآن يې ورته تلاوت کړ او د خدای ﷻ لوري ته يې را وبلل. هغو يو له بله سره وويل چې دا خو ښځي هما غه نبي معلوميږي چې يهودو يې موږ ته  د راتلو په هکله ويلي وه. نو د دې لپاره چې يهود تر موږ وړاندي نه سي بايد د هغه خبري ومنو. نو هغه وو چې ژر سره مسلمانان سول او ژمنه يې وکړه چې موږ به اسلام په يثرب کي نورو ته هم وړاندي کړو. کله چې دوی مدينې ته ورسېدل، نو يې هلته د اسلام پيغام خلکو ته واوراوه او له دې سره هلته کور په کور د رسول الله په هکله آوازه خپره سوه. د دې پايله دا سوه چې په راتلونکي کال کي چې د حج موسم را ورسېدی، نو د هغه ځای دوولس تنه مخور د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر سول چې پنځه يې له هماغو وکړو څخه وه چې تېرکال يې د رسول ﷺ سره ليدلي وه او اووه نور وه. دوی د منا په عقبه نومي ځای کي د رسول ﷺ سره وليدل او پرڅو خبرو يې بيعت ورسره وکړ. ( دغه بيعت ته د عقبې لومړی بيعت وايي ) .

مدينې ته د سفير لېږل:

د حج د مناسکو په پای ته په رسېدو سره، رسول ﷺ د دغو خلکو سره خپل سفير حضرت مصعب بن عمير ﷺ مدينې ته ولېږی، څو د هغه ځای خلکو ته د اسلام د دين احکام ور زده کړي او هلته اسلام خپورکړي. دغه سفير هلته د نورو مسلمانانو په مرسته  د اسلام په خپرولوکي غټ برياليتوب ترلاسه کړ. چې په پايله کي يې د نبوت په ديارلسم کال د حج په موسم کي د مدينې څخه تر اويا ډېرمسلمانان چې دوې تنې ښځې هم پکښېکي وې د حج د فريضې د ادا کولو لپاره مکې ته ورغلل. دوی په مدينه کي يا د مکې په لاره کي يوله بله سره وويل چې موږ بايد رسول ﷺ مدينې ته را وبولو. نو هغه وو چې د ذي الحجي په ( 12 ) د شپې په تياره کي يې د رسول ﷺ سره د عقبې دوهم تاريخي او نامتو بيعت وکړ، او د رسول ﷺ په تجويز يې د خپلو قومونو دوولس تنه نقيبان هم وټاکل .

د اسلام نوی ټاټوبی:

د دې بيعت په ترسره کېدوسره اسلام د کفر او جهالت په ناولي چاپېر يال کي ځان ته د يوه نوي، سپېڅلي وطن بنسټ کښېښود، او رسول ﷺ مسلمانانوته اجازه ورکړه چې خپل دغه نوي ټاټوبي، مدينې منورې ته هجرت وکړي. چې تردې بيعت دوې مياشتي اوڅو ورځې وروسته په مکه کي ډېله هغو مسلمانانو چې مشرکينو په زور راګرځولي وه، نور ټول د رسول ﷺ ، ابو بکر ﷺ او علي ﷺ په شمول له مکې څخه ووتل.

د مشرکينو غونډه او د محمد ﷺ د وژلو پرېکړه :

بالاخره د مکې مشرکينو د نبوت د ( 14 )کال د صفري په ( 26 ) نېټه چې  د 622ع. کال د سپټمبرله ( 12 ) سره سمون خوري د پنجشنبېپه ورځ ترغرمې د مخه د مکې په پارلمان " دار الندوه " کي د تاريخ تر ټولو خطرناکه غونډه جوړه کړه چې په هغې کي د قريشو ټولو استازو ګډون وکړ. په غونډه کي د حضرت محمد دله منځه وړلولپاره ډول ډول تجويزونه وړاندي سول او مسترد سول، خو د ابوجهل دا تجويزد رايوپهاتفاق ومنل سو چې د هري قبيلې څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي يو يو تن په يوه پلا پرمحمد ﷺپه تورو واري وکړي او ودې وژني. په دې ډول به د هغهوژنه پرټولو قبايلو و وېشل سي او " آل هاشم " به يوازي د ټولو قبايلوسره مقابله ونه کړاسي.

د هجرت اجازه : د دې سره سم حضرت جبرائيل سمدستي د خداى تعالى وحي رسول ﷺ ته راوړې او د قريشو له دغه جوړجاړي څخه د خبرولو په ترڅ کي يې ورته وويل چې خداى تعالى دا نن شپه تاته له دې ځايه د تللو اجازه درکړې ده. ترديې اطلاع وروسته هغه غرمه د ابو بکرکورته ورغى، ورته ويې ويل چې ماته د هجرت اجازه سوې ده. حضرت صديق ورته وويل: ماته به هم ستاسې د ملګرتيا شرف را په برخه سوى وي ؟ هغه ورته وفرمايل: هو. په دې ډول د سفرلپاره تيارى ونيول سو او رسول ﷺ بيرته خپل کور ته ولاړ. هغه حضرت علي ﷺ را وغوښتٔ او ورته ويې ويل چې ما ته د هجرت حکم سوى دى او نن شپه مدينې طيبې ته ځم. ته به زما پرکټ بيده سې او زما دغه حضرمي ( په حضرموت ياجنوبي يمن کي جوړ سوى ) پټو به دربانديې واچوې . تاته د دوى له لاسه څه تاوان نه رسيږي، سهار د هغو کفارو امانتونه چې ماته يې ايښي وه ورکړه او بيا مدينې ته راپسي راسه .

د رسول ﷺ د کور کلابندي :

دکفارو د پلان سره سم د حضرت رسول الله ﷺ کور د يوولسو وسله والوکسانو لخوا محاصره سو، څو هرکله هغه راووزي بريد پروسي او له منځه يووړل سي. العياذبالله. کله چې د شپې ډېره برخه تېره سوه، رسول الله حضرت علي پرخپل ځاى پرېښووى اوله کوره راووتى. د خداى په قدرت له دغو وسله والوکسانو څخه هيچا ونه ليدى. د حضرت ابو بکرکورته ولاړى اوله هغه ځايه دواړه د جبل ثور پر لوري رهي سول او هلته د ثور په نامه په يوه سمڅه ( غار )کي پټ سول.

د ثور په خمڅه کي:

د صديق اکبر ﷺيو ځوان زوى عبد الله به چې ډېر هوښيار وو، شپه په دغه سمڅه کي تېرول او سهار وختي به ښارته تى، د قريشو سره به يوځاى سو، څه مشوره چې به هغو کوله د هغې په هکله به يې د شپې رسول ﷺ ته اطلاع را وړله. دغه راز د حضرت صديق يوه آزاد سوي مريي عامر بن فهيره به د ورځي وزې پولې او ماښام به سمڅي ته ورغى، رسول ﷺ او حضرت صديق ته به يې شيدې ورکولې. په دې ډول درې ورځي تيرې سوې.

د قريشو لخوا د رسول ﷺ لټون :

کله چې قريش پوه سول چې رسول ﷺ يې له لاسه وتلى دى سخت په غوسه سول او هرلوري ته يې په رسول ﷺ پسې سړي ولېږل، چې له هغو څخه يوه ډله د ثور د سمڅي تر خولې ورسېدل. څنګه چې ابو بکرد هغو د قدمونوکښېهار واورېدى و يې ويل: اى د خداى رسوله که له دغو څخه يو سړى محض کښته وګوري، نو سمدستي به مو ووينې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته وویل ای ابو بکره ! پته خوله سه ! زموږ دوو، درېیم خدای ﷻ دی. د دې معجزې له مخې تلاښ کونکو دوی ونه موندل او بېرته ولاړل.

د مدینې په لار کې :

رسول ﷺ له مکې څخه تر رخصتېدو د مخه لا یو اعتمادي کافر عبد الله بن اریقط لیثي په اجوره د لارې د ښوولو لپاره ټاکلي وو. د پروګرام سره سم په څلورمه ورځ هغه د حضرت صدیق دوې اوښې جبل ثور ته ور وستې. او رسول ﷺ ، ابو بکر ﷺ او عامر بن فهیره د مدینې په لوري رهي سول. تر یوې ورځې او شپې پرله پسې سفر وروسته بله ورځ غرمه چې تودوښه ډېره زیاته سوه، نو حضرت ابو بکر ﷺد یوه سیورې په لټه کې سو، څو حضرت محمد ﷺ استراحت ورته وکړې. رسول ﷺ استراحت وکړ، او بیایې یوڅه شیدې ورته پیداکړې او هغه وڅښلې او بیا رهي سول .

د قریشو یو بل چل :

قریشو ـ چې په خپلو ناپاکو مقاصدوکې پاته راغلي وه ـ یو بل چل په لاره واچاوه، ویې ویل: هرچا چې محمد یا ابو بکر ونیول او رایې وستل سل اوښان انعام ورکول کیږي. کله چې سُراقه بن مالك دا خبره واورېدل، د هغه مبارك په لټه کې سو. اتفاقاً یې هغه و موند، خو د خدای په قدرت د هغه آس نوك وخوړ او غوځار سو. دغه مهال سراقه د غشي په ویشتلو فال واچاوه چې حمله وکړم که نه ؟ که څه هم جواب نه وو، خو د سلو اوښانو ستر انعام هم څه داسې شی نه وو، چې د یوه غشي په فال یې پرېږدي. بیا پرآس سپور سو او په ډېره بېړه وړاندې وخوځېد، تردې چې رسول ﷺ ته ببخي ډېر ور نژدې سو. خو بیا یې آس نوك وخوړ او غوځارسو. بیا یې فال واچاوه او وپوهېدی چې معامله څه بل ډول ده. بالاخره یې امان وغوښت چې ومنل سو، او هغه د قریشو د انعام په هکله دوی ته معلومات ورکړل او بېرته د مکې په لوري رهي سو .

په دې ډول د هجرت دا قافله مزل په مزل په امن او امان مدینې منورې ته ورسېدل .

102ـ د مکې سره د حضرت محمد ﷺمینه

د حضرت محمد ﷺچې د مکې مکرمې سره څونه مینه او الفت وو، د هغې اندازه د هغو الفاظو څخه لګېدای سي چې هغه کله مکه، مدینې ته د هجرت په منظور پرېښوول، هغې ته په خطاب کې یې وفرمایل:" ما اطیبك من بلد و احبك الی و لولا ان قومی اخرجو نی ما سکنت غیرك ". [ مشکوٰآ عن ابن عباس ].

ژباړه: ته څه عجیبه ښکلی ښار یې او ماته څه عجیبه ګران سوی یې. که زما قوم زه له تا څخه نه وای ایستلی زه به بېله تابل ځای نه وای اوسېدلی. یعني زه مکه نه پرېږدم، او زړه مې نه غواړي چې ځني ووزم، خو زما د قوم د نادودو له امله د خدای امردغسي سوی دی. د مکې سره د آنحضرت د مینې او محبت ژورتیا له دې حدیث څخه نوره هم ښه څرګندیږي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن عبد الله بن عدى قال: رايت رسول الله واقفاً على الحزوراَ،فقال: " و الله انكِ

لخير ارض الله الى الله، واحب ارض الله الى الله ولولا اني اخرجت منكِ ماخرجت ". مشكوٰاَ.

ژباړه: عبد الله بن عدي وايي : ما رسول  وليدی چې په حزوره نومي ځای کي ولاړ وو او مکې ته يې په خطاب کي ويل: " په رشتياچي ته د خدای ډېره غوره مځکه يې، او د خدای ډېره خوښه مځکه يې. اوکه زه له تا څخه په وتلو نه وای اړسوی ، زه به لتا څخه نه وای وتلی ."

103ـ د بيت الله شريفي قبله کېدل

قال الله تعالى وتبارك :قد نرٰی تقلب وجهك في السماء فلنولينك قبلاَ ترضٰها فول وجهك شطرالمسجد الحرام وحيث ماکنتم فولوا وجوهکم شطره ] البقره: 144[

ژباړه: د آسمان لوري ته ستا بيا بيا مخ اړول موږ وينو. دادی موږ به ارو مرو تا هغي قبلې ته وګرځوو چې ته يې خوښوې. نو د مسجد الحرام ( کعبې ) لوري ته په لمانځه کي خپل مخ وګرځوه. اوس چې تاسي هرچيري اوسئ، نو هغه لوري ته په لمانځه کي مخونه واړوئ.  په دې کي اختلاف دی چې ترهجرت د مخه قبله بيت الله وه، که بيت المقدس ؟ ځيني وايي چې په مکه کي رسول  پرلمانځه بيت المقدس ته داسي دريدی، چې کعبه به يې هم په مخ کي وه. خو ځينو بيا ويلي دي چې يوازي يې بيت المقدس ته لمونځ کاوه. او امام بغوي (رح) ويلي دي چې رسول او مسلمانانو ترهجرت د مخه دکعبې شريفي پرلوري لمونځ کاوه. خوکله چې مدينې منورې ته مهاجرسول ترشپاړسو يا اوولسو مياشتو يې د بيت المقدس پرلوري لمونځ وکړ. او دغه قول صحيح بلل سوی دی. څنګه چې کعبه تر ټولو قبلو ستره او غوره ده. او رسول يې په سپېڅلتوب ښه پوهېدی او د هغې د سپېڅلتيا په هکله د عربو احساسات هم ښه ور معلوم وه. او سربېره پردې د هغه د اولني پلار ابراهيم  قبله وه او رسول  د هغې ترڅنګ وړوکی لوی سوی او د وړوکتوب په وختوکي د خپل نيکه عبد المطلب سره د هغې په دروازه کي ډېرکښېنستلی او اوسېدلی وو. او له بله طرفه يې د يهودو د قبلې پرلوري لمونځ زړه نه غوښتی، نو يې د دې سره مينه وه چې که د الله له لوري حکم راکړه سي چې بيا دکعبې په لوري لمونځ وکړم.

او په دې شوق کي به يې کله کله د آسمان په لوري مخ اړاوه، چې ښايي پرهغي ملا يکي يې سترګي ولګيږي چې داسي زېری ورکوي . البته دا خبره يې په زړه کي راګرځېدل، اما په خوله يې له ادبه نه ويل. نو بالاخره

د قبلې د ګرځېدو حکم په پورته ډول نازل سو. رسول  د هجرت په دوهم کال د خد ای تعالٰی يا برات په مياشت کي د ام بشر بن براء بن معرور مېلمه وو. کله چې د ماپښين وخت راغی او خلك يې د بني سلمه په جومات کي چې د مدينې له ښارڅخه د شمال لوېديز په لوري د درو ميلو په واټن پروت دی، لمانځه ته پاڅول، دوه رکعته لمونځ سوی وو، چې په دربېيم رکعت کي ناڅاپه د دې آيت وحي راغلې او سمدستي رسول او په هغه پسي اقتدا کوونکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماعت ټولو د بیت المقدس له لوري دکعبې لوري ته مخونه واړول. ښایي امام د مقتدیانو شاته سوی وي او مقتدیانو به یوازي مخ ګرځول نه، بلکي په څه ډېر خوځېدو به یې خپل صفونه د امام ترشابرابرکړي وي. تردغي ورځي وروسته له دې امله دغه جومات ته " مسجدالقبلتین " وایي، یعني د دوو قبلو جومات. او تردغي ورځي وروسته کعبه شریفه په ټوله نړۍ کي د ټولو مسلمانانو قبله وګرځېده.

104ـ د حدیبیې سوله

څنګه چي د حدیبیې سوله د مکې شریفي د فتحي او د اسلام د نورو زیاتو بریالیتوبونو بنسټ او پیلامه وه، نو ښایي چې لومړی د حدیبیې د سولي په هکله معلومات وړاندي کړو او د دغو معلوماتو په رڼاکي د مکې د فتحي په هکله رڼا واچوو: حدیبیه د جدې پرلارد مکې مکرمې څخه تقریباً ( 15 ) کیلو متره لیري یوه ناوه ده چي پخوا هلته د حدیبیې په نامه یوه څاته منسو به وه او اوس یې " شمیسي" بولي. رسول ﷺ

د هجرت په شپږم کال خوب ولید چي مکې ته په امن و امان ننوزي او عمره ادا کړي. د دې خوب په اورېدو سره اصحابو ﷺد رسول ﷺ څخه د عمرې په سفر د تللو غوښتنه وکړه. نو هغه وو چي رسول ﷺ د ذوالقعدې ( میانۍ ) په میاشت کي د (1400یا1500 ) تنو په ملګرتیا د عمرې په نیت د مکې په لور وخوځېد. هغو په " ذو الحلیفه " کي د عمرې په نیت احرامونه وتړل او د هدیي ( قرباني ) اوښان یې هم ورسره رهي کړل .

کله چي قریشو ته د حضرت محمد ﷺ د دې سفر په هکله معلومات ورسېدل په ډېر زور او زوړ سره یې د مقابلې لپاره تیارۍ پیل کړې، او د خپلو متحدو قبایلو ستري ډلي یې را وغوښتلې چي په دې ډول د مشرکینو پوځونه د مکې د باندي په " بلدح " نومي ځای کي سره راغونډ سول. په همدې ډول کله چي محمدي قافله مکې ته نژدې ( حدیبیې ) ته ورسېده نو د دوی ﷺ اوښه هلته چو سوه او سره له ډېرو وهلو اوکشولو هیڅ له خپله ځایه ونه خوځېده ، ځکه نو هلته تم سول. له مسور بن مخرمه څخه روایت دی: کله چې رسول ﷺ په دغه ځای کي واړول ، هلته یوڅا وو چي ډېري لږي اوبه یې درلودې. کله چي دا اوبه خلاصي سوې اصحاب ﷺ له تندي څخه بېتابه سول. نو له دې پېښې څخه حضرت رسالت پناهﷺ ته په خبرورکولو سره ، د نبوي معجزې له مخي اوبه دونه ډېري سوې چي ټول لښکر په اوبه سو. د خُزاعه د قبیلې وګړي تردې دمه لا په اسلام نه وه مشرف سوي. خو د مسلمانانو ملګري او د هغو په راز شریك وه. د هغو مشر بُدیل بن ورقاء حضرت محمدﷺ ته ورغی او ورته وېې ویل چي د قریشو د پوځونو سېلاب را روان سوی، په بلدح نومي ځای کي یې پر اوبو قبضه کړې، پرتاسو د برید لپاره تیاري کوي او تاسي ته دکعبې شریفي د زیارت کولو اجازه نه درکوي. رسولﷺ وفرمایل: هغو ته ووایه چي موږ د عمرې لپاره راغلي یو او جنګ نه کوو. ښه داده چي قریش تر یوې ټاکلې مودې پوري زموږ سره د سولي تړون لاسلیك کړي. بُدیل محمدي پیغام قریشوته واوراوه خو ناعاقبت اندیش، جګړه مار، نوي ځوانان د دې پیغام اورېدوته تیار نه سول. البته زاړه، تجربه کاروګړي د خبرو لپاره تیار سول. نو هغه وو چي بدیل د سولي ټول شرایط واورول، یوه د پاخه عمر تجربه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاره سړي عروه بن مسعود ثقفي وويل: محمد ډېر معقول شرطونه وړاندي کړي دي. که ماته اجازه وي، نو زه د هغه سره دا معامله یوې خواته کوم. نو څنګه چې قریشو پرهغه بشپړ باور او اعتماد درلود هغه یې خپل استازی وټاکی او د خبرو لپاره یې حضرت محمد ﷺ ته ور واستاوه. عروه د حضرت محمدﷺ سره ضروري خبري ترسره کړې او بیرته ستون سو. هغه قریشوته وویل: زه څوځو ځلي د حبشې د پاچا نجاشي، د قسطنطنیې د پاچا قیصر او د ایران د پاچا کسرا دربارونو ته ورغلی یم مګر ما داسي پاچا نه دی لیدلی، چې د هغه عظمت او سترتوب دي د حضرت محمد ﷺ غوندي وي اود هغه درباریان او رعیت دي د هغه داسي درناوی وکړي، لکه د حضرت محمد اصحاب چې د هغه درناوی کوي. نو زما تاسي ته دا نصیحت او رایه ده چې د هغه سره سوله وکړئ.

له دې پلوه حضرت محمد ﷺ د سولي د خبرو لپاره خراش بن امیه ته خپله ځانګړې اوښه ورکړه او قریشو ته یې ولېږی، خو قریشو اوښه ووژل او نژدې وو چې خراش هم ووژني. خو هغه یې ونه وژلای سو. هغه دا ټوله ماجرا د رسول ﷺ په حضورکي وړاندي کړه. په دې منځ کي قریشو پرمسلمانانو باندي د برید لپاره یوه ډله ولېږل، چې د مسلمانانو لخوا ونیول سول. خو حضرت رسالت پناهﷺ د خپلو لوړو اخلاقي صفاتو په مقتضا هغه ټوله وبخښل. نبي الرحماَ ﷺ د قرشو د دې مخالفانه او معاندانه رویې سره سره یوځل بیا د سولي کوښښ وکړ او خپل زوم حضرت عثمان ﷺ یې هغو ته د خپل سفیر په توګه ور ولېږی. د هغه ترلېږلو وروسته اصحابو وویل: عثمان څونه بختور سړی دی،هغه به د بیت الله په زیارت او طواف مشرف سي او موږ دلته بې برخي ناست یو. خوکله چې دا خبره حضرت محمد ﷺ واورېدل، نو ویې ویل:" زما د عثمان پر وفاداری باندي بشپړ باوردی چې هغه بېله موږ د کعبې شریفي طواف نه کوي ". همدغسي کله چې حضرت عثمان د حضرت محمد ﷺ پیغام قریشو ته ورساوه. هغو جواب ورکړچې تاته د طواف کولو اجازه ده. خو محمد ﷺ ته موږ هیڅکله اجازه نه ورکوو. مګر حضرت عثمان ورته وویل: زه هم د حضرت محمد ﷺ پرته طواف ته اړتیا نه لرم. هغه وو چې قریشو هغه بندي کړ او آوازه یې واچول چې قریشو هغه وواژه.کله چې دا خبر نبي کریمﷺ ته ورسېد، نو سخت ناکراره سو. بیا هغه مبارك ﷺ تریوې ونې لاندي کښېنستی او ویې فرمایل چې د عثمان د وینې بدله اخیستل فرض باله سي. نو څوك چې غواړي په دې چاره کي شریك سي زما پرلاس دي بیعت راسره وکړي. چې ټولو اصحابو په خورا ډېر جوش او خروښ د ځانو د قرباني کولو بیعت ورسره وکړ. رسول ﷺ خپل کیڼ لاس د حضرت عثمانﷺ لاس وباله او پرخپل بل لاس یې کښېښود، د عثمان له لوري یې هم بیعت وکړ، څو هغه له دې ثوابه څخه بې برخي پاته نه سي . که څه هم وروسته څرګنده سوه چې دا خبر غلط دی، سره د دې هم دغو سرښندونکو اصحابو د خپل شمېرد لږوالي او ظاهري اسبابو د نشتوالي سره سره د رسول ﷺ پرلاس د سرښندنې او فدا کاری بیعت وکړ. نو خدای ﷻ د دوی د دې غوره عمل اجر عظیم دا ورکړ چې په قرآن عظیم کي یې په ډېر صراحت سره د خپلي خوښي سند دوی ته ورکړ او د دې مبارك سند له مخي دغه بیعت د " بیعت رضوان " په نامه ونومول سو. حضرت مسور بن مخرمه څرګند وي چې په دې ترځ کي قریشو هم خپله غلطي احساس کړه او سولي ته چمتو سول، هغو خپل یو د اعتماد وړ، ژب غړاندی ویندوی سهیل بن عمرو مسلمانانو ته د سفیر په توګه ولېږی. تر ډېرو خبرو اترو وروسته، په څو شرایطو باندي جوړه وسوه. د سولي د تړون لیکل د حضرت علي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



كرم الله وجهه پر غاړه وه.  رسول حضرت علي ته وفرمايل چې د تړون ليك په سركي بسم الله ا لرحمن  ا لرحيم وليكي. څنگه چې عربو د ليكونو په پيل كي د " باسمك اللهم " الفاظ ليكل او  د " بسم الله " شريفي سره نا بلده وه، ځكه نو سهيل بن عمرو وويل چې د بسم الله پرځاى دي همهغه پخواني الفاظ وليكل سي، او رسول هم ومنل. بيا رسول حضرت على ته  د دي جملې د ليكلو په هكله فرمايل: هذا ماقا ضىٰ عليه محمد رسول الله. يعني: دا تړون محمد د خداى رسول ومانه. پدې باندي د سهيل تندي گونجي وكړې او ويې ويل كه موږ تا د خداى د رسول په توگه وپېژنو، بيا خو جگړه پاى ته ورسېده. نو ته د دي پرځاي خپل اود خپل پلار نوم وليكه. رسول ورته وويل: كه څه هم تاسي زما رسالت درواغ بولى، خوزه په خداى لوړم چې زه د خداى استازى يم. په هرحال رسول ليكونكي ته وفرمايل چې يوازي زما نوم وليكئ خوحضرت علي د ډېري ميني او عقيد تمندى له امله د هغه مبارك پرنامه د خط كشولو څخه ډډه وكړه. چې بيا خپله رسول پر " رسول الله " باندي كرښه راوكښه او پدې توگه د تړون د شرايطو د ليكلوكار پېل سو.  تړون پرلاندي شرايطو لاسليك سو :

_1سږكال دي مسلمانان بېله عمرې ادا كولو بيرته ولاړ سي.

_2په راتلونكي كال كي دي عمرې ته راسي، او تردرو ورځو تېرولو وروسته دي بيرته ولاړسي .

_3د وسلوسره دي نه راځي، هر يو صرف يوه توره دځان سره راوړلاى سي. چې هغه به هم په تېكي كي وي او تېكى به هم په كڅوړه كي وي.

_4په مكه كي چې كوم مسلمانان له پخوا څخه اوسېږي هغه له مكې څخه نه سي تللاى. اوكه له مسلمانانو څخه څوك په مكه كي اوسېدل غواړي، نو هغه به نه منع كيږي.

_5د مكې له قريشو، يا مسلمانانو څخه كه څوك مدينې ته ولاړسي، هغه به بيرته موږ ته سپارئ. خوكه كوم مسلمان مكې ته راسي هغه به بيرته مدينې ته نه لېږل كيږي.

_6د قريشو او مسلمانانو ترمنځ به ترلسوكالو جنگ نه كيږي.

_7د عربو قبايل به اختيار ولري چې د فريقينو څخه د هر لوري سره چې وغواړي په تړون كي شريكېدلاى سي .

)د دي تړون له مخي بني خُزاعه وو د نبي ملگرتيا غوره كړه او بني بكرد قريشو ملگري سول.(

تراوسه لا پرتړون لاسليكونه نه وه سوي چې ابوجندل نومى د سهل زوى،كوم چې اسلام يې منلى وو او په مكه كي دكفارو په بند كي وو او په پښوكي يې ببړى. لاوې چې په يو ډول تښتېدلى او هلته ورسېد. د هغه پر بدن باندي د ظلم او تشدد او د كفارو د بربريت نخښي له ورايه ښكارېدې. خو حضرت محمد د تړون د موادو د مراعتولو له امله هغه بيرته قريشوته وسپارى او هغه ته يې داسي تسلا وركول چې:" ابو جندله د صبراو زغم څخه كار واخله، خداى به تاته ارو مروكومه لار پرانيزي. څنگه چې دغه روغه په ښكاره د ذلت او مغلو بيت روغه وه، نو حضرت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر او نور اصحاب سخت په خپه سول. دوی ویل چې د مسلمانانو د دې یو نیم زرسرښندونکو په مخکې قریش څه اهمیت نه لري. خو د رسول  سترګې هغو احوالو او نتیجوته وې چې د نورو له سترګو څخه پټې وې. هغه په بې مثاله استغنا ، توکل او تحمل دغه سوله ومنل او خپلو اصحابو ته یې په دې لنډو الفاظوچې " الله و رسوله اعلم " ډاډ اوتسلی ورکوله. یعني الله او رسول په داسې خبرو باندې ډېر ښه پوهیږي . تردې وروسته پیغمبر اصحابو ته وفرمایل چې : اوس دلته اوښان حلال کړئ، سرونه وخرياست، یا یې وریښتان لنډ کړئ او احرامونه خلاص کړئ. خو په دې خبره هیڅوك له خپله ځایه ونه ښوریدل. پیغمبر دري ځله امر وکړ، خو پرصحابه وو باندې په هغه وخت کې د غم او خفګان او زړه ماتوالې داسې سخته غلبه وه چې له خپله ځایه یې هیڅ حرکت ونه کړ. د پیغمبر  د رسالت په ټول دورکې تردغه یوه پلا پرته نور داسې ونه سوه. په دې باندې پیغمبر سخت خفه سو. خپلې خېمې ته ولاړ او د ام المؤ منین حضرت ام سلمه (رض) سره یې د زړه خواله وکړه. هغې ورته وویل چې ته په پټه خوله تشریف یوسه اوخپل اوښ ذبح کړه او سرخریونکی پیداکړه خپل سر وخریه. تر هغه وروسته به خلك خپل په خپله ستا پیروي وکړي. همداسې وسول. د پیغمبر د دې کار په لیدو سره خلکو هم قرباني وکړې، سرونه یې وخریل، یا یې وریښتان لنډکړل او له احرامه را ووتل. او په داسې حال کې چې زړونه یې له غمه ډك وه مدینې ته رهي سول. په لاره کې د " الفتح " سوره نازله سوه او الله د دغې روغې نوم " فتح مبین " کښېښود. 105ـ د حدیبیې د سولې سیاسي ګټې که د وجدان آزادي وي او تعصب نه وي، نو اسلام داسې یو دین دی چې خپل په خپله انساني کائنات ځانته را جذبوي. لکه څنګه چې د " حدیبیې سولې" ته له دې امله د " فتح مبین" اعزاز ور په برخه سو چې څنګه د مسلمانانو اوکفارو ترمنځ د یوه تړون په ذریعه سوله منځ ته راغله اوجنګ وځنډول سو، نو مشرکینو ته د امن او سکون په فضاء کې د مسلمانانو سره  د راشې د رشې موقع په لاس ورغله ؛ یو له بله په خبرو اترو او پوښتنو ګروېږنو سره مشغول سول اود اسلام مقناطیسي کشش اود مسلمانانو سولې خوښونې،کریمانه اخلاقو، ښو او غورو اعمالو، صداقت، عدالت، حق خوښونې او حق پوهنې او داسې ډېرو نورو ښو صفاتوکفار  د هغو ګرویده کړه. چې په نتیجه کې دا سوله د مسلمانانو لپاره د لوی خیر، رسمیت پېژندلو او سترو بریو لامل سوه. لکه چې تردې سولې وروسته خیبرفتح سو، مسلمانانو ته ډېرې ولجې په لاس ورغلې، خالد بن ولید او عمرو بن العاص، دوه نامتو شخصیتونه مسلمانان سول، اسلام زیات خپور سو، او په دوه کاله کې د مسلمانانو لښکر له یونیم زر تنو څخه لسوزرو تنو ته ورسېد، او په دې ډول د مکې شریفې د فتح کېدو شرایط راغونډ سول . هلته ابوجندل  د مکې په بندیخانه کې د اسلام د حق دین تبلیغ پیل کړ چې د دغه تبلیغ په نتیجه کې په یوه کال کې درو سوو تنو اسلام راوړ. په دې ترڅ کې عتبه بن  أُسید کوم چې لقب یې " ابو بصیر" وو د مکې دکفارو له ظلمونو په عذاب سو او مدینې منورې ته وتښتېدی. قریشو په هغه پسې د رسول  خدمت ته دوه تنه ولېږل، او غوښتنه یې ځنې وکړه چې د تړون سره سم زموږ سړی بیرته را وسپاره. رسول عتبه ته وفرمایل چې بیرته ولاړ سه. هغه عرض کړه ته مابیرته دکفارو منګلو ته سپارې؟ څو مابیرته کفرته مجبوره کړې ؟ هغه ورته وفرمایل :" خدای تعالی به ستا د ژغورنې کوم تدبیر وکړي". ابو بصیر مجبوره سو د دوو تنو په محافظت بیرته د مکې په لور رهي سو. خوکله چې ذو الحلیفې ته ورسېدی، یو کافر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وواژه اوبل وبېرېدی، بېرته رسول ﷺ ته ورغی او شکایت يې وکړ. په دې وخت کې ابو بصيرهم بېرته مدينې ته ورسېدی او رسولﷺ ته يې وويل چې : تاخو زه د تړون سره سم بېرته ور ولېږلم. اوس نو پرتاسوکومه ذمه واري نسته او وروسته بيا له مدينې څخه " عيص " نومي ځای ته، چې د سمندر پرغاړه " ذو مروې" ته نژدې وو، ولاړ او هلته يې استوګنه غوره کړه. وروسته د مکې مظلوم مسلمانان په پټه تښتېدل او د ابو بصير سره به هلته يوځای کېدل. چې په دې ډول د ابو بصيرسره د اويا تنو مسلمانانو يوه غښتلې ډله را غونډه سوه . ترديې وروسته به چې د قريشو د سوداګرۍ قافله له دې لاري شام ته تله، نو هغو به د قافلې سړي وژل او مال به يې ځني لوټاوه. چې په دې ډول دغه د غنيمت مال د هغو د خرڅ، خوراك ذريعه وګرځېدل. بالاخره قريش دغو حالاتو په تنګ کړه او د رسول ﷺ په حضور کې يې عرض وکړ چې موږ د تړون ترهغه شرط تېر يو چې که مسلمانان له مکې څخه مدينې ته تښتي موږ ته يې بېرته په لاس راکړئ. نوکه مسلمانان و غواړي چې مدينې ته ولاړسي هلته اوسېدلای سي. او موږ يې بېرته نه غواړو. ترديې وروسته ابو بصير او د هغه ملګري مدينې ته ورغلل او هلته و اوسېدل او د قريشو دكاروان لار پرانيستل سوه .

106ـ عمرآ القضاء

قال الله تعالیﷻ : لقد صدق الله ورسوله الرۇيا بالحق لتدخلن المسجد الحرام ان شاءالله آمنين محلقين رۇسكم ومقصرين لاتخافون فعلم مالم تعلموافجعل من دون ذٰلك فتحاً قريباً ] ﴿الفتح:27 [

ژباړه: په واقع کې خدای ﷻ خپل پيغمبر ته رشتيني خوب ښوولي وو، چې هو به هو له حق سره سم وو. ان شاء الله تاسي به ارو مرو مسجد حرام ته د پوره امنيت سره ننوځئ، خپل سرونه به وخريئ او ورېښتان به لنډ کړئ او پر تاسي به هيڅ بيره نه وي. هغه په هغه خبري باندې پوهېدی چې تاسي نه پوهېدلاست. له دې امله هغه د خوب د پوره کېدو د مخه تاسي ته د هغه نژدې فتح درپه برخه کړه.

حضرت رسول او درو زرو اصحابو د هجرت د اووم کال د ذي القعدې په مياشت کې د حديبيې د تړون سره سم د هغي تاريخي عمرې لپاره کومه چې په عمرآ القضاء مشهوره سوه، مکې شريفې ته تشريف يووړ. دغه سفرته په اسلامي تاريخ کې په ډېر درناوي کتل کيږي . قريشو په مسلمانانو هيڅ کار ونه درلود، مسلمانانو په درو ورځوكې د عمرې د ادا کولو مناسك تر سره کړل، پدې وخت کې قريشو د مکې ښار پرې ايښي وو، او له نژدې غونډېيو څخه يې د مسلمانانو د مناسکو د ادا کولو ننداره کول. د مکې د خلکو دا خيال وو چې مسلمانان د مدينې شريفې تودې آب و هوا ضعيفه کړي دي، له دې امله رسول ﷺ وفرمايل چې د طواف په لومړيو درو شوطونو ( ګردشونو ) کې د اوږو په ښورولو سره د اتلانو غوندې حرکات تر سره کړي ( دې حرکاتو ته په عربي کې رمل وايې ) چې دا سنت تر اوسه پوري هم هماغسي جاري دی. د مسلمانانو دې رشتينو ديني ولولو او د عبادت دې ساده طريقې او ستر ديانت او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امانت پر کفارو یوه عجیبهستره اغیزه وکړه. ښار له خلکو تش وو،خو هیچا ته یو وړوکی تاوان هم ونه رسېدی. چې د مسلمانانو دې ښه کردار په سلګونو کفار د اسلام لوري ته مایل کړه .

107 ـ د مکې فتح

د حدیبیې په معاهده کي چې د فریقینو ترمنځ وسوه، یو شرط دا وو چې ترلسوکالو به د دوی ترمنځ جګړه نه کیږي. همدغسي د عربو قبایل اختیار لري چې د کوم فریق سره وغواړي، د هغو سره ملګري او یوځای سي، او له دواړو جانبو څخه یو، داحق او اجازه نه لري چې د بل جانب پرحلیف او اتحادي باندي لاس پورته کړي. د تړون د دغي مادې له مخي د بني خزاعه قبیله د مسلمانانو ملګرې وه. او د هغو حریفه قبیله بني بکرد قریشو سره یوځای سوې وه. د تړون د دغي تصریح سره سره قریشو د حرم دننه د بني بکرو په ملاتړ پربني خزاعه وو برید وکړ، ځیني وګړي یې په بې رحمی سره ور ووژل او ځیني نور یې آخوا دې خوا تیت او پرك کړه. تردې پېښې وروسته د بني خزاعه وو ځیني خلك مدینې منورې ته ورغلل او حضرت محمد ﷺ ته یې شکایت وکړ. رسولﷺ قریشو ته قاصد ولېږی، چې یا د مقتولینو خون بها ( دیت ) ادا کړئ، یا د بني بکرو ملاتړ پرېږدئ. اوکه داسي نه کوئ، نو بیا اعلان وکړئ چې د حدیبیې تړون مات او له منځه تللی دی. قریشو چې دا شرایط واورېدل، د هغو په نماینده ګي قرظه بن عمر وویل: موږته دریېیم شرط د منلو وړدی. بیا قریش پښېمانه سول او ابو سفیان یې د تړون د بیانوي کولو لپاره مدینې ته ولېږی او د رسول ﷺ حضورته حاضر سو. خو د رسول ﷺ د صبر پیمانه ډکه سوې وه او د بتانو له ناولتیا څخه یې د کعبې شریفي د پاکولو پرېکړه کړې وه. ځکه یې نو د تړون د بیانوي کولو څخه ډډه وکړه. او د کعبې د تطهیر لپاره یې تیاری پیل کړې. لنډه داچې د هجرت په اتم کال د روژې مبا رکي پر لسمه نېټه د اسلام لس زره کسیز پوځ په خورا ډېرحشمت، عظمت او دبدبه د مکې په لور وخوځېد. محمدي لښکرو مکې مکرمې ته د یوه مزل یا تقریباً لسوکېلو مترو په وا ټن په " مر الظهران " نومي ځای ( وادي فاطمه )کي واړول، او د رسول ﷺ د امرسره سم ټول پوځ بېل بېل ځایونه اورونه بل کړل. چې په دې ډول ټوله بېدیا د امن ارشو وګرځېده. سره د دې چې د راز د خورا پټ سا تلو له امله قریشوته د دې لښکرو د خوځښت په باب څه پته نه وه. خو دوی د خزاعه وو سره د خیانت له کبله په ډارکي وه، چې رسول ﷺ به له دې امله ارو مرو د غوږ تاو راکوي. نو ځکه یې مشوره سره وکړه او پرېکړه یې وکړه چې که د حضرت محمد ﷺ لښکر د جګړې لپاره راځي، نو د هغه په وړاندي به مزاحمت او مقابله نه کوي . او پردې سربېره به ابو سفیان بن حرب د دوی لخوا د رسول ﷺ څخه ټولو مکه والوته د امان ترلاسه کولو لپاره، استازی وي. او هغه ته به خبر ورکوي چې موږ مکه په دې شرط درسپارو، چې هغه د یوه آزاد ښار په توګه و پېژندل سي. او د اوسېدونکو د ځان او مال خوندي ساتل یې تضمین سي. خو هغو ابو سفیان ته دا دنده هم ورکړه چې که وپوهېدی چې د محمد لښکري لږ دي او قریش یې مقابله کولای سي، نو هغه ته به د جنګ اعلان ورکوي. البته قریشو د دې چارو لپاره حکیم بن حزام هم د هغه سره ملګری کړ. دغه مهال د حضرت محمد ﷺ اکا عباس بن عبد المطلب هم اسلام منلی وو، د مکې څخه یې د خپلي کورنۍ سره هجرت کړی وو اوپه لاره کي د هغه سره یوځای سو او بیرته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې ته رهي سو. کله چې اسلامي پوځ " مرالظهران " ته ورسېد او حضرت عباس  د هغه ډېرښت او پیاوړتیا ولیدل، نو هغه ته د خپل قوم د خوارۍ ببره پیداسوه، ځکه یې نو وپتېیل چې هرڅه ژر مکې ته ځان ورسوي او قریش د جګړې له نا خوالو وژغوري. هغه د شپې د مکې" اراك " نومي ځای ته ورسېد او په همد غه شپه یې وغوښتل چې هلته یو څوك پیدا کړي چې په دې باب سمدستي مشوره ورکړي. له ښه مرغه ابو سفیان، حکیم بن حزام او بُدیل بن ورقاء په همدغه شپه د مسلمانانو د لښکروپه هکله د معلوما تو تر لاسه کولو لپاره را وتلي وه. دوی نه وه خبر چې محمدي لښکري مکې ته د څلورو میلوپه واټن نژدې رسېدلي دي. کله چې هغو له اراك څخه د " مرالظهران " په لار کي خېمې، پوځ او زښت زیات اورونه ولیدل سخت وارخطا سول، چې پای د حضرت محمد د لښکرو څارندویانو ونیول او بندیان یې کړه. دغه مهال حضرت عباس او دوی سره پېښ سول. حضرت عباس مشوره ورکړه چې اسلامي لښکروته بېله جګړې تسلیم سي او امان وغواړي. ابو سفیان دغه مشوره بیله کوم تردده ومنل. نو هغه وو چې څارندویانو دوبیرته خوشي کړه، ابو سفیان د رسول پرسپینه غا تره باندي چې حضرت عباس راوستلې وه، د هغه ترشا سپورسو او د رسول  د قرارګاه پرلور یې رهي کړ. په لاره کي حضرت عمر چې دغه شپه د لښکرګاه د سا تني کار ور سپارل سوی وو پر پېښ سو او چې وپوهېدی چې ابو سفیان د حضرت عباس ترشا سپور دی ورغږ یې کړه: ای د خدای دښمنه ! د خدای شکردی چې بېله کومي ژمني او معاهدې یې ما ته د شپې په لاس راکړې ) .د ابو سفیان تېري ټولي نا کردې ټولو ته معلومي وې. چې له هغو څخه هره یوه د هغه د وژني وړ وه؛ د اسلام سره د هغه عداوت او دښمني؛ پر مدینه منوره باندي په پلاوو پلاوو بریدونه؛ د عربوقبایلو را پاڅول او د رسول  د وژلو پټه توطئه،دا ټولي خبري د هغه د مرګ سبب کېدای سوې .( حضرت عمرته د ابو سفیان وژل ډېرآسانه کار وو، خو هغه چې ولیدل چې د رسول الله د اکا ترشا د هغه پرغا تره سپور دی، په بېړه د رسول الله د اوسېدو د ځای په لوري وخوځېد، څوله هغه څخه د هغه د وژلو امرترلاسه کړي. حضرت عباس د دې خبري په پوهېدوسره، د دې لپاره چې ترحضرت عمرد مخه د پیغمبرد اوسېدو ځای ته ورسیږي، غاتره چټکه کړه او ترحضرت عمرد مخه وروړسېد. خو حضرت عمر هم سمدستي پسي ور ورسېد او د رسول الله  په مخکې یې د ده پرسر د حضرت عمرسره شخړه سوه. چې پای رسول  امان ور ته ورکړ او عباس ته یې وفرمایل چې ته یې نن شپه ستا په کورکي وساته، سبا سهار یې ماته راوله. وایې چې بُدیل بن ورقاء کوم چې د خزاعه وو سردار او د مسلمانانو حلیف ( ملګري ) وو او حکیم بن حزام چې د بي بي خدیجې د اکا زوي وو، هم د شپې د عباس  په کورکي وه. خو ځیني بیا وایي چې کله حضرت عباس، ابو سفیان پرغاتره سپورکړ، دوي بیرته پرشا وګرځېدل. د ابو سفیان پرخېمه یې سختي پیرې ولګولې او کله چې سهار سو، هغه یې د رسول  حضور ته وروستی او ترڅه زړه نا زړه توب وروسته یې د حضرت عباس په مشوره ایمان راوړ ،او بیایې بېله مقاومته د مکې د سپارلو تړون ورسره لاسلیك کړ. البته د رسول  لخوا هم تضمین او ډاډ ورکړه سو چې دوي به د مکې د خلکو د مالونو او ځانونو ساتنه کوي. حضرت عباس حضرت محمد ته عرض وکړ چې ابو سفیان عزت خوښوونکی سړی دی، نو ده ته څه عزت او ویاړ هم ور په برخه کړه. هغه وفرمایل:" ښه دی، څوك چې د ابو سفیان په کور کي یا په مسجد الحرام کي پناه واخلي. یا دخپلو کورونو دروازې په ځانو پسي وتړي یا وسله پر مځکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږدي، هغه ته دي امان ورکول کيږي". وايي چې دغه مهال حکيم بن حزام هم مسلمان سو او ده او ابو سفيان دواړو رسول ﷺ ته سلاورکړه چې تر مکې د مخه هوازن ته د جګړې لپاره ولاړسي خو رسول ﷺ ونه منل. بيا رسول ﷺ وفرمايل دوي د غرونو په يوه لوړه او تنګه ناوه کي ودروئ، څو د خدای ﷻد پوځونو د سترتوب ننداره وکړي او د هغو غښتلتيا، ښه نظم، ښې وسلې او د شمېر ډېرښت په درسته توګه وويني. تردې وروسته ابو سفيان مکې ته ولاړ او خپل قوم قريشو ته يې وويل: د محمدي پوځونو په وړاندي وسلې پر مځکه کښېږدئ او جګړه مه ورسره کوئ او هغوي يې د اسلام منلو ته هم وبلل. خو په دې وخت کي ځيني احساسا تي وکړي د قريشو د لښکرو د راغونډولو او د نبوي پوځ په وړاندي د ټينګار په تکل کي سول او ځينو د ابو سفيان له خبرو څخه سروغړاوه. ان چې د هغه مېرمني " هند " قريش د هغه وژلوته وهڅول. خو د دوی دې هڅو څه ځای ونه نيو او خلك تردې خبرو اورېدلو وروسته سره تيت سول. چې په پايله کي د ټولو زړه ته تېره سوه چې د اسلام د پوځ سره مقابله بې ځايه کاردی. نو يې د ابو سفيان خبري ومنلې او د اسلام د پوځ په وړاندي يې د نه مقاومت پرېکړه وکړه. کوڅې يې خالي کړې ؛ وسلې يې وغورځولې او په خپلوکورونو، مسجد الحرام او د ابو سفيان په کورکي کښېنستل. رسول ﷺ د مکې په لار کي په " قديد " نومي ځای کي خپل پوځونه پر قبايلي بنسټ سمبال کړه او له هغه ځايه يې د مکې په لوري په بشپړه تياري وخوځول. خوکله چې " ذي طوٰی " نومي ځای ته چې اوس" زاهر " ورته وايي ورسېدل، نو دغه لس زريز پوځ يې پر پنځو غونډونو ووېشی. پخپله حضرت محمد ﷺ د لومړي غونډ مشر وو په کوم کي چې د مهاجرو او انصارو لويان او د عربو قبا يلو مشران او سرداران شامل وه. او د نورو څلورو غونډونو مشري يې خالد بن وليد ؓ ، زبير بن عوام، ابو عبيده او سعد بن عباد ته وسپارل. خالد بن وليد ته يې حکم ورکړچې ستا لښکردي مکې ته د هغې د لاندنۍ برخي ( ميمنې ) څخه ننوزي. زبير بن عوام ته يې حکم ورکړچي د مکې له پاسنۍ برخي ( ميسرې ) څخه هغې ته ننوزئ او په " حجون " کي بيرغ جګ کړئ. پخپله هم له دغي لاري ور وخوځېد. د حضرت ابو عبيده پلي پوځ ته يې حکم ورکړچي تاسي د مکې د ناوې منځ واخلئ او هغې ته ننوزئ. او سعد ته يې حکم ورکړچي ستا پوځ دي مکې ته د هغې د جنوب لوېديزي لاري ننوزي. دغه راز رسول ﷺ د خپل پوځ قوماندانانو ته په مکه کي د وسلې نه کارولو او د پېښکي ( احتمالي ) جګړه کوونکو پرته د نورو وګړو نه وژلو په هکله ډېر سخت احکام صادرکړه. بالاخره د هجرت په اتم کال د روژې پرشلمه ( د ورځو په نېټوکي اختلاف دی او ښې دقيقي نه دي ) نبوي پوځ بېله کوم مقاومته مکې ته ننوت. خو يوازي د خالد بن وليد لښکر د يوڅه سپك او بابېز مقاومت سره مخامخ سو. مؤرخين په دې هکله وايي چې په لار کي د خالد بن وليد ؓ له ملګرو څخه کُرز بن جابر فهري او حُبَيشُ يا خُنَيس بن الاشعر له دې امله چې د لښکرو څخه بېل سوي وه، او پربله لار روان وه، په شهادت ورسېدل. او په " خندمه " نومي ځای کي د خالد لښکر د قريشو د پای لوچانو د مقاومت سره مخامخ سو، چې په يوه سپك بريد کي دوولس يا اته ويشت، او په بل روايت اويا تنه مشركان ووژل سول او نور وتښتېدل.

108 ـ حضرت محمدﷺ ، مكه اوكعبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې د مخه مو وويل،کله چې نبوي لښکري مکې ته ننوتلې، هلته بيله د خالد بن وليد له سپکي نښتي نوري څه پېښې ونه سوې. د دې پوځ يوه سالار حضرت زبير بن عوام ته دنده ورکړه سوې وه چې د خپلو ځواکونو سره يو ځاي د مکې په " حجون " نومي ځای کي واړوي . هغه په حجون کي د رسول ﷺ بيرغ پورته کړاو د هغه د اوسېدو لپاره يې قبه ( د څرمني خېمه ) ودرول او بيا رسول ﷺ ورغی او په خېمه کي واوسېدی. چې د هغه سره حضرت ام سلمه (رض) او حضرت ميمونه (رض) هم وې. حجون د " معلاآ " مقبرې ته نژ دې سيمه ده چې ورختل ستو نزمن وه، خو بيا معاويه، بيا عبد الملك، بيا مهدي او بيا په 811 س. کال کي او بيا د 820 س. کال په شا و خوا کي د مصر پاچا هغه اواره کړه او ختل يې ورته آسانه کړل. حجون اوس هم په مکه کي پا ته او پېژندوی نوم دی. خو د مکې د ښارد نوي پراختيا په پايله کي نوي ودانۍ پر راغلي دي. په فتح مکه کتاب کي وايي چې: " دغه ځای د حضرت محمد ﷺ پوځي قرارګاه وه چې هغه د مکې د اوسېدو په مهال همدلته اوسېدی ". هغه ﷺ په داسي حال کي چې د الفتح سوره ويل، بېله احرامه مکې ته ننووت او اصحابو يې هم احرامونه نه وه تړلي. خوکله چې حضرت محمد ﷺ مکې ته د ننوتلو اراده وکړه، غسل يې وکړ اوله دغه ځايه يې چې شاوخوا او وروسته او وړاندي يې موجود انصار او مهاجراو پوځي قوماندانان روان وه، د مسجد الحرام په لوري مارش وکړ. او په ډېر هيبت او شان و شوکت د تکبيرونو په ويلو سره، مسجد الحرام ته ننوتل. هغه ﷺ د زيا تي ګڼي ګوڼي ( ازدحام ) له امله د حجر اسود استلام د لکړي په وسيله وکړ او بيايې د خپلي اوښي په سپرلۍ د خدای د کور طواف وکړ. بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ. بيا د زمزم څا ته ورغي، د زمزم اوبه يې وڅښلې او اودس يې په تازه کړ. بيا يې د مقام ابراهم په نامه ډبره چې په بيت الله شريفه پوري نښتې پرته وه، پرهمدغه اوسني ځای کښېښوول. خود واقدي په وينا کله چې رسول ﷺ د طواف څخه وزګار سو، نو له خپلي اوښي کوز سو او معمر بن عبد الله بن نضله د هغه اوښه د مسجد د باندي و ايستل او بيا يې زغره واغوستل او خول يې پر سرکړ، چې توره لنګوټه يې ترهغه خول لاندي تړلې وه، مقام ابراهيم ﷺ ته ورغی. هلته يې دوه رکعته لمونځ وکړ. بيا د زمزم څاته ولاړ. رسول ﷺ د طواف په دوران کي په يوه لينديۍ پرکعبه او د هغې پرشاوخوا درې سوه شپېته ځای پرځای سوي بتان مات کړه، چې د هغو د ماتولو په مهال يې ويل ﴿ :جاء الحق وزحق الباطل ان الباطل کان زهوقا ﴾ [ الاسراء :81 ] يعني: حق راغي او باطل له منځه ولاړ بېشکه چې باطل له منځه تلونکي دی. دغه رازيې و ويل ﴿ :جاء الحق وما يبدئ الباطل وما يعيد ﴾ [ سباء : 49] يعني: حق راغلی دی او اوس د باطل لپاره هيڅ نه سي کېدای. دغه رنګه يې حضرت عمرته وفرمايل چې: پرکعبه باندي ټول تصويرونه ايسته کړي. البته حضرت رسول ﷺ له دې امله چې د احرام په حالت کي نه وو يوازي په طواف کولو بسنه وکړه.

109 ـ په طواف کي پر پېغمبر ﷺباندي د يوه سړي بريد

يوه سړي چې نوم يې " فضاله " بن عُمير ملوح ليثي وو، د مکې د فتحي د تاريخي ورځي د طواف په دوران کي وغوښتل چې رسول ﷺ ووژني. مګرخدای تعالی هغه له دې ناوړه قصده خبرکړ چې دا کوښښ ناکامه سو او وروسته دغه سړي اسلام راوړ. کله چې دغه سړی رسول ﷺ ته نژدې سو، نو رسول ﷺ هغه ته مخ ور واړاوه او ځني ويې پوښتل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته فضاله يې ؟ هغه ورته وويل هو ! ای د خدای رسوله زه فضاله يم. هغه ورته وويل : په زړه کي دي څه خبري کولې. هغه ورته وويل: هيڅ خبري مې نه کولې، د خدای ﷻ ذکر مې کاوه. رسول الله ومسل او ورته ويي فرمايل: له خدايه بخښنه وغواړه. بيا هغه خپل مبارك لاس د فضاله پر ټټرکښېښود، چې په دې ډول د هغه زړه ارام سو. فضاله وايي: په خدای لوړم چې لا رسول الله ﷺ زما له ټټره لاس نه وو ايسته کړی، چې ماته د خدای په خلکو کي تر ټولو ډېرگران او راټپرسو. او په دې ډول هغه اسلام راوړ. فضاله وايي چې زه خپل کور ته بيرته راتلم چې په لار کي هغه ښځه په مخه راغله چې ما به پخوا وراني خبري ورسره کولې. هغې راته وويل: راسه خبري سره وکړو. ما ورته وويل: نور زه ستا سره خبري نه کوم. بيا يې څو اشعار وويل چې دغه يې ژباړه ده : دې و و يل را سه خبـــري وکـــړو مـا ورتــه و ويــل چـي نـه يې کوم زه نور الله او ا سلام منع کــړمــه تــا محمد او د خدای پــوځ ونـه ليد؟ چې دکعبې بتان يې ټوله مات کره نـوزه هـــم ستا د مخ بت نه لمانځم نور.

110 ـ رسول ﷺ ته دکعبې د کلي د ورکولو څخه ډډه کول

رسول ﷺ ترطواف او دکعبې د باندي بتانو ترما تولو وروسته حضرت بلال ؓدکعبې شريفي په خادم اوکلي ساتونکي عثمان بن طلحه پسي واستاوه، څو دکعبې د دروازې کلي ځني راوړي. دکعبې حجابت ( خدمت او کلي ساتل ) به تل د بني عبد الدار سره وو. کله چې عثمان بن طلحه مسلمان سو او مدينې ته يې هجرت وکړ، نو د کعبې کلي د هغه مور ته ورسپده کومه چې د مکې د فتحي تر ورځې پوري لا پرشرك ولاړه وه. نو حضرت عثمان خپلي مورته ورغی او ورته ويې ويل چې د کعبې کلي حضرت پېغمبر ﷺ غوښتي ده، راپې کړه چې ورېپ ورم. خو هغې د کلي د ورکولو څخه ډډه وکړه. عثمان ورته وويل: په ځښتن لوړم چې ته به داکلي حضرت محمد ﷺ ته ارو مرو ورکړې،که يې ماته رانه کړې، بل يو رالېږي او دا کلي درڅخه اخلي. دوی دغه خبري کولې چې ناڅاپه يې د ابو بکر ؓاو عمر ؓ غږ واورېدی. د عثمان مور وبېرېدل او سمدستي يې کلي خپل زوی ته ورکړه. حضرت عثمان د رسول ﷺ په حکم دکعبې دروازه پرانيستل، د هغې دننه يې د تصويرونو د ايسته کولو امر ورکړ او هغه د لرگي څخه د کوترې جوړسوی بت يې پخپله مات کړ.

111 ـ د کعبې دننه د رسول ﷺ لمونځ

تردې وروسته رسول ﷺپه داسي حال کي چې اسامه او بلال هم ورسره وه، دکعبې دروازه وتړل. بيا له دروازې څخه مخامخ دېوال ته دکابو درو گزو (138 سانتي مترو ) په واټن په کعبه شريفه کي شمالي لوري ته چې دوه ستونونه يې ښي لوري، يوستون يې کيڼ لوري، او درې ستونونه يې وروسته وه ( هغه مهال په کعبه کي شپږ ستونونه وه، اوس درې دي )، پر لمانځه و درېد اودوه رکعته لمونځ يې وکړ. حضرت اسامه ؓ او حضرت بلال ؓ هم دوه رکعته لمونځ وکړ.

112 ـ د رسول ﷺ تاريخي خطبه ( وينا )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته رسول ﷺ دروازه پرانیستل، د دروازې په دواړو بازوګانو پوري یې لاسونه ونیول او په داسې حال کې چې لاندې یې قریش او نور ټول انتظار وه و یې فرمایل:" له خدایه پرته بل د پالنې وړ ( معبود ) نسته، هغه یودی، شریك نه لري. هغه خپله ژمنه رشتیاکړه او د خپل بنده ) رسول (ﷺسره یې مرسته وکړه او یوازې یې ټولو باطلو ډلګیو ته ماته ورکړه. واورئ ! د بیت الله د خدمت کولو او د حاجیانو د اوبو ورکولو ( حجابت اوسقایت ) پرته نور ټول عزت، وینه اوشته زما تردغو دوو قدمونو لاندې دي. یعنې د جاهلیت ټول رسوم او دودونه باطل دي. په یاد ولرئ ! په خطا قتل یا شبه عمد قتل کې چې په شلاخه یالکړه وي، مغلظ دیت دی. یعنې سل اوښان به ورکوئ چې له هغو څخه به څلوېښت بلاربې اوښې وي. ای قریشو ! خدای ستاسې د جاهلیت غرور او په پلار، نیکه ویاړ له منځه یووړ. ټول خلك له آدم ﷺ څخه پیدا سوي، او آدم له خاورو پیدا سوی دی. بیا یې دا آیت تلاوت کړ ﷺ :یایها الناس انا خلقنکم من ذکر و انثٰی و جعلنٰکم شعوباً و قبائل لتعارفوا ان اکر مکم عند الله اتقٰکم ان الله علیم خبیر ." ﷺ [ الحجرات:13 ] ژباړه: ای خلکو ! موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړې یاست، او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولاست، څو تاسې یو له بله سره وپېژنئ. په حقیقت کې د الله ﷺ په نزد له تاسې څخه تر ټولو زیات عزتمن هغه څوك دی چې په تا سې کې تر ټولو زیات پرهیزګار وي. بیشکه الله ﷺ پرهرڅه پوهېدونکی او باخبره دی. بیا یې وویل:" ای قریشو ! تاسې څه ګومان کوئ چې زه له تاسې سره څه کړنه کوم ؟ " هغو ورته وویل: موږګومان کوو چې ته زموږ سره د ښو؛ ښه ورور او ښه وراره په توګه کړنه کوې. هغه ﷺ ورته وویل:" نو زه تاسې ته هغه خبره کوم چې حضرت یوسف ﷺ خپلو ورونوته کړې وه: [ لا تثریب علیکم الیوم اذهبوا فانتم الطلقاء ]". یعنې: پر تاسې باندې کومه مواخذه او سرزنش نسته، ځئ تاسې ټول عفو او آزاد یاست.

113 ـ دکعبې کلي بېرته عثمان ته ورکول.

کله چې ترخطبې ویلو وروسته رسول ﷺ په مسجد الحرام کې کښېنستې، حضرت علي ﷺ چې دکعبې کلي یې په لاس کې وه حاضر سو او ورته ویې ویل: ای د خدای استازې موږ ته د حاجیانو د اوبولو ( سقایت ) پردنده سربېره دکعبې دکلي د سا تلو ( حجابت ) عزت هم را په برخه کړه ) د خدای ﷺرحمت دې وي پرتا باندې .( د یوه بل روایت له مخې دغه غوښتنه حضرت عباس ﷺ وکړه. نو رسول ﷺ وفرمایل:" عثمان بن طلحه چیرې دی ؟ ".کله چې یې هغه ورته راوست، ورته ویې فرمایل:" عثمانه ! واخله دغه ده کلي دي. نن د نېکی او وفاداری ورځ ده ". کتابونه وایې:کله چې هغه مبارك کلي ورکول ورته ویې ویل:" دا دتل لپاره واخله. ستاسې څخه به دغه کلي هغه څوك اخلي چې ظالم وي. اې عثمانه ! خدای ﷺ تاسې د خپل کور امین کړې یاست، نو چې د دې بیت الله شریفې په سبب څه تاسې ته په لاس درځی په معروفه ؛ ښه پېژندل سوې ( حلاله ) توګه یې خورئ. او دا آیت یې تلاوت کړ ﷺ :ان الله یاء مرکم ان توْدوا الامٰنٰت الٰی اهلها ﷺ [ النساء : 58 ] یعنې: لوی څښتن پرتاسې موْمنانو امر کوي چې امانتونه د هغو اهل او څښتنانو ته وسپارئ ( دا آیت په ځانګړې توګه د عثمان بن طلحه په هکله نازل سوی دی ). عثمان بن طلحه وایې چې موږ د جاهلیت په زمانه کې دکعبې دروازه هره دوشنبې او پنجشنبې خلاصول. یوه ورځ حضرت محمد ﷺ راغی،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو د نورو خلکو سره کعبې ته ننوزي. ما څه ترخوله تېره خبره ورته وکړه، خو هغه له سړې سينې ( حلمه ) کار واخيست، او ويې ويل: " اى عثمانه دا ځاى يې نخښه چې يوه ورځ به دغه کلي زما څخه وي ". ما ورته وويل: هغه مهال به نو قريش خوار سوي وي. ده وفرمايل:" نه، بلکي د عزت څښتنان به وي ". بيا هغه کعبې ته ور ننووت. د رسول  دې خبري زما زړه ته دا را تېره کړه چې په رښتيا به داسي وسي. ځکه نو ما و پتېيل چې اسلام راوړم. خو قوم مې له دې امله ډېر و زورولم. کله چې رسول الله د عمرآ القضاء لپاره مکې ته راغی، خدای تعالی مې په زړه کي اسلام را واچاوه. خو ما ونه سوای کولای چې له نژدې ورسره وګورم، څو هغه بېرته مدينې ته ولاړ. بيا ما وکولای سوای چې مدينې شريفي ته ولاړ سم. په مدينه کي مې د رسول  سره بيعت وکړ او هلته ورسره پا ته سوم، څو چې د مکې د فتحي د غزا لپاره ور سره رهي سوم، کله چې رسول  مکه فتح کړه زما څخه يې د کعبې کلي واخيستل او بيا يې بيرته ماته وسپارل، زه ځني رهي سوم. خو هغه راپسي را غږ کړه او زه بيرته ور وګرځېدلم. رسول  راته وويل: په ياد دي دي چې ما د مخه يو مهال در ته ويلي وه چې دا کلي به يوه ورځ زما سره وي ؟ ما ورته وويل: بلي ! زه شاهدي وايم چې بېشکه ته د خداى  استازى يې. وايې چې عثمان د رسول  ملازمت غوره کړ او دکعبې کلي يې خپل د اکا زوي " شيبه " ته ورکړه.

114 ـ د کعبې شريفي خزانه

کله چې ابراهيم  کعبه ودانه کړه د هغې دننه يې د ورننوتونکي ښي اړخ ته د څا غوندي د دروګزو په ژوروالي يو غارګډى وکيندى، او هغه شيان به يې ور اچول کوم چې خلکو به په سوغات کي ورته ډالۍ کول. لکه پسول، سره او سپين زر، خوشبويي او داسي نور. چې له دې امله دغه څاډوله ځاى دکعبې په خزانه ونومول سو. دغه رازد ځينو لاملونو له امله دغه ځاى ته " جُب " ، " غبغب " او " اخسف " هم ويل سوي دي. کله چې قريشو کعبه د رسول  تر بعثت پنځه کاله د مخه بيا ودانه کړه، دکعبې دغه غارګډى يې هماغسي پرخپل پخواني حال پرېښود، او پرهغه باندي يې هماغه د " هبل " په نامه يو ستر بت کښېښود،کوم چې د بني خُزاعه وو د قبيلې مشر او د مکې پخواني واکمن عمرو بن لحی له مآرب يا الجزيري څخه ورته راوړی وو. امام ازرقي (رح) په اخبارمکه کي وايي چې رسول  د مکې د فتحي په مهال د مکې په دغه خزانه کي اويازره اوقيه سره زر و موندل. او علامه ابن خلدون په خپله مقدمه کي وايي چې په دغه خزانه کي لس لکه ديناره هم وه کوم چې وزن يې دوه سوه قنطاره وو. د هغو په هکله حضرت علي کرم الله وجهه، رسول  ته وويل کشکي دغه شته په جګړه کي ولګوې، خو هغه  لاس هم ورنه وړ. بيا ابو بکر هم د خپل خلافت په مهال څه غرض په ونه کړ. حضرت ابن وايل وايي: دکعبې د خادم شيبه نومي سره په کعبه کي پرچوکۍ کښېنستلم. هغه راته وويل: يو وخت پردغه چوکۍ حضرت عمر  کښېنستی او ويې ويل:" پتېيلې مې ده چې په دې کعبه کي چې څه سره او سپين زر دي، پرې نه ږدم او ټول پرمسلمانانو ووېشم . شيبه وايي: ما ورته وويل چې ستا دوو ملګرو حضرت محمد  او ابو بکر صديق  خو داسي نه دي کړي. نو حضرت عمر وويل هغه خو ستر سړي دي. که هغو داسي نه وي کړي نو زه هم د هغو پيروي کوم او دا کار نه کوم. ( بخاري او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو داود ). د ابن الزبير او حجاج لخوا دكعبې د بيا جوړوني په هكله چې تاريخ ليكونكو څه څرګندوني كړي دي په هغو كي د دغه ځا په هكله څه نه په سترګوكيږي، چې آيا هغو دغه ځا پرخپل حال پرې ايښی، كه يې ډك كړی دی. خو الحاج عباس كراره ليكي : داسي ښكاري چې ابن الزبير ؓ دغه ځا له ډبرو ډك كړی وي. او حجاج هم بيرته د پخواپه شان نه وي جوړكړی. چې البته ترنن ورځې پوري به دغسي پاته وي. نوكله چې يې دغه ځا له منځه يووړ دكعبې خزانه يې د شيبه په كور كي خوندي كړه، او په وروسته كي به هم چې كوم شيان كعبې ته هديه كېدل، د شيبه حجبي په كوركي به ساتل كېدل. علامه ابن خلدون (رح) وايي چې دغه خزانه د افطس ترفتنې پوري چې په كال 199 س. كي پېښه سوه، خوندي وه. كله چې حسن افطس پر مكه واكمن سو، نويې له كعبې څخه دغه خزانه را وكښل او ويې ويل: دا خزانه چې په كعبه كي پرته وي په څه درد خوري، دغسي خو دا بې ګټې پرته ده،كعبه داڅه كوي ؟! زه د دې مستحق يم، دا بايد پرجهاد ولګوم. چې بالاخره يې هغه واخيستل او خرڅه يې كړه. له هغې ورځې څخه دكعبې خزانه له منځه ولاړه

115 ـ د مكې له شتمنو پور

رسول ؐد يوه فاتح په توګه كولای سوای چې د مكې خزانه ياد مكې له مغلوبو شتمنو څخه هرڅه واخلي. خو هغه نه دكعبې له خزانې څخه څه واخيستل او نه يې د مكې له شتمنو څخه يو درهم په زور واخيست. سره د دې چې د ده پوځيانو د غربت او نشتمنۍ له كبله شتوته ډېره اړتيا هم درلوده. نبي ؐ د مكې له شتمنو څخه د هغو په خوښه، يونيم لك درهمه په پور واخيستل او هغه يې د پوځ پر اړو وګړو ووېشل. بياكله چې هغه ته لوی څښتن د " حنين " په غزاكي پرهوازنو باندي برى ور په برخه كړ او له مشركينو څخه يې ډېرشته د ولجې په توګه په لاس راوړل نويې د مكې د شتمنو قرض د مننې په ويلو سره بيرته وركړ.

116 ـ دكعبې پربام باندي د بلال ؓ اذان

كله چې د مكې د فتحې په ورځ د ماپښين د لمانځه وخت را و رسېدی، حضرت بلال د حضرت پېغمبرؐ په امر دكعبې بام ته وختی او اذان يې وكړ. دغه مهال ابو سفيان، عتاب يا د هغه ورورخالد بن اسيد، حارث بن هشام او ځيني نور دكعبې په شاوخواكنكوم ځای ناست وه. عتاب وويل: خدای پراسيد مهرباني وكړه چې د مكې ترفتحې يوه ورځ د مخه مړسو او دغه اذان يې وانه وريد. حارث وويل: واورئ ! والله ! كه ماته معلومه سي چې هغه پر حقه دی، زه به يې دستي پيروي وكړم. ابو سفيان وويل: ګورئ ! والله ! زه څه نه سم ويلای. ځكه زه چې هرڅه وايم، نو دغه شګې هم زما په هكله خبر وركوي. تردې وروسته نبي ؐ دوی ته ورغی او ورته ويې فرمايل:" تاسي چې اوس كومي خبري كولې هغه ماته ټولي معلومي سوې. تا ای فلانيه ! داسي وويل. تا ای فلانيه ! داسي وويل. او تا ای فلانيه ! داسي وويل". د دې سره سم حارث او عتاب وويل: موږ شاهدي وايو چې ته د الله رسول يې. په خدای ؐ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم چې زموږ سره څوك نه وو ناست، چې زموږ له دغو خبرو څخه خبر سي او موږ ووايو چې هغه به تاته ويلي وي. او ابو سفيان وويل: ما خو ای د خدای رسوله څه نه دي ويلي. رسول ﷺ وخندل.

117 ـ د فتحې په دوهمه ورځ د رسول ﷺ خطبه

د مکې د سوبې ( فتحې ) په دوهمه ورځ تر ماپښين وروسته بيا رسولﷺ د خلکو په منځ کي ودرېدی، د خدای حمد او ثنا يې وويل، ويې فرمايل: " ای وګړو ! خدای ﷻپر مکه باندي اصحاب فيل مسلط نه کړل، خو د هغه رسول او مؤمنان يې پر واکمن کړل. او خدای ﷻ چې کومه ورځ اسمانونه او ځمکي وموندلې، په هغه ورځ يې مکه حرامه ( د درناوي وړ ) وګرځول. نو د الله ﷻ د حرمت ( درناوي ) په سبب تر لويې ورځې ( قيامته ) د مکې ښار د درناوي ښښتن دی. څوك چې پر ښښتن او وروستۍ ورځ باور لري، هغه ته روانه ده چې په هغې کيويني وبهوي او يا د دې ځای کومه ونه ماته کړي. که څوك ووايې چې محمد ﷺ دلته جګړه کړې، نو زه هم داکارکولای سم. هغه ته وواياست، چې محمد ﷺ ته خو خدای ﷻ اجازه ورکړې وه او تاته يې اجازه نه وه درکړې. اوماته هم داښار د يوه لږ مهال؛ د ورځې د ځانښت د يوه ساعت لپاره حلال ګرځول سوی وو. او اوس يې حرمت بيرته د پخوا په شان د قيامت تر ورځې پرځای سوی دی. اوس ښايي چې دغه خبري حاضران هغو ته چې نه دي حاضر هم ورسوي ". په بل روايت کي دا هم زياته سوې ده چې:" د دغه ځای ځوزان دي نه شکوي. ښکار دي نه شړي ( د حرم د مرغانو ښکاردي نه کوي )، او پرمځکه لوېدلی شی دي نه پورته کوي، مګرهغه څوك دې پورته کوي چې د هغه د پېژندلو او اعلانولو نيت لري. او واښه دې نه شکوي". دغه مهال حضرت عباس ﷺ ورته ودرېدی او ورته ويې ويل: ای د خدای رسوله اِذخر دي شکوي. ځکه چې دا زموږ په قبرونو اوکورونوکي په کاريږي. بيا هغه وويل:" اِذخر دي شکوي ". اِذخرچې په دري " کاه مکي " او په انګرېزي (Lemon Grass) ورته وايي، په عربوکي يو ډول مشهور واښه دي چې د هغه پاڼي او بېخ يو ډول ځانګړې ښه بوی ورکوي، اوګل اوبېخ يې د درملو په توګه هم استعماليږي. د هند، پاکستان او چين په ځينو سيموکي هم پيدا کيږي. ( خواص الادويه ). وايي چې بنو خزاعه وو په دغه ورځ د هزيل د قوم يو سړی وژلی وو. رسول ﷺ چې له دې امله زيات خفه او په غوسه سوی وو، په دې هکله وويل:" ای د خزاعه د قبيلې خلکو ! خپل لاسونه له وژنو څخه لنډ کړئ. که وژل ګټور کار وای، نو ډېر ووژل سول. تاسي چې کوم سړی وژلی دی زه به د هغه ديت ورکوم. که بيا کوم چا څوك وواژه نو دوژل سوي سړي ترشا پاته کسان د دوو خبرو اختيار لري، يابه د وژونکي ويني بهوي يا به يې ديت اخلي. په يوه روايت کي دي چې ترديې خبرو وروسته د يمن يوه سړي چې نوم يې ابوشاه وو، ولاړسو او ويې ويل: ای د خدای رسوله دغه خبره ماته وليکه. هغه ﷺ وفرمايل: " دا ابو شاه ته وليکئ."

118 ـ د انصارو اندېښنې

څنګه چې مکه مکرمه د حضرت پيغمبر ﷺوطن او د زېږېدو ځای وو، نو د مکې د سوبې په دوهمه ورځ،کله چې د هغې د فتحې چاري بشپړې سوې، د رسول الله ترتاريخي خطبې وروسته انصارو يوله بله سره وويل: اوس چې خدای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول  وطن او ښار ورفتح کړ نو ښايي هغه دلته پاته سي. دغه مهال هغه د صفا پرغره ولاړ وو، لاسونه يې پورته کړي وه، دعايې کول. تردعا وروسته هغه پوښتنه ځني وکړه چې تاسي څه سره ويل. هغو وويل: موږڅه نه ويل. خو د هغه د ټينګار له امله يې هغه ته دغه خبره وکړه. رسول الله مبارك ډاډ ورکړ او ورته ويې فرمايل:" زما ژوند او مړينه به له انصارو سره وي. او هيڅکله به له دوی څخه بېل نه سم."

119 ـ بيعت

کله چې خدای تعالی رسول  اومسلمانانو ته د مکې سوبه روزي کړه. نو د هغه ځای خلکوته حق څرګند سو او پوه سول چې بېله اسلامه د برياليتوب بله لار نسته. ځکه نو دوی د اسلام اېل سول او پردې چاره د بيعت لپاره راغونډ سول او رسول  د صفا پر غره له هغو څخه بيعت واخيست. چې په دې ډول له څو تنو پرته د مکې ټول اوسېدونکي په اسلام مشرف سول او پاته کسان بيا وروسته مسلمانان سول.

120 ـ د ښځو بيعت

د نارينه وو تربيعت وروسته د ښځو ډلي اسلام ومانه او د رسول  سره يې بيعت وکړ. د دغي ډلي نوموتي ښځي د ابوجهل د زوی عکرمه مېرمن ام حکيم، د ابو سفيان مېرمن هند، د صفوان بن اميه مېرمن بغوم بنت المندل، د وليد بن مغيره لور فاطمه، د عمرو بن العاص مور هند بنت منبه وې. د دې بيعت په مراسموکي بي بي فاطمآ الزهرا، د رسول  مېرمني او د عبد المطلب دکورنۍ ښځي هم حاضري وې. وايي چې د ابو سفيان مېرمني هند له دې امله چې د حضرت حمزه بن عبد المطلب د شهادت توطئه يې جوړه کړې وه او يوحبشی مريی " وحشي " نومی يې د هغه وژلوته هڅولی وو، او د هغه د مړي بې حرمتي يې کړې وه، او له دې کبله يې خپله بڼه بدله کړې وه، څو رسول  د مناسب وخت د مخه هغه ونه پېژني. کله چې رسول  بيعت اخيستل پيل کړل ويې ويل: موږ له تاسي څخه پردې خبره بيعت اخلو چې د خدای سره به شريك نه نيسئ. او غلابه نه کوئ. دغه مهال هند وويل: ابو سفيان بخيل سړی دی، زه د هغه له شتو څخه لږ څه د هغه په پټه اخلم، دغه ما ته څنګه دي ؟ ابو سفيان هم هلته ناست وو. هغه ورته وويل: څه چې ته اخلې تاته حلال دي. رسول  دغه مهال هند وپېژندل، ويې مسل او ورته ويې ويل: ښه دا ته هند يې ؟ هغې وويل: هو، ای د خدای  رسوله  !څه چې تېر سوي دي هغه وبخښه، خدای دي تا وبخښي. بيا هغه وفرمايل: او زنابه نه کوئ. هند وويل: آيا يوه پتمنه ښځه زنا کوي؟ بياهغه وفرمايل: او خپل اولادونه به نه وژنئ. هند وويل: ما له کوچني والي هغه روزلی وو، خو چې لوی سو تاسي وواژه. نو تاسي او هغه ښه سره پوهېږئ. ( د هند زوی حنظله بن ابو سفيان د بدر په غزاکي ووژل سو ). پردې خبره حضرت عمر ډېر وخندل، او حضرت رسول هم موسکی سو. بيا رسول  وفرمايل : او پرچا تورمه لګوئ. او په ښو خبروکي د رسول نافرماني مه کوئ . د ښځو بيعت د نارينه وو غوندي نه وو. رسول  له نارينه وو څخه د لاسو په روغبړ بيعت اخيست، خو ښځو ته هغه لاس نه ورکاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



121 ـ روژه او لمونځ

د مکې د فتحي په سفرکي رسول ﷺ او اصحابو روژه نیولې وه. خوکله چې د " عُسفان " او " قُدَ ید " په منځ کي " کد ید " نومي چینې ته؛ کومه چې له مکې څخه ( 24 ) میله لیري ده، ورسېدل، روژه یې ماته کړه. ( صحیح البخاري ). رسول ﷺ هغه چا ته چې بیا یې هم روژه نیول نا فرمانه وویل. جابر بن عبد الله ﷺ وایي: کله چې موږ د ماپښین او مازدیگر په منځ کي کدید ته ورسېدلو، نو رسول ﷺ د اوبو لوښی په داسي حال کي چې په تېولو یې ولید پر سر پورته کړ او روژه یې ماته کړه. دغه راز د مکې ترفتحي وروسته چې رسول ﷺهرڅو ورځې په مکه کي اوسېدلی دی ، لمونځ یې سفریانه کړی دی او روژه یې نه ده نیولې. د بخاري د ) کتاب المغازي، باب مقام النبي ﷺ بمکاَ زمن الفتح ( له احادیثو څخه جوتیږي چې رسول ﷺ نولس ورځې په مکه کي و اوسېدی. او ده او نورو اصحابو لمونځ سفریانه کاوه. خو لکه چې ابن کثیر په البدایاَ والنهایاَ کي د ابو داود او ترمذي په حواله لیکي : " رسول ﷺهغو وګړو ته چې په مکه کي تر فتحي د مخه اوسېدل او هلته دغه وخت مسلمان سوي وه، وفرمایل چې تاسي بشپړ لمونځ وکړئ.

122 ـ د مکې د خلکو سره ښه رویه

البته مخکي مو وویل چې رسول ﷺ د مکې د فتحي په مناسبت په خپله تاریخي خطبه کي قریشو ته وویل چې :" لا تثریب علیکم الیوم اذهبوا فانتم الطلقاء ". ( پرتاسي باندي کومه مواخذه او سرزنش نسته ځئ تاسي ټول عفو او آزاد یاست. دغه راز د ثقه راویانو بیان دی چې د مکې د فتحي په مهال رسول ﷺ د هغو مشرکینو سره چې کوم مخالفت به یې نه کاوه په ډېره نرمي کړنه کول. که به کوم مجاهد دکوم مشرك په هکله ورته وویل چې ده د مخه پرتا باندي ځونه ظلمونه کړي دي او ځونه تکلیفونه او مصایب یې درته متوجه کړي. نو هغه به په کلکه منع کاوه او ورته ویل به یې چې زه هم د دغي مکې له یوې ښځي څخه زېږېدلی یم.

123 ـ د ښځو سره زیاته نرمه رویه

مشهوره ده چې د مکې د فتحي په ورځ آنحضرت د هغه ځای د نارینه مشرکانو په پرتله د ښځوسره زیاته ښه وضع کول. تردې چې حسان بن ثابت د هغه دغه ښه او نرمه رویه په خپلو اشعاروکي وستایل. څنګه چې به د مکې ښځي ډلي ډلي د رسول ﷺخدمت ته حاضرېدلې، نو هغه به په موسکا حضرت ابو بکر ﷺ ته وویل :" دوی ماته په هغه ډول عزت او درناوي را پرېږده چې حسان یې په خپلو اشعاروکي یادونه کړې ده."

124 ـ د سپین ږیرو سره ښه وضعه

کله چې حضرت محمد ﷺ د مکې حرم ته تشریف یووړ، نو ابو بکر ﷺخپل پلار " ابو قحافه " د هغه حضور ته وروست. نو هغه وفرمایل :" دا لویان به دي په خپل کور کي پرې ایښي وای، څو موږ پخپله ورغلي وای ". بیا یې هغه په ډېردرنښت خپل څنګ ته کښېناوه اود هغه د سرپر سپینو وربګښتانو یې د شفقت لاس تېرکړ، ویې ویل:" دا سپین

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورېښتان د ده ځانګړې نخښه ده". بيا يې هغه ته وفرمايل چې: مسلمان سه. هغه هم سمدستي کلمه وويل، مسلمان سو.

125 ـ د لوټ او وژني سره نه پخلا توب

ابن اسحاق وايي:" کله چې سعد بن عباده مکې ته ننووت او اسلامي بيرغ يې په لاس کي وو، ويل يې: [ نن د وژلو او لوټولو ورځ. نن دکفارو د عزت او حرمت د له منځه وړلو ورځ ده ] ) .ځيني راويان دغه خبري په حضرت عمر ﷺ پوري تړي .( په هر حال دغه خبري يو چا رسول ﷺ ته ورسولې. نو هغه حضرت علي ﷺ ته وويل :" له سعده څخه بيرغ واخله او ته خپله مکې ته ننوزه ". ځيني وايي چې رسول ﷺ حکم وکړ چې له سعده څخه بيرغ واخلئ د هغه زوي ته يې ورکړئ. او بيا يې وفرمايل: " نن دکعبآ الله د عزت او درناوي ورځ ده."

126 ـ په مکه کي د رسول ﷺوسېدل اوکار

په مکه کي رسول ﷺ نولس ورځي و اوسېدی. په دې ترځ کي هغه د اسلام د شعايرو تجديد کاوه او خلکو ته به يې د سمي لاري د اخيستلو او تقوا تلقين کاوه. په دغو ورځوکي د رسول ﷺ په حکم حضرت ابو اسيد خُزاعي د حرم د پولو ( حدودو ) نخښې له سره نوي ودرولې. دغه راز رسول ﷺ اسلام ته د بللو او د بتانو د ماتولو لپاره د مکې شاوخوا ته بېلې بېلې ډلي هم واستولې. چې په دې ډول يې ټول بتان مات کړه او د هغه جارچي په مکه کي اعلان وکړ، چې څوك چې پرخدای او وروستۍ ورځ باور لري، هغه دي په خپل کورکي بت نه پرېږدي او مات دې کړي.

127ـ د مکې د فتحي د پوځ شمېره

ابن اسحاق د مکې د فتحي په کارکي د ګډون کوونکي پوځ او په دغه ورځ د مسلمانو سوو وګړو شمېره په لاندي ډول ښوولې ده: له بني سليمو څخه زرتنه. له بني غفارو څخه څلور سوه تنه. هغه وکړي چې د فتحي په ورځ مسلمانان سوي څلور سوه تنه. له مزينه وو څخه يو زر و درې سوه تنه. له قريشو ( مهاجرو )، انصارو، تميم، قيس او اسد د قبيلو او د دوی ملګرو قبيلو څخه شپږ زره نه سوه تنه. چې ټول لس زره تنه وه او له هغو څخه دوه زره اتيا تنه سپاره او نور پلي وه. البته له مديني منورې څخه چې کوم پوځ د مکې په لوري خوځېدلی وو، هغه لومړی اوه زره څلور سوه تنه وو، او بيا په لارکي نور هم ورسره يو ځای سول. که څه هم د دغه پوځ وسله ډېره وه، خو مؤرخينو د هغې شمېره نه ده ښوولې.

128 ـ له مکې څخه د رسول ﷺتلل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې حضرت محمد ﷺ د مکې د فتحې د چارو تر سمبالولو؛ هلته تر سم سمکي را منځته کولو او د مکې شا وخوا سیمو ته د بتانو د ماتولو او د اسلام د تبلیغولو او خپرولو لپاره د ځینو اصحابو تر لېږلو وروسته، په دې خبره باندي و پوهېدی چې هوازن، ثقیف او ځیني نور قبایل د مالك بن عوف نصري په قوماندانی، د هغه سره د جګړې په نیت " اوطاس" نومي ځای ته رارسېدلي دي، نویې عتاب بن اسید بن ابي العیض د مکې د والي په توګه وټاکی او د شنبې په ورځ دکوچني اختر د میاشتي پر ( 6 ) په مکه کي د هغه د اوسېدلو پر ( 19 ) ورځ د "حنین " پر لوري وخوځېدی. دکوچني اختر پرلسمه ورځ هلته ورسېدی او تر ستري سوبي او ډېرو ولجو په لاس راوړلو او په جعرانه کي د هغو ترځای پرځای کولو وروسته په همدغه میاشت کي طایف ته ولاړ اوهغه یې کلابند کړ. د طایف ترڅه باندي شلو ورځوکلابندی وروسته، د بني ثقیفو یعني د هغوکسانو چې د طایف په کلا کي کلا بند وه، استازو د رسول ﷺ څخه د امان غوښتنه وکړه. هغه دغه غوښتنه د هغولخوا د اسلام د منلو په شرط ومنل او ویې بخښل، بیا بیرته جعرانې ته ولاړی، د ولجو مالونه، اوښان او پسونه یې وویشل، بیا یې له جعرانې څخه د عمرې احرام وتړی، عمره یې وکړه او مدینې منورې ته ستون سو. چې د میانۍ پر ( 24 ) نېټه هلته ورسېد.

129 ـ د مکې د فتحې پایلي

له مخکنیو څرګندونو څخه جوته سوه چې د رسول ﷺ لخوا پر مکه باندي د یوه لوی برید د تیاری په پایله کي هغه بېله کوم د یادوني وړ مقاومت څخه فتح سوه. رسول ﷺ تردې پرېکړوني فتحې وروسته د مکې د خلکو سره ښه او کریما نه وضع وکړه، هغو ته یې عمومي عفو اعلان کړه، د هغو له زړونو څخه یې ناوړه‌منتوب او اندېښنې لیري کړې او ژر او په خوښي سره یې اسلام منلوته رامات کړه. چې له هغو څخه یې ځیني وکړي په بېلو بېلو دندوکي استخدام هم کړه. په دې ډول د مکې خلکو ته څرګنده سوه چې د اسلام په نسبت د دوی پخوا نیو شکونو کوم بنسټ نه درلود. د مکې ترفتحې وروسته هلته د اسلام حاکمیت د دوی د فکر او نظر افق پراخه کړ، د دوی د جاهلي تړلني عیبونه او مفاسد یې له منځه یووړه او د مکې دیني مرکزیت او صلاحیت یې نه دا چې یوازي ښه وساتی، بلکي تر پخوایې لاډېر پراخه کړ. په مکه کي د اسلامي دولت ټینګښت او پر مختګ او د امن او سلامتیا خپرېدو دوی ته د دولت په اداره کي د برخي اخیستلو او د دوی د اقتصادي چارو د ودې او پراختیالپاره ښه فرصتونه په لاس ورکوه. دوی د دولت په اداره کي پربرخي اخیستلو سربېره د جهاد په لویو جګړوکي هم شامل سول. چې په ډېرو بریالیو معرکوکي د اسلامي پوځونو ستر سالاران جوړ سول او ډېر یې د اسلامي دولت سترچارواکي سول. او ځیني یې داسې عالمان جوت سول چې د اسلام د فکري خوزښت په پرمختیا او د اسلامي علومو په غوړېدو او پراختیاکي یې ستره برخه واخیسته. له بله پلوه د دغي بریالۍ سوبې له امله په عمومي توګه په ټوله جزیرآ العرب کي د بت پالني ځواك په داسې بشپړه توګه مات سو چې بیا یې هلته د نور دوام او پاته کېدو څه ګنجایش او د جواز وجه پاته نه سوه. دا ځکه چې عام قبایل ټول دې ته منتظر وه چې د مسلمانانو او بت پالانو ترمنځ د دې جګړې انجام څه کیږي ؟ دوی ته څرګنده وه چې پرحرم باندي هغه څوك مسلط کېدای سي چې پرحقه وي. او دا عقیده په دوی کي نیمه پېړۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه د اصحاب فیلو پېښې را منځته کړې وه. نوچې د دې پرېکړوني غزا په پایله کې مسلمانان پرمکه واکمن سول، ټول د اسلام پرحقانیت قانع او ډاډمن سول. او په دې ډول د ټولې عربې ټاپووزمې پرسیاسي اودیني افقو د اسلام لمر وځلېد. او له دې مهاله د دغې سیمې د دیني لارښووني اود نیوي قیادت واګې د مسلمانانو په لاس ورغلې.

130ـ د مکې لومړنی والي او نور

لکه چې مخکې مو وویل د مکې ترفتحې وروسته په اسلامي دوره کې د لومړي ځل لپاره د مکې معظمې د امارت عزت د عُتاب بن اَسید بن ابي العیض بن امیه په برخه سو. د هجرت په اتم کال د کوچني اختر د میاشتې پر ( 6 ) نېټه کله چې رسول  د مکې د فتحې له چارو وزګارسو او د حُنین غزا ته تی، نو دی یې د مکې امیر ( والي ) وټاکی. چې دغه مهال هغه د ( 21 ) کالو وو. نبي r هغه ته وویل :" عُتابه ته پوهېږې چې ته ما پر اهل الله ( د خدای پر دوستانو ) باندې امیر ټاکلی یې، نوته د دوی سره ښه کوه. د امام فاکهي (رح) په وینا : ده ته یې دکاله څلوېښت اوقیه سره زر معاش ورکاوه. عتاب بن اسید د مړیني ترګړیه پردغه دنده باندې پاته سو. د حضرت صدیق t د خلافت په مهال هم هغه د مکې والی وو. او عجیبه پېښه لا دا ده چې دوی دواړه په یوه ورځ وفات سول. دغه راز د ابن عقبه t څخه روایت دی چې کله رسول rد حُنَین غزاته تی، نو معاذ بن جبل t یې په مکه کې خپل نایب وټاکی او حکم یې ورته وکړ چې د هغه ځای خلکو ته قرآن مجید او د اسلام د دین احکام ور زده کړي. امام ابن عبد البر (رح) د طبري (رح) څخه روایت کوي: کله چې رسول r طایف

ته تی نوبې هبیره بن سهل الثقفي t په مکه کې د خپل نایب په توګه پرېښو وی. دی لومړی صحابي دی چې د مکې ترفتحې وروسته یې په حرم شریف کې لمونځ په امامت ورکړی دی . په ظاهره دغه درې روایته یو د بل مخالف ښکاري، خو علامه فاسي (رح) دغه درې روایتونه داسې تطبیق کړي دي : رسول r عتاب والي وټاکی، معاذ بن جبل یې د امامت او تدریس چاروته وګوماری او هبیره یې د معاذ مرستیال مقررکړ، څو د هغه په نسته والي کې د امامت چار ي پرغاړه واخلي .

131ـ د فتحې دکال حج

لکه څنګه چې مود مخه وویل د فتحې په کال چې د هجرت اتم کال کېږي رسول  له جعرانې څخه د عمرې لپاره احرام وتاړه او د عمرې تر ادا کولو وروسته د میانۍ ( ذي القعدې ) په میاشت کې مدینې ته ستون سو. په دغه کال د محب طبري په وینا حضرت رسول اکرم r عتاب ته امر وکړ چې د امیرالحاج په توګه په خلکو د حج مناسك ترسره کړي. خو د ازرقي (رح) د وینا له مخې رسول r کوم څوك د امیر الحاج په توګه نه دی ټاکلی؛ بلکې دغه کال مسلمانانو او مشرکانو په ګډه حج وکړ. اوله دې امله چې عتاب د مکې والي وو مسلمانان دحج په مناسکوکې دهغه سره وه. ( فتح الباري ). البته څرګنده ده چې دغه کال رسول r حج ونه کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



132ـ د ابو بکر په امارت د هجرت

د نهم کال حج د هجرت په نهم کال د میانۍ یا لوی اختر په میاشت کي رسول r حضرت ابو بکر امیر الحج وټاکی او مکې ته یې واستاوه. علامه ابن حجر (رح) د واقدي (رح) له قوله وایي: په دې حج کي د ابو بکر t سره درې سوه تنه صحابه وه او رسول r شل اوښان هم ورسره لېږلي وه. وروسته د قرآن کریم د براءت د سورې لومړۍ برخه ترڅلوېښتم آیته نازله سوه چې په هغې کي د مشرکینو سره د سوو میعادي اوغیر میعادي تړونونو د برابری پربنسټ د هغو د پای ته رسولوحکم ورکړه سوی وو. ( دغه حکم د دې لپاره ورکړه سوی وو چې د ځینو مشرکینو له لوري به تړونونه ماتېدل، او د ځینو لخوا د تړونونو سره سره، د اسلام پر خلاف د سیسې جوړېدې، لکه څنګه چې به یې لاس برېدی تړون به یې تر پښو لاندي کاوه او د دښمنۍ په مورچل کي به درېدل. دغه راز دغه حکم د مکې د سوبې په شرایطوکي له ټولي عربي ټاپووزمي څخه په تمامه معنا د اسلامي هیواد جوړولو لپاره. او له عربو څخه د شرکي او زاړه جاهلي نظام د بېخي محو کولو لپاره. او دکوم خطر په مهال دکورنۍ فتنې د مخنیوي لپاره، ورکړه سوی وو. په دې هکله د زیاتو معلوماتو لپاره د قرآن کریم د تفسیرونو د التوبه یا براءت د سورې لومړۍ برخي وګورئ ). د دې حکم تر رسېدلو وروسته رسول r حضرت علي کرم الله وجهه مکې ته ولېږی، څو د هغه لخوا دغه حکم اعلان کړي. د وینو او شتو په هکله د عربو دا دود وو، چې تړون کوونکو به پخپله یا د خپلي کورنۍ د یوه غړي پرلاس د تړون په باب اعلان کاوه او د بل چا پرلاس اعلان نه منل کېدی. څکه نو رسول حضرت علي چې د ده د اکازوی وو، د دې کار لپاره وګوماری .

حضرت ابو بکر t او حضرت علي t په " عرج " یا " عجنان " ناوه کي سره یوځای سول. ابو بکر ور څخه وپوښتل چې د امیر په توګه راغلی یې، که د مامور په توګه ؟ علي t ورته وویل: د مامور په توګه راغلی یم. هغه وو چې ابو بکر په خلکو د حج مراسم ترسره کړه اوکله چې د لوی اختر د میاشتي لسمه سوه، د قربانۍ په ورځ حضرت علي د جمرې سره ودرېدی او خلکوته یې هغه اعلان واوراوه چې رسول r یې حکم ورته کړی وو. دلته باید څرګنده کړوچي په دې توګه یې د مشرکینو سره ټول تړونونه ختم اعلان کړه او هغوته یې څلور میاشتي مهلت ورکړچي که یې په دغه موده کي اسلام راوړ شه که نه له جزیرآ العرب څخه به وزي. اوکه له دې دواړو څخه یو هم ونه کړي، نوبه حربي کافر شمېرل کیږي او مسلمانان به ورسره جنګیږي، څو د عربو جزیره دکفر او شرك له ناولتیا بېخي اود تل لپاره سپېڅلې سي. دغه راز یې هغوکسانو ته هم دغسي څلورمیاشتي وخت ورکړ چې کوم تړون نه وو ورسره سوی. البته کومو مشرکینو چې د مسلمانانو سره د تړون په عملي کولوکي څه ګرمه نه وه کړې او نه یې د مسلمانانو خلاف د چا مرسته کړې وه له هغوسره تړونونه یې تر ټاکلو مودو پوري پرخپل ځای پرېښوول. په دې ترڅ کي حضرت ابو بکر t د اصحابو یوې ډلي ته دنده ورکړه چې اعلان کړي چې څوك په لڅو ( بربنډ ) دکعبې طواف نه سي کولای، بلکي په راتلونکي کال کي مشرکین حج هم نه سي کولای. چې دې اعلان په ټوله عربي ټاپووزمه کي بت پالني ته د پای ټکی کښېښود .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



133ـ د رسول r حجونه او عمرې

په هدایاآ السالك کې له ابن اسحاق څخه روایت دی چې خدای تعالی تر ابراهیم u وروسته داسې نبي نه دی مبعوث کړی چې دکعبې شریفې حج دې نه وي کړی. علامه ابن حجر(رح) ویلي دي چې حاکم په صحیح سند وایي چې رسول r ترهجرت د مخه څو حجونه کړی دی. خو ابن جوزي وایي چې د دغو حجونو شمېره نه ده معلومه. او ابن ا ثیر وایي چې ترهجرت د مخه یې هرکال حج کاوه. اما لکه چې د صحیح مسلم او نوروکتابونو څخه څرګندېږي رسول rترهجرت وروسته یو حج کړی چې هماغه حجاآ الوداع ( د خدای په امانی ) حج دی. دغه راز رسول r څلور عمرې کړي دي چې درې یې په میانۍ کې کړي دي او یوه یې د حجاآ الوداع سره د لوی اختر په میاشت کې کړې ده. یوه عمره یې هغه وه چې د حدیبیې د سولې په پایله کې یې عملاً ترسره نه کړه او په حدیبیه کې یې " هدیې " ذبح کړې، احرامونه یې خلاص کړه او بیرته مدینې ته وګرځېدل. بله یې د هجرت په اووم کال د حدیبیې د سولې سره سمه ترسره کړې چې د تېرکال د عمرې قضاوه. ( له دې امله دغې عمرې ته عمراآ القضاء وایي ). بله یې د مکې ترفتحې وروسته له جعرانې څخه وه. اوبله یې د هجرت په لسم کال د حجاآ الوداع سره وه .

134ـ د حج فرضیت

د حج د فرضیت په هکله کتابونه وایي : په اسلام کې حج د هجرت په شپږم کال فرض سو. ځیني وایي : په اتم کال فرض سو. خوسمه داده چې حج د هجرت د نهم کال په وروستیو کې فرض سو او د فرضیت آیت یې دادی : ]و لله على الناس حج البيت [ [ آل عمران : 97 ] یعني : پرخلکو د الله دا حق دی چې که څوك د هغه کورته د رسېدو وس لري د هغه حج وکړي. او دا آیت د زیاترو عالمانو په قول په عام الوفود ( د هجرت دنهم کال په وروستیوکې ) نازل سو. او رسول rد حج ترفرضیت وروسته یو بشپړکال حج نه دی ځنډولی او دا چې لسم کال ته یې وځنډاوه د دې عذرله امله وو، چې د آیت نزول د حج د وخت تر تېرېدو وروسته وو. ( الفقه الاسلامي و ادلته.(

135ـ حجاآ الوداع یا د خدای

په امانۍ حج کله چې د حضرت محمد r د دعوت او تبلیغ ستره دنده سرته ورسېده او د خدای تعالی " د الوهیت د اثبات " او له هغه یوه خدایه پرته د نورو د الوهیت د نفي او د محمد رسول الله r د رسالت پربنسټ د یوې نوې، سپېڅلې ټولنې جوړښت را منځته سو، نو داسې ښکاري لکه چې غیبي ها تف د حضرت خاتم الانبياء r په زړه او شعورکې دا احساس پیداکړی وي چې نور په دې نابوده دنیا ګې کې ستا د اوسېدلو شپې ورځې پای ته نژدې سوي دي. ځکه نو هغه مبارك د هجرت په لسم کال،کله چې یې معاذ بن جبل t د یمن والي وټاکی، هغه ته د هغه د تللو په مهال د خبرو په ترځ کې وویل:" ښایي ته زما سره تردې کال وروسته ونه وینې. او ښایي بیا زما دې جومات او زما قبرته راسې". نو د دې خبرو په اورېدوسره حضرت معاذ بن جبل ډېر ډېر وژړل. رشتیا خو داده چې په دې توګه لوی څښتن غوښتې وه چې په خپل استای د دغه د عوت ثمرې و ویني، کوم چې د هغه په لار کې یې ترشلوکالو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته موده ډول ډول ستونزي او مشقتونه وګالل.  د دغه ستر او پرتمين حج بشپړه کيسه صحيح مسلم، ابو داود، نسايي، دارمي، ابن ماجه ، ابن ابي شيبه، بزار، او عبد بن حميد د امام جعفرصادق t له خولې، د هغه د پلار امام محمد باقر ؒڅخه، او هغه له حضرت جابر بن عبد الله t څخه د يوه ستر،جامع او اوږده حديث په ترڅ کي روايت کړي ده، چي موږ يې ژباړه دلته راوړو. البته د دغه حديث په ځينو برخوکي مو څه داړتيا وړ څرګندوني هم د ځينو کتابونو په تېره د الرحيق المختوم څخه راوړي دي چي هغه مو د دې لپاره چې د حضرت جابر د اصلي حديث څخه بيلي وښوول سي په لېنديو ( قوسينو ) کي ليکلي دي : حضرت امام جعفر د خپل پلار له خولې وايي : موږ جابر بن عبد الله ته ورغلو، هغه  زموږ څخه پوښتني وکړې، څو چي زما وار راورسېدى. ماورته وويل: زه محمد د علي زوى د حسين لمسى يم. نوېې لاس زما سرته را وغځاوه او د ميني او شفقت له مخي يې زما دکميس  ( قميص ) لوړي اوکښته تنۍ خلاصي کړې، بيا يې لاس زما پرسينه کښېښود. په داسي حال کي چي زه دغه مهال ځوان هلك وم. بيايې راته وويل چي ښه راغلې اى زما وراره، څه چي دي زړه غواړي پوښتنه يې وکړه. نو ما پوښتنه ځني وکړه. البته دى په سترګو ړوند وو. کله چې د لمانځه وخت را ورسېد، نو دى په يوه جامه کي چي پرځان يې را پېچلې وه لمانځه ته ولاړ سو. دا جامه دونه کوچنۍ وه چي کله به يې اوږوته کش کړه د لاندي خوا به ورپورته سوه او پټو يې څنګ ته پر يوه دَربلۍ ( سه پايه ) غوندي شي ايښى وو. نو يې موږ ته لمونځ راکړ. بيا ما ورته وويل چي د رسول الله د حج په هکله موږ ته خبرراکړه. هغه د لاس او نو ګوتو په شمېره او اشاره وويل: رسول الله r په مدينه منوره کي نه کاله و اوسېدى او حج يې ونه کړ. بيا يې د هجرت په لسم کال خلکو ته اعلان وکړ چي رسول الله r د حج کولو اراده کړي ده. نو ډېر وګړي مدينې منورې ته راغلل. ټولو غوښتل چي په رسول rپسي اقتدا وکړي. او څنګه چي هغه r کوي هغسي وکړي. هغه ووچي ( د شنبې په ورځ چي د ميانۍ څلور يا پنځه ورځې پاته وې، د سفر لپاره يې تياري ونيول. وربېښتان يې ږمونځ او غوړکړه  د هديي څارويو ته يې د هديي د نخښي ځانګړي پټۍ ور په غاړه کړې، د ماپښين لمونځ يې په مدينه کي څلور رکعته وکړ)، بيا موږ د هغه سره له مدينې څخه را ووتلو، څوچي ( ترمازديګرد مخه )ګ ذوالحليفې ته ورسېدو ) .هلته رسول r واړول او د مازديګر لمونځ يې څلور رکعته سفريانه وکړ، اوشپه يې هلته په ذوالحليفه کي تېره کړه .( هلته د عميس لور اسماء، محمد بن ابو بکر الصديق وزېږاوه. نو اسماء رسول r ته سړى ور واستاوه، چې څنګه وکړم ؟ رسول r ورته وويل :" غسل وکړه او د ويني ځاى په يوه ټوکره بند کړه او احرام وتړه ". ( بيا يې سهار صحابه ووته وويل: د شپې زما د څښتن له لوري يو څوك راغى او ماته يې وويل: په دې مبارکه ناوه کي لمونځ وکړه او ووايه چي عمره هم  د حج په وخت کي ترسره کيږي )، ( بخاري او الرحيق المختوم ). بيا يې په جومات کي لمونځ وکړ )دغه لمونځ يې چې د ذوالحليفې په جومات کي وو، د احرام دوه رکعته سنت لمونځ وو. مرقات. خو په کيف حج النبي نومي کتاب کي وايي: د رسول r دغه لمونځ پردې دلا لت نه کوي چي محرم دي دوه رکعته د احرام سنت وکړي . لکه چي ډېر وګړي دغه کارکوي. دا لمونځ رسول rد مخه تردې چې احرام وتړي کړېدي. او لکه چې امام نووي (رح) د مسلم په شرح کي ذکر کړي دي حسن بصري (رح) ويلي دي چې دغه دوه رکعته  د سهار لمونځ وو .(بيا آنحضرت د ماپښين ترلمانځه د مخه د احرام لپاره غسل وکړ. وروسته بي  بي عايشې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول r پربدن او سر په خپل لاس زريره ( هغه خوشبويي چې په پرېو للو له منځه ځي ) اوپه مشکو ګډه خوشبويي، ووهل، چې د دغي خوشبويي ځلا د هغه د سر او ږيري پر ورېښتانو ښکارېده . خو هغه دغه خوشبويي پرې نه وله، بلکي پرې اېښې يې وه . بيا يې لنګ اوڅادر واغوستل ( احرام يې وتاړه ) د ماپښين لمونځ يې سفر يانه وکړ، بيايې پر مصلی باندي د حج او عمرې لپاره يو ځای د احرام نيت وکړ او د " لبيك " آواز يې پورته کړ ). بيا ( بهرراووت ) پرخپله اوښه " قصواء " سپورسو ځو چې يې بيداء ته ورساوه ( بيداء هغي دښتي يا بيديا ته وايي چې څه نه وي پکښې اودغه بيداء د ذوالحليفې سره د يو ځای نوم دی ) حضرت جابر وايي : ماچي وکتل چې سترګومي ليدل د رسول r په مخکي پلي او سپاره روان وه . ښي لوري ته هم دغسي اوکيڼ لوري ته يې هم دغسي او شاته يې هم دغسي پلي اوسپاره روان وه. او رسول rزموږ په منځ کي روان وو. په داسي حال کي چې پر رسول r قرآن نازلېدی اوهغه يې په تاويل پوهېدی. نوڅه چې به رسول r کول، موږ به هم هغه کول. هغه په توحيد ويلو، ( لبيك ويلو ) آواز پورته کړ :" لبيك اللهم لبيك . لبيك لا شريك لك لبيك، ان الحمد و النعماَ لك و الملك لا شريك لك ". ( يعني : زه ستا د فرمان پلي کولو او ستا چوپړ ته حاضر او تيار ولاړ يم. لويه څښتنه ! ستا د فرمان پلي کولو او ستا چو پړ ته حاضر او تيار ولاړيم. ستا د فرمان پلي کولو او ستا چوپړ ته حاضر او تيار ولاړ يم، تا لره هيڅ شريك نسته، زه ستا د فرمان پلي کولو او ستا چو پړته حاضر او تيار ولاړ يم، په رشتيا سره ټوله ثنا، صفت او نعمتونه تالره دي، او ټولواکي تالره ده، تالره شريك نسته ). خلکو هم په دغه لبيك ويلو سره آوازونه پورته کړه. خو رسول r په دې هکله څه ترديد ښکاره نه کړ. او رسول rهمدغسي دغه تلبيه ويل. جابروايي : موږ بېله حجه د بل شي نيت نه ووکړی اود حج په مياشتوکي مو عمره نه پېژندل. څوچي د رسول r سره ( پوره يوه اوونۍ وروسته سر ماښام مکې ته ورسېدلو.

رسول r په ذي طوی کي تم سو، هلته يې شپه وکړه، د سهارترلمانځه وروسته يې غسل وکړ، بيا سهار مکې ته ننووت. دا ديکشنبې ورځ د ذي الحجې څلورمه وه، پرلاري اته ورځي تيري سوې ) بيا بيت الله شريفي ته را ورسېدو، رسول rد حجراسود استلام وکړ. بيا يې په طواف کي درې واره په درو شوطوکي رمل وکړ. ( يعني د طواف په لومړيو درو ګردشونوکي يې د جګړې د اتلانو غوندي د بدن او اوږو په خوځولوسره ځانګړی حرکت ترسره کړ ) او په نورو څلورو شوطونو کي يې عادي تګ وکړ، بيا مقام ابراهيم ته ورغی اودا آيت يې ولوست : ] واتخذوامن مقام ابراهيم مصلٰى [ [ البقره: 125 ] ( عبادت ته د ابراهيم د درېدوځای په

ځانګړې توګه د لمانځه ځای جوړکړئ ). بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ او مقام ابراهيم يې د خپل ځان اوکعبې ترمنځ راووست. ( يعني د مقام ابراهيم ترشايې دغه دوه رکعته لمونځ وکړ )، چې په دغو دوو رکعتونو کي يې ] قل هوالله احد [ او] قل ياايهاالکافرون [ وويل. ( يعني په لومړي رکعت کي يې ترالحمد لله وروسته قل يا ايها الکافرون او په دوهم رکعت کي يې ترالحمد لله وروسته قل هو الله وويل. نووي د مسلم شرح ). بيا بيرته حجراسود ته وروګرځېد او مچ يې کړه. بيا د صفا او مروه د دروازې له لاري صفاته ووت. کله چې صفا ته نژدې سو دا آيت يې ولوست : ]ان الصفا و المرواَ من شعائرالله [ [ البقره:158 ] ( صفا او مروه د الله له نښانو څخه دي ) او ويل يې : په هغه څه پيل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



كوم چې خدای تعالی پیل په کړی دی. نو په صفا یې پیل وکړ او ور وخوت، څوچي بیته شریفه یې ولیدل، قبلې ته مخامخ ودرېدی او خدای تعالی یې په یووالي او لويي یاد کړ، ويې ويل: بېله رشتياني معبوده بل د عبادت وړ نسته او دغه معبود یودی او شریك نه لري. ده ته واکمني ده او ده ته حمد و ثناده او هغه پرهرشي قادر دی. او بېله رشتياني معبوده بل معبود نسته او دغه معبود يو دی کوم چې خپله وعده یې پرځای کړه، هغه وعده چې د مکې د فتحې او نورو سترو فتوحاتو په هکله يې کړې وه، او بری يې ورکړخپل بنده ( حضرت محمد ) ته. او یوازي يې دکافرانو او د ښمنانو ډلوته ماته ورکړه. بيا يې د دغو اذکارو په منځ کي دعا وکړه او دغه ذکر او دعایې درې ځلي تکرار کړه. بیا له صفا راکوز سو اود مروه پرلور روان سو، څو چې د دې ناوې په نس او ژوره برخه کي يې چابك ګامونه واخیستل. بیاکله چې مخ پرلوړه روان سو، عادي ګامونه يې اخيستل، څو چې مروه ته ورسېد. او بيا هماغسي د مروه غرګي ته وخوت څو چې بیته شریفه یې ولیدل، قبلې ته مخامخ ودرېدی او هماغه توحید و تکبیر او دعا او سعي او د دغي ناوې د نس چابك تګ يې تکرارکړ. بيا يې وفرمايل : " كه زه په دې خبره چې اوس په وپوهېدم، د مخه پوهېدلی وای " هدی " مې [ هغه قرباني چې په حرم کي يې حلالوي ] د خپل ځان سره نه راوستل اوحج مې په عمره بدلاوه او له احرامه را وتلم. نوکه په تاسي کي داسي څوك وي چې هدی نه وي ورسره، نودي د عمرې د اعمالو ترسرته رسولو وروسته ځان حلال کړي، له احرامه دي را ووزي او حج دي عمره وګرځوي ". نو سراقه د مالك زوی ودرېدی او ويې ويل: ای د خدای استازې ! آیا دغه عمره د حج په شپوکي یاد حج سره په همدغه زموږ په کال ده، كه به تل ترتله وي ؟ نو رسول rد تمثيل په توګه خپلي ګوتي يو په بله سره کښې ایستې اودوه واره يې وويل:" عمره په حج کي داخله ده او تل ترتله به داسي وي ". له بلي خوا حضرت علي کرم الله وجهه له یمن څخه د رسول r اوښان راوستل او بي بي فاطمه يې د هغو خلکو په ډله کي ومونده چې له احرامه راوتلي وه ؛ رنګ کړي کالي يې اغوستي وه او سترګي يې توري کړي وې. نو علي د دې دغه کار بد ومانه. دې ورته وويل چې : د دې کار امر مې پلار راکړی دی. حضرت جابر وايي چې حضرت علي په عراق کي وويل چې : زه په داسي حال کي چې فاطمې ته د دې کار له امله په غوسه وم، رسول rته ورغلم څو د هغې د دغي خبرې په هکله پوښتنه ځني وکړم. نو مې رسول r خبرکړ چې ما د دې دغه کار ښه نه دی بللی . رسول rراته وويل: "هو. دا رشتيا وايي. دا رشتيا وايې. تاکله چې حج پرځان فرض کړڅه دي وويل؟ ". حضرت علي ورته وويل : ما وويل او داسي نيت مې وکړ چې: ای باري خدايه ما احرام وتاړه په هغو سره چې ستا رسول احرام تړلی دی. رسول وويل : " چې زما سره خو هديي دي ته هم احرام مه باسه ". حضرت جابر وايي : نو هغه اوښان چې حضرت علي له يمن څخه راوستلي وه، اوهغه اوښان چې رسول r د ځان سره راوستلي وه، ټول سل اوښه وه. حضرت جابروايي : ټول خلك له احرامه را ووتل او د سر وربېښتان يې لنډ کړه. مګرحضرت نبي r اوهغه چې هديي ورسره وې په احرام کي پاته سول. کله چې د ترويې ورځ ( د لوی اختر د مياشتي اتمه ) سوه ټولو منا ته مخه کړه او د حج احرامونه يې وتړل. رسول r پرخپله اوښه منا ته ولاړ اوهلته يې د ماپښين، مازديګر، ماښام، ماخستن او سهار لمونځونه وکړل. بيا يولږڅه ټال سو، څو لمر راوخوت ( يعني د سهار لخوا لمر پرجبل ثبير باندي څرګند سو ) او امر يې وکړ چې د " نَمِرې " په ناوه کي دي ده ته خېمه ووهل سي. بيا رسول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرفات په لوري وخوځېد. قريشو داسي نه ګڼل چې دی r دي د مشعر الحرام سره ونه دريږي. لکه چې قريشو د جاهليت په زمانه کي داسي کول. نو رسول تر مزدلفې ور تېر سو، څو عرفات ته ورسېدی، هغه خېمه يې ومونده چې ده ته په " نَمِرَةٌ " کي درول سوې وه او هلته تم سو، څو چې لمر وګرځېد او د زوال وخت سو. بيا يې امر وکړ چې د ده اوښه " قصوا " تياره کړي، هغه يې د ده سپرلۍ ته آماده کړه. نو دی د عرنې د ناوې نس ( منځ ) ته، کومه چې له عرفات څخه نه ده ولاړې. ( دغه مهال د ده پر شا و خوا يولك څلېرويشت زره، يا يو لك څلور څلوېښت زره انسانان را غونډ سوي وه ). ده دې خلکوته خپله خطبه واورول، ويې ويل:" ای وکړو ! زما خبري واورئ، ځکه زه نه پوهيږم، ښايې زه تردې کال وروسته دلته ستاسي سره هيڅ ونه ليدلای سم ). بېشکه چې ستاسيويني او ستاسي مالونه پرتاسي باندي داسي حرام دي، لکه دغه ستاسي نننۍ د عرفي ورځ چې ستاسي په دغه د لوي اختر په مياشت کي ستاسي په ښار مکه کي حرامه ده. پوه سئ چې د جاهليت د چارو هرشي زما تر پښو لاندي دی ( يعني باطل دی ) او د جاهليت د وختو د وينوکساتونه اخيستل هم له منځه تللي او باطل سوي دي. زه د لومړي ځل لپاره د خپلي قبيلې د وينو څخه د ربيعه بن الحارث د زوی ويني باطلوم کوم چې د بني سعد په قبيله کي په رضاعت شيدې ورکړه سوي وې او هزيلو وواژه. او د جاهليت د زمانې سود باطل دی. او لومړی سود چې زه يې باطلوم زموږ د قبيلې له سوده څخه د عباس بن عبد المطلب سود دی چې ټوله باطل دی. ( دغه راز ) د ښځو په هکله پرهېز وکړئ او له خدايه Y وبېرېږئ، ځکه چې دوي تاسي د خدای Y په عهد او امان په نکاح کړي. او د دوی شرم ځايونه مو د خدای په خبره او امر ځانوته حلال کړي دي. او ستاسي له حقوقو څخه پردوی باندي دا دي چې دوی ستاسي فرشونو ته داسي څوك رانه ولي چې ستاسي خوښ نه وي. ( مراد يې دا دی چې دوي دي ستاسي دکور دننه د تللو او هلته دکښېنستلو اجازه هغه چاته نه ورکوي چې تاسي يې نه خوښوئ، خپل وي که پردی ). اوکه دوی داکار وکړي داسي يې ووهئ چې ډېري خوږ نه سي. او دوی پرتاسي دا حق لري چې دوی ته پرمشروع طريقه خواړه او لباس ورکړئ. ما په تاسي کي هغه شی پرې ايښی چې که په هغه منګولي کلکي کړئ هيڅکله به بې لاري نه سئ، چې هغه د خدای Y کتاب ( قرآن ) دی. په ياد ولرئ ترما وروسته بل نبي نسته او ترتاسي وروسته بل امت نسته. ځکه نو د خپل خدای r عبادت کوئ، پنځه وخته لمونځ کوئ، د رمضان د مياشتي روژه نيسئ ، په خوښي سره له خپلو شتو څخه زکات ورکوئ، د خدای د کور حج کوئ او د خپلو واکمنو اطاعت کوئ. اوکه داسي وکړئ، نو جنت له به داخل سئ. او تاسي به د قيامت په ورځ زما په هکله وپوښتل سۍ چې ما ستاسي سره د خدای د احکامو په باره کي څه کړي دي. نو تاسي به څه وواياست ؟ ". اصحابو وويل: موږ شاهدي ورکوو چې تا خپل رسالت موږ ته رسولی او خپل امانت دي ادا کړی او امت ته دي نصيحت کړی دی. نو رسول r د شهادت په ګوته په اشارې سره چې آسمان ته يې پورته کړه او خلکو ته يې ونيول، درې واره وويل:" ای باري خدايه شاهد اوسه ." !

)کله چې رسول r له خطبې څخه فارغ سو د خدای جلت عظمته له لوري دغه آيت نازل سو: ] اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم نعمتى ورضيت لكم الاسلام ديناً [ [ المائده: 3] ژباړه: نن ماستاسي لپاره ستاسي دين بشپړکړ اوخپل نعمت مې پر تاسي پوره کړ او اسلام مې ستاسي لپاره د دين په توګه غوره کړ. څنګه چې حضرت عمر دا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيت واورېدی نو يې وژړل. چا پوښتنه ځني وکړه چې ولې ژاړې ؟ ويې فرمايل: ځکه ژاړم چې تربشپړ تيا وروسته زوال دی. بخاري له ابن عمر څخه ). بيا ( بلال ) اذان وکړ، بيا ( يې ) اقامت وکړ، بيا رسول r د ماپښين لمونځ په جماعت وکړ. بيا ( بلال ) اقامت وکړ او رسول r د مازديگر لمونځ په جماعت وکړ او د دې دواړو لمونځو نو په منځ کې يې بل هيڅ لمونځ ونه کړ. بيا رسول r پرقصوا سپور سو ځو چې په عرفات کې د درېدو ځای ته ورغی، د خپلې اوښې قصوا نس يې د جبل رحمت د لويو ډبرو خواته وگرځاوه چې جبل المشاآ نومی ځای يې په مخ کې راغی، قبلې ته مخامخ ودرېدی او ترهغو هلته ولاړ وو، څو چې لمرلوېدی او ژړزگي يې لږڅه له منځه ولاړه او د لمرټيکی ډوبه سوه، اسامه بن زيد يې ترشا سپورکړ او له عرفات څخه د مزدلفې په لور رهي سو. د قصوا اوښې واگي يې تردې اندازې ځانته راکش کړي او ټينگې نيولي وې چې د قصوا سرد هغې د زين له هغه ځايه څخه نښتی کوم چې سپرلی پرهغه باندې د سټرپا په مهال، پښې ايږدي او د ښي لاس په اشاره يې وويل: ای وگړو په ډاډ او وقار د رومئ او ورو ورو ځئ. اوکله چې به د رېگوکومې غونډۍ ته ورسېد، د اوښې واگې به يې لږ څه خوشې کړې، څو اوښه چټکه پر وخيژي، څو چې مزدلفې ته ورسېد. هلته يې د ماښام او ماخستن لمونځ، ماخستن په يوه اذان او دوو اقامتو په جمع وکړ. او د دې دواړو لمونځونو په منځ کې يې کوم نفل يا سنت لمونځ ونه کړ. بيا رسول r اړخ وواهه، څو چې سپېدې وچاودې اوکله چې د سهار وخت ورته څرگند سو په يوه اذان او يوه اقامت يې د سهار لمونځ ادا کړ. بيا پر قصوا سپور سو څو مشعر الحرام ( قِزح غره ) ته ولاړی، قبلې ته مخامخ ودرېدی او خدای ته يې دعا وکړه او په تکبير، تهليل او توحيد يې ياد کړ، ترهغو هلته ودرېدی څوچې ښه رڼا سوه، بيا ترلمر راختو د مخه له مزدلفې څخه رارهي سو او د عباس زوی فضل يې ترشا سپورکړ. فضل ښکلې ورېښتان درلوده، سپين او پی مخی وو. نوکله چې رسول  له مزدلفې رهي سو، له داسې ښځو سره تېر سو چې پرهودج ( د اوښ پرکجاوه ) سپرې تېرېدلې. فضل هغوته کتل پيل کړه. رسول  د فضل پرمخ لاس کښېښود ، فضل خپل مخ بل لوري ته واړاوه، نو رسول  له بلې خوا لاس وروااړاوه او د فضل پرمخ يې نيوی چې له هغې خواېې هم واړوی، ( په نورو صحيحو روايتونو کې وايي چې فضل يوې خثعمۍ ښځې ته چې د رسول  څخه يې پوښتنه کول،کتل اوهغې ده ته کتل. دغې ښځې د رسول  څخه پوښتنه وکړه چې زما پر پلار حج فرض سوی دی، خو هغه ډېر سپين ږيری دی او پرسپرلۍ ځان نه سي تکيه کولای، نو آيا زه د هغه لپاره حج وکړم ؟ رسول  ورته وويل:" هو ". متفق عليه له مشکوٰآ او مرقاآ څخه). څو چې رسول د مُحَسرد ناوې نس ته ورسېدی او اوښه يې لږڅه چټکه کړه. بيا يې هغه منځنۍ لار واخيسته،کومه چې جمرآ الکبری ته ور وزي. او دغې جمرې ته کومه چې د ونې سره پرته ده ورغی ( هغه مهال هلته يوه ونه ولاړه وه. جمرهْ کبری ته جمرهْ عقبه هم وايي ) او په اوو شگو يې وويشته. په داسې حال کې چې د هرې شگې ويشتلو سره به يې الله اکبر وايه. اودغه شگې دغونه وې لکه د باغليو دانې. رسول  دغه شگې دغې جمرې ته د هغې ناوې له منځه ورووېشتې کومه چې دغه جمره پکښې واقع ده. بيا د حلالېدو ځای ته وروگرځېد او درې شپېته اوښان يې پخپل لاس حلال کړل. بيا يې حضرت علي ته د حلالولو دنده وسپارل او هغه پا ته اوښان حلال کړل او رسول  حضرت علی  په خپله دې قرباني کې شريك کړ. بيا يې امر وکړ چې د هر اوښ څخه يوه يوه ټوټه غوښه پرې کړي، چې په دېگ کې واچول سوې او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخې سوې. او له دغوغوښو څخه حضرت محمد ﷺ او حضرت علی ؓ وخوړې او ښور وا يې وچښل. بيا رسول ﷺ سپور سو او په بېړه کعبې شريفې ته ولاړ او د اِفاضې طواف يې وکړ اوپه مکه شريفه کې يې د ماپښين لمونځ ادا کړ. بيا د عبد المطلب اولادې ته ( چې عباس او د هغه زامن وه او عبد المطلب يې نيکه کېږي )،کوم چې خلکو ته يې د زمزم اوبه ورکولې، ورغی او ويې ويل: ای د عبد المطلب اولادې ! ما ته د زمزم اوبه راوکاږئ. که خلکو زما د عمل په پيروي ازدحام نه کولای ما به ستاسې سره دغه اوبه راکښلې وای. نو هغو يوه سلواغه اوبه ورته راوکښلې او آنحضرت ﷺ وچښلې. ( تردې ځايه د جابرحديث وو ). دغه ورځ يوم النحر وه، يعنی د ذي الحجې لسمه د لوی اختر لومړۍ ورځ وه. په دغه ورځ هم ځانښت مهال رسول ﷺ يوه خطبه واورول. بيا د ذي الحجې پر 11_ 12_13 ورځو، يعني په ايام تشريق کې رسول ﷺ په منا کې واوسېدی چې په دې ورځوکې يې د حج پر مناسکو او د خدای ﷻ پر ذکر سر بېره، خلکو ته د شريعت احکام هم ور زده کول. بيا په يوم النفر ( دوتلو يا تللو ) په ورځ چې د ذي الحجې ( 13 ) کېږي، له منا څخه ولاړ او په ابطح ناوه کې يې د بني کنانه وو په خيف کې واړول. ( ابطح، محصب او خيف بني کنانه درې سره د يوه ځای نومونه دي. اوس پردغه ځای د مکې د ښار نوي ودانۍ جوړې سوي دي .)

د ماپښين، مازديگر، ماښام او ماخستن لمونځونه يې هلته وکړه، د ماخستن ترلمانځه وروسته لږڅه بيده سو، بيا راپاڅېد، سپور سو او بيت الله شريفي ته ولاړ، طواف وداع ( د خدای په امانۍ طواف ) يې وکړ او بيا د حج د مناسکو څخه په وزګارېدو سره مدينې شريفې ته ستون سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه برخه: مکه او کعبه او تر حضرت محمد  وروسته اسلامي پیر

136 ـ حضرت عمر ر ض مکه اوکعبه

لکه څنګه چې پوهېږو په اسلام کي د راشده خلفا وو سپېڅلی دور له حضرت ابو بکر صدیق ؓ څخه راپیلیږي. خو څنګه چې له یوې خوا د اسلام د دغه ستر لومړنی خلیفه  د حکومت زمانه ډېره لنډه وه او له بلي خوا هغه په قبایلي سیموکي د امنیت په ټینګولو او نورو ډېرو اړتیا وړ ربړو په اوارولو بوخت وو. او د هغه په وختوکي مکې اوکعبې ته دنه اړتیا له امله څه کار نه دی سوی. ځکه نو موږ دلته د مکې او کعبې په اړه د حضرت عمر ؓ دکار او خدمت په هکله معلومات وړاندي کوو. له صحیحو احادثو څخه ثا بتیږي چې رسول ﷺ د جزیراَ العرب څخه د ټولو مشرکینو، یهودو اونصارا وو د وتلو حکم ورکړی وو. چې دا حکم د هغه ﷺ د وروستي وصیت سره سم د لومړي ځل لپاره حضرت عمر فاروق د خپل خلافت په دوره کي په عملي توګه پلي او تطبیق کړ.هغه د عربو ټول ملك د مشرکینو او نورو ټولو غیراسلامي عناصرو څخه پاك کړ او  حرمینو شریفینو ته یې د هغو ننوتل د تل لپاره قانوناً منع کړه چې د هغې له مخي د جدې، ینبع اوصنعا تر بندرونو پوري نامسلمانه وګړي راتلای سوای، خو مکې مکرمې ته نه سوای ننوتلای. دغه قانون ترحضرت عمر ؓ وروسته هم د اسلام نورو ټولو خلفا وو او واکمنانو په ټینګه عملي کړ. چې تر همدې اوسه په سعودي کي عملي کیږي. د مکې مکرمې څخه تقریباً ( 23 ) کیلو متره وړاندي، د پولیسو یوه ځانګه ځای پرځای سوې او هلته پرسړك باندي پر یوه غټه لوحه  د ځانګړو نخښو په واسطه د مسلمانانو او غیر مسلمانانو، سره بېلي سوي لاري ښوول سوي اوپه نخښه سوي دي. پردغه لوحه باندي ښي خواته په عربي لیکل سوي: ( غیرالمسلمین ) او تر هغه لاندي په انګریزي لیکل سوي ( (.Non Moslems وریسې لیکل سوي : ( مکاَ المکرماَ للمسلمین فقط ). اوترهغه لاندي په انګرېزي لیکل سوي (Makkah Moslems Only) :له دې امله دی چې ترنن ورځې د خدای په فضل او مرحمت دغه مقدسه ارشود غلیمانو له  ناپاکو لاس وهنو څخه خوندي پاته ده، او مسلمانان هم د دغسي لاس وهنو په وړاندي ډېرحساس او جدي دي.  بل له ډېرو پخوا مهالونو څخه په مکه مکرمه کي ډېر ورانوونکي سېلابونه راتلل، چې له هغو څخه به نه یوازي ځاني اومالي تاوانونه رسېدل، بلکي بیت الله شریفي ته به یې هم ډېر سترتاوان اړاوه. نوحضرت عمر ؓ د دغو سېلابونو د مخنیوي لپاره " مروه " ته نژدې په " المدعٰی " نومي ځای کي یو ډېر پیاوړی بند ودان کړ، چې د هغه په جوړلو سره ترکابو  ( 185 ) کالو حرم شریف اود مکې اوسېدونکي د سېلابونو له آفته خوندي وه. خو په کال 202 س. کي دغه بند د زمانې په تېرېدو سره د کمزورۍ له امله بیرته یوه سېل یووړ، چې دغه سیل ته " سیل ابن حنظله " وایي. دغه راز په کال 17 س. کي چې حضرت عمر ؓ د حج د فریضې د اداګ کولو لپاره مکې ته تشریف یووړ، د مکې او مدینې په لارکي یې پرهر مزل د حاجیانو او نورو مسافرو د هوسایی لپاره تمځایونه، سرایونه، چینې، سیوري لرونکي ځایونه او د مسافرو مېلمستونونه جوړکړل . ډېر نوي ځاګان یې وکیندل او د پخوانیو ځاګانو د پاکولو حکم یې هم ورکړ. همدغه سترصحابي او د اسلام خلیفه د لومړي ځل لپاره د حرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف د پراختیا په منظور د هغه شاوخوا ډېرکورونه رانیول اوهغه یې پراخه کړ. ده  د یوه داسي سترکار بنسټ کښېښود چې لړۍ یې ترهمدې اوسني مهاله روانه ده. اوهیله ده بیاهم د اړتیاپه مهال روانه اوسي.  کله چې امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق  د اسلام د خلافت د چارو واګې په لاس کي واخیستې، نو د اسلام د فتوحاتو د ډېرښت له امله دکعبې د زیارت کوونکو شمېره دونه  زیاته سوه چې په مسجد الحرام کي نه ځایېدل. نو هغه  په کال 17 س. (638 ع.) کي  د لومړي ځل لپاره د حرم د پراختیا یوه هراړخیزه پروژه جوړه کړه، کعبې ته نژدې کورونه یې په ډېرو پیسو رانیول او د هغو په نړولو او له منځه وړلو سره یې د حرم غولۍ پراخه کړ. بیایې چارچاپېره دېوال پرراوګرځاوه، د شپې به یې پردغه دېوال ډیوه هم ایښوول، چې حرم به په رڼا کېدی.

137 ـ یوه ډېره لنډه کیسه

وایي چې حضرت عمر  پرکعبه شریفه باندي د ښځو سره یوځای د نارینه ووطواف منع کړی وو، نوکله چې یوه ورځ مسجد الحرام ته ننوتی ویې لیدل چې یو سړی د ښځو سره یوځای طواف کوي. نو هغه یې یوه دره وواهه، او ورته ویې ویل : ته نه یې خبر چې ما دا کار منع کړی دی ؟ هغه ورته وویل : نه، زه نه یم خبر. حضرت عمر ورته وویل: په دې هکله دي زما له حکمه څه نه دي اورېدلي ؟ هغه ورته وویل: نه. بیا حضرت عمر ورته وویل : نو ونیسه زما څخه د دغي یوې درې قصاص واخله. هغه ورته وویل چې نه یې اخلم. عمر ورته وویل چې : بیا نو ما وبخښه. خو هغه ورته وویل چې نه دي بخښم. نو وایي چې حضرت عمرخواشینی ځني رهي سو. بله ورځ د حضرت عمر  په څېره کي د دې خواشینۍ نخښه له ورایه ښکارېده . نو یو چا دغه سړي ته وویل چې : د ښادۍ سې ورسه د امیرالمؤمنین مخ ته وګوره چې څونه خوابدی دی. نو هغه وو چې سړی ورغی او ورته ویې ویل چې ما بخښلی یې.

138 ـ یوه بله لنډه کیسه

په سپرټ اف اسلام کي وایي چې د حضرت عمر  د خلافت په پېر کي یوه داسي پېښه وسوه چې هم د عبرت وړده او هم له هغې څخه په ډاګه جوتېږي چې په اسلام کي پاچا او بې وزلی څه توپیرنه لري. او په هغه کي مساوات تر ټولو لوړ او سترځای لري. وایې چې " جبله " نومي د غسانیانو پاچا اسلام راوړ، اود حضرت عمر په مخکي د اطاعت د څرګندولو لپاره مدینې ته ورغی. حضرت عمر  د هغه په ډېر درنښت هرکلی وکړ. کوم وخت چې هغه مکې ته ولاړی او دکعبې مبارکي طواف یې کاوه، یو بې وزلی سړی هم دغه مهال په طواف بوخت وو،چې نابېره د دغه حاجي دکالو یو پېڅکی د پاچا پر اوږو ولوېدی. هغه په قهرسو او دغه بې وزلي ته یې یوه داسي چپلاخه ورکړه چې غاښونه یې ور وایستل. د دې کیسې پاته برخه د حضرت عمر له هغې لیکنې څخه لولو، چې ابو عبیده  ته یې،کوم چې په شام کي د اسلامي پوځونو سرلښکر وو، لېږلې وه: دغه بې وزلی سړی ماته راغی اود غور غوښتنه یې وکړه. ما جبله را وغوښت او پوښتنه مې ځني وکړه چې: ولي دي د یوه مسلمان وررور سره داسي بد سلوك کړی دی ؟ هغه راته وویل چې زما بې عزتي یې کړې وه اوکه د دغه پاك ځای لحاظ نه وای، نو ما به هلته وژلی وای. ما ورته وویل چې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي خبرو دي خپل جرم نور هم دروند کړ. او ترڅو چې له دغه سرې ځخه بخښنه ونه غواړې، نو قانوني سزاته به غاړه ږدې. جبله راته وويل : زه يو پاچا يم او هغه يو عادي سړی دی. ما ورته وويل چې دلته د پاچا او نه پاچا خبره نه راپورته کيږي. تاسي دواړه مسلمانان ياست او دواړه د قانون په وړاندې يو برابر ياست. هغه راته وويل: دغه سزا يوې بلې ورځې ته ټال کړئ. ماهم د مظلوم په اجازه سزا وځنډول. خو جبله د شپې وتښتېدی او اوس د " عيسوي سپو " سره ملګری دی. ( لومړنيو مسلمانانو به بازنطيني پاچهان په دغه لقب يادول. خو افسوس چې اوس عيسوي سپي ځينو خلکو د خپلو بادارانو په صفت منلي دي ). ابن خلدون په خپل تاريخ کې ليکي : دغه مرتد پاچا د مړيني ترمهاله هلته په قسطنطنيه کې واوسېدی او په 20 س.کال ومړ. د ثقاتو په روايت جبله بيا پرخپل دې بد عمل پښېمانه سو او تل به يې د مرګ ترساعته پرخپلو د غوکړو ژړل.

139 ـ حضرت عثمان، مکه اوکعبه

دکعبې شريفي د حرم د پراختيا په هکله د حضرت عمر  کار، د اسلام دريېم خليفه حضرت عثمان  ته دلاري ډيوه سوه. کله چې د اسلام خلافت هغه ته ورسېد، نو د مسلمانانو شمېرنور هم زيات سو او له دې امله د حرم پراختيا ته يو ځل بيا اړتيا وليدل سوه. په کال 26س. ( 647ع.) کې چې حضرت عثمان مکې مکرمې ته د عمرې ادا کولولپاره ولاړ، هلته يې په دې هکله د صحابهٔ کرامو سره سلا مشوره وکړه او د هغې سره سم يې په دغه کال حرم ته نژدې ډېرکورونه رانيول او د هغو په له منځه وړلوسره يې حرم شريف نورهم ښه پراخه کړ. او د هغه ځلورو لوروته يې برنډې هم جوړې کړې. چې په دې ډول لومړنی سړی چې د حرم چاپېره يې برنډې وداني کړې دي، حضرت عثمان  دی. دغه مهال هغه د مکې د خلکو په غوښتنه د " شعيبيې" پرځای د " جدې " د بېړيو تمځای ( بندر ) هم جوړکړ، چې مورږ يې په دې کتاب کې يادونه په څه تفصيل سره د " جدې " ترسرليك لاندي کړې ده.

140 ـ يوه تاريخي يادونه

لکه چې د امام ازرقي د تاريخ مکه او تاريخ المکآ المکرمه له څرګندونو څخه ښکاري حرم ته د نژدې کورونو څښتنان پرحضرت عمر او بيا پرحضرت عثمان باندې د خپلو کورونو په پلورلو او د هغو په له منځه وړلو نه وه خوښ. امام ازرقي وايي: ځينوکسانو د خپلوکورنو د پلورلو او د هغو د بيو د اخيستلو څخه ډډه وکړه. نو عمر هغو ته وويل: تا سو دکعبې په غولي کې کورونه جوړکړي دي. په داسي حال کې چې دکعبې غولی د چا ملکيت نه کېدای نه سي. خو زه د دې سره سره تاسوته د دغو کورونو بيه درکوم. خو چې هغو ونه منل، حضرت عمر  د دغو کورونو بيې دکعبې په خزانه کې کښېښوولې او دکورونو د نړولو کار يې پيل کړ. هغو بيا وروسته دغه پيسې په خوښې سره واخيستلې. دغه راز د حضرت عثمان  په وختو کې هم ځينوکسا نو د خپلو کورنو د خرڅولو څخه ډډه وکړه. کله چې حضرت عثمان  هغه نړول، نو هغو شورماشور جوړکړ. حضرت عثمان را وغوښتل او ورته ويې ويل: ستاسي سره حضرت عمر هم دغسي وکړه، خو پر هغه مو چيغې ونه وهلې او زما سره تاسي زما حلم دې کار ته هڅولي ياست.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو يې د هغو د بندي کولو امر وکړ. خو د يوه صحابي چې عبد الله بن خالد بن اسيد نومېدی، په منځګړيتوب يې بيرته پرېښوول.

141 ـ شخړې، ډلي ټپلي او پرې او جنبې

ګرانو لوستونکو ته به دغه سرليك څه حيرانوونكى او عجبه غوندي ښکاره سي، چې د مکې اوکعبې په تا ر يخ کي د دې خبرو په باب څرګندونو ته څه حاجت دي ؟ عرض دادی چې د حضرت عثمان ﷺ ترشهادت را وروسته په مسلمانانو کي شخړې، پرې جنبې، جګړې، ډلي او مخالفتونه را وټوکېدل. چې دې چارو د اسلام پر ټولو شوْونو، په هغو کي د مکې او مدينې پراوضاعو او د مقدسو حرمينو پرحال تاثير اچولی دی. او دغه تاثير ډېري تاريخي پېښې زېږولي دي. چې موږ په راتلونکو پاڼوکي اړکيړو د هغو په هکله يادوني وکړو. نو ځکه لازمه ده چې دلته لومړی د دغو پرو جنبو په هکله څه رڼا واچوو. څو په راتلونکې کي د دغو اغېزو له امله د ځينو پېښوله بنسټيزو عواملو څخه په خبر تيا کي تاريخي مسائل وڅېړو. د سپرټ اف اسلام ليکوال اميرعلي وايي :" هر مسلمان چې د اسلام د ستر پېغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ سره مينه لري په دې خبرو به افسوس وکړي او وبه شرمېږي. هغه وايې افسوس خو پردې دی چې د انساني توکم مذهب او نړۍ والي وروروليۍ په خپلوکي د جګړو اوکرکو له ناخوالو څخه ځان خلاص نه کړای سو. او هغه مذهب چې مقصد يې مايوسي، او سره پاشلي نړۍ ته د هوسايۍ او نېکمرغۍ رسول وو، په خپله د غضبناکو جذباتو او واك د تر لاسه کولو د شوق له امله ټوټه ټوټه سو. په اسلام کي چې کومي ورانۍ رامنځته سوي، هغه د دنيوي حرص او د اشخاصو او طبقو د واك تر لاسه کولو دکوښښونو له امله وې. که نه د اسلام حقانيت په ډاګه کړه چې د عربو د تربګنيو اوکورنيو او قبيلوي ډېرو پخوانيو منازعو او جنګ جګړو سره سره مسلمانان د مځکي له يوه ګوټ څخه تربله ګوټه د طوفان په شان ورسېدل او د نړۍ فاتحان سول. هغه عرب چې تل به په جګړو او اختلافاتو اخته وه او د شپنو او نيمه کډوال ژوند يې وو، د اسلام په برکت د صحراوو له غارونو را ووتل اوپه دېرشوکالوکي يې له هندوکش څخه نيولې د اقيانوس د بحيرې ترغاړو د هر اولس دروازه ور وټکول. د اسلام پيغام يې هغو ته ورساوه او پای يې په ډېره لږ موده کي داسي يو سلطنت جوړکړچي په پراختيا کي ترهغه حکومت ډېر زيات وو، چې روميانو په پرله پسې پراختيا سره په ديارلسو سووکالو کي جوړکړی وو. خوله بده مرغه بالاخره هغه فرقوي پرې او جنبې او قبيلوي رقابتونه کومو چې عرب يې د رسول ﷺتر بعثته پوري يوکېدوته نه پرېښوول، نه يوازي د اسلامي ستري واکمنۍ د له منځه تللو لاملونه سول؛ بلکي د مسلمانانو د واکمنۍ د زوال او د هغو د خوارۍ او بدمرغۍ اسباب هم جوړسول. او څنګه چې د دغو قبيلوي او فرقوي تربګنيو نښانې تراوسه پوري په اسلامي نړۍ کي موجودي دي، دغسي د هغو د اغېزو له امله په اسلامي نړۍ کي خوارۍ او بې وزلۍ هم ورسره موجودي دي. ډې اوهسن ( D Ohsson ) وايي:" که چيري د حضرت محمد ﷺمنونکي د خپل لارښود پرپله سم تللي وای او د لومړنيو خلفا وو تګ لاره يې غوره کړې وای، نو د دوی واکمني به د روميانو ترواکمنۍ لاهم ډېره پراخه وای. خو له ده مرغه چې د عربو حرص او سرکښۍ او د ځاني واکمنۍ ميني هغه کلکه، ټينګه او ستره ودانۍ ورانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه کومه چې لومړنیو مسلمانانو په ډېره مېړانه او مینه جوړه کړې وه ". په هرصورت د اسلام مقدس دین د عیسوي دیانت غوندې د دننيو اختلافاتو او جګړو له امله سره ووېشل سو. او تاريخ پوهان د دې تفرقو ذمه وارېه پيل کي سياسي اوکورني اسباب او مسايل او هغه قبيلوي زړې جګړې او د حسد مضبوط احساس بولي کوم چې قريش يې د بني هاشمو په خلاف راپاڅولي وه. البته په دې هکله خبري ډېري دي، خو موږ به له خپلي موضوع څخه نور ليري نه ځو، دغه پورتنۍ لنډې څرګندوني کفا يت کوي چې که په راتلونکو پاڼو کي د مکې اوکعبې د تاريخ په ځينو پړاوونوكي د دغسي مواردو سره مخامخ کيږو موږ به يې په اصلي عواملو پوهيږو او راته جوته به وي چې عيب په مسلماني کي نه؛ بلکي په مسلمان کي دی. يا : جنګ هفتاد ودو ملت همه را عذر بنه چـون نديدندحـقيـقـت ره فسانه زدند

142 ـ د حضرت علي او معاويه شخړې او مکه اوکعبه

د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت معاويه ￼ د شخړو له امله په 39 س. کي د حج په موسم کي په مکه معظمه کي سخت تشويش رامنځته سو. که څه هم د دوی او نورو يوله بله مخالفتونه او جنګ جګړې د دې کتاب مورد بحث خبري نه دي، خو موږ د دې لپاره چې زموږ پر مورد بحث موضوع څه رڼا اچول سوې وي، اړيو د هغې سوابق ولټوو،کوم چې تفصيل يې په لاندي ډول دی: کله چې حضرت علي ￼ له مدينې څخه کوفې ته د بي بي عايشې سره د جګړې په نيت وتی، نو يې د 36 س. کال د لومړۍ خور په وروستيوکي قثم بن عباس د مکې د والي په توګه وټاکی. بيا د حضرت علي او معاويه ترمنځ د صفين تر مشهوري جګړې وروسته، د هغو او د هغو د پوځونو اوپلويانو پردې سلاسوه چې حضرت ابو موسىٰ اشعري او حضرت عمرو بن العاص به د دوی ترمنځ حکميت کوي. نو هغه وو چې دوی تريوه کال خبرو اترو وروسته پرېکړه وکړه چې حضرت علي او معاويه دواړه دي له امارته معزول سي. او د امارت کار دي د خلکو مشورې ته پرېږدي. نو دوی د خلکو په وړاندې ودرېدل. لومړی ابو موسی اشعري وويل چې : موږ دواړو حکمانو په اتفاق علي او معاويه د امارت له کاره ګوښه کړل. بيا عمرو پاڅېدی او ويې ويل: دغه سړي چې څه خبري وکړې تاسي واورېدې. هغه خپل مشر معزول کړی دی او زه هم هغه د ده غوندي د امارت له کاره ګوښه کوم او خپل مشرحضرت معاويه د امير په توګه ټاکم. وايي چې حضرت ابو موسىٰ اشعري پردې خبرو عمرو ته بدرد وويل او هغه يې هم جواب ورکړ. دغسي وايې چې د حضرت علي د پوځ مشر پرعمرو بريد وکړ او په دره يې وواهه خو د عمرو زوی بيا راپاڅېد، هغه يې په دګره وواهه او د دې سره خلك ولاړ سول اوهر يو پرخپله تړه ولاړی. د دغي پرېکړي په تمسك حضرت معاويه خپل ځان خليفه اعلان کړ. او يزيد بن شجراّ الرهاوي يې د درو زرو جګړنو سره د حج په مهال مکې ته د حج د امير په توګه ولېږی. څو هم په خلکو حج وکړي، هم له خلکو څخه د هغه لپاره بيعت واخلي، اوهم د علي والي له هغه ځايه وشړي. نوکله چې يزيد مکې ته ورسېدی، د هغه او قثم ترمنځ شخړه رامنځته سوه او دواړو يو د بل امارت نه مانه. چې نژدې وو خبره جګړې او ژوبلي وژني ته ورسيږي. خو پای حاجيانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پوهي کار واخیست، د کعبې شریفي خادم شیبه بن عثمان بن طلحه یې د حج د امیر په توګه غوره کړ او په دې توګه د جګړې مخه ونیول سوه.

143 ـ اموي پېر، مکه اوکعبه

اسلامي دولت له 37 س. کال څخه د فتنو او سره وېشني سره مخامخ سو. په دې چیمسلمانانو د علي کرم الله وجهه سره د شرعي خلیفه په توګه بیعت وکړ، خو د شام خلکو بیعت ورسره ونه کړ. او د حضرت معاویه ملا یې وتړل، کوم چې د حضرت علي له اطاعته ووتی او د هغه پرضد را پاڅېدی. چې له دې امله اختلافونه اوجګړې رامنځته سوې. په 41س. کال کي د حضرت معاویه په خلیفه کېدو سره د اموي خلافت پېر پیل سو، چې د معاویه په ګډون څوارلس تنه خلفا یونوي کاله پراسلام واکمن وه. په دې پېر کي له یوه پلوه ډېر کلك مخالفتونه او ډېري ستري او ناوړي پېښې رامنځته سوې، چې ډېره بده او زړه دردوونکې یې د حضرت حسین ﷺ د شهادت پېښه ده، چې په تاریخونوکي پردې او نورو پېښو په مفصله توګه خبري سوي دي. بل د دې پېر د یوه واکمن عبد الملك بن مروان په زمانه کي د تاریخ ډېر ستر او نامتو ظالم امیرحجاج بن یوسف ثقفي رامنځته سوی، چې د ظلمونو په کیسو یې تاریخونه ډك دي، اوتر اوسه یې هرڅوك په دې صفت پېژني او کرکه څني کوي. زیات شمېر تاریخونه د دې دورې پر زیاتو واکمنانو نیوکي کوي، په مذهبي بې لاریو ( انحرافاتو ) یې تورنوي او غندي یې. خو د دې په عکس ټول تا ریخونه او اسلامي لیکوال او عالمان د دې پېر یو خلیفه حضرت عمر بن عبد العزیز(رح) ستایي، ان چې هغه په خلفای راشدینوکي شمېري. دغه راز تاریخونه وایي چې امویانو اسلامي خلافت کوم چې انتخابي وو، میراثي کړ او د اسلام واك په یوه اموي کورنۍ او بیا هم په عباسي کورنۍ کي وساتل سو. دغه راز اسلامي نظام هم ورو ورو دپردیو په پېښو او تقلید د بیزنطیني او ساماني ټولواکمنیو بڼه غوره کړه او ځیني تاریخونه لاوړاندي ځي او لیکي چې په دې دوره کي اسلامي نظام بېخي له دین څخه د سیاست لوري ته واوښت. دغسي شرایط طبعاً پر مسلمانانو او اسلامي امورو ډېره بده اغېزه کوي. له دې امله او د حضرت علي او حضرت معاویه د شخړو په سبب نژدې وو چې په کال39 س. کي په حرم شریف کي مرګ ژوبله پېښه سي. ( د دې پېښې په هکله د دې کتاب په [195] مخ کي خبري سوي دي ). د اموي واکمنۍ په وړاندي د حضرت ابن الزبیر د مقاومت له امله کعبې شریفي یوځل اور واخیست او دروند تاوان ور ورسېد. چې بیاله سره ابن الزبیر جوړه کړه. خو حجاج بیرته ونړول او پرخپله سلیقه ( د جاهلیت د زمانې سره سمه ) یې ودانه کړه. ( په دې هکله هم د دې کتاب په [206] مخ کي په تفصیل سره خبري سوي دي ). دغه شان لکه چې څه وروسته به وویل سي عبد الملك بن مروان پرمکه باندي د ابن الزبیر د واکمنۍ له امله خلك له حج څخه منع کړه. خوچي هغو جنجال کاوه ګردسره یې حج له مکې څخه بیت المقدس ته ولېږداوه. اوکله چې عباسیانو له بني امیه وو څخه واك ترلاسه کړ نو ځیني امویان د عبد الرحمان اموي په مشری اندلس ته ولاړه او هلته یې بېل واك ټینګ کړ. وایي چې د اندلس د بني امیه واکمنو خپلو دولتي کارکوونکوته حج ته د تللو اجازه نه ورکول چې نه چې هلته د عباسیانو تراغېزي لاندي رانه سي. نوڅوك چې د هغه مهال دغسي شرایطوته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوري باید ووايي چې په دغسي اوضاع او احوالوکي باید اسلام هيڅ پرمختګ نه وای کړی. خو برعکس د اموي واکمنۍ پېر د اسلام د سترو بريو، د جهاد د حيرانوونکي پرمختګ او خپرېدو عصر وو. په دغه دوره کي د اسلام واکمني له ختيزه ترلوېديزه، له اباسينه تر اتلس سمندر پوري وغځېده. چې داپه هغه پېرکي د مځکي پرمخ يو ډېر ارت او پراخ دولت بلل کېدی. پر دې سربېره په دې دوره کي په مذهبي، ادبي، علمي، عمراني او نورو ټولنيزو چاروکي هم د يادوني وړ پرمختګونه وسول. خو دکعبې د خدمت په هکله د دغي دورې د واکمنوکارونه دونه ډېرنه دي. البته څه کارونه چې په دې دوره کي دکومواکمنو لخوا سوي دي پرهغو د دې کتاب په بېلوبېلو برخوکي خبري سوي دي.

144 ـ په مکه مکرمه کي د حضرت معاويه ځيني کارونه

حضرت معاويه ؓ د خپل خلافت په پېر کي د مسجدالرام د رڼاکولو لپاره د مسلمانانو د بيت المال څخه يو مقدار شته د قنديلونو او تيلو او د هغو د نورو ضرورياتو د رانيولو لپاره بېل کړه. دغه راز هغه له شام څخه يوکوچنی منبر هم حرم ته وروړ او هلته يې د حج په مهال خطبه پر وويل. په دې توګه هغه لومړی خطيب بلل سوی دی چې د مکې په حرم کي يې پر منبرخطبه ويلې ده. هغه د دارالندوه ماڼۍ هم ترميم او له سره ودانه کړه، ځو که کله هغه حج کوي، هلته پکښې واوسي، همداشان هغه په مکه کي خپل والي ته امروکړ چې د حرم انصاب ( د مکې د حرم ارشو د نخښو ځلي ) د هغو په هکله د يوه پوه صحابي، محرز بن علقمه په مرسته، په دقت سره له سره نوي ودان کړي، چې هغه داکار وکړ. امير معاويه ؓ دکعبې د خدمت لپاره يو شمېر مريان له شام څخه ورولېږل، چې بيا دا کار ترده وروسته نورو هم کاوه. دغه راز هغه د حج په مهال او دخدای تعالی په مياشت ( رجب ) کي دکعبې د خوشبويه کولو لپاره ډول ډول عطرونه له شام څخه ورلېږل او د هر لمانځه په مهال دکعبې د خوشبويه کولولپاره يې نفر ورته وټاکل. د دغه خليفه په پېرکي د هغه په امرکعبې ته په کال کي دوه ځلي، دعاشورې په ورځ د ديباج د ټوکره ( ديباج د ديبا معرب دی. ديباج نقشي مزيني ښايستې ورېښميني جامې ته وايي،کومه چې موږ ورته اتلس وايو ). او د روژې په مياشت کي د قباطي د ټوکره غلاف ( پوښ ) ورکول کېدی. ( قباطي يو ډول کتان وو چې د مصر د يوه کلي قبطيانو به جوړاوه ). هغه په مکه مکرمه او د هغې په شاوخواکي د اوبو برابرولو کارته توجه وکړه، لس چينې يې د مکې په پاسنۍ سيمه کي له حرا نومي سيمي څخه تر اوسنۍ جعفريې پوري، وايستلې. يوه بله چينه يې په کښته مکه کي وکيندل، چې د هري چينې سره يې د مکې د اوسېدونکو او حاجيانو لپاره د اوبو څښلو ځايونه ودان کړه او هم يې دکرني يوه کرونده او د خرماووبڼ جوړکړه. هغه په مکه مکرمه کي ودانيزو چاروته هم پاملرنه وکړه او د مروه،قراره او سويقه په لوړو سيمو کي يې لس ماڼۍ جوړي کړې. چې د حضرت معاويه د دې فعاليتونو په پايله کي د مکې د لوړي برخي په هره خواکي ماڼۍ او ودانۍ، بڼونه، د اوبو چينښلو سيستمونه، د ډول ډول توکو د خرڅولو بازارونه او دکانونه رامنځته سول.

145 ـ حضرت ابن الزبير، مکه اوکعبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله د زبیر زوی یو ډېر متقي، مهربانه او زړه ور شخصیت وو. د هغه پلار زبیر بن عوام بن خویلد درسول ﷺ د نیکه عبدالمطلب د لور بي بي صفیې زوی دی چې د رسول ﷺعمه کېدل. زبیرد پنځلس کلنۍ په شا وخواکي اسلام راوړی. حبشې او مدینې ته یې هجرت کړی، د اسلام په ټولو جګړوکي یې برخه اخستې، د مکې د فتحي له پنځو قوماندانانوڅخه وو، چې په " حجون " کي یې د رسول ﷺ لپاره خېمه ووهل او د اسلام بیرغ یې هلته د لومړي ځل لپاره اوچت کړ. دی له عشره مبشره وو څخه دی او رسول ﷺ دده په هکله ویلي دي : هر نبي لره حواري وي ( وفادار او غوره مرستندوی ) او زما حواري زبیردی. . دی د حضرت عثمان له مدافعینوڅخه وو، خوکله چې د " جمل" د جګړي په ورځ حضرت علي ﷺ د رسول ﷺ یو حدیث ورپه یاد کړ، نو هغه له جګړي راوګرځېد او مدینې ته ولاړ هلته د عمرو بن جرموز په نامه یوه سړي وواژه ، د هغه سر یې حضرت علي ته یووړ او د هغه سره یې د لیدني اجازه وغوښتل. حضرت علي وویل: هغه ته اجازه مه ورکوئ؛ بلکي د دوږخ زیرۍ ورته ورکړئ. زبیر، حضرت اسماء د ابو بکر صدیق لور غوښتې وه او عبدالله له هغې څخه پیداسو. مدینې ته تر هجرت وروسته په مسلمانانوکي لومړي زوکړی همدغه عبدالله دی، چې د هجرت په لسمه میاشت وزېږېدی. پلار یې رسول ﷺ ته وروړی، چې هغه مبارك ﷺ خرما وژوول او په خوله کي یې ورکړه او د عبدالله نوم یې پرکښېښود. کله چې حضرت معاویه ﷺ د 60 س. کال د خدای تعالی ( رجب ) په میاشت کي مړسو، د هغه زوی یزید د خلافت پرګدۍ کښېناست. هغه د مدینې منورې والي ولید بن عتبه ته ولیکل چې له حضرت حسین، حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عبد الله بن زبیر څخه هرڅه ژر په زور بیعت واخله. خو حضرت حسین او ابن الزبیر د یزید له بیعت څخه سر وغړاوه او مکې مکرمې ته ولاړل. او حضرت ابن عمر ﷺ څو ورځې وروسته ولید ته ورغی او د ابن عباس ﷺ سره یو ځاي یې د یزید سره بیعت وکړ. خو له دې امله چې ولید له حسین او ابن الزبیر څخه بیعت وانه خیستلای سوای، پر هغه په قهر سو او د مکې والي عمرو بن سعید یې د هغه پرځاي مدینې ته وټاکی. هغه په همدغه کال عمرو بن الزبیر د عبد الله ورور چې د هغه سره یې دښمني درلوده د مدینې د پولیسو افسر وټاکی. هغه د عبد الله پلویان، دوستان او زامن او ان وروڼه او ورېرونه ښه ووهل. بیا عمرو بن سعید هغه د عبد الله بن الزبیر سره جنګ ته وګوماری. هغه وویل: زه تیار یم چې د هغه سره وجنګېږم او دکعبې په زړه کي پر هغه برید وکړم. هغه ووچې د انیس بن عمرو اسلمي په ملګرتیا د دوو زرو پوځیانو سره مکې ته وخوځېد. هلته یې مکې ته نژدې په " ذي طوٰی " نومي ځای کي د مکې د اطرافو له خلکو څخه ماته وخوړه، څو پوځیان یې ووژل سول او نور یې تیت او پرك سول او پخپله عمرو بن الزبیرد عبد الله بن الزبیر لخوا په " عارم " نومي محبس کي بندي سو. او په یوه روایت تر وهلو لاندي مړ سو. حضرت حسین ﷺ د عراقیانو د بلنې له امله هغه ځای ته د تللو په تکل کي سو. وایي چې حضرت ابن الزبیر په مکه مکرمه کي سهار او ماښام حضرت حسین ته ورتی او عراق ته د تللو مشوره به یې ورکول. خو حضرت ابن عباس ﷺ او نورو به بیا هغه له تللو راګرځاوه او په ډېر ټینګار سره به یې ورته ویل چې هلته مه ځه. خو هغه د هیچا دا ونه منل او د عراقیانو د پرله پسې غوښتنو او بلنو له امله د 60 س. کال د لوی اختر د میاشتې پرلسمه له مکې څخه کوفې ته وخوځېد، چې پای دکربلا په خونړۍ، دردونکې او تاریخي پېښه کي په شهادت ورسېد. په 63 س. کال کي د مدینې خلکو د امام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسين د وژلو له امله د يزيد بن معاويه  د خلافت د نه منلو اعلان وکړ او له مدينې څخه د هغه د والي او د يزيد د قوم بني اميه وو د شړلو پرېکړه يې وکړه. يزيد د يوه سپين ږيري او ضعيفه سړي مسلم بن عقبه په قوماندانۍ د لسو، پنځلسو زرو کسانو په شاوخواکي پوځ ور ولېږی او امر يې ورته ورکړ، چې د مدينې ترلوټولو وروسته مکې ته د حضرت ابن الزبير  د راپرزولو لپاره ولاړسه. هغه وو چې مسلم درې ورځې په مدينه کي عام قتل، لوټ او د خلکو هرڅه حلال وګرځول، چې په دې ترڅ کې  د قرآن کريم ډېر قاريان او نور لويان شهيدان سول، ډېر شته لوټ سول، ښار وران سو او ستر

شر او فساد رامنځته سو. وايې چې په دې جريان کې د زرو په شا وخوا کې بې مړو ښځې بې پته او حاملې سوې. ( په تاريخ مفصل اسلام کي وايې چې پرشپاړسوزرو پېغلو نجونو باند تېری وسو. چې ښايي مبالغه وي ). په هر ډول په دې ستر ناورين کي د رسول ﷺ ډېر سترستر  اصحاب د لسو زرو تنو عامو مسلمانانو په شمول و وژل سول او ډېر په سمڅو ( غارونو ) او  نورو ځايونو کې پټ سول. دا پېښه چې په تاريخ کي د مدينې د " حره " د جګړې په نامه ياديږي د چار شنبې په ورځ د 63س. کال د لوی اختر  د مياشتي پر 27 يا 28 نېټه وسوه. په دغه کال حضګرت ابن الزبير په خلکو حج وکړ او د امارت په هکله يې د شورا رايه منله. کله چې د دې پېښې خبر ور ورسېد ډېر ويرجن سو او د شاميانو سره د جګړې لپاره  د تياري په لټه کې سو. چې ډېر خلك يې دې جنګ ته وهڅول او هغو هم بيعت ورسره وکړ. د64 س. کال د محرم الحرام په پيل کي مسلم بن عقبه د ابن زبير او د هغه د ملګرو سره د جنګ لپاره مکې ته وخوځېد. خو هغه په لار کي مړ سو او پرځای يې د يزيد د مخکنۍ لارښووني سره سم حصين بن نمير السکوني ته د جګړي قوماندانې وسپارل سوه. دغه مهال خدای تعالی يزيد هم د مځکي له سره واخيست او د دغه کال په لومړۍ خورکي ومړ. حصين بن نمير مکې ته ولاړ او د دواړو خواوو ترمنځ سخت جنګ ونښتی چې پای د مکې خلك تيت او پرك سول او ډېر يې ووژل سول. کله چې ابن الزبير او د هغه ملګرو ځانونه په محاصره کي وليدل، نو يې د کعبې شا وخوا خېمې ودرولې، څو د حرم شريف د درنښت له امله  د شامي پوځونو له بريدونو خوندي پاته سي. خو د دې په خلاف شاميانو " ابي قبيس " او  " قعيقعان " غرونو ته څرمه پر" سره غره " پنځه منجنيقه ودرول او د هغو په واسطه يې پردوی اوکعبه شريفه شپه او ورځ ډبري اورولې. چې بالاخره دکعبې شريفي پوښ ( غلاف ) اور واخيست او د کعبې ودانۍ ته درونډ تاوان واوښت.ازرقي (رح) ليکي چې دغه پېښه د شنبې په ورځ د لومړۍ خور په درېيمه وسوه. خوځيني وايي چې ځينو وګړو شا وخوا اوربل کړی وو، له هغه څخه دکعبې پردې اور واخيست او دا پېښه رامنځته سوه. او ځيني نور بيا وايي چې ابن الزبير  د شپې په تياره کې  د مکې پريوه غره باندې د تکبير آواز واورېد، هغه د معلوماتو لپاره د نېزې په څوکه اور پورته کړچې د هغه يو بڅرکۍ دکعبې د رکن يماني او حجراسود ترمنځ پر پرده ولوېد او اوريې واخيست، او حجراسود له دې امله توره سوه؛ وچاودله اودرې ټوټې سوه. دا محاصره د دوهمې خور تر وروستيو روانه وه، چې د يزيد د مړيني خبر ور ورسېد.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د 64 س. کال د لومړۍ خور پر ( 14 ) د ( 45 ) کالو په عمر مړ سوی وو، چې درې نیم کاله یا درې کاله اته میاشتې یې حکومت وکړ. ابن الزبیر د مکې له خلکو څخه څو تنه حصین ته ولیږل. هغو د خبرو په ترڅ کې دکعبې شریفې د دې سوځنې پړه پرحصین واچول او د هغې د سوځلو او ورانولو د ډېرې سترې ګناه په هکله یې څرګندونې وکړې. هغو حصین ته وویل چې اوس خو یزید مړسوی دی نو تاسې د څه لپاره جګړې او وژنو ته ملاتړلې ده ؟ ښه داده چې شام ته وګرځئ او وګورئ چې د یزید زوی دوهم معاویه څه وایې ؟ او آیا خلك پر هغه راټولیږي که نه ؟ نو هغه وو چې حصین او ملګرویې د ابن الزبیرپه اجازه دکعبې طواف وکړ او وروسته د دوهمې خور پرپنځمه بېرته شام ته وګرځېدل او په دې ډول حضرت ابن الزبیر ترنوکالو پورې پرواك پاته سو او په دې وخت کې پرحجاز، یمن، عراق، مصر، خراسان او ان د شام پر ځینو برخو حاکم سو.

د 64 س. کال د لومړۍ خور پر( 14 ) د یزید زوی چې معاویه نومېدی خلیفه سو. وایې چې دی ډېر ښه سړی وو. په یوه روایت یې شل ورځې او په بل روایت یې څلور میاشتې حکومت وکړ. د حکومت په مهال ناروغه وو، او د خلکوپه وړاندې هیڅ څرګند نه سو او د ( 21 ) کالو په عمر وفات سو. دغه مهال په شام کې مروان بن الحکم د خپلې واکمنۍ بنسټ کښېښود او په دمشق او د هغه په شا وخوا کې یې واك په لاس راوړ او د اموي ډلې په ملګرتیا یې د ابن الزبیر سره د مخالفت او جنګ جګړې لار خپله کړه چې د دې سره جوخت د خراسان خلکو د سلم بن زیاد سره بیعت وکړ، ان چې د خپل خلیفه په توګه یې خوښ کړ. د اسلامي واکمنۍ په ځینو نورو سیموکې ځینې نور پاڅونونه،حرکتونه او جنګ جګړې هم را منځته سوې چې په حقیقت کې د اسلامي خلافت ادارې د ملوك الطوایفی بڼه غوره کړه. خو د ابن الزبیر امارت په مکه کې ټینګ سو. هغه خپل ورور عبیدالله په مدینه کې خپل نایب وټاکی او عبید الله بني امیه له مدینې څخه وایستل. خو وروسته د مروان خبره هم دې ته ورسیده چې مصر یې ونیو او مدینه او عراق ته یې لښکرې ولېږلې. بیا د همدغه 65 س. کال د روژې په میاشت کې د مروان د مړینې خبر خپور سو. د هغه د مړینې کیسه داسې وه چې ډېرو خلکو داسې ګڼل چې د معاویه بن یزید ترمړینې وروسته باید د هغه ورور خالد بن یزید خلیفه سي. نو مروان د دې لپاره چې خالد د خلکو په سترګو کې خوار و ایسوي او خلك بیعت ورسره ونه کړي د هغه مور یې چې د یزید کونډه وه وکړه. خو څنګه چې خالد او مور یې په دې خبره وپوهېدل، نو یوه شپه چې مروان بیده وو، د خالد مور د هغه پرخوله بالښت ورکښېښود او ویې واژه. دا پېښه د 65س. کال د روژې پر درېیمه وسوه. چې په دې ډول د مروان د امارت دوره څه د پاسه نه میاشتې وه. وایې چې د مروان پلار " الحکم " د رسول ﷺ له ډېرو سترو دښمنانو څخه وو. هغه د مکې د فتحې په ورځ اسلام ومانه او بیا مدینې ته ولاړ. خو حضرت پیغمبر ﷺهغه طایف ته جلا وطنه کړ او هلته مړسو. دا هم وایې چې مروان د حضرت عثمان ؓ د محاصرې د ناوړې پېښې ستر لامل وو. ځکه چې هغه د حضرت عثمان له خولې یو جعلي لیك د استازیو د یوې ډلې د وژلو لپاره مصر ته لېږلی وو. د ده په هکله په ځینو کتابونو کې نورې ډېرې ناوړې خبرې هم لیکل سوې دي. کله چې مروان مړ سو د 65 س. کال د روژې پر درېیمه د دمشق او مصر او د هغو د شا وخوا سیمو خلکو د عبد الملك بن مروان سره بیعت وکړ. هغه د مروان لومړنی زوی وو چې په 23 یا 26 س. کې زېږېدلی او په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



86 س. کي مړ سوی دی. څه د پاسه ( 21 ) کاله یې حکومت وکړ چې لومړي اووه کاله یې عبد الله بن الزبیر د هغه په وړاندې مزاحمت وکړ او ( 14 ) کاله یوازې په شام کې واکمن وو.

146ـ د عبد الملك لخوا له مکې څخه د حج انتقال

څنګه چې ابن الزبیر پر مکه واکمن وو او د حج په موسم کې به یې حاجیانو ته خطبې او وینااوې اورولې او د عبد الملك بد به یې ویل، نو د شام ډېرخلك د هغه لوري ته ورمات سول. له دې امله عبد الملك خلك له حج کولو څخه منع کړه. خو څنګه چې خلکو جنجال کاوه هغه د حج د لېږدولو لپاره د مسجدالا قصٰی پر هغه ډبره چې رسول ﷺ د معراج په شپه پښه پر اینښې وه یوه ستره ودانۍ جوړه کړه، د بیت المقدس پرجومات یې د کعبې غوندې پردې وځړولې، خادمان یې ورته وګومارل او خلك یې د هغه طواف ته مجبوره کړه. هغو به تر طواف وروسته د لوی اختر په ورځ قربانۍ کولې او سرونه به یې خریل. وایي چې پردغه ودانۍ یې دونه شته ولګول او داسې ښایسته او خوشبو یه یې کړه چې هغه مهال په ټوله نړۍ کې تر هغې ښکلې ماڼۍ نه وه. ( د ابن کثیر تاریخ البدایاً والنهایاً اردو ژباړه 1247/8 او تاریخ مفصل اسلام 1/ 282 ). توبه العیاذ بالله د سیاست له ازمینښته څخه. رشتیا رشتیا چې سیاست ډېره بده بوختیا ده. په دې لوبه بوخت وګړي هرڅه چې یې په ګټه وي مخ نه څني اړ وي او د خپلو ځانو او ګټو د ساتلو لپاره له هیڅ بد عمله ډډه نه کوي. دین، فضیلت، وجدان او پت د سیاست په وړاندې هیڅ ارزښت نه لري. لکه چې ډېر لیدل سوي دي چې په دې کارکي زوی پرپلار رحم نه دی کړی، پلار د زوی سترګګې ور ایستلي او د بیګناه اوبې وزلو خلکو وژل، او د خدای په مځکه کې وراني او فساد خو په سیاست کې یو عادي کارګرځېدلی دی. دا دی نن دغسي کارونه هغه کسان چې د بشر د حقوقو او دموکراسۍ غرغړې به یې وهلې د خپلو دموکراتو ګوډاګیانو سره یوځای په دې یوویشتمه پېړۍ کې (؟) په افغانستان، عراق او نورو اسلامي ملکونوکي په خورا سپین سترګۍ او رسوایی سره ترسره کوي، چې ان د دوی د جنایت کارانه بمباریو له امله په لسګونو ماشومان هم د مندو او پلرونو سره یو ځای شهیدان کیږي. او دا چاري اوس یو عادي کارګرځېدلی دی. خو مسلمانان د مرګ په خوب بیده دي او د پردو غلیمانو ګوډاګیان د پردو په زور او چلول پر واکمن دي. عبد الملك په دې تدبیر هم ونه کړای سوای ابن الزبیر له منځه یوسي. نو یې د هغه سره په جګړه لاس پوري کړ. لومړی یې په 71 س. کال کې عراق ته لښکري واستولې او د ابن الزبیر ورور مصعب یې وواژه او د هغه سر یې عبد الملك ته په دار الاماره کې وړاندې کړ. یوه عیسوي چې دا جریان ولید، ویې خندل. عبد الملك له هغه څخه د خندا علت وپوښتی. هغه وویل: ما په دې ودانۍ کې پر همدغه تخت ولیدل چې د حسین ؓسر یې ابن زیاد ته راوړ. د ابن زیاد سر یې مختار ته راوړ. د مختار سر یې مصعب ته راوړ. او اوس دادي د مصعب سر یې تاته راوړ. نو هغه وو چې عبد الملك سمدستي له تخته راکوز سو او امر یې وکړ چې دغه دکوفي دارلاماره ماڼــۍ ونړوي. بیا یې په 72 س. کال کې یو نامتو سفاك او بې باك سردار حجاج بن یوسف ثقفي چې د اسلام په تاریخ کې د ظلم او بې عدالتۍ یوه وتلې نمونه ده، د عبد الله بن الزبیر د له منځه وړلو لپاره مکې ته ولیږی. حجاج مکه محاصره کړه او ابن الزبیر په مسجد الحرام ننووت. حجاج د 72 س.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د میانۍ د میاشتي په لومړۍ نېټه امر وکړ چې کعبه د منجنیق په واسطه په ډبرو وولي. لومړی منجنیق ویشتونکو له دې کاره څخه ډډه وکړه، خوچې حجاج ورته وویل چې:" کعبه وولئ چې د عبد الملك له بخششونو څخه برخمن سئ "، نو هغو هم کعبه شریفه وویشتل او یورکن یې ور ونړاوه. بالاخره ابن الزبیر تر اوو میاشتوکلابندی ورسته د 73 س. کال د لوی اختر په میاشت کې په دې جنګ کې د خپلو ټولو پلویانو سره شهید سو. او حجاج یې سر عبد الملك ته ولیږی او تنه یې د حجون په " كداء " نومي ځای کې وځړول. چې بیا یې وروسته دفن کړ او بیا حجاج د مکې له خلکو څخه د عبد الملك لپاره بیعت واخیست.

147ـ د قریشو لخوا د جوړي سوي کعبې په هکله د رسول ﷺ ناخوښي

لکه څنګه چې مو وړاندې وویل قریشو په ابراهیمي کعبه کې بدلون راوست . که څه هم حضرت محمد ﷺ پخپله دکعبې په ودانې کې برخه درلوده، لکه چې د ډبرو په پورته کولو کې یې اوږه هم خوږ سوې وه او همدغه مهال، هغه په فهم او پوهه د ځانګړې نامه څښتن هم وو، خو قریشو دکعبې د ودانۍ پلان د خپلو لویانو په غونډه کې تصویب کړی وو. او لکه چې د واك د څښتنانو خصلت دی چې دوی یوازی خپل ځانونه په هرکار پوه بولي او د بل چاخبره که څه هم تردوی پوه وي، نه مني. دغسې په دې هکله هغوته د بل چاخبره د منلو نه وه. نوله دې امله حضرت محمد ﷺ هغه مهال په د ې هکله پټه خوله کېدل غوره وبلل. خو کله چې په نبوت مبعوث سو، نو حساس زړه به یې دکعبې شریفې دغه ناوړه بدلون ور زوراوه اوکله کله به یې په دې هکله خپلې مېرمنې بي بي عایشې (رض) ته خپل د زړه درد وایه. یوځل بي بي عایشې د آنحضرت ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې : د بیت الله شریفي وردکوم مصلحت له مخې دغونه لوړ جوړ سوی دی ؟ او د دغه ګردې دېوال " حطیم " حقیقت څه دی ؟ هغه وفرمایل :" عایشې ستا قوم دغه ور ځکه دونه لوړ جوړکړچې کعبې ته د خلکو دننه ورتلل د دوی په واك کې وي، چې چا ته یې زړه و غواړي ور پرې یې ږدي. اوچا ته چې یې زړه ونه غواړي ور پرې یې نه ږدي. او د حطیم د دغه ګردې دېوال برخه هم په کعبه شریفه کې داخله وه، خو ستا قوم د حلا لو پیسو د نه درلودلو له امله هغه همدغسې پرېښوول. عایشې که ستا قوم د جاهلیت زما نې ته نژدې نه وای او زه پردې نه ببرېدلای چې دوی به د دې خبرې پرسر یوله بله سره ونښلي، ما به ارومرو دغه برخه بیرته په بیت الله شریفه ګډه کړې وای. او دوې دروازې به مې؛ یوه د ختیزخواته، بله د لوېدیز خواته ورکړې وای؛ چې په یوه به خلك ننوتلای او تربله به وتلای ". خو افسوس چې نا مساعد حالات او مذهبي، سیاسي او اقتصادي مسایلو ته د رسول الله ﷺ پاملرني، د هغه د دغې هیلي د تر سره کېدو په لاره کې خنډ سوې او دکعبې د ابراهیمي بنسټونو د دغه بدلون درد یې پر زړه له نړۍ ولاړ. ـ صلوآ الله علیه وعلی آله وسلم ـ چې بیا حضرت عبد الله بن الزبیر ﷺ د هغه مبارك ﷺ دغه هیله ترسره کړه.

148 ـ عبد الله بن الزبیر او د کعبې بیا جوړول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبد الله بن الزبیر له یوې خوا له خپلي خاله بي بي عایشې (رض) څخه د قریشو دکعبې په باب د حضرت رسول ﷺ د ناخوښۍ په هکله اورېدلي او د هغه د دغه ارمان د پوره کېدو خیال یې درلود. او له بلي خوا د حصین د محاصرې په مهال دکعبې سوځنې او شدید نقصان دا ضروري کړه چې کعبه بیا له سره ودانه سي. نو ابن الزبیر په دې هکله سلا مشوره وکړه او تر درو ورځو استخارې وروسته یې وپتېیل چې د قریشوکعبه ونړوي او له سره یې د حضرت رسول ﷺ د هیلو سره سمه د ابراهیم ﷺ پر بنسټونو برابره جوړه کړي. ده دکعبې د نړولوکار د 64 س. کال د څلورمې خور ( جمادي الثاني ) په پنځلسمه ورځ پیل کړ او د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ د مشو رې سره سم یې د بیت الله شریفې چار چاپېر څلور لرګین ستونونه ودرول او د ټوکره پرده یې پررا وګرځول، څو دکعبې غونډي بڼه غوره کړي او خلك په لمانځه کې هغې ته مخ کړي او طواف پر وکړي. حضرت ابن الزبیر د کعبې شریفې د ودانۍ لپاره تر ټولو هغه ښه اهاك چې د یمن په صنعا کې مونده کېدل، د څلورو سوو دینارو په بیه رانیول او د " حراء " ، " ثبیر " ، " المقطع " او" الخندمه " او نورو غرونو څخه یې ډبرې راوړلې، او دغه رازیې د یمن د صنعا د ښار ډېرې ښکلې مرمر ډبرې چې " البلق " نومېدلې هم رانیولې. ابن الزبیر ﷺ د ابراهیم ﷺ د کعبې اصلي بنسټونه لڅ کړه او د ښار عالمانو، صالحانو او مخورو مشرانوته یې وروښول. او بالاخره یې پر هغو باندي کعبه له نوي سره په ډېره ښکلې بڼه ودانه کړه. څنګه چې حضرت ابن الزبیر" حطیم " هم په کعبه کې راوستی، له دې امله یې د اوږدوالي په نسبت، جګوالی کښته ښکارېدی. نو یې د قریشو د کعبې پرجګوالي نه ګزه نور ور زیات کړه، چې په دې ډول دکعبې دېوالونه په جګوالي اووه ویشت ګزه ( تقریباً5،40ـ فټه ) یا ( 14 ) متره او په بره درې فټه یا ( 91،5 ) سانتی وه. هغه کعبې شریفې ته د یوې دروازې پرځای، دوې دروازې؛ یوه د پخوا پرځای ختیز لوري ته او بله لویدیز لوري ته ورکړې، چې دواړې د مځکې سره برابرې وې او په هره یوه کې یې دوې پلې کښېنولې. قریشو دکعبې دننه شپږ ستونونه ورکړي وه. خو هغه درې ستونونه ځنې لیرې کړه او نور درې ستو نونه یې د خالصو عودو د قیمتي لرګیو څخه ورکړه، چې د ژړ او سره رنګ په خورا ښکلې ګډون سره پسولل سوي وه. د هغو پنډوالی دېرش سانتي متره وو، چې اوس هم د څوارلسو پېړیو په تېرېدو سره صحیح او سالم پاته دي، چې البته په راوروسته کې د هغو د هر ستون پرلاندنیو برخو باندي، د هغو د ټېنګښت او ښایست لپاره د سپینو زرو درې پټرې راګرځول سوي دي. اوکله چې په 1304س. کې د هغو په لاندنیو برخوکې څه درزونه پیدا سول، په 1314س. کې په میخونو ټینګ او ونیول سول. دغه راز ابن الزبیر دکعبې بام ته د ختلو لپاره دکعبې دننه د عراقي رکن لور ته د لرګیو زینه هم جوړه کړه او په هغو ډبرو یې چې دکعبې له ودانۍ څخه پاته سوي وې، دکعبې مطاف ( طواف ځای ) فرش کړ. ابن الزبیر ﷺ حجراسود چې دکعبې د اور اخیستلو له امله ، درې ټوټې سوې وه، د کعبې له دېواله څخه تر را ایستلو وروسته د " دیبا " په یوه سپین، ورېښمن پوښ کې و پېچل او په یوه صندخ کې یې قلف کړه او د شیبه بن عثمان په کور کې یې وساتل. بیا یې په خپل ځای کې د ایښولو په مهال، عباد نومي خپل زوی او جبیر بن شیبه بن عثمان ته وویل چې هغه په یوه پټو کې کښېږدئ او کله چې زه د ماپښین د جما عت لمونځ پیل کړم تاسي هغه پخپل ځای کې نصب کړئ. دا کار یې له دې امله وکړ، چې څوك بیا د قریشو د وخت غونډي د هغې د ایښوولو پر سرکومه شخړه جوړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړي. بيا هغه پرهغې لاندې باندې د سپينو زرو خول راوګرځاوه. کله چې د کعبې د ودانۍ کار پای ته ورسېد، حضرت ابن الزبير مشك او عنبر، دننه او د باندې په ووهل او د " قباطي " په نامه د مصري کتان پوښ يې په واغوست او امر يې وکړ: پرکوم چا چې زما د اطاعت حق دی هغه دي د دې سترکار د سرته رسېدو له امله د شکر ايستلو په منظور " تنعيم " ته ولاړ سي او عمره دي راوړي. او چې څوك د اوښ د حلالولو وس لري، اوښ دي حلال کړي، څوك چې د پسه د حلالولو وس لري، پسه دي حلال کړي، او څوك چې د دې دواړو وس نه لري، د خپل وس سره سم دي صدقه ورکړي. نو هغه وو چې د 64 س. کال د خدای تعالی ( رجب ) د مياشتي په ( 27 ) ورځ تنعيم ته پياده ووتی، چې نور ډېر خلك هم ورسره ووتل او عمره يې راوړه. نورو خلکو هم ډېر څاروي قرباني کړه او ابن الزبير سل اوښان حلال کړه. په پای کي بايد زياته کړو چې ابن الزبير د مسجد الحرام د پراختيا دکار په لړکي په حرم پوري نښتي کورونه او د ابي شيبه وو دکور نيمه برخه په لس زره ديناره رانيول او په حرم يې ګډه کړه. دغه راز د اخبار مکه ليکوال امام ازرقي (رح) هم وايې چې ابن الزبير زما د نيکه " ازرق " نومي دکور يوه برخه په شل زره ديناره رانيول او په مسجد الحرام يې ګډه کړه او هغه ته يې پرخپل ورور مصعب بن الزبير چې د عراق امير وو، حواله ورکړه. خو څنګه چې مصعب او عبد الله دواړه د عبد الملك او حجاج سره په جګړو کي ووژل سول، هغو ته پيسې ونه رسېدې. همداراز ابن الزبير د مسجد يوه برخه هم وپوښل او هغه لومړی سړی وو،چې تر لمانځه د مخه او وروسته يې حجراسود مچ کړه او بيا د ده دغه عمل ترده وروسته اميرانو ښه وباله او په دې هکله يې د ده پيروي وکړه. وايې چې د قريشو او ابن الزبير د بناء ترمنځ ( 82) کاله وا ټن وو.

149 ـ عبد الملك، حجاج او دکعبې بيا جوړول

دکعبې پرهغې ودانۍ باندې چې ابن الزبير جوړه کړې وه، ترلسوکالو تېرېدو وروسته، حجاج وغوښتل چې هغه بېرته د جاهليت د زمانې سره سمه جوړه کړي. خو پدې هکله له عبد الملك بن مروان څخه بېرېدی، نو يې هغه ته ليك ولېږی چې ابن الزبير دکعبې په ودانۍ کي پخپل سر تصرفات کړي دي، او په هغې کي يې داسي زياتوالی راوستی دی چې اصلاً له کعبې څخه ندی. او اجازه يې څني وغوښتل چې هغه بېرته پرهماغه پخواني حال برابره جوړه کړي. کله چې عبد الملك دا اجازه ورکړه، حجاج په 74 س.کال کي هغه دېوال چې د حجراسماعيل په لوري وهل سوی وو، ليري کړ او دکعبې لويديز لوري ته دروازه يې بنده کړه او اصلي دروازه يې ور لوړه کړه او کعبه يې بيرته د قريشو لخوا د جوړي سوي کعبې په ډول جوړه کړه. وايې کله چې عبد الملك بن مروان پوه سو چې ابن الزبيردکعبې ودانۍ د رسول ﷺ د هغه حديث په موجب جوړه کړې وه. کوم چې له خپلي خاله بي بي عايشي صديقې (رض) څخه يې اورېدلی وو، پرخپله اجازه پښېمانه سو. خو حجاج کعبه جوړه کړې وه، او کار ترکار تېر سوی وو.

150 ـ خالد القَسري او دکعبې چارچاپېره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمانځه دودول خالد بن عبد الله القَسري د عبد الملك او د هغه د دوو زامنو وليد او سليمان په وختوكي د مكې مكرمې والي وو. ( د هشام بن عبد الملك لخوا د عراق، خراسان او سيستان د چارو واگي هم ورسپارل سوي وې، چې هغه بيا نور خراسان او سيستان ته د واليانو په توگه استول ) كعبې شريفي ته د ده خدمت د مكې په واليانوكي تر ټولو ځرګند دی. هغه په هغو پيسو چې وليد دكعبې د پسوللو لپاره ورلېږلي وې، دكعبې دروازه، دكعبې دننه دېوالونه او ستونونه وپسولل او دكعبې شا وخوا يې د شپې لخوا په ډېوو رڼاکړه. دغه راز ازرقي وايې چې د خالد تر ولايت د مخه ښځو او نارينه وو پركعبه شريفه باندي ګډ طواف کاوه. خوکله چې هغه د مكې والي سو ښځي او نارينه يې په طواف کي سره بېل کړه او دكعبې شريفي پرهركنج يې ساتونكي و درول چې شلاخي به ورڅخه وې او نارينه او ښځي به يې سره بېلولې. بل ډېر ستر كار چې هغه كړی دی؛ دكعبې چار چاپېره د لمانځه دودول دي. پخوا دكعبې چار چاپيره د لمانځه صفونه نه درېدل، خلكو به د روژې تراويح د مسجد الحرام په لوړنۍ برخه كي ادا كولې چې محراب به لوړ او تر مقام ابراهيم وروسته ايښوول سوی وو، او امام به تر محراب وروسته او خلكو به د امام ترشا لمونځ كاوه. نو چې د چا به خوښه وه د امام سره به يې لمونځ كاوه او چې د چا به خوښه وه پركعبه شريفه به يې طواف كاوه. كله چې خالد بن عبد الله القسري د عبد الملك بن مروان لخوا د مكې والي وټاكل سو او د روژې مياشت سوه، نو خالد قاريانو ته امر وكړ چې د مقام ابراهيم ترشا ودرېږي او د مقتديانو صفونه دكعبې پرشا وخوا جوړ سي. دا له دې امله وو چې لمونځ كوونكي د مسجد په لوړنۍ برخه كي نه ځايېدل. نو يو چا خالد ته وويل: طواف دي د غير فرضي لمانځه، يعني تراويحو لپاره بند كړ؟ نو خالد امر وكړ چې د هري ترويحې ترمنځ دي د غونه وقفه كيږي چې خلك اووه ځلي پركعبه طواف وكړي. بيا خلكو ورته وويل چې كوم كسان چې د لمانځه لپاره د مسجد په پای او اطرافوكي نا ست وي، هغه د طواف د پايته رسېدو څخه نه خبرېږي، څو ځانونه لمانځه ته تيار كړي. نو خالد دكعبې خادمانو ته امر وكړ چې د هري ترويحې په وخت كي دي د طواف ترشپږم شوط پوري تكبيرونه وايي. نو هغو به په دغه وخت كي " الحمد لله و الله اكبر " ويل. كله چې به شپږم طواف وسو، نو به يې تكبيرونه بندكړه، څو خلك پوه سي چې طواف مخ پرختمېدو دی. نو چاچي به لمونځ كاوه هغه به يې لنډ كی او ځانونه به يې د تراويح لمانځه ته د طواف كوونكو سره يو ځاي چمتو كړه. كله چې به اووم شوط ترسره سو، نو به مؤظف سړي په زوره وويل:" الصلوٰآ رحمكم الله ". وايې چې عطا ء بن ابي رباح او عمرو بن دنيار او نورو عالمانو دغه ترتيب ليدی، خو په دې هكله يې كوم اعتراض نه كاوه. ابن جريج ويلي دي چې ما عطاء (رح) ته وويل: " كه په مسجد الحرام كي خلك لږ وي، د مقام ابراهيم ترشا ودرېږي، اوكه پركعبه چارچاپېره صف جوړكړي ؟ هغه وويل پركعبه دي چارچاپېره صف جوړكړي. او دا آيت يې ولوست ﴿ :و ترٰى الملائكآ حافين من حول العرش ﴾ [ الزمر : 75 ] ژباړه: او ته به وګورې ای محمده چې ملايكي د عرش چارچاپېره طواف كوونكي وي.

151 ـ د ابو حمزه خارجي لخوا د مكې نيول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوارج څوك دي؟ لكه چې د مخه مو وويل، د حضرت علي  او حضرت معاويه  تر منځ د صفين تر جګړې وروسته، هغوی پردې سلا سول چې حضرت ابو موسىٰ اشعري او حضرت عمرو بن العاص د دوی ترمنځ حكميت وكړي. نوكله چې حضرت علي له شام څخه كوفې ته ولاړی، هلته د هغه د پوځ يوه ډله چې شمېر يې د لسو، يا دوولسو زرو پوځيانو په شا وخواكي وو، د هغه له پوځ او اطاعته ووتل؛ ورته پورته سول او ويل يې چې :" حكميت بېله خدايه بل چا ته نسته. او علي ته نه ښايېدل چې ابو موسىٰ اشعري يې په حكميت منلی وای ". نو له دې امله يې حضرت علي كافر وګاڼه او څه نور تورونه يې هم پر ولګول. بالاخره د حضرت علي او هغو تر منځ سختي جګړې وسوې. نو څنګه چې دوی د حضرت علي او معاويه له شخړو او بيعته ووتل، ځكه يې نو دوی ته خوارج وويل. كه څه هم حضرت علي د خوارجو فتنه له منځه يووړه، خو د هغو باطله عقيده په اسلامي ټولنه كي پا ته سوه، چې وروسته وروسته ډېري ډلي ځني وټوكېدلې او په اسلامي هيوادو په تېره د فارس د خليج په څنډو، د عمان د سمندر په ټاپوګانو او د افريقې په ختيزو پولوكي يې فتنې واچولې. ان چې پاچهۍ او امارتونه يې جوړكړه. په دې لړكي عبد الله بن يحٰی الاعور الكندي يو خارجي مشر وو،چې د 129 س. په شا وخوا كي يې حضرموت، صنعا او ظفار ونيول او ځان يې " طالب الحق " وباله. هغه ابو حمزه مختار بن عوف ازدي، اباضي، بصري، خارجي د مكې نيولو ته وګوماری. دغه ابو حمزه به د مخه هركال مكې ته تی او خلك به يې د بني اميه وو د وروستي خليفه مروان ( ثاني ) بن محمد او د هغه دكورنۍ پرضد پارول. خو د 129 س. كال د حج په مهال هغه په مكه شريفه كي بل ډول څرګند سو. په دغه كال نابېره د عرفې په ډګركي توري لنګوټې او د نيزو سرونه وليدل سوه. د ابو حمزه سپاهيان وه چې شمېر يې په يوه روايت لس زره، او په بل روايت چې قوي ښكاري اووه سوه تنه وو. حاجيان د دوی په ليدو وبېرېدل. هغو ته يې وويل چې تاسي څوك ياست او څه كوئ ؟ هغو ورته وويل موږ د مروان ثاني او د هغه دكورنۍ مخالف يو. نو عبد الواحد بن سليمان بن عبد الملك چې د مكې او مدينې والي وو، سړی ور واستاوه او د سولې په هكله يې خبري ورسره وكړې. هغو ورته وويل : موږ د خپل حج كارته ډېر ارزښت وركوو او هغه ډېر راته په زړه پوري دی. بيايې د هغو سره داسي سوله وكړه چې د حج د مراسمو د وروستۍ ورځي ترپا يته رسېدو به ټول په سوله كي اوسو. بيا دوی اونورحاجيان بېل بېل په عرفات كي ودرېدل. كله چې د حج د مراسمو د پايته رسېدو وخت راورسېدی، عبد الواحد مكه بېله جګړې ابو حمزه ته پرېښوول. وروسته ابو حمزه په مكه كي ابرهه بن الصباح الحميري د خپل استازي په توګه پرېښووی او خپله د مدينې په لوري وخوځېد. په لاركي يې په " قديد " نومي ځای كي د مدينې د خلكو سره نښته وسوه او ډېر يې ووژل. وروسته ابو حمزه مدينې منورې ته ورسېد اوعبد الواحد شام ته وتښتېد. ابو حمزه تردرو مياشتوپه مدينه كي و اوسېد ی. وروسته يې خپل يو ملګری هلته پرېښووی او پخپله له مدينې ولاړی او د مدينې د باندي په " وادي القرٰی " نومي ځای كي د مروان د څلورو زرو سپاهيانو سره، چې قوماندان يې عبد الملك بن عطيه سعدي نومېدی مخامخ سو او ووژل سو. خو په يوه بل روايت كي وايي چې په دې جګړه كي د ابو حمزه قوماندان او ملګري ووژل سول او ابن عطيه، ابو حمزه په مكه مكرمه كي وموند او په جګړه كي ابرهه بن الصباح او ابو حمزه دواړه په كال 130 س. كي ووژل سول. بيا ابن عطيه په طالب الحق پسي يمن ته ولاړ، هلته يې هغه وواژه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سر يې مروان ته واستاوه. مروان ورته وليکل چې مکې ته د حج د امير په توګه ولاړ سه. څنګه چې د مکې په سفرکي د هغه سره لږ نفر وه، ځينو عربو د هغه د حج د امارت مکتوب ونه مانه او ده او د ده ملګرو ته يې وويل چې تاسي غله ياست او ويې واژه. بايد ياده کړو چې په پورته مطلب کي ذکرسوی مروان هغه دی چې مروان حمار يا مروان ثاني يې ورته ويل. په " مختصر تاريخ خلافت اسلاميه " کي وايي چې:" دده په پېرکي خوارجو چې تردې مهاله چپ وه، سرونه راپورته کړه او پر مکه مکرمه او مدينه يې قبضه ولګول". مروان ثاني د عباسيانو سره په جګړه کي ماته وخوړه او مصرته وتښتېد او د 132س. کال د لوی اختر ( ذي الحجې ) د مياشتي پر ( 28 ) د عباسيانو سره په مخامخ مقابله کي د مصر په " بوصير" نومي ځای کي ووژل سو، اوپه دې توګه خلافت عباسيانوته ورسېدی.

152 ـ عباسي خلفاء، مکه اوکعبه

د عباسي خلافت لومړی دوره د 132 س. کال د لوړی خور له ( 14 ) څخه پيل او د 656س. کال د صفري ترځلورمي يې دوام وکړ، چې مرکز يې انبار او بغداد وو. په دې پېرکي ( 37 ) تنه خلفاګء يو په بل پسې واکمن سول. دوهمه عباسي دوره له 659س. څخه پيل او تر923س. پوري يې دوام وکړ چې دارالخلافه يې قاهره ( مصر ) وو. په دې دوره کي ( 17 ) تنه خليفه ګان يو په بل پسې د خلافت پرګدۍ کښېنستلي دي. دغه دواړې دورې چې يوه تر ( 524 ) کالو اوبله تر( 264 ) کالو وغځېدې سره له دې چې ځيني تاريخ ليکونکي ځيني نيوکي پرکوي، د اسلام د وياړلي تاريخ زريني پاڼې جوړوي. په دې پېرکي مسلمانانو داسي سوبې وکړې، او اسلام داسي پکښې خپورسوی چې د سترو بريو د بدبو يې د ډېرو ځواکمنو واکمنيو ډېري کلکي او دنګي ماڼۍ ولړزولې، ډېري پياوړې ټولواکمنۍ يې راوپرزولې، او ډېري ليري ليري سيمي يې د اسلام د اتلو سپا هيانو تر پښو لاندي کړې او ويې نيولې. دغه راز په دې پېرکي علومو او فنونو په بېلو بېلو برخوکي داسي ستر پر مختګونه وکړه چې وړانګو يې ټوله نړۍ پر سر واخيسته او ډېر ستر تمدن يې رامنځته کړ. خو د دې سره سره په دې دوروکي د بېلتون، مذهبي او سياسي ډلو جوړېدو، فتنو، ورانيو، کورجنګی او ملوك الطوايفی اور هم ډېرڅه لولپه کړه. په هرصورت په دې هکله څېړني زموږ دکتاب موضوع نه ده. اوڅه چې موږ يې څېړو او را سپړو هغه،هغه څه دي چې په دغو اوږدو کلونوکي د مکې اوکعبې په اړه ترسره سوي دي. البته په دې اړه ډېرڅه سوي دي. چې يو څه يې موږ د دې کتاب په بېلو بېلو برخوکي ياد کړي او يا به په خپلو خپلو ځايوکي خبري پر وکړو. سمدستي په عامه توګه ويلای سو چې عباسيانو په تېره د هغو ځواکمنو واکمنو يا د دغه پېر نورو دولتي چارواکو عمراني او مدني چاروته د پاملرني او اسلامي شعايرو او مقدساتوته د درناوي او خدمت په لړکي، د مکې او مدينې د چارو سمون او د کعبې خدمت، ساتني، بيا بيا رغوني، د حرم د پراختيا او ښکلا او د حج د نورو متبرکو اماکنو د ودانۍ او د حاجيانو د هوسايی د وسايلو د برابرولو لپاره، ډېر څه کړي دي. په دې پېرکي ډېرو واکمنو د مسلمانانو عقايدو او غوښتنو ته په درنه سترګه کتلي او د هغو د رفاه او هوسايی اسباب يې په کار او لګښت برابرکړي دي. دغه راز په دې پېرکي پر مکه او کعبه ډېري بدي ورځي هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي دي. اوډېري نادودي او جفاوي يې هم ليدلي دي، چې موږ به په راتلونکو پاڼوکي د هغو پېښو په هکله چې د يادوني وړ دي ترخپلي وسي يو په بل پسې رڼا واچوو ان شاء الله.

153 ـ د عباسيانو په دوره کي د مکې اوکعبې په اړه لنډ پېښليك

په 145س. كال کي : کله چې د عباسي دورې دوهم خليفه ابو جعفر عبد الله المنصور د خلافت پرګدۍ كښېنستی داسي آوازه سوه، چې د امام حسن بن علي ﷺ له پښتګته څخه محمد بن عبد الله ( النفس الزکيه ) د مخالفت رپی ( بيرغ ) پورته کوي. له دې امله منصور د محمد وروڼه او ځيني نور بني حسن بنديان کړل. کله چې دا خبره په مدينه کي محمد بن عبد الله ته ورسېده، په کال 145س. کي يې بغاوت وکړ، خپل ځان يې په مدينه کي خليفه وباله اوخپل ورور ابراهيم يې بصرې ته ولېږی، چې هغه بصره، اهواز اوفارس ونيول. او دغه راز يې په يوه روايت حسن بن معاويه او په بل روايت يې محمد بن حسن بن معاويه مکې ته ولېږی. چې هغه مکه ونيول او د عباسيانو والي سري نومی بن عبد الله يې له هغې وايستی. څه موده وروسته محمد بن عبد الله دی مدينې ته ور وغوښتی، خو هغه لاپرلاري وو،چې منصورد محمد سره جګړې ته عيسی بن موسی د يوه ستر لښکرسره ورولېږی. د دغه کال د روژې پرپنځلسمه د دواړو ترمنځ سخت جنګ ونښتی او پای محمد بن عبد الله النفس الزکيه ماته وخوړه. کله چې محمد بن حسن مدينې ته نژدې " قديد " نومي ځای ته ورسېدی له دې پېښي خبرسو اووتښتېدی. په 169س. کال کي : د موسی بن الهادی د خلافت په مهال د حسن بن علي ﷺ له پښته څخه حسين بن علي بن حسين د هغه په خلاف را وپاڅېدی، د مدينې والي عمر بن عبد العزيز ته يې ماته ورکړه، او مکه او تقريباً ټول حجاز يې ونيوی. الهادي د هغه د مقابلې لپاره محمد بن سلمان د پوځ سره ورولېږی او د ترويې په ورځ يې د مکې څخه درې ميله ليري حسين بن علي ته ماته ورکړه او ويې واژه. په 170س. کال کي: د دغه کال د لومړۍ خور پر ( 15 ) هارون الرشيد عباسي خليفه سو. د عباسيانو په دوره کي د ده عصر له هره پلوه ښه بلل سوی دی. په تېره د ده په پېرکي دکعبې او نورو متبرکو اماکنو ډېر ښه خدمت سوی دی. وايې چې مسلمانان د عبد الملك او حجاج له وختو دکعبې د ودانۍ په هکله له دې امله چې حجاج پرخپله سليقه برابره جوړه کړې وه، اندېښمن او دوه زړه وه، چې آيا بيرته د ابن الزبير په ډول جوړه سي كه په همدې بڼه پاته سي؟ دغه اختلاف نظر د هارون الرشيد تر وختو پاته وو. کله چې هغه خليفه سو، و يې غوښتل چې کعبه ورانه کړي او له سره يې د ابن الزبير د ودانۍ غوندي جوړه کړي. په دې هکله يې له امام مالك ( رح ) څخه فتوٰی او مشوره وغوښته. هغه ورته وويل چې:" داکار مه کوه. ځکه د بيت الله شريفي په پلاوو پلاوو نړولو او جوړولو له امله د هغې سترتوب د خلکو له زړونو څخه وزي او د واکمنو د لاس لوبونې کيږي؛ هر نوی واکمن به مخکنۍ ودانۍ نه سي زغملای او نړوي به يې او له نوي سره به يې جوړوي. چې دا چاري د دې درنې خوني سره نه ښايي". له دې امله هارون الرشيد دکعبې د بيا جوړولو څخه تېر سو. دغه خليفه دکعبې شريفي پر ترميم، تزئين او خدمت سربېره، نه واره دکعبې حج هم کړی دی او ښځي ډېر شته يې پرحرمينو لګولي او پربې وزلو وېشلي دي. يو ځل يې د حج لپاره له بغداد څخه احرام وتاړه. بل ځل له مکې مکرمې څخه تر منا او عرفات پوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پښو ولاړې او د نورو سپېڅلو ځايونو زيارت يې هم پرېښو وکی. همدا راز يې د 179س. کال په روژه کي له دې امله چې د ده يو پياوړی مخالف خارجي وليد بن طريف ووژل سو، د شکرانې په دود عمره وکړه، بيا مدينې منورې ته ولاړی او د حج د وخت تر را رسېدو هلته پا ته سو، او پخپله او په خلکو يې حج وکړ او دا کال يې هم هغسي وکړه لکه تېرکال چې يې کړي وه. په 199س. کال کي : په عراق کي د محمد بن عبد الله ورور ابراهيم کوم چې د منصور په خلافت کي يې بصره ونيول او بيا په جنگ کي ووژل سو، څه او لاده پاته وه. له هغو څخه يو محمد بن اسما عيل بن ابراهيم وو. څنگه چې د هغه د پلار ژبه گونگې وه هغه ته يې " طبا طبا " يا " ابن طبا طبا " ويل. د دغه طبا طبا ډله زياتره زيد يه وه، کوم چې د ده امامت يې مانه. په 199س. کي طبا طبا پورته سو او د خپل امامت او خلافت دعوه يې وکړه. د بني شيبان په نامه د يوې قبيلې مشر" ابو السرايا " سري بن منصور بيعت ورسره وکړ او د هغه په ملاتړ يې په لږو ورځوکي يو ستر لښکر جوړکړ اوکوفه يې ونيول. دغه مهال نابېره طبا طبا مړ سو. وايې چې ابو السرايا زهر ورکړي وه. بيا دغه ابو السرايا ډېري سوبي وکړي، خو وروسته بيرته دولتي ځواکونو په مداين کي ماته ورکړه. خو د دې سره سره هغه د حسن بن علي ▯ له پښته حسين افطس بن حسن بن علي زين العابدين مکې ته ولېږی. دغه مهال په مکه کي د مامون الرشيد چارواکي د مسرورخادم اکبر په نامه او سليمان بن داود بن عيسیٰ په نامه موجود وه، هغو د " افطس" له بيري د حج په مهال مکه خوشي کړه. افطس طواف او سعی وکړه، عرفې او مزدلفې ته ولاړ، خلکو ته يې د سهار لمونځ ورکړ، او د حج په شپوکي په منا کي تر اوسېدو وروسته يې د کعبې پوښ وکيښ او بل هغه پوښ يې په واغوستي چې د ځان سره يې راوړی وو، حاجيان او د مکې خلك يې لوټ کړه، دکعبې دوه سوه قنطاره طلا او نور هغه څه چې د جاهليت له زماني څخه تردغه مهاله په کعبه او د کعبې په زيرمتون ( خزانه ) کي خوندي وه ټوله يې چور کړه. وايې چې په دغه کال حاجيانو بېله امام او خطبې څخه حج وکړ.کله چې ابو السرايا تر ماتي وروسته په تېښته تېښته تر" جلولا " نومي ځايه ورسېدی، د هغه ځای والي ونيوی او زنځيراو زولانه يې نهروان ته ولېږی، او حسن بن سهل وزير ته يې وسپاری. چې هغه په 200س.کال کي وواژه او تنه يې د بغداد پرپله وځړول. افطس تردغه مهاله لا پر مکه واکمن وو، خوچې د ابو السرايا له مرگه يې واورېدل و يې ليدل چې د ده اود ده د ملگرو د بدو خويونو او اعمالو له امله خلك بد ځني وړي. نودی او ملگري يې، محمد بن جعفرالصادق ته ورغلل او ورته ويې ويل چې موږ ستاسره بيعت کوو. که څه هم هغه په دې نه ووخوښ، خو د محمد د زوی علي په واسطه يې هغه قانع کړ او د 200س.کال په لومړۍ خور يې بيعت ورسره وکړ او د خلکو څخه يې هم،که د هغو خوښه وه که يې نه وه خوښه، بيعت ورځني واخيست، او د اميرالمؤمنين نوم يې پرکښېښووی. خو د هغه د زوی علي او افطس د ناوړو کارونو له امله هغه هيڅ واك نه درلود. له دې امله ابراهيم بن موسیٰ کاظم بن جعفرالصادق د خپلې کورنۍ سره يمن ته ځني ولاړی، هلته يې په ډېره لږ موده کي د يمن ډېري سيمي ونيولې او ډېر خلك يې ووژل. د يمن والي اسحاق بن موسیٰ بن عيسیٰ عباسي ځان له مرگه وژغوری او مامون ته يې ځان ورساوه. هغه ډېر پوځ او د جگړې سامان د هغه په واك کي ورکړ. کله چې اسحاق مکې ته ورسېدی، محمد بن جعفرالصادق ته يې ماته ورکړه او څنگه چې محمد وتښتېدی، نو هغه يې د نيولو په لټه کي سو او هري خواته يې سړي پسي ولېږل. محمد امان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښتی، اسحاق يې امان ومانه او مکې ته يې راوستی. هغه د مامون د خلافت سره بيعت وکړ او د هغه پرنامه يې خطبه وويل. ( ابن خلدون ) خو ابن جريراو شفاء الغرام وايې چې اسحاق چې له ابراهيمه وتښتېدی په " مشاش " نومي ځای کي د مکې ځيني اوسېدونکي کوم چې د علويانو ( افطس او محمد بن جعفرالصادق ) له لاسه تښتېدلي وه ورسره ملګري سول او اسحاق د محمد سره جنګ وکړ. خو وروسته يې جنګ ښه ونه ګاڼه او عراق ته رهي سو. پرلاري هغه پوځ پرپېښ سو چې د عباسيانو پلوی هرثمه نومي د عيسٰی بن يزيد جلودي او ورقاء بن جميل په مشرۍ مکې ته ليږلي وو. اسحاق بېرته د هغو سره يوځای مکې ته وګرځېدی، پای يې علويان مات کړه او محمد بن جعفر امان وغوښتی. چې له مکې وايستل سو او بيا يې مدينې ته نژدې، څو ځلي د مدينې د والي هارون بن المسيب سره جنګونه وکړه، خو پای مات سو او ډېر خلك يې ووژل سول. بيا يې له جلودي او ورقاء څخه امان وغوښتی، هغه امان ورکړ او چې د 200س. کال د لوی اختر د مياشتي لس ورځي پاته وې په مکه کي جلودي منبر ته پورته کړ، جلودي تر هغه يوه پله لوړ ولاړ وو، او په داسي حال کي چې توره قبايې اغوستې وه ويې ويل: " ماته ويل سوي وه چې مامون مړسوی دی، نو ځکه ما ځان اميرالمؤمنين وباله. خو اوس چې د هغه ژوند راته جوت سو، نو زه معذرت غواړم. په دې توګه يې ځان خلع کړ، له خدايه يې د بخښني غوښتنه وکړه او بيا عراق ته رهي سو. څنګه چې مامون په مروکي وو، هلته ورغی. مامون وباخښه، خو څو وخته وروسته مړسو او د جنازې لمونځ يې مامون ورکړ. دغه راز په همدغه 200س. کال يوه بله ډېره ناوړه پېښه هم په مکه کي وسوه: لکه چې مخکي مو وويل ابراهيم بن موسٰی کاظم يمن ونيوی او يو سړی يې اميرالحجاج وټاکی او د ډېر پوځ سره يې مکې ته ولېږی. کله چې مزدلفې ته نژدې د بطن نخله ، بستان ابن عامر ته ورسېدی، خبرسو چې ابو اسحاق بن هارون الرشيد د امير الحجاج په توګه د ډېر پوځ سره راغلی دی. نو چې د هغه سره يې د مخا مخ کېدو وس په ځان کي ونه ليدی په همدغه بستان ابن عامرکي تم سو. دغه مهال د حاجيانو او سو داګرو يوه قافله هلته ورسېده چې دکعبې شريفې پوښ او عطرونه ورسره وه. د دغه سړي پوځيانو پوښ، عطرونه او د سوداګرو شته ټوله لوټ کړه او حاجيان او سوداګر په ډېره بده ورځ مکې ته ورسېدل. د دې خبر په اورېدو سره جلودي د ابو اسحاق په اجازه د دغه سړي پرلښکرو ور ودانګل، ډېر يې ووژل او ډېر يې اسيران کړه او دکعبې پوښ او هغه شته يې چې د دغه سړي نفرو بلي خواته نه وه وړي بيرته ځني واخيستل. دغه اسيران يې لس لس دُرې ووهل او خوشي يې کړه. چې بيايي د يمن د لاري په اوږدوکي فقرکاوه او پای له لوږې اوکالو نه درلودلو له امله مړه سول. وايې کله چې جلودې محمد نومی د مامون حضورته بېوی، نو يې په مکه کي يزيد بن محمد بن حنظله المخزومي خپل نايب ټاکلي ووکوم چې بيا په 202س.کال کي ابراهيم بن موسٰی کاظم مکه په زور ونيول او يزيد يې وواژه. په 251س کال کي: د دغه کال په لومړۍ خور کي اسماعيل سفاك بن يوسف علوي په مکه معظمه کي پاڅېدی، د مکې والي جعفر بن فضل بن موسٰی وتښتېدی. اسماعيل بې خرته وژل او لوټول وکړل، دکعبې شريفي پوښ، دکعبې د زيرمتون سره او سپين زر او عطرونه او د مکې د خلکو نژدې دوه لکه ديناره، د ابو جعفرکور او د خليفه د اميرانوکورونه يې ټول لوټ کړل او د مکې يو څه برخه يې وسوځل. بيا يې پنځوس ورځي وروسته پرمدينه منوره شوا خون ور وړ. او بيا دوهم ځل مکې ته ورغی. دا ځل يې مکه داسي محاصره کړه چې ډېر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجيان له لوږي او تندي مړه سول او دونه ګراني سوه چې ډوډۍ، اوبه او غوښې په ډېره لوړه بيه هم په مشکل پيداکېدې. بيا تر ( 57 ) ورځې وروسته، جدې ته وخوځېد، هلته يې پر خلکو خواړه بند کړل، د سوداګرو مالونه يې لوټ کړل او په بېړيوکي چې هر څونه مالونه وه ټوله يې چورکړل، بيا د حج په مهال بېرته مکې ته ورغي. له دې پېښو چې المعتز عباسي خليفه خبر سو، نو يې محمد بن احمد بن عيسیٰ چې " کعب البقر " يې ورته ويل او عيسیٰ بن محمد المخزومي يې د يوه غښتلي لښکر سره، مکې ته وليږل، هغو د اسماعيل سره سخته جګړه وکړه، چې له دې امله يوولس سوه حاجيان شهيدان سول او پا ته وتښتېدل. په دغه کال پر عرفات باندي د درېدو لپاره نه دورځي چا ته موقع په لاس ورغله نه د شپې. ( تاريخ طبري او شفاء الغرام ) او ابن خلدون زياتوي چې اسماعيل تردې وروسته بياجدې ته ولاړی او بيا يې هغه لوټ کړه. او پای تر پاڅېدو يوکال وروسته دکوي په ناروغي مړسو. څنګه چې اسماعيل کوم اولاد نه درلود، د هغه پرځای محمد اخيضر کښېنستی. هغه پريمامه بريد وکړ او د توري په زور پرواکمن سو. د ده تر مړيني وروسته د يمامه واکمني د دوی په کورنۍ کي پاته سوه، ترڅو چې قُرامطه پرغالب سول. په 256 س. کي: په دغه کال د خليفه المهتدي په پېرکي علي بن الحسن هاشمي د مکې والي وو. هغه د لومړي ځل لپاره د مسجد الحرام په ناسته کي ښځې اونارينه سره بېل کړل، په دې ډول چې د مسجد الحرام په ستونونو پوري يې رسۍ وتړلې، چې يوې خواته به يې ښځې اوبلې خواته به يې نارينه ناست وه . په 265 س. کال کي: د ابو عيسیٰ محمد بن يحيیٰ المخزومي په نامه يو سړی د مکې والي وو. ځيني وايي چې دغه والي خليفه معتمد عباسي ټاکلی وو، خوځيني وايي چې فضل بن عباس ټاکلی وو. په هرصورت معتمد د هغه په زور ليري کولوته اړسو. نو يې ابو المغيره بن عيسیٰ المخزومي ته دا دنده وسپارل. هغه د ابو عيسیٰ سره جنګ وکړ او ويې واژه او خپله د مکې والي سو. د ابو المغيره په هکله دا هم وايي چې د معتمد د ورور موفق لخوا،کوم چې بيا د معتمد په ژوندوني مړسو،د مکې د والي په توګه ټاکل سوی وو. دغه راز تاريخونه دا هم وايي چې هغه په 265 س. کال کي د زنګ د واکمن علي بن احمد لخوا ټاکل سوی وو. لکه چې ابن جرير هم وايي چې په 265س.کي ابو المغيره د هغو زنګيانو سره چې د ده سره ملګري وه، په زوره په مکه ننوتی. علي بن احمد ته يې " صاحب الزنج " ويل ځکه چې د بصرې زنګباريان د هغه ملاتړي وه. هغه په کال 254س. کي پورته سو،کار يې جوړ سو، ترقي يې وکړه، او د خليفه المهتدي لښکروته يې پرله پسې ماتيورکړې اوترڅوارلسوکالو وروسته يې راوپرځاوه. علامه فاسي (رح) وايي چې دغه د زنګ واکمن علوي نه وو،خو هغه خپل ځان علوي باله او د خدای په مځکه کي يې ډېره وراني وکړه. په 266 س. کال کي: د دغه کال په لومړۍ خور کي ابو الساج نومي د عمرو بن ليث صفار يو قوماندان چې د اهواز او کوفې حکمران وو او د عمرو د لښکرځي څخه بغداد ته تي، په جندي شاپورکي مړسو او د هغه زوی محمد د عمرو لخوا د حرمينو او د مکې د لاري والي سو.کله چې محمد مکې ته ولاړی ابو المغيره د ترويې په ورځ جنګ ورسره وکړ. خو محمد هغه تېښتي ته اړ ايستی او د هغه شته يې حلال وګرځول. په267س. کال کي : په دغه کال کي د ډېري ګرمۍ له امله، ډېر خلك د حج په لارکي بېرته وګرځېدل او ډېر بيا حج ته ولاړل. خو ډېر يې په لارکي مړه سول. دغه راز په همدغه کال کي د احمد بن طولون او عمرو بن ليث صفار د عاملانو ( چارواکو ) تر منځ د دې خبري پر سر شخړه رامنځته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه چې په مسجد الحرام کې د منبرپه ښي لوري کې دي کوم يو خپل رپۍ ( بيرغ ) ودروي . هريوه دعوه کول چې ولايت د هغه د مشردی. پای توري وايستل سوې او ډېرخلك له جوماته ووتل . د مکې د والي هارون بن محمد نفرو چې زنګيان وه د عمرو بن ليث صفار د عامل لوری ونيو او هغه پرکوم ځای چې يې غوښتل هلته خپل رپۍ ودراوه . هارون خطبه لنډه کړه او خلك سلامت پاته سول. په 268س. کال کې په دغه کال بېرته ابوالمغيره مکې ته ولاړی. د مکې والي هارون بن محمد هاشمي د هغه مقابلې ته تياري ونيول او د دوو زرو تنو په شا وخواکې عسکر يې غونډکړل.خو ابو المغيره د " مشاش " د اوبو چينه کوره کړه او بيا جدې ته ولاړی. هلته يې د خلکو خواړه لوټ کړل اوکورونه يې ور وسوځول، چې له دې امله په مکه کې ډوډۍ ډېره ګرانه سوه. په دغه کال هارون په خلکو حج وکړ او ابن ابو الساج د پېښو د مخنيوي او د لارو د ساتنې کار پرغاړه اخستی وو. په 269س.کال کې:

احمد د طولون زوی چې په خټه " طغز ترك " وو په 220س. کې زېږېدلی وو. کله چې د معتز عباسي خليفه لخوا د مصر د ادارې چارې د ترکانو سرغنه " باکباك، يا بايکباك " ته وسپارل سوې، هغه احمد بن طولون په مصرکې د خپل نايب په توګه وټاکی. ابن طولون د خپل لياقت او ښو اجراآتو له امله ترقي وکړه او د يوه خپلواك واکمن غوندي يې مصر اداره کاوه. خو وروسته د معتمد عباسي ورور، موفق ور سره وران سو او پرهغه باندي يې پر منبر باندي د لعنت ويلو حکم ورکړ. دغه حکم يې مکې شريفي ته هم ولېږی، څو د حج په موسم کې پر ابن طولون لعنت وويل سي. د 269س.کال د لوی اختر په مياشت کې احمد بن طولون خپل دوه سرداران محمد بن سراج او غنوٰی نومی د دوو زرو پياده اوڅلورسوه اويا سپروسره مکې ته ولېږل. هغوکله چې دوې ورځې ميانی ته پاته وې، د چارشنبې په ورځ مکې معظمې ته ورسېدل. دغو سردارانو د مکې قصابانو او ځينو نورو دکاندارانو ته، دوه دوه ديناره او نورو مشرانوته يې اووه اووه ديناره ورکړه. هارون بن محمد عباسي چې دغه مهال د مکې والي وو، د مصريانو له بيري له مکې وتلی وو، او په بستان ابن عامرکې اوسېدی. موفق، جعفر د باغمردي زوی مکې ته ور واستاوه. کله چې درې ورځې د لوی اختر مياشتې ته پاته وې، د دووسوو سپرو سره مکې ته ورسېدی. هارون د يوسل و شلو سپرو، دوو سوو تورپوستو، د عمرو بن ليث د دېرشو سپرو او د عراق د دوو سوو پياده وو په ملګرتيا د هغه هرکلي ته ووتی. دې ځواکونو جعفر غښتلی کړ او تيولو د ابن طولون د نفرو سره مقابله وکړه. د خراسان ( اوسني افغانستان ) حاجيانو هم د جعفرسره کومك وکړ. پای د ابن طولون دوه سوه تنه په جګړه کې د مکې په زړه کې ووژل سول. اوپاته يې غروته وتښتېدل، پټ سول او اسان او شته يې لوټ سول. جعفر ته د غنوٰی خېمه په لاس ورغله او دوه سوه زره ديناره يې پکښې وموندل. هغه مصريانو، قصابانو او نوروته امان ورکړ او په مسجد الحرام کې يې هغه ليك چې پر ابن طولون باندي د لعنت ويلو په باب ور رسېدلی وو ولوستی. پرمصرباندي د ابن طولون او د هغه د اولادې واکمني له 213س. څخه تر292س. پوري دوام وکړ. په 271 س. کال کې: په دغه کال يوسف بن ابي الساج چې د مکې والي وو، بدر نومی" طايي " مريی چې د حاجيانو امير وو، ونيوی. نو يوې ډلې عسکرو د ابن ابي الساج سره جګړه وکړه، څو چې مريي يې خوشي کړ، او ابن ابي الساج يې بندي کړ او بغداد ته يې ولېږی. دا جګړه د مسجد الحرام د دروازو سره ونښته. په 295 س کال کې :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه کال د لوی اختر د میاشتي په دوهمه لسیزه کي د ترکانو د امیر عج بن حاج او د اجنادو په نامه د نورو حاجیانو تر منځ نښته وسوه؛ یو شمېر پکښي ووژل سول اونور حاجیان بستان بن عامر ته وتښتېدل. چې د هغې خوا په بېرته راګرځېدوکي د داسي تندي سره مخامخ سول، چې یو شمېر یې له دې امله مړه سول. وایې چې یوه سړي په خپل ورغوي کي متیازي کولې او چښلې به یې.

154ـ صفاریان، مکه اوکعبه

یعقوب بن لیث صفار چې د سیستان، یعني د افغانستان د اوسني نیمروز ولایت اړوند زرنج ته نژدې د قرنین په کلي کي زېږېدلی وو، زموږ له ملي اتلانو څخه دی. هغه چې په یوه مسګره کورنۍ کي لوی سو، په خپله هېښنده مړانه او ځوانمردي له 238س.کال څخه د خپلي مړيني ترمهاله ( په جندي شاپور کي په کال 265س. کي وفات سو ) په واك کي وو او په 254 س.کال کي رسماً د سیستان واکمن سو او بیا یې د برېښنا په څېر په پرله پسې سوبو اوسنی افغانستان، کرمان، طبرستان، د ایران ټولي شمالي سیمي او ځیني نور ځایونه ترخپلي ولکې لاندي راوستل. بیا د خلیفه معتمد عباسي د را پرزولو او د بغداد د نیولو په نیت وخوځېد ، خو د د جلې د سیند په ختیز کي په دیر العاقول نومي ځای کي یې له معتمد څخه ماته وخوړل. دغه اتل واکمن او ترهغه وروسته د هغه ورور عمرو بن لیث صفار په خورا برم، ځوانمردي، شجاعت او عدالت واك چلاوه. په سیستان کي واك ته د یعقوب تر رسېدو د مخه د حالاتو د ناسموالي له امله د جمعې لمونځ نه کېدی، خو کله چې دی هلته واك ته ورسېد، هلته یې د جمعې لمونځ له سره جاري کړ. تاریخونه د ده او د ده د ورور د واړو د ښې دینداری کیسې کوي، په بېلو بېلو ځایونو کي یې جوماتونه او رباطونه جوړ کړي او په خیر او خیرات او بخششونو ورکولو یې نوم ایستلی وو. کله چې یعقوب فارس ونیو معتمد عباسي ته یې د 257س.کال د دوهمي خور په میاشت کي ډېر سوغاتونه ولېږل چې په هغو کي پنځوس دانې د سرو او سپینو زرو بتان وه کوم چې یعقوب دکابل او کندهار د بودایانو له بت تونونو څخه تر لاسه کړي وه. یعقوب معتمد ته ولیکل چې دغه بتان دي کعبې شریفي ته ولیږي چې هلته یې ویلي کړي او پیسې یې د حاجیانو د هوساینې پر چارو ولګوي. د " تاریخ سیستان " او نورو په وینا معتمد عباسي یعقوب ته پر خراسان، طبرستان، ګرګان، فارس، کرمان، او سیند او هند باندي د واك چلولو د فرمان لېږلو سره یوځای د بغداد د شرطې ( امنیت ساتني ) مشرتوب هم هغه ته وسپاری او د دې سره سره اووه کاله د یعقوب پر نامه په حرمینو شریفینو کي خطبه ویل کېده. دغه راز کله چې عمرو د واك پر ګدۍ کښېنستی هغه ته هم د فارس، کرمان، اصفهان، ګرګان، طبرستان، سیستان، هند او سیند او ماوراء النهرد واکمنۍ فرمان ورکړه سو او د بغداد د شرطې مشري او د حرمینو د ولایت چارې ور وسپارلې سوې او د هغه نوم یې پر بیرغونو او نورو ولیکی. چې عمرو بیا په وار سره په کال 266 او 271 س. کي خپل خپلوان محمد بن ابي الساج او یوسف بن ابي الساج د ځان له لوري د مکې مکرمې والیان وټاکل او د دود سره سم به د حج په مهال د عمرو علم د مسجد الحرام د منبر سره ایښوول کېدی.

155 ـ د قُرمُطیانو فتنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې قُرامُطه وو دکعبې شريفي ډېره ستره او تارخي بې حرمتي کړېده. او دغه راز يې د خدای ج د دغه متبرك کور پر زيارت کوونکو او د مکې پراو سېدونکو ستر تاريخي ظلمونه کړي دي، ځکه نو تر پورتني سرليك لاندي په بېله او ځانګړې توګه څرګندوني کوو. په تاريخ الحضاراَ العربياَ الاسلامياَ کي وايي چې: د قرمطيانو حرکت د 261س. کال په شا وخواکي دکوفې په اطرافوکي را څرګند سو، چې حمدان قُرمُط ته منصوب دی او تر هغو په عراق، اهواز او يمن کي خپرېدی، څو چې ابو سعيد جنابي په کال 286 س. کي په بحرين کي را پاڅېدی او بدو عرب پر را غونډ سول. خو طبري د 268 س. کال د پېښوپه ترڅ کي وايي : په دغه کال ګڼه سوه چې يوه ډله د قُرمُطيانو په نامه دکوفې په شاوخوا کي را پاڅېدلې وه . د دوی دکار پيل داسي وو چې يوسړی د خوزستان څخه راغلي وو او دکوفې په يوه سيمه کي چې" نهرين " ورته وايي، مېشت سوی وو. دغه سړي زاهدي او له ډول او سينګار ( تجمل ) څخه بې زاری څرګندول، ډېرلمونځونه به يې کول او د خپل لاس له کاره يې خواړه خوړل. د دغه سړی سره چې به څوك کښېنستی د دين پرکاربه يې باعثه کاوه اود دنيا له کاره به يې بې رغبتی ته باله او ورته ويل به يې چې انسان بايد د ورځي پنځوس لمونځونه وکړي. بيا به يې ورته ويل چې د پيغمبر ص له کورنۍ څخه د يوه امام لپاره د بلني کار پر مخ بيايي يو وخت چې دغه سړی ناروغه سو، يوه سړي چې پرخپلو غويو به يې بارونه وړل او سړې سترګې يې وې ( دغه سړي ته له دې امله خلکو" کُرميته " ويل چې کرميته په نبطي ژبه د سور سترګي معناورکوي ). هغه خپل کور ته بوتی، چې بيا تر ښه کېدو وروسته هم د دغه سړي کور ته تي. دغه مهال يې د خپل مذهب څرګندونه وکړه او خلك يې د هغه منلو ته وبلل. چې د هغه ځای خلکو هم د ده خبري ومنلې. نو هرڅوك چې به د ده په دين کېدی، ده به يو دنيارځني اخيست او ويل به يې چې دا د امام لپاره اخلم. بيا يې له خپلو پيروانو څخه دوولس تنه استازي د نقيبانو په نامه وټاکل او د خپل مذهب د تبليغ او هغه ته د خلکو رابللو لپاره يې هري خواته ولېږل. کومو بزګرانو چې به د ده به خوله پنځوس لمونځونه کول دکرکيلي کار به ځني پاته وو. بالاخره دکوفې والي هغه بندي کړ. خو بيا له بنده وتښتېدی او څنګه چې د خپل ځان پر مرګ وبېرېدی شام ته ولاړی او د هغه سړي په نامه چې دی يې د ناروغۍ په مهال په کورکي او سېدی په " کرميته " ونومول سو. چې بيا دغه کرميته په " قُرمُط " واوښت . تر دې وروسته دغه مذهب هم په دغه نامه شهرت وموند. وايي چې دې مذهب په کوفه کي ډېره ترقي وکړه. او په زرګونو مسلمانان په دې فتنه مبتلا سول. وروسته د فرج بن يحيٰى بن عثمان کاشاني په نامه يوه سړي چې ځان يې د مهدي له استازو باله، په کوفه کي دقرمطي حکومت د ټينګولو هڅي وکړې خو بريالی نه سو. بيا د قرمطي مذهب يوه بل پيرو ابو سعيد حسن بن بهرام جنابي په کال286س.کي په بحرين کي د دې مذهب د خپرولو او حکومت د ټينګولوکوښښونه وکړل چې په دې کارکي بريالی سو. او په بحرين کي د هغه او د هغه د راتلونکي نسل واکمني ټينګه سوه. پای په 364س. کال کي د دغي فرقې واکمنۍ ته د اصغر بن ابو الحسن ثعلبي لخوا د پای ټکی کښېښوول سو. او اصغراو د هغه راتلونکي نسل پربحرين واکمن سو. علامه ابن کثير په خپل تاريخ کي ليکي: " دغو وګړو د هغو فاطميانو ( عبيديانو ) سره ټينګي اړيکي درلودې کوم چې د افريقا په لوېديزه برخه ( اوسني تونس )کي واکمن سوي وه. د هغو مشر ابو محمد عبيدالله مهدي بن ميمون القداح وو، چې په حقيقت کي يهودي وو، خو خپل ځان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مسلمان او د بي بي فاطمې (رض) اولاد باله اوپه دې توگه واكمنۍ ته ورسېدی". ځيني وايي څنگه چې عباسي خلفا وو دی ياغي باله نويې يهودي وگاڼه او د القادر بالله په زمانه كي يې د فقها وو او قاضيانو په لاسليك د مصر فاطميان د فاطمې اولاد نه، بلكي يهوديان وبلل. ( په دې هكله به په راتلونكو پاڼوكي په مفصله توگه خبري وسي ). په هرصورت ابن خلدون ليكي چې له دغو قرمطيانو څخه د ابو سعيد جنابي زوی ابوطاهر سليمان چې د دغه عبيدالله مهدي له تابعانو څخه وو او د هغه پرنامه يې خطبه ويل په كال312س. كي د حاجيانو پرقافلو يرغلونه وكړل، ډېر شمېر يې ووژل، ډېرېې بنديان كړل ښځې او ماشومان يې پربېتي بيابان پرېښوول. چې بيا خپل په خپله مړه سول او په نتيجه كي له عراق څخه مكې ته د حاجيانو تگ بند سو. بيا خليفه مقتدر په كال 317 س. كي منصور ديلمي د قرامطه وو ټكولوته وگوماری. هغه د ترويې په ورځ د ابوطاهرقرمطي سره سخت جنگ وكړ، خومات سو. ابوطاهر د ترويې په ورځ دونه حاجيان مړه كړل چې د حرم غولی او د زمزم څا په ډك سو. او پرهغو سربېره يې د مكې د ښار او اطرافو او د خراسان او نورو ځايونو كابو دېرش زره تنه ترتيغ تېركړل او ټول شته او اسباب يې ورڅخه لوټ كړل. هغه دكعبې شريفي پرده ( غلاف ) څيري كړ، دكعبې دروازه يې وكښل او هغه ډېر بيي شيان يې چې د مخه د اسلام مشرانو او نوروكعبې ته په سوغات وركړي وه، ټول چوركړل. وايي چې دوو قرمطيانو غوښتل چې د مېزاب رحمت ناوه وكاږي او يو يې سي. خو هغه يې پر سر ولوېده او مړه سول. د مقام ابراهيم په هكله وايي چې هغه د حرم خادمانو په غره كي پټ كړی وو او په لاس يې وَرَنه غی. خو د حجراسود په هكله ويل كيږي چې د317س.كال د لوي اخترد مياشتي پر( 14 ) د يكشنبې په مازديگر جعفر بن حلاج د ابوطاهر په حكم حجراسود له كعبې وكښل او بحرين ته يې يووړه څو ددوی دواكمنۍ په منځي ( مركز ) " هجر " نومي ښاركي عبادتځای جوړكړي؛ هغه پكښې كښېږدي اوخلك يې لمانځني ته وروبولي. خو بياڅلور ورځې كم دوه ويشت كاله وروسته چې د مكې او نورو مسلمانانو ډېرو هلوځلو،گواښونو او تلاښونو څه ځای ونه نيوی او قرمطيانوته پرله پسې باجونو وركولو څه گټه ونه كړه،كله چې د هغو مشرد خوړونكي (جذام ) په ناروغي مړسو د بحرين د هجر له ښاره د 339س.كال د لوی اختر د مياشتي پرلسمه د چارشنې په ورځ بيرته مكې ته ور وړه سوه اوپه كعبه شريفه كي په خپل هماغه پخواني ځای كي كښېښوول سوه. ابن خلدون وايي :" كله چې عبيدالله مهدي له دې پېښو خبرسو نو ابوطاهرته يې يو تهديد آمېزه ليك ولېږی چې د دې ليك په رسېدوسره قرامطه د عبيدالله له حكومت څخه واوښتل". خو علامه ابن كثير بيا وايي چې:" د عبيدالله مهدی لخوا پر ابوطاهرباندي دا ملامتيا د سياست له مخي وه."

156 ـ د قُرمطيانو تر فتنې وروسته د مكې اوكعبې حالت

د قرمطيانو د 317س. كال ترفتنې وروسته د عباسي پېر ترپايه پوري د مكې او حج په اړه ډېري پېښې سوي دي. خو څنگه چې مخكي د هغو سمو او په ترتيب غونډولو ته زياته پاملرنه نه ده سوې، ډېر شيان موږ ته په هر اړخيزه توگه نه دي څرگند. البته تركومه ځايه چې موږ ته څرگند سوي، په دغه دوره كي كه ځيني كلونه د حج مراسم په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن و امان تېر سوي او ځينو واكمنو كعبې ته پوښونه او سوغاتونه وړي او ځينو هلته عدل و انصاف او امن ټينگ كړى خو زياتره كلونه مكه او په هغې كي د خداى كور، د حج مراسم او حاجيان او نور مسلمانان د ډول ډول ناخوالو، بدامنيو، ژوبلي، وژني او ظلمونو او تېريو ښكارسوي؛ لكه چې ډېركلونه د لارو د نه امنيت له امله ډېر مسلمانان د حج د فريضې له اداينې پاته سوي، ځيني كلونه پرلارو غلو، ظالمو واكمنو او داړه مارانو شكولي، ځيني كلونه په مكه كي د حج د مناسكو د ترسره كېدو څخه بې برخي سوي؛ بلكي زياتره وژل سوي او ژوبل سوي او شته يې ځني اخيستل سوي دي. چې دا حالت په مستقيمه او غير مستقيمه توگه د قرمطيانو، عباسي، يمني او نورو واكمنانو او د ځينو مذهبي باطلو ډلو ټپلو د حرص او ځان غوښتنو او شخصي، فرقوي، سياسي اغراضوله امله د مخالفتونو، شخړو اوجنگ جگړو يېبره او زېږنده وو. لكه چې كله به د يوه واكمن عمالو مكه په زور نيولې وه، كله به د بل. كله به د يوه پرنامه خطبه ويل كېده،كله به د بل. په دې سبب په دغه دوره كي د مكې معظمې هغه پخوانى شهرت له منځه ولاړى او د هغې اصلي اوسېدونكي ( قريش ) د حالاتو د ناسمتيا او پرله پسې فتنو او ورانيو له امله په مكه، ياله هغې څخه بهر په نورو ملكونو كي په بې وزلي او وركنومي كي پټ او گوښه اوسېدل. نوځنگه چې دلته د دغسي ناخوالو له يادولو څخه بېله دي چې د گران لوستونكي د سردردۍ او زړه بداوۍ سبب سي، بل څه نه متصوركېده، ځكه مو د هغو له ذكره صرف نظر وكړ. البته په دغه دوره كي ځيني ښې او د يادولو وړ پېښې په لاندي ډول څرگنديږي : په كال 366س. كي : په دغه كال كي د ناصرالدوله (1) ابي محمد الحسن بن عبد الله بن حمدان لور جميلې داسي حج وكى چې د ښو چارو په تر سره كېدو او سم ترتيب او تنظيم كي د مثال په ډول يادېږي. دې بختوري ښځې څلور سوه كجا وې د حج پر لاري رواني كړي وې چې ټولي په يوه رنگ وې او څوك نه پوهېدل چې دا په كومه يوه كي ناسته ده. هغې د حرمينو مجا ورينو ته ښې جامې او ډېر شته وركړه او كله چې يې پركعبه سترگي ولگېدې لس زره درهمه يې پر وشيندل. وايې چې د دې په قافله كي ډېر او ښان وه چې ډېري سپين سري ښځې او د لاري په اوږدوكي نور نارينه پردغه اوښانو د حج په سفر ورسره رهي سول. هغې ډېر شته د حج پر لاري او په حرمينو كي هم ولگول. په 367 س. كال كي : په دغه كال كي د مصراو افريقې واكمن العزيزبالله علوي مكې معظمې ته تللي وو. هلته ـــــ---(1) ناصرالدوله د سيف الدوله ورور وو او دوى دواړو د متقي عباسي په وختوكي زيات واك درلود ،سيف الدوله د متقي اميرالامرا وو او ناصرالدوله د موصل واكمن وو.او دغه جميله د الطائع عباسي په وختوكي حج ته تللې وه. غله ورته ورغلل او ورته ويې ويل چې: موږ به پنځوس زره درهمه دركړو ته د حج د چارو او حاجيانو واك اختيار موږ ته راكړه، بيا څه چې موږكوو ته كار مه رالره. هغه ورته وويل ښه دى تاسي ټول سره راغونډ سئ، څود دغي معاملې ترون د ټولو په مخكي ترسره سي.كله چې دوى ټول څه د پاسه دېرش تنه سره راغونډ سول. العزيز ورته وويل:كوم بل يو مو پا ته دىكه نه ؟ هغو ورته وويل چې نه بل څوك مو نه دى پا ته. بيا عزيز ټول ونيول او لاسونه يې ور پرې كړل. په 397 س. كال كي: په دغه كال كي كه څه هم په ثعلبه كي د ابن جراح د مزاحمت له امله د عراق خلكو حج ونه كړ، خو د مصر د حاجيانو سره د مصر واكمن الحاكم د كعبې پوښ او د حرمينو د اوسېدونكو لپاره مال او پيسې ورلېږلي وې. په 342 س. كال كي: په دغه كال هم په لار كي د بې امنيتى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امله د عراق خلکو حج ونه کړ، خو له مصر څخه د حج د کاروان سره مکې ته د کعبې پوښ، د خيرات لپاره مالونه او د مکې د امير لپاره سوغاتونه ور ورسېدل. په 455 س. کال کې: په دغه کال د يمن واکمن علي بن محمد الصليحي حج ته ولاړی، د مکې واك يې تر لاسه کړ، ښه چاري يې تر سره کړې، د خلکو سره يې احسانونه وکړل، عدل يې ټينګ کړ او مفسدين يې وټکول. په دغه کال حاجيانو داسي په امن وامان حج وکړ چې د مخه هيڅا نه وو کړی. د الصليحي د سياست او هيبت له امله حاجيانو شپه او ورځ په فارغه زړه عمرې کولې او شته او نور سامانونه يې خوندي وه. چې له دې امله ده ته د خلکو خولې په مننه او دعا وو خلاصي سوې. په 470 س. کال کې: په دغه کال عباسي خليفه المقتدي له بغداد څخه يو منبر مکې ته ورولېږی، څو هلته په مسجد الحرام کي ددغه خليفه په نامه دخطبې ويلو په وخت کي کار ورځني واخلي. کله چې منبر وررسېدی دعراقي او مصري عسکرو تر منځ فتنه رامنځ ته سوه، شرايط بدل سول، خطبه دمصر دواکمن په نامه وويل سوه، او هغه منبر يې مات کړ او ويې سوځاوه. په 621 س. کال کي: له دغه کال څخه پر له پسي څلور کاله خلکو په ډېره هوسايي او امن و امان کي حج وکړ. چې هم د شام لاري په امان وې او هم په حرمينوکي امنيت وو. او سبب يې دا وو چې د مدينې منوري امير د شام د واکمن عيسیٰ له پلويانو څخه وو، چې هره شپه به يې د شام پر حاجيانو باندي د هغو د امنيت د ساتلو لپاره پيرې درولي وې. او په مکه معظمه کي له دې سببه امنيت وو، چې په دغوکلونوکي هغه د مصر د ايوبي واکمن الکامل ترواك لاندي راغلې وه. نو په دې سبب د مفسدينو لاسونه لنډ او حاجيانو ته دکعبې ننوتل اسانه سول. ځکه چې د حج په مهال ترپايه شپه او ورځ د هغې دروازه د حاجيانو پرمخ پرانيستې وه. وايي چې کامل دکعبې خادمان ( بني شيبه ) د يو مقدار پيسوپه ورکولو، په دې راضي کړل چې له حاجيانو څخه کعبې ته پرننوتلو باندي څه وانه خلي او د هغې دروازه ونه تړي. دوی به دکعبې پرننوتلو له حاجيانو پيسې اخيستې، چې په دې ډول به خلکو ته ډېر تکليف رسېدی. هغو به دکعبې پردروازه داسي ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه، چې ځيني به د ځينو پر اوږو سپاره وه، نو به يو پربل سره لوېدل، چې کله کله به ځيني مړه سول او د ځينو به هډونه مات سول او ځيني به ټپي سول. په 655س. کال کي : په دغه کال ېبله د حجاز د خلکو د نورو سيمو خلکو حج ونه کړ، ځکه چې په دغه کال چنګېزيانو پر بغداد يرغل ور وړی وو. په کال 656 س. کي يې د خليفه په وژلو سره، هلته اسلامي واکمني پای ته ورسول او د بغداد د عامي وژني او لوټ او ورانۍ تاريخي پېښه يې رامنځته کړه. علامه فاسي (رح) وايي: په دې عامه وژنه کي مغولو اتلس لکه وګړي ووژل. چې تردې وروسته له عراق څخه مکې ته د حاجيانو تګ د دې پېړۍ په پاته کلونوکي ېبخي لږ سو او نور د حج په مناسکو او مشاعروکي د عراقيانو مشري ګردسره پای ته ورسېده.

157 ـ د اسلامي دولت سره وېشل او پرمکه اوکعبه باندي د هغه اغېزې

اسلامي دولت د څلورو خلفا وو په وختوکي متحد او پياوړی وو. خو لکه مخکي چې مو وويل دغه دولت د حضرت عثمان  ترشهادت وروسته د حضرت علي په پېرکي د کورنيو شخړو اوجنګ جګړو او تفرقو ښکارسو. خو بياهم يو واقعاًً خالص، سپېڅلی او سوچه اسلامي دولت وو. اما اختلافات د هماغه د رسول  د وفات له مهاله لږ يا ډېر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرګند سول او له همدې امله د بني اميه وو په دوره کې د تشيع ډلې ربړه په اسلام کې په ښه څرګندتيا رامنځته سوه. چې تفصيل يې داسې دی: کله چې رسول ﷺ وفات سو،د هغه دکورنۍ غړو ( اهل بيتو ) خپل ځانونه يوازې د اسلام د خلافت مستحق بلل او نور قريش يې د دې وړ او مستحق نه ګڼل. خو لکه چې پوهيږو تر رسول ﷺ وروسته لومړی حضرت ابو بکر، بيا حضرت عمر، بيا حضرت عثمان ته د اسلام د خلافت واګې وسپارل سوې، او بيا حضرت علي د اسلام خليفه سو. که څه هم په دې هکله اختلافات د رسول ﷺ تر وفات وروسته را ټوکېدلي وه او په تاريخونوکې په دې باب مفصلې خبرې سوې دي، خو عملي شخړې او جګړې پرحضرت عثمان باندې د تورونو لګولو او د هغه ترشهادت وروسته، رامنځته سوې. په دې هکله هغه څه چې د مکې اوکعبې معظمې په باب پېښ سوي، د دې کتاب په مخکنيو پاڼوکې خبرې پرسوې دي. د دې منازعو يوه لويه پايله دا سوه چې د بني اميه وو څخه خلافت د ابو مسلم خراساني په مټ بني عباسوته ولېږدول سو. خو د دې دولت په رامنځته کېدوسره د تشيع ربړې نورهم زور واخيست، اسلامي دولت هم عملاً سره ووېشل سو. او د ملوك الطوايفۍ بڼه يې خپله کړه. لکه چې د عباسي واکمنۍ ترڅنګ په اندلس کې د عبد الرحمان اموي په مشری يو بل اسلامي دولت هم جوړ سو او وروسته بيا په نورو اسلامي سيموکې يو په بل پسې نور اسلامي دولتونه هم رامنځته سول. دا خو د اسلامي تاريخ پېښې دي چې بشپړ او مفصل څېړل يې د اسلام د تاريخ کار دی. خو موږ دلته هغه څه څېړو چې په دغه مهال او يا د دغو کشمکشونو له امله مکې مکرمې ته ور پېښ سوي دي. په عمومي توګه د دغو حوادثو مطالعه موږ دې پايلې ته رسوي چې کله له مدينې منورې څخه د خلافت مرکز انتقال سو او دا حوادث راوټوکېدل بيا مدينې او مکې ته هماغه د رسول ﷺ د وختو پخوانی برم ورپاته نه سو او د دغه دوو مقدسو ښارونو اوسېدونکو د لاښو ورځو پرځای ترډېره مهاله بدې ورځې ليدلي دي. په تېره د حج په موسم کې کعبې دغه د خدای ﷻ سترکور او د هغه زيارت کوونکو هم ډېرې نادودې ليدلي دي. چې البته په دې هکله موږ په اموي دوره کې او په هغې کې د هغو د مخالفينو لخوا د مکې اوکعبې په اړه پېښې مخکې څېړلي دي. دغه راز مو د عباسيانو په دوره کې اود هغو د مخالفينو لخوا د مکې په اړه هم ښې او بدې پېښې تر يوې اندازې وڅېړلې. اوس به دا وڅېړو چې په عباسي دوره کې پر مکه معظمه باندې د دوی واك څنګه او ترکله وو ؟ البته تردې څېړلو وروسته به بيا د ځينو نورو رامنځته سوو اسلامي دولتونو ښه او بد د مکې اوکعبې شريفې په هکله وڅېړو ان شاء الله.

158 ـ پرمکه مکرمه با ندې د عباسيانو د واك څرنګوالی

ترامويانو وروسته له لويه سره عباسيانو پرمکه مکرمه باندې واك چلاوه. اوخپل واليان به يې چې زياتره به عباسيان وه هلته ټاکل. خوکله کله به ځينو علويانو اونورو مکه په زور ونيول او بيا به يا د جنګ جګړو يا څه نورو شرايطو د رامنځته کېدو په نتيجه کې د عباسيانو ترواك لاندې راغله. لکه چې په دې هکله مخکې څه څرګندوني هم سوې دي. کله کله به پخپله عباسيانو هلته داسې خلك د واليانو په توګه ټاکل چې له اصله به عباسيان نه وه. په 301س. کال کې د مقتدر عباسي په وختو کې محمد بن سليمان په مکه کې د عباسي خلافت له اطاعته سر وغړاوه او د هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرضد یې د حج په موسم کې خطبه وویل او په دې ډول یې هلته د بني سلیمانو امارت ټینګ کړ. بیا د قرمطیانو فتنه او پرمکه معظمه باندې د هغو چپاوونه وه. بیا په 358س. کال کې د المغرب د عبیدیانو د کاله المعز لدین الله د هغه د خادم قائد جوهرکاتب صقلي په مټ مصر ونیوی. په دې ترځ کې لومړني شریف جعفر بن محمد بن الحسن بن محمد بن موسی علوي مکه په زور ونیول اوهلته یې د المعز لدین الله په نامه خطبه وویل. په سمط النجوم العوالي کې وایي چې د معز په وختوکې له بغداد څخه ترحلب پورې او په نورو ټولو ختیزو ولایتونوکې خطبه د مطیع عباسي پرنامه ویل کېده اوله حلب څخه ترالمغرب پورې د حرمینو په شمول خطبه د المعز په نامه ویل کېده. خو په وروسته کې چې د مکې مکرمې او نورو ځایونو پرسرد عباسیانو او عبیدیانو رقابت توند سو داسې شرایط راغلل چې په مکه مکرمه کې کله د عباسیانو اوکله د عبیدیانو پرنامه خطبه ویل کېده. داسې ښکاري چې په عمومي توګه عباسیانو پرمکه او مدینه باندې د هغو د خلافت له مرکز څخه د لیرې والي اوڅه نورو عواملو له امله بشپړ واك نه درلود. اوکه به والي هم دوی ټاکلي وو، یوازې خطبه به د دوی پرنامه ویل کېده او نور واك یې نه وو.

159 ـ په مکه مکرمه کې د بني سلیمانو واکمني

لکه چې مخکې مو وویل له لویه سره عباسیانو پرمکه باندې واك چلاوه. خوکله کله به ځینو نورو علویانو په زور ځنې ونیول. خو زیا تره به دا نیول د څه مهال لپاره وه. اوبیا به بیرته مکه د عباسیانو ترواك لاندې راغله، لکه چې لومړی په کال 145س. کې محمد بن الحسن بن معاویه یا حسن بن معاو یه مکه د محمد المهدي ( النفس الزکیه ) په نمایندګي په زور ونیول. بیا په کال 169س. کې حسین بن علي په زور ونیول. بیا په کال 199س. کې حسین افطس په زور ونیول. بیا په کال 202س. کې ابراهیم بن موسی الکاظم بن جعفر په زور ونیول. بیا په کال 251س. کې اسماعیل سفاك په زور ونیول. تردې وروسته په مکه کې یوازې خطبه د عباسیانو پرنامه ویل کېده. او د دوی واك به تش په نامه پرچلېدی. خو څنګه چې د مستعین او معتز له وختو څخه د عباسیانو واك نور هم مخ پر کمزوري کېدو سو او هره خوا فتنې او پاڅېدني سوې په کال 301س. کې محمد بن سلیمان نومي ګردسره په مکه کې د بني سلیمانو د واکمنۍ بنسټ کښېښووی. هغه د المقتدر عباسي له اطاعته سر وغړاوه او د حج په موسم کې یې داسې خطبه وویل: " الحمد لله الذي اعاد الحق الی نظامه، و ابرز زهرالایمان من اکمامه، وکمل دعوآ خیرالرسل باسباطه لا ببني اعمامه صلی الله علیه وعلی آله الطاهرین. وکف عنهم ببرکته اساءآ المعتدین. وجعلها کلمآ باقیآ في عقبه الی یوم الدین ". ژباړه : ټولې ستاینې لوی څښتن لره دي چې حق یې خپل نظام ته راوګرځاوه اود ایمان شګوفه یې د هغه له لستو نۍ راښکاره کړه او د خیرالرسل ( پیغمبر ) ﷺ بلنه یې د هغه په لمسیانو بشپړه کړه، نه د هغه د اکا په زامنو. او د هغه په برکت یې پردوی باندې د دښمنانو عداوت او بدې بې اغېزې کړه. او د هغه بلنه یې د تل پاته کلمې په توګه د هغه په توکم کې د قیامت تر ورځې پرېښوول. بیایې داشعرولوستی: ژباړه: موږ د توري په زور د حق لار لټوو. او هغه قوم ته چې سرکښي یې کړې او پر موږ یې ظلم کړی خپل ځواك ور ښیو. دغو به له عرا ق څخه پر موږ باندې هره بلا را نازلول. څنګه چې د دغه محمد نومي مذهب زیدیه وو، کوم چې د امامیه مذهب یوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګه ده، نوخپل لقب يې " زيدي " ايښې وو. د محمد بن سليمان په وختوکې لا د عراق حاجيان مکې ته تلل خو په 312س. کې ابوطاهرقُرمُطي د هغو پرقافلو يرغلونه وکړل چې په نتيجه کې له عراق څخه تر317س. پورې مکې ته د حاجيانو تلل بند سول. او په 317س. کې چې له عراق څخه مکې ته حاجيان ورغلل، بيا هلته قُرمُطيانو ستر، تاريخي لوټ، وژل، او وراني او دکعبې بې حرمتي وکړه. لکه چې د دې پېښو په هکله مخکې هم موږ د دې کتاب په (219) مخ کې د قرمطيانو د فتنې ترسرليك لاندې خبرې کړې دي. بيا په 327س.کې قرمطيانو د عراق حاجيان مکې ته د حجې د اخيستلو په مقابل پرېښوول او په دغه کال په مکه کې خطبه د الراضي عباسي په نامه وويل سوه. بيا په 329س. کې په مکه کې خطبه د المتقي عباسي په نامه وويل سوه. بيا په 334س. کې خطبه د المطيع عباسي په نامه وويل سوه. بيا په 342 س.کې د عراق او مصرحاجيان مکې ته ورغلل. خو د دې پرسر چې خطبه د عراق د واکمن احمد بن بو يه پر نامه وويل سي که د مصرد واکمن ابن الاخشيد پر نامه ؟ د هغو ترمنځ جنګ وسو. چې پای مصريان مات سول او خطبه د ابن بويه پرنامه وويل سوه . احمد بن بويه د ديلم وو، چې د قزوين د سمندر په جنوب کې اوسېدی او له اهواز څخه يې بغداد ته لښکرې وروستې. خليفه مستکفي يې هرکلی وکړاو د معز الدوله لقب يې ورکړ او د هغه دوو ورونو ته يې د عضد الدوله او رکن الدوله لقبونه ورکړه. محمد بن طغج الاخشيد د متقي عباسي لخوا په 331س. کې د حرمينو، مصر او شام والي وټاکل سو او ترهغه وروسته يې د ده زامنو ابو القاسم اونجور او ابو الحسن علي ته هم دغه منصب سپارلی وو. چې د طغج الاخشيدي خادم،کافور الاخشيدي د هغه کفالت کاوه. بيا په کال348س. کې د بغداد او مصرحاجيان مکې ته ولاړه. د عراقي حاجيانو امير محمد بن عبيد الله علوي وو. هغه د مصر د حاجيانو امير تېر ايستی او ورته ويې ويل چې دواړه به د خليفه پرنامه د خطبې پر ويلو اتفاق وکړو او نه به د ابن بويه پرنامه خطبه وايو، نه د ابن اخشيد پرنامه.کله چې د مصر امير ور سره ومنل، د عراقيانو امير منبرته ورغی او امر يې وکړ چې د معز الدوله بن بويه پرنامه دې خطبه وويل سي. چې بيا کافور الاخشيدي له دې امله پرخپل ټاکلي امير په قهر سو او ويې واژه. په 356س. کې د عراق د حج قافله بيا مکې ته ورغله. خو د مصريانو د حج قافله بنو سليمو لوټ کړه او د هغو امير يې وواژه. بيا په 357س. کال کې د عراق حاجيان مکې ته ورغلل او په مکه کې د بختيا ر بن معزالدوله پرنامه خطبه وويل سوه. خو په بغدادکې مطيع عباسي خليفه وو. بيا څنګه چې سابور نومي د ابوطاهر قُرمُطي زوی خپل اکا احمد قُرمُطي وواژه، د ابوطاهر او احمد د اولادې ترمنځ شخړې پېښې سوې، چې مطيع عباسي د هغو ترمنځ سوله وکړه او د احمد زوی حسن يا ابو الحسن يې د هغه ځای امير وټاکی. له دې امله د حج په موسم کې د مطيع پرنامه او ترحج وروسته د حسن يا ابو الحسن قُرمُطي پر نامه خطبه ويل کېده. بيا په کال 360س. کې حسن يا ابو الحسن قُرمُطي د مصر د عبيديانو له اطاعته بېخي ووتی او د مطيع عباسي پرنامه يې خطبه وويل. چې له دې امله مطيع د خوښۍ د ځرګندولو په توګه تور بيرغونه ور ولېږل. دغه حسن قُرمُطي بيا دمشق ونيوی، په هغه ځای کې يې د عبيديانو والي جعفر بن فلاح وواژه او هلته يې هم د مطيع پرنامه خطبه جاري کړه. بيا ابو الحسن يا حسن قُرمُطي په مصرکې مړسو. کله چې ابو الحسن مړسو د مکې د ولايت واك بېرته بنو سليمانو ته ورسېدی او د محمد بن سليمان لمسی، لومړی شريف جعفربن حسن بن محمد بن سليمان د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې واکمن سو. چې د معز عبيدي پرنامه يې خطبه وويل، او هغه هم رسماً د مکې والي وټاکی. بيا جعفر مړ سو او د هغه زوی عيسٰی بن جعفرد مکې والي سو. او د ده د مړيني ترکال 384س. پوري يې ولايت دوام وکړ. او څنګه چې د مصر معز عبيدي په 365س. کي مړسو، دغه عيسٰی نومي د معز د زوی العزيز عبيدي پرنامه د خطبې ويل بندکړه. ځکه نو د عزيز لښکرو مکه محاصره کړه اود مکې پرخلکو يې ډېره تنګسه راوسته. چې پای د حرمينو اوسېدونکو له مجبوريته د هغه اطاعت وکړ. بيا په 384س. کي د عيسٰی تر مړيني وروسته د هغه ورور ابو الفتوح حسن بن جعفر د مکې والي سو چې دغه ابو الفتوح په کال 390س. کي د الحاکم عبيدي په امر مدينه منوره هم له بني المهنا وو څخه ونيول. خو بيا په کال402س.کي الحاکم عبيدي ته ياغي سو او هغه د ده د اکازوی ابو الطيب د مکې والي وټاکی. او بيا بيرته ابو الفتوح او الحاکم سره جوړسول او د ابو الفتوح شان او شوکت ورځ په ورځ زيا تېدی او واکمني يې په مکه مکرمه کي ټينګېدل. بيا په کال 427س. کي د مستنصر بن ظاهر عبيدي په نامه خطبه وويل سوه او بيا دغه د مکې او بني سليمانو سردار ابو الفتوح په کال430س. کي د خپلي واکمنۍ په څلوېښتم کال وفات سو. بيا د هغه زوی شکر د مکې واکمن سو. هغه مدينه منوره هم ونيول او ترڅو چې په کال 453س. کي مړکېدی ( 23 ) کاله د حرمينو واکمن وو. او څنګه چې هغه اولاد نه درلود د هغه د مړيني سره سم د بني سليمانو واکمني هم پر مکه مکرمه باندي پای ته ورسېده او تر هغه وروسته د هغه يو مريی واکمن سو. بيا د بنو ابي الطيب الحسينيون په نامه چې هغو ته يې هم سليمانيون ويل او د شکرله ټله څخه وه پر مکه واکمنان سول. خو تاريخونو د دوی شمېر اود واکمنۍ موده نه ده ښوولې.

160 ـ د مکې امارت او هاشميان

د مکې دغه هاشمي اميران د ابو هاشم محمد بن حسن بن محمد بن موسٰی بن عبد الله ابي الکرام بن موسٰی جون اولاده ده. د دوی او بني سليمانو ترمنځ به تل شخړي رواني وې. علامه ابن خلدون او د سمط النجوم ليکوال وايي چې:" کله شکر مړ سو د مکې امارت دغو بني هاشمو ته ورسېدی، او د دوی مشر دغه مهال ابو هاشم محمد بن جعفر بن ابو هاشم محمد بن حسن وو چې د مصر د واکمن مستنصر عبيدي پرنامه يې خطبه ويل". خو په شفاء الغرام کي وايي چې د " مرآآ " ليکوال د 455س. کال د پېښو په ترځ کي وايي چې:" په دغه کال د يمن واکمن علي بن محمد الصليحي دکعبې کومي ګېڼې چې بنو ابي الطيبو لوټ کړي وې بېرته يې ځني واخيستې. بيا يې محمد د مکې په امارت وټاکی اوخپله يمن ته ستون سو". شفاګء الغرام زياتوي چې:" دغه محمد د شکر زوم وو". او ابن خلدون د هغه صفت کوي او وايي چې:" ده پربني هاشمو په ډېره نېکنامي حکومت وکړ او د هغه د ځانګړو ښېګڼو له امله ډېر نامتو سو". خو شفاء الغرام بيا د ابن اثير د الکامل او نورو په حواله وايي چې :" هغه، د هغو ترکمنو له بيري له مکې وتښتېدی کوم چې په کال 484س. کي پرمکه مسلط سول. دغو ترکمنو د محمد څخه هغه مالونه غوښتل چې ده له کعبې څګخه اخستي وه". دغه راز ابن اثير د دغه محمد بن ابي هاشم نور ډېر بد هم وايي. ښايي دا له دې امله وي چې هغه په کال 486س. کي حجاج لوټ کړه او ډېر يې ځني ووژل. او لکه چې مخکي اشاره ورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوه په 462س. کي يې دکعبې ګېنې هم اخستي وې. علامه ابن خلدون د خليفه قائم عباسي او امير محمد د اړيکو په هکله ليکي :" کله چې سلطان الپ ارسلان سلجوقي پربغداد مسلط سو خليفه قائم له هغه څخه هيله وکړه چې هررنګه چې کېدونې وي بايد د حج لار پرانيستل سي. سلطان ډېر سامان اوشته په دې لار کي په کار واچول او د حج پرلارو له پرتو عربو څخه يې ضمانتونه واخيستل. چې په پايله کي په کال 456 س. کي د عراق د حج قافله مکې ته ورسېدل. ابو الغنايم زينبي هم د حاجيانو سره مکې ته تللی وو. او بل کال له مکې څخه بيرته ولاړی. په کال458س. کي اميرمحمد د عبيديانو له اطاعت څخه واوښتی او د عباسي خلافت اېل ( مطيع ) سو. چې له دې امله هغه څه خواړه او نورچي له مصرڅخه مکې ته راتلل بند سول. ځکه نو د مکې اوسېدونکو اميرمحمد ملامت کړ او نصيحت يې ورته وکړ. چې بيايې بيرته د عبيدي خليفه پرنامه خطبه جاري کړه. خليفه قائم اميرمحمد ته د يوه ليك په ور استولو ډېرګواښونه وکړه، خو د دې سره يې ډېر سامان او شته هم د مکې د خلکو د زړونو د په لاس راوړلو لپاره ور ولېږل. چې وروسته په کال462س.کي د حج په موسم کي اميرمحمد بيرته د عباسي خليفه پرنامه خطبه وويل او له دې امله يې مصرته د خپل معذرت په هکله ليك واستاوه. تردې وروسته په 463س. کي عباسي خليفه بيا ابو الغنايم زينبي د عراقي قافلې امير وټاکی او مکې ته يې واستاوه. دا ځل د هغه سره يو لوی پوځ هم وو. او د اميرارسلان له لوري د مکې اميرته دېرش زره ديناره او يو ډېر بيه خلعت هم لېږل سوی وو. د حج په موسم کي امير محمد د عباسي خليفه په پلوي داسي خطبه وويل :" الحمد لله الذي هدا نا اهل بيته الی الرای المصيب و عوض بنيه لبساَ الشباب بعد لبساَ المشيب و امال قلوبنا الی الطاعاَ، و متابعاَ امام الجماعاَ ". ژباړه: ټول ثنا اوصفت هغه لوی څښتن لره دی چې موږ د رسول ﷺاهل بيتو ته يې غوره او سمه لار راو ښوول. او اولادو يې د ځوانۍ جامې د زړښت ترجامو اغوستلو وروسته بدلي کړې او زموږ زړونه يې خپل طاعت ته او د جماعت امام ( عباسي خلافت ) ته راکښل. وروسته بيا دغه محمد نومي مدينه منوره هم ونيول. بيا القائم عباسي مړ سو او هغه څه چې به يې مکې ته لېږل بند سول. ځکه نو محمد بن جعفر د عباسيانو خطبه بنده کړه. بيا زينبي په بل کال ډېر شته ور وړه او اميرمحمد بيرته د عباسي خلافت خطبه جاري کړه. خو په 470س. کي چې المقتدي، ختلغ نومی ترکي، د يوه نوي ډول جوړ سوي منبر سره چې په ( 210 او211 ) مخونوکي يې يادونه وسوه مکې ته د عراقي حاجيانو د امير په توګه ور ولېږی. ( دا لومړی ترکی دی چې د حجاجو د امير په توګه مکې ته تللی وو )، اتفاقاً د شيعه وو او اهل سنتو تر منځ او عراقي او مصري پوځيانو ترمنځ ، نښتي وسوې او خطبه پر مقتدي نه، بلکي د مصر د واکمن المستنصر عبيدي پرنامه وويل سوه. بيا په کال 473س. کي د شيعه ګانو او اهل سنتو ترمنځ د فتنې او فساد اور بل سو، د مستنصر عبيدي پرنامه خطبه بنده سوه. او د المقتدي پرنامه وويل سوه. را وروسته کلونه هم ختلغ د حاجيانو د امير په توګه مکې ته تلی او ترهغه وروسته بيا خمارتګين نومی دې چاري ته وګومارل سو. ځو چې سلطان ملك شاه سلجوقي او د هغه وزير نظام الملك وفات سول. او د هغو تر وفات وروسته په مکه معظمه کي د عباسي خلفا وو پرنامه خطبه ويل هم بند سول. او څنګه چې سلجوقي واکمنان په خپلوکي په جګړو اخته وه او د مکې پر لار پرتو عربو لوټمارۍ کولې، ځکه نو له عراق څخه مکې ته د حاجيانو د قافلو تلل هم بند سول. په دې ترڅ کي د بغداد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباسي خليفه مقتدي هم وفات سو او پرځای یې زوی مستظهرد خلافت پرګدۍ کښېنستی. دغه مهال د مصر عبيدي واكمن مستنصر هم وفات سو او زوی یې مستعلي واکمن سو. چې په مکه کې یې پرنامه خطبه وویل سوه. وایې چې امير محمد بن جعفر ترڅو چې مړکېدي تر 487س. کال پوري د مکې امیر پاته سو. هغه د مکې لومړی والي وو چې ترڅه د پاسه سل کاله وروسته یې د عباسیانو پرنامه خطبه وویل. د ده د امارت موده د ابن خلدون په قول ( 33 ) کاله وه. قاسم بن محمد: د امیر محمد تر مړیني وروسته په 487 س.کال کې د هغه زوی قاسم د المقتدي عباسي د وفات او د المستظهر عباسي د خليفه کېدو په کال، د مکې والي سو. خو په همدغه کال سپهبد بن سارتګين پرمکه مسلط سو او قاسم له مکې وتښتېدی چې بيا یې پوځونه را ټول کړه او سپهبد ته یې ماته ورکړه او بيرته یې د مکې د ولایت واګي په لاس کي واخيستې. د هغه د واکمنۍ پېر په بد امنی اوپرېشانی تېرسو. خو ځينو نورو چې بنو مزيد یې ورته ويل او د " حلې" په نامه د يوه ځای واکمن وه، هلته يوڅه امن ټينګ کړ، چې له دې امله بیا هرکال د عراق حاجيان مکې ته تلل او په کال 512س. کي نظرخادم نومی د عراق د خليفه مسترشد لخوا چې په همدغه کال خليفه ټاکل سوی وو، د عراق د حاجيانو سره مکې ته واستول سو او د خليفه خلعت او مال او زر یې د مکې امير ته ورسول. قاسم د خپل امارت په دېرشم کال په 518س.کي وفات سو. فتيله يا ابو فتيله: بيا د قاسم زوی فتيله يا ابو فتيله د المسترشد عباسي د خلافت په مهال د مکې والي سو اود عباسي خليفه پرنامه یې خطبه اود هغه ښه وويل. وايي چې د ده تر مرګه د عراق د حج قافله د نظرخادم په مشری مکې ته ورتله او ده ته به یې د خليفه خلعت او نور شته او زر ور وړل. دی د خپل امارت په لسم کال په 527 س. کي وفات سو. هاشم بن فتيله: بيا د فتيله زوی هاشم د المسترشد تر وژلو دوه کاله د مخه د مکې والي سو او د مرګ ترمهاله چې 549 يا 551 س.کال دی، د هغه ځای والي وو. قاسم بن هاشم: بيا د هاشم زوی قاسم د مکې والي سو چې خطبه یې د هغه مهال د عباسي خليفه المقتفي اود هغه تر وفات وروسته د هغه د زوی المستنجد پرنومونو ويل. او مکې ته به نظرخادم د عراق د حاجيانو د امير په توګه ورتی. علامه فاسي وايي چې د قاسم ولايت تر 556س. پوري دوام وکړاو بيا د دغه کال د حج په مهال د ځينو بدو چارو له امله چې هلته کېدې د عراق د حاجيانود اميرله بيري له مکې وتښتېدی. بيا د هغه اکا عيسٰی د مکې والي سو. خو قاسم بيرته د 557س. کال په روژه کي مکه ونيول او لږ وروسته بيا ووژل سو. په سمط النجوم العوالي کي وايي چې المقتفي عباسي په کال 552س. کي دکعبې لپاره يوه ښکلې دروازه جوړه کړه او د نظرخادم په لاس یې ور ولېږل. عيسٰی بن فتيله: ترقاسم وروسته د هغه اکا عيسٰی بن فتيله د مستنجد د خلافت په مهال د مکې والي سو. د ده په دوره کي د عراقيانو د حج قافلې هرکال پرله پسې مکې ته تلې. کله چې مستنجد په 566س.کي وفات سو. د هغه زوی مستضئي خليفه سو. هغه د عراقي حاجيانو د قافلې سره طاشتګين ترکي ولېږی. عيسٰی د ده د مړيني ترکال570س. پوري پر مکه واکمن وو. خو تاريخونه وايي چې د هغه ورور مالك بن فتيله د ولايت پر سر ور سره وران سو، د 566 س.کال د عاشورا په ورځ مکې ته ننوتی او نيمه ورځ پرهغې واکمن وو. څنګه چې د هغه اود هغه د ورور د پوځونو ترمنځ نښته وسوه، مالك بيرته له مکې ووتی او بياسره جوړ سول. د دغه عيسٰی د امارت په مهال،د مصر د عبيديانو واکمنۍ ته صلاح الدين ايوبي (رح) په کال567س.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د پای ټکی کښېښووی. چې د همدغه صلاح الدين پرنامه په حرمينو کي خطبه جاري سوه. بيا په 575س. کي مستضئي عباسي وفات سو او د هغه زوی الناصر عباسي خليفه سو. او د هغه پرنامه په حرمينو کي خطبه جاري سوه. داود بن عیسٰی: تر عیسٰی وروسته د هغه زوی داود بن عیسٰی د مکې واکمن سو. خو د 571س. کال د خدای تعالی د مياشتي په نيمايي کي له امارته گوښه کړی سو. او سبب يې داوو چې د ده د امارت په وختوکي د خليفه الناصر مور حج ته تللې وه.کله چې بيرته بغداد ته ولاړه ناصرته يې د هغه ځای په هکله د داود د ناوړوکړنو حالات وويل، ځکه يې نو هغه له کاره ليري کړ. خو ابن خلدون دغه کيسه په عیسٰی پوري تړي. مکثر بن عیسٰی: بيا د هغه ورور مکثر بن عيسى په 571س. کي د مکې والي سو. د دغه کال د حج په موسم کي د ده او د عراقي حاجيانو د امير طاشتکين ترمنځ سخته جگړه وسوه چې ډېره مرگ ژوبله او وراني او لوټ پکښي وسو. او په پايله کي يې مکثر په همدغه کال له امارته گوښه سو. اميرقاسم بن مهنا: بيا مکه امير قاسم بن مهنا الحسيني د ( مدينې امير ) ته وسپارل سوه. دغه مهال لا مستضئي خليفه وو او هغه د مکې ولايت ده ته ورکړ. هغه درې ورځې د مکې پر ولايت پاته سو، خوځنگه چې يې د دغه ولايت د چارو د پرمخبېولو وړتيا په ځان کي ونه ليده،له ولايته يې استعفاوکړه. په دې ډول داود بن عیسٰی بيرته د مکې والي وټاکل سو،خو دا شرط پرکښېښوول سوچي نور به له حاجيانو څخه هيڅ ججه نه اخلي. اما دانه ده څرگنده چې دغه داود ترکومه د مکې والي وو. خو دا څرگنده ده چې مکه به کله د ده لاس اوکله د ده د ورور مکثر لاس ته لوېدلې وه. چې بيا تر پرله پسې لسوکالو يعني تر597س.کاله مکثر د مکې والي پاته سو. دا د مکې د هواشمو وروستی واکمن وو چې ابو قتاده مکه ځني ونيول او دی د نخلې په ناوه کي په کال 600س.کي وفات سو. په دې منځ کي په کال 581س.کي د صلاح الدين ايوبي ورور سيف الدين طغتگين بن ايوب د مکې والي سو. هغه په مکه کي په اذان کي د " حي على خيرالعمل " ويل منع کړه. د مکې يوه ډله وران کار چوپړيان ( مريان ) يې ووژل. د دراهمو او دينارو سکه يې د خپل ورور صلاح الدين ايوبي پرنامه ووهل او په داسي حال کي چې مکثر يې ملگری وو داود ځني وتښتېدی.

161 ـ پرمکه مکرمه باندي د بني قتاده وو واکمني

قتاداآ النابغهکوم چې ابو عزيز يې ورته ويل، د موسٰی جون له توکمه څخه دی. او لکه چې د مخه د هواشمو په هکله وويل سوه، هغه هم د دغه موسٰی جون له اولاده څخه وه. قتاده د څو نورو ملکونو د نيولو په ترڅ کي پر مکه معظمه هم بريد وکړ، هغه يې د مکثر له لاسه په 599س. کي وايستل او د خليفه ناصر عباسي پرنامه يې خطبه وويل. د ده د واکمنۍ سيمه ډېره پراخه وه. او پر مکه سربېره پر ينبوع، د يمن پرشا وخوا، پرنجد او د مدينې منورې پرځينو برخو هم د ده د واکمنۍ بيرغونه په برياليتوب رپېدل. د مکې د نيولوپاره د قتاده د تمي سبب د بني هاشمو په ناسمو چارو اخته کېدل او د هغو ظلم و زياتی وو. تاريخونه وايي چې قتاده يو جابر، وژونکی، سخت زړه او هيبتناکه او زړه ور، خو احتياط کاره سړی وو. چې خورا ډېر پوځ يې درلود او عرب ډېرځني بېرېدل. د قتاده د واکمنۍ په مهال په کال 608س.کي په منا او مکه کي يوه لويه فتنه رامنځته سوه چې ډېر عراقي حاجيان پکښي ووژل سول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر شته يې لوټ سول. په دغه کال د عراقي حاجيانو امير علاء الدين محمد بن ياقوت وو، د دمشق د حاجيانو مشر د شاروخ النجمي ورور صمصام اسماعيل وو، او د بيت المقدس د حاجيانو مشر شجاع علي بن سلار وو، او د ايوبي واکمنو دکورنۍ د يوه واکمن الملك العادل ابو بکر سيف الدين بن ايوب خور ربيعه خاتون هم د دمشق د حاجيانو په ډله کي وه. کله چې يوم النحر ( د لوی اخترلومړۍ ورځ ) سوه د جمراتو تر ويشتلو وروسته د اسماعيليه يا باطنيه ډلي يوه سړي د قتاده د اکا له زامنو څخه پر يوه سړي باندي چې ببخي قتاده ته سوی وو، په دې گومان چې دی قتاده دی، بريد وکړاو د جمرې د ويشتلوځای ته نژدې يې وواژه. اود مکې اشراف د غچ اخيستلو لپاره سره راغونډ سول، په مناکي دوو غرونوته وختل او په داسي حال کي چې د لا اله الا الله او الله اکبر نارې يې وهلې خلك يې په ډبرو او نورو وويشتل او د اخترپه ورځ او شپه او ورپسې ورځ يې لوټمار هم وکړ، چې له دواړو لوريو څخه ډېرخلك ووژل سول. بيا قتاده د عراقيانو مالونه چورکړه او ويې ويل چې تاسي خو زما د وژلو قصد کړی وو، نوزه په خدای لوړم که يو عراقی لاهم ژوندی پرېږدم. چې بيا د عراقيانو د حج امير محمد بن ياقوت، له بيري دربيعه خاتون خېمې ته پناه وروړه. ربيعې قتاده ته وويل چې: د دې مسلمانانو گناه څه ده ؟ قاتل دي هم وواژه اوهم دي دا پېښه د مسلمانانو د لوټولو لپاره پلمه کړه او په حرامه مياشت او په حرم کي دي د دویويني وبهولې؟ او ته پوهېږې چې زه څوك يم ؟ نوکه له دې کاره لاس وانه خلې زه بيا درسره پوهېږم. بيا د بيت المقدس د حاجيانو مشر ابن سلار، قتاده ته ورغی، و يې بېراوه او ورته و يې ويل چې: نور ارام کښېنه که نه خليفه به له بغداده او موږ به له شامه درباندي راسو000 نو هغه وو چې بيا قتاده شخړه بس کړه او سل زره ديناره يې وغوښتل چې دېرش زره يې د عراق د حاجيانو له اميرڅخه واخيستل. وايي چې درې ورځې پرله پسې خلك د ربيعه خاتون د خېمې پرشا وخوا ځيني ټپيان، وږي تږي او ځيني مړه پراته وه. او ژوندي يې بيا په ډېر بدحالت بغداد ته ورسېدل. بيا په کال 609س.کي خليفه ناصر عباسي قتاده ته ډېر شته او سوغاتونه ور ولېږل او د دغي پېښې په باب يې هيڅ ونه ويل، بلکي د عراقي حاجيانو امير ته يې دنده ورکړې وه چې قتاده وغولوي او ويې هڅوي چې بغداد ته ورسي. نو هغه قتاده ته وويل چې د بغداد واکمن ته داسي اطلاع ورغلې چې د مکې شرفا وو صرف د يوڅو حاجيانو شته لوټ کړي دي، بلکي خليفه اود هغه وزير ته بغداد ته بللي يې. نو هغه وو چې قتاده بغداد ته رهي سو،کله چې د عراق " المشهد الغوري " ته ورسېدی، هلته د هغه هرکلي ته د بغداد يو شمېرخلك ورغلي وه. د دغو خلکو په ډله کي يو بې وزلی سړی هم وو،چې يو زمری يې په زنځير تړلی وو اوکشاوه يې.کله چې قتاده هغه وليدی پر بدفالي يې ونيوی او ويې ويل: زما او د داسي ښار يې سره څه چې زمريان لا دغسي پکښې خوار وي. نو سمدستي بيرته حجاز ته وگرځېدی او عباسي خليفه ته يې دا شعرونه وليکل:

بلا دي ولو جارَت عليَ مريقَاَ

ولی کَفُ ضرغام اذا ما بسطتها

تظل ملوك الارض تلثم ظهرها

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَ اَترُکها تحت الرهان ثم ابتغی

وما انا الا المسك في كل بقعاً

و لو اَنني اعرٰی بها و اَجُوع

بها اشتری عزالو ری و ابیع

و في بطنها للمجد بین ر بیع

خلا صاً لها اني اذاً لو ضیع

یضوع و اما عندکم فا ضیع

ژباړه: زما هیواد ماته د ښه ژوند او هوسایی ځای دی. که څه هم پرما ظلم پکښې وسي یا لڅ یا وږی پکښې وګرځم. زه د پیاوړي زمري پنجه لرم. کومه چې په خلاصېدويې د دنیا عزت رانیسم او پلورم. د نرۍ پاچهان د دغې پنجې شا مچوي. او په دننه کي يې وچکالی ځپلوته پسرلی دی. آیا زه دغه پنجه د ژرندي تر پله لاندي کړم؟ او بیا د هغې د ژغورني هڅه وکړم؟

او که داسې وکړم، نو زه به ټيټ سړی یم. زه هرځای د مشکو غوندي خوشبويه کوم. خوستاسي په اند زه یوخواربوشکی یم.

یادونه :

دغه شعرونه ابن خلدون په بېلو لفظونو او سمط النجوم په بېلو لفظونو راوړي دي. خو موږله دواړو څخه هغه څه ولیکل چې نسبتاً درست په نظرراغلل. کله چې الناصر عباسي دا بیتونه ولوستل له قهره سره و ایشېدی او له ډېره غضبه سره سور او شین سو. او شریف قتاده ته یې ولیکل:" امابعد : فاذا نزع الشتاء جلبابه، ولبس الربیع اثوابه، قاتلناکم بجنود لا قبل لکم بها، ولنخرجنکم منها اذلی وانتم صاغرون ".ژباړه : کله چې د ژمي بو ډۍ خپل پوړنۍ لیري کړي او د پسرلي ناوې ښکلي جامې واغوندي، په داسي پوځونو به مو ووژنم چې په تاسي کي به د هغو سره د مقابلې همت نه وي اوله هغې ( مکې مکرمې ) څخه به مو په ډېره خواري وباسم. په داسي حال کي چې تاسي به ډېر کوچني سوي یاست .

قتاده د دې لیك په رسېدو سره په مدینه منوره کي خپلو د اکازامنو ته لیك واستاوه، د مرستي غوښتنه یې ځني وکړه او د شعر په ژبه یې داسي ورته ولیکل: ای زما د اکازامنو، د موسٰی، جعفراو د حسین اولادې. څنګه زموږ څخه په صبرناست یاست. ای زموږ د اکا اولادې موږ او تاسي خو د یوې ستري ونې د ښاخونو غوندي یو. نوموږ مه پرېږدی چې پوپناسو. کله چې یو وروربل وروركوم خوړونکي ځناورته پرېږدي، نولومړی یو ورورخوري بیا پردې بل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورگرځي.  په دې ډول د هغه په مرسته ډېر وکړي ورغلل. اوکله چې دغه ليك د ناصر عباسي پلويانو ترلاسه کړهغه يې څيري کړ. خوکله چې ناصر عباسي په خبر سو ډېرانعامونه ، شته او جايدادونه يې قتاده ته ورکړه او په دې ډول يې د هغه سره د جنګ جګړې مخه ونيول .

بيا قتاده د عراقي حاجيانو د امير په مشوره د بخښني لپاره د خپل زوی سره يوه ډله مخور بغداد ته ولېږل چې له ځانو سره يې کفنونه اخستي وه او توري يې په غاړو ځړولي وې .

کله چې بغداد ته ورسېدل له دې پېښې څخه د پښېمانۍ په دود يې په ژړاوو پيل وکړ، چې نور خلك هم پررا ټول سول او هغو هم بې واکه ژړاوي ورسره پيل کړې. اود دې پېښې په هکله يې معذرت وغوښتی. کله چې دا خبر ناصر ته ورسېدی، هغه هم تردې ناکرده ورتېر سو .

وايي چې قتاده لومړی په مکه شريفه کې ښې چاري ترسره کولې اود مصر د عبيدي واکمنو مفسد پلويان يې له مکې پسي واخيستل. خو وروسته يې بدوکارونو ته لاس واچاوه. له حاجيانو څخه يې بيرته د ججو اخيستل پيل کړه، ان چې هغوی يې لوټول او خطبه يې هم پرخپل نامه ويل. او ويل به يې چې ترناصر عباسي زه زيات د خلافت مستحق يم. دغه راز ده

د حرم د حنفي او شافعي مذهبونو امامان هم ووژل. د ده په پېر کې هم د جوماتونو په اذانو کې د " حی علىخيرالعمل " جمله ويل کېدل. پای خدای تعالی د خپل زوی حسن په لاس  د 617 يا 618 س. کال د لومړۍ خور په مياشت کې وواژه، چې عمر يې اويا کاله وو .

او دواکمنۍ موده يې اتلس يا نولس کاله وه.  د وژلو کيسه يې په دې ډول ده:  کله چې قتاده د يوې ستري ډلې سره له مکې څخه مدينې ته رهي سو په " وادي الفرع " نومي ځای کې يې د ناروغۍ له امله واړول. او د پوځ سره يې خپل ورور او حسن نومی خپل زوی ولېږی.کله چې لږ څه ليري سو د قتاده ورورځينو پوځيانو ته وويل چې قتاده مړسوی

دی تاسي ما د مکې اميرکړئ. کله چې حسن دا خبره واورېده يو سړی يې ور ولېږی او هغه يې په خفه وواژه، او بيا يې په حرم کې د مکې اشراف او مخور راغونډکړل، خپل اکايې په تابوت کې اېښی وو، رايې وړی او خلکو ته يې داسي وښوول، چې دا ګواکې د هغه د پلار تابوت دی. او په دې ډول يې له خلکو څخه بيعت واخيستی او بيايې خپل اکا د شپې ښخ کړ. بيا يې له ينبع څخه خپل ورور را وغوښتی او په داسي حال کې چې د خپل پلار په حال يې نه وو خبرکړی ويې واژه.کله چې بيا قتاده له مدينې منورې راغی او په دې خبرو خبرسو ويې پټېيل چې حسن ووژني. نو يې حسن را وغوښتی او بد رد يې ورته وويل او تهديد يې کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو حسن د يوه مريي او يوې مينځې په مرسته،کومو چې د قتاده خدمت به يې کاوه د خپل پلار لاسونه وتړل او په خفه يې وواژه، بيا يې د دې لپاره چې د پلار د وژلو خبر يې رسوا نه سي هغه مريی او مينځه يې هم ووژل. خو ځيني بيا وايي چې حسن خپل پلار په زهرو مړ کی .

ترقتاده وروسته د هغه زوی او وژونکی حسن نومی د مکې والي سو او د دغي کورنۍ ور پسې سړي چې وروسته وروسته ډېر سول او په شرفا وو مشهور سول او د مکې والي ته به يې هم شريف ويل تر1343س. کاله پوري (د دغي لړۍ د وروستي واکمن شريف حسين د راپرزولو ترمهاله) پر مکه واکمن وه. خو لکه څنګه چې ګران لوستونکي پوهيږي د مکې اميران تر630 س. پوري ترپوې اندازې خپلواک وه. خو وروسته به د مکې د امارت پرسرتل د دغي کونۍ د واکمنو اود مصر او يمن د واکمنو ترمنځ شخړې رواني وې. چې کله به په مکه کي د مصر د واکمنو پرنامه خطبه ويل کېده اوکله به د يمن د واکمنو پلويان هلته په واک کي وه. بيا داسي ښکاري چې د مکې پرسر د مصر او يمن د واکمنانو لګګي درګي د656 س. کال په شا وخواکي ،کله چې مغولو په بغدادکي عباسي خلافت ګردسره له منځه يووی، پای ته رسېدلي او بيا مصري واکمنو په يوازي سر تر923س.کال پوري د مکې کالخوايي کوله او د هغې واليان يې ټاکل. خو په دغه کال کي عثماني واکمن سلطان سليم خان شام، مصراو حرمين ونيول او په حرمينوکي خطبه د ده پرنامه و ويل سوه. چې وروسته په مصر او حرمينوکي عثماني واك ټينګ سو. اما پر مکه مکرمه باندي هماغه د قتاده دکورنۍ واکمنان واکمن پاته سول. ( په دې هکله دي ددې کتاب 247مخ هم وکتل سي )، چې په دې ډول مکې مکرمې په دغه اوږده پيرکي ډېري بدي ورځې ليدلي دي. او ډېري ويني ان په حرم کي، پکښې توسوي دي. د دغو اشرافو وروستی علوي شريف حسين پاشا وو چې د1326س.کال دکوچني اختر په شپږمه د ترکي واکمن لخوا وټاکل سو. خو وروسته يې د انګرېزانو په لمسه په 1334س. (1914ع.)کي ځان د حجاز پاچا اعلان کړ. بيا د1343 س. کال د لومړۍ خور په اوومه ملك عبد العزيزبن عبد الرحمان د سعودي عربستان د اوسنيو واکمنانو د سرسړىمکې  مکرمې ته ننوتی او د1344س.کال د دوهمي خور په لومړيوکي ملك حسين د حجاز له واکه لاس واخيستي، چې بيا د دغه ملك عبد العزيز لخوا خالد بن لويي د مکې حاکم سو،کوم چې د ملك عبد العزيز خپل او د هغه د پوځ له مشرانو څخه وو. بيا امير فيصل ته، چې وروسته د سعودي پاچا سو،د خپل پلار ملك عبد العزيز په نيابت د مکې، مدينې او حجازواك وسپارل سو.

162 ـ څله يې د مکې اميرته " شريف " ويل؟

کله چې د المطيع عباسي د خلافت په وروستيوکي په کال358س. کي جوهر قائد رومي صقلي، د المغرب د واکمن المعز لدين الله عبيدي مريي، د هغه لپاره مصر ونيوی او بيا مکې ته ولاړی او هغه يې هم د معز لدين الله تر ولکې لاندي راوستل. نو يې په مکه کي د شرفا وو د واکمنۍ بنسټ کښېښووی. تردغي نېټې وروسته به په مکه کي يوه نفر علوي د مکې د شريف په نامه واك چلاوه او د حج د چارو او د حاجيانو کالخوايي به يې کوله. لومړی شريف چې د افريقي اود مصرد واکمن معز لدين الله لخوا حکومت او شرافت تر لاسه کړ، جعفر بن محمد وو. دغه جعفرد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې د بني سليمانو د لړۍ څخه يوتن دی چې د حسن يا ابو الحسن قُرمُطي ترمړيني وروسته يې د مکې واك په لاس راوړ او د دغو بني سليمانو د لړۍ وروستی واکمن شکر دی، چې په کال 452س. کي وفات سوی دی. تردې ورسته د مکې شرافت هواشموته ولېږدول سو،کوم چې هغه هم علويان دي. بيا په 597س. کي شريف قتاده د مکې واکمنۍ ته ورسېد کوم چې د جعفرد ورور شريف عبد الله لمسۍ وو. پر مکه باندي د واکمنۍ دغه اصول تر1343س. کال پوري چلېده. خو په تاريخونوکي زياتره دغه لقب د لومړي ځل لپاره د قتاده د نامه سره ډېر ليدل کيږي او بيا وروسته د مکې نورو واکمنو ته استعمال سوی دی. دکتور حسين قره چانلو وايي:" د شرفا ووپه دوره کي د حج مراسم خورا پرتمين ترسره کېدل. وايي کله چې د حج مراسم پيلېده، د مکې شريف به په داسي حال کي چې سپين کالي به يې اغوستي وه اود خدای د اطاعت په دود به يې توره په غاړه کي اچولې وه، دکعبې طواف به يې کاوه. دغه مهال به د شافعي مذهبو څخه يوسړی د زمزم پرگمبته درېدی اوکله چې به اميرد طواف يو شوط ( يوه دوره ) پوره کړه، دغه سړي او شريف به خپل دواړه لاسونه پورته کړه او تکبيربه يې وايه. بيا به چې اميرخپل طواف بشپړکړنورو خلکو به طواف پيل کړ. دغه مهال به يې دکعبې پردې پورته کولې. ټولي دروازې به پرانيستي وې، دکعبې دننه به يې ډېوه بله کړې وه او حاجيانو به کوښښ کاوه چې د مرمر پرهغه سره ډېره لمونځ وکړي چې د رسول ﷺ د لمانځه ځای باله سي ) ." د دغي ډېري د رنگ، دکعبې د نس د فرش او په کعبه کي د رسول ﷺ د لمانځه په هکله د دې کتاب [ 281] او [284] مخونه وگورئ(

163 عبيديان، مکه اوکعبه

لکه چې د مخه مو يادونه وکړه د بني عباسو په وختوکي اسلامي دولت سره ووېشل سو. چې په دې لړکي په المغرب کي يو بېل دولت را منځته سو او بيا په دغه سيمه کي د عبيد الله المهدي په نامه يوه سړي چې ځان يې علوي او فاطمي باله. خپل واك ټينگ کړ، چې بيايې دغه واك اولادې ته پاته سو. او واکمنۍ يې د عبيديانو يا فاطميانو په نامه شهرت وموند. د دغي لړۍ د يوه تن معز لدين الله د واکمنۍ په مهال په کال 358س.کي د هغه مريي جوهر قائد پر مصر يرغل وکړ،دغه مهال په مصرکي د اخشيديانو وروستی واکمن کافوراخشيدي وفات سوی وو او دواکمنۍ په هکله گډوډي پکښي پېښه سوې وه، چې د دې گډوډۍ څخه په گټه اخيستنه، هغه مصر ونيوی او پای له المغرب څخه ترحلبه د حرمينو په گډون د دغه معز عبيدي پرنامه خطبه وويل سوه. او په دغو سيموکي د دغو عبيديانو واك ټينگ سو. چې په 362س. کي معز عبيدي خپله پلازمېنه مصر وټاکی. د دغو عبيديانو د نسب په هکله ډېر تاريخونه وايي چې دوی د بي بي فاطمې (رض) د اولادې څخه نه دي او ځانونه يې په درواغو فاطميان بلل. بلکي وايي چې د هغونيکه مجوسي وو، اود دوی زياتره کسان داسي زنديقان وه چې له اسلامه وتلي وه او ځينو به انبيا وو او صحابه وو ته سُکنځل کول. ان چې عبيد الله المهدي ته په باطني اوخبيث وايي. او وايي چې ده د اسلام کمزوري غوښتل. ماچي کوم تاريخونه لوستي دي، په هغوکي يوازي ابن خلدون د دې خبرو پلوي نه ده کړې او هغه دوی فاطميان بولي. حافظ ذهبي په خپل تاريخ " دول الاسلام " کي د عبيدالله المهدي د يهودي توب په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هکله وايي: حسين بن محمد بن احمد بن عبد الله القداح علوي " سلميه " نومي ځای ته ولاړی،کوم چې د ده د نیکه شته هلته په امانت ایښوول سوي وه. هلته د ده په مخ کي د ښځو خبره را منځته سوه او یوچا دیوه یهودي پښ دکونډي صفت وکړ، چې ډېره ښایسته وه. اود دې غونډي یو ښکلی زوی هم له دغه یهودي څخه ورپاته وو. نو دغه حسين علوي دغه ښځه په نکاح کړه چې بیا پرهغه ډېره ګرانه سوه. دغه راز د هغې زوی هم ډېر پرګران سو او علم او پوهه يې ور زده کړه. چې پای ستر سړی او د لوی همت څښتن ځني جوړ سو. نو څنګه چې حسين علوي زوی نه درلود دی يې په زوی ګلويني ونيوی او ويل به يې چې دی زما ميراث خور دی. له دې امله به د علويانو پلويانو او مبلغانو د دغه يهودي د زوی پرنامه ليکونه ورلېږل. او حسين هم خپل ټول شته هغه ته وسپارل او خپلو پلويانو ته يې امروکړ چې د هغه اطاعت او خدمت وکړي او د خپلو، خپلوانو څخه يې يوه ښځه هم ورپه نکاح کړه. بياکله چې حسين مړسو، دغه د يهودي زوی يې ځای ناستی سو او ځان يې عبيد الله وباله، خپل لقب يې" مهدي " غوره کړاو خپل نسب يې امام جعفرصادق او حضرت علي کرم الله وجهه ته منسوب کړ. او د علوي دعوت خپرولوته يې دوام ورکړ. په دې ترڅ کي د هغه يوه پلوي او مبلغ له المغرب څخه حال ورته ولېږی چې موږ دلته ډېري سوبې کړي دي او اوس موږ دلته ستا راتلوته سترګي پر لار يو. څنګه چې د ده دغه خبري د المکتفي عباسي په وختوکي خپرې سوې نو دی يې ور وغوښتی. خو دی اود ده زوی نزار نومی ځني وتښتېدل اود 297س. کال د لومړۍ خور په ورروستۍ لسيزه کي په داسي حال کي چې د ده ملګري ورسره وه د قيروان " رقاده " نومي ځای ته ورسېدل او په يوه مانۍ کي يې واړول او امر يې وکړچي په دغه ټوله سيمه کي دي د ده نوم په خطبه کي ياد سي. بيا يې د جمعې په ورځ خلك په زوره خپل بيعت ته وبلل. نوکه به چا د ده مذهب مانه ښه کړنه به يې ورسره کول اوکه به يې نه مانه نو بندي کاوه به يې. چې په دغه ډول يې د مړيني ترمهاله، ترکال 322س. پوري واك وچلاوه. د ده په وختوکي قُرامته وو،کومو چې له دغه المهدي سره اړيکي درلودې په مکه کي ستره فتنه رامنځته کړه. چې د دې کتاب په مخکنيو پاڼو کي خبري پر وسوې. بيايې زوی نزار د القائم با مرالله په لقب د ده د مړيني ترکال333 س. پوري په دغه ډول واکمن وو. بيا د نزار زوی اسماعيل د المنصور په لقب واکمن سو. او بيا د هغه زوی معد د المعز لدين الله په لقب واکمن سو چې پای يې مصر هم ونيوی. د مصرد نيولو سره سم حرمين شريفين هم هغه ته تسليم سول او په مکه مکرمه کي هم د ده پرنامه خطبه وويل سوه. د ده په مهال د مکې والي جعفرنومي ته د شريف لقب ورکړه سو اوهلته په اذان کي د " حي على خيرالعمل " ويل پيل سول. وايي چې دغه المعز لدين الله کعبې شريفي ته د سره ديباج يو ډېر بيه او ښکلی پوښ يا سايوان ورکړ،کوم چې په ډېرو سرو زرو، ملغلرو، او ډول ډول ياقوتو پسوللی وو او د حج اړوند آيتونه په زمروتو پر ليکلي وه. کله چې المعز مړسو د مکې والي عيسىٰ بن جعفرد ده د زوی العزيز پرنامه خطبه ونه ويل. ځکه نو د العزيز لښکرو مکه محاصره کړه او د هغې پرخلکو يې تنګسه راوسته. دغه راز د عبيدي لړۍ يوه بل واکمن الحاکم د مکې بل امير ابو الفتوح ته امر وکړچې د ابو بکر صديق او عمر فاروق بد ووايي. خو هغه دا کار ونه کړاو ورته ياغي سو. چې بيا بيرته سره جوړسول. له دې پرته د دغي لړۍ د واکمنو لخوا د مکې اوکعبې سره د ښو په هکله په کتابونوکي زما څه نه دي په سترګو سوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



164 ـ ایوبي پېر، مکه اوکعبه

د سلطان صلاح الدین ایوبي پلار نجم الدین ایوب بن شاذي روادي کرد وو. د هغه دوست بهروز د سلطان مسعود بن محمد بن ملك شاه لخوا د بغداد کوتوال وټاکل سو، او دغه راز یې هغه ته د تکریت دکلا واك اختیار هم ورکړ. نو بهروز بیا نجم الدین ایوب د تکریت حاکم وټاکی چې د خپل وفات ترمهاله د دغه ځای حاکم وو. یو وخت د موصل حاکم عمادالدین زنګي د سلطان مسعود په ملاتړ په کال 520 س.کي د خلیفه مسترشد په جنګ ورغی خو ماته یې وخوړه. نوکله چې بیرته موصل ته تی، تکریت ته ورسېدی. نجم الدین ایوب څه دلاري څوری ورته ورکړ، اود دجلې له سیند څخه د تېرېدو لپاره یې پل ورته جوړکړ. په دې منځ کې د ده کشر ورور اسدالدین شېرکوه په تکریت کې یو سړی وواژه، او ده یا ورور یې نجم الدین ایوب د هغه فدیه ورنه کړه. ځکه نو بهروز هغه له کاره ګوښه کړاو بیا یې دواړه وروڼه له تکریت څخه وایستل. وروسته دواړه وروڼه عمادالدین ته ورغلل، هغه ښه وضع ورسره وکړه او جاګیرونه یې ورکړه. کله چې زنګي په کال 532 س. کي بعلبك ونیوی، نجم الدین ایوب یې هلته خپل نایب وټاکی. کله چې په 541س. کي عمادالدین زنګي وفات سو، نود دمشق حاکم فخرالدین طغرکین پربعلبك یرغل وکړ او هغه یې کلابندکړ. پای نجم الدین ایوب په دې شرط وسله پرمځکه ورته کښېښوول چې هغه ته به په دمشق کي جاګیر ورکوي. نو هغه وو چې نجم الدین ایوب دمشق ته ورسره ولاړی. خو اسد الدین شېرکوه د عماد الدین زنګي د زوی نور الدین محمود سره پاته سو او هغه یې سپه سالار وټاکي. بالاخره دغه سلطان نور الدین محمود زنګي د دغو دوو وروڼو په کومك په 549 س. کي دمشق ونیوی. دغه مهال د مصر فاطمي واکمني مخ پرله منځه تلو وه او صلیبیانو د مصرځیني ښارونه هم نیولي وه. ان چې د قاهرې پردرباربانديي یې هم تسلط ټینګ کړی وو، او ججه یې ځني اخیستل. دغه وخت په مصرکي العاضد واکمن وو. خو د ده ټول واك د ده وزیرصالح بن زريك ځني اخستی وو. بیا شاور نومي وزیر پر العاضد مسلط سو. بیا د ضرغام په نامه یوسړی د العاضد وزیرسو. او شاور یې پسي واخیستی. نو هغه وو چې شاورشام ته وتښتېدی اوپه کال556س. کي یې نور الدین محمود زنګي ته شکایت وکړ او ورته وېې ویل چې که ته داسي پوځ راسره ولېږې چې ما واك ته ورسوي او بیا په مصرکي په خپلواکه توګه واوسي، زه به تاته د مصرد مالیو یوه درېیمه درکوم. نو هغه ووچي هغه خپل سپه سالار اسد الدین شېرکوه د پوځ سره ورسره ولېږی. شېرکوه، ضرغام وواژه او شاورېې د هغه پرځای په مصرکي وزیر وټاکی. خوکله چې هغه وزیر سو غداري یې وکړه او شېرکوه ته یې له مصرڅخه د وتلو حکم ورکړ او پرخپله ژمنه ونه درېدی. نوهغه وو چې شېرکوه هم بلبیس نومی ځای اود مصرختیزښارونه ونیول. شاور چې دا حال ولیدی له صلیبي پرنګیانو څخه یې مرسته وغوښته. بیا مصري او صلیبي دواړو لښکرو شېرکوه په بلبیس کي تردرو میاشتوکلابندکړ. دغه مهال سلطان نور الدین محمود زنګي په نورو ځایوکي صلیبیانوته ماته ورکړه.کله چې دغو مصري اوصلیبي لښکرو واورېدل چې په نورو ځایونو کي صلیبیانو ماته خوړلې ده، د شېرکوه سره یې سوله وکړه اودغه کلابندي یې بیرته پرېښوول. او شېرکوه هم بیرته شام ته ولاړی. خو د شاور څخه یې د دې غدارۍ غچ اخیستل له زړه نه وه وتلي. چې بیا یې د شاور او فرنګي سره جنګونه وکړه. آخرفرنګیانو له شاورڅخه غټې غټې ججې اخیستې او پای یې مصرکلابندکړ او څو ځایونه یې ځني ونیول؛

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري ورانۍ يې وکړې او ډېر مسلمانان يې ووژل. او په دې ترڅ کي شاورد مصر يوه ښارته داسي اور واچاوه چې تر (54) ورځو لګېدی. دغه مهال خليفه العاضد د سلطان نورالدين محمود څخه په څو وارو مرسته وغوښته او د خپلو ښځو وربښتان يې ور ولېږل او ورته ويې ليکل چې زما په داد ورسېږه او ښځې مې له پرنګيانو څخه وژغوره. نو هغه اسدالدين شېرکوه او د شېرکوه وراره صلاح الدين يوسف بن نجم الدين ايوب او نور ډېر تکړه پوځيان او لښکر مصرته ولېږل. کله چې مصر ته ورسېدل پرنګيانو مصر پرې ايښی وو. شېرکوه د العاضد لخوا ډېرښه استقبال سو، شاور ووژل سو او شېرکوه د العاضد وزير وټاکل سو. خو له بده مرغه دغه شېرکوه دوې مياشتي او پنځه ورځې وروسته د564س. کال د څلورمي خور په مياشت کي وفات سو. بيا العاضد د مصر د ټولو لويانو او مخورو په خوښه صلاح الدين ايوبي د مصر وزير وټاکی،کوم چې په مصرکي د سلطان نورالدين محمود نايب بلل کېدی. صلاح الدين ايوبي د پرنګيانو سره ترجنګونو اوښو سوبو وروسته، د 567 س. کال د حسن حسين د مياشتي له دوهمي جمعې څخه د العاضد پرنامه خطبه بنده کړه اود عباسي خليفه المستضئ پرنامه په مصرکي خطبه ويل پيل سوه. او العاضد هم پس له څو ورځو د دغه 567س. کال د حسن حسين د مياستي په عاشورا مړسو او په دې ډول تر ( 208 ) کالو وروسته په مصرکي د عبيديانو د واکمنۍ ټغر ټول سو، چې مسلمانان ډېر په خوشاله سول. که څه هم بيا ځينو عبيدي پلوو حاکمانو له پرنګيانو مرسته وغوښته چې صلاح الدين ايوبي د يوې کودتا له لاري ليري کړي، خو خدای داسي ونه کړه. نوکله چې سلطان نورالدين محمود زنګي په کال 569 س. کي وفات سو، صلاح الدين ايوبي د مصر او شام خپلواك واکمن سو. دغه د اسلام اتل بچي د 583 س.کال د خدای تعالی په مياشت کي د مسلمانانو لومړۍ قبله ( بيت المقدس ) د صليبي نصراني پاچهانو له ( 91 ) کلنۍ قبضې او ظلم او تعدی څخه وژغوری او نور ډېر ملکونه يې هم دکفارو له لاسه وايستل، چې له مصر او شام څخه يې تر يمن او افريقا پوري يو پراخ اسلامي سلطنت ټينګ کړ. لويه خدايه ! نن هم د مسلمانانو دغه لومړنۍ قبله د يهودو په لاس کي ده. مسلمانان د کفارو له لاسه تباه او برباد دي. اسلام د صهيونيت او نصرانيت له سترو خطرو سره مخامخ دی. مسلمانان نن هم سخت سره بې اتفا قه دي او غداران پکښې ډېر سوي دي، خو صلاح الدين ايوبي غوندي څوك نسته. نو لويه څښتنه ! ستا بيت المقدس ته، ستا اسلام ته، ستا بنده ګا نوته او ستا دښمنا نو ته، بيا يو ايوبي را و پاڅوې آمين. لنډه داچې د ايوبي په واکمن کېدوسره د هغه مشر ورور شمس الدوله توران شاه بن ايوب په کال 568 س. کي مکه او يمن هم خپل کړه او په حرمينو کي د سمط النجوم په قول د صلاح الدين ايوبي پرنامه اود شفاء الغرام په قول د سلطان نورالدين محمود پرنامه خطبه وويل سوه ( څنګه چې په دغه کال سلطان نورالدين ژوندی وو او صلاح الدين ايوبي دغه مهال په مصر کي د هغه نايب وو، ښايي په دغه کال خطبه د نورالدين په نامه ويل سوې وي. او څنګه چې په 569 س. کي نورالدين مړسو او صلاح الدين پاچا سو نو ښايي په 569س.کال په حرمينو کي د سلطان صلاح الدين پرنامه خطبه ويل سوي وي ). بيا په کال581 س.کي د يمن والي اود صلاح الدين ايوبي ورورسيف الاسلام طغتګين بن ايوب مکې ته ولاړی، هلته يې په اذان کي " حي علی خيرالعمل " ويل بند کړه د مکې ډېر مفسد چوپړيان ( مريان ) يې ووژل اود خپل ورور سلطان صلاح الدين پرنامه يې د دراهمو او دينارونو سکه ووهل. ابن جبير په خپله سفرنامه کي وايي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه سیف الاسلام طغتګین دننه په حرم کي ولیدی چې پرښی اړخ یې مکثرد مکې والي او پرکیڼ اړخ یې د شرعي قاضي ورسره وه او په داسي حال کي چې مکثر سپین کالي اغوستي او سپینه لنګوټه یې تړلې وه، طواف یې کاوه. بیا په کال 572 س. کي سلطان صلاح الدین ایوبي له هغو حاجیانو چې د سمندر له لاري به حج ته تلل،د ججو اخیستلو دود له منځه یووړ، اود دې په عوض یې دمکې امیر،دکعبې مجاورینو او عالمانو او فقیرانوته د نغدو پیسو او نورو اوقافو ورلېږل ومنل. چې په دې توګه حاجیانو ته اساني او هوسایي پېښه سوه او خلك په خوشاله سول. وایې چې له هر حاجي څخه به اووه نیم مصري دیناره اخیستل کېدل. اوکه به چا نه درلوده،که به څه هم نشتمن وو، ترهغو به یې بندي کاوه چې د عرفې ورځ به تېرېده. ان چې ابن جبیر وایي چې که به چادغه روپۍ نه سوای ورکولای، په ډول ډول دردوونکو عذابونو به یې اخته کاوه، لکه په خصیتینو ځړول او داسي نور. او دا عذاب د مصرد عبیدیانو په دوره کي وو. دغه رازد ایوبي کورنۍ نورو واکمنو هم د حج پرلارو او په مکه کي ښه امنیت راوستلی وو. د حاجیانو ښه خدمتونه یې کړي او د کعبې حرمت او عزت یې ساتلی وو. لکه چې د شام واکمن ملك معظم عیسٰی ایوبي په کال 611س. کي د حج کولو په ترڅ کي ډېرشته خیرات کړل او د مکې په ځینو برخو کي یې یولړسمونیز کارونه او ټولنیز خدمتونه ترسره کړل. په 621 س. کال کي د مصر ملك الکامل ایوبي دکعبې خادمانو بني شیبه وو ته ډېري پیسې ورکړې، څو دوی نور دکعبې دروازه د حاجیانو پرمخ پرانیستې پرېږدي. په 624س. کي د میافارقین سلطان شهاب غازي ایوبي حج ته پرشپږو سوو اوښانو مالونه بارکړل. صرف له دوی څخه د یوه تن ملك مسعود یوسف په هکله شفاء الغرام، سمط النجوم او نور وایي چې دغه ملك یوسف اقسیس چې د یمن واکمن وو او د مصر د واکمن ملك کامل زوی وو، په مکه کي ناوړه کارونه کړي دي. ده په کال 620 س.کي ترحج کولو وروسته د مکې د والي حسن سره د صفا او مروه په منځ کي جنګ وکړاو له مکې یې وایستی. او بیا د ده عسکرو په مکه کي لوټماري هم وکړه. دغه راز وایي چې دی به د زمزم د اوبو پرګمبته ختی او د حرم کَوتَري به یې په توپك ویشتلې. بل دا چې د هغه مریانو به په صفا او مروه کي د سعیي په مهال خلك پرېښو په تورو وهل او ورته ویل به یې چې ورو ورو درومئ ځکه چې سلطان په دارالسلطنه کي نشه بیده دی، چې راویښ یې نه کړئ. ( د ده د اوسېدو ځای صفا او مروه ته نژدې وو، او دارالسلطنه یې ورته ویل )،خوداسي ښکاري چې داخبري سمي نه وي ځکه یو خود دغوخبرو ترذکرکولو وروسته د شفاء الغرام لیکوال علامه فاسي وایي چې هغه مفسدین له مکې وشړل، پرمقام ابراهیم باندي یې ګمبته جوړه کړه اود ده د ولایت په مهال مکې ته د مصراو یمن د حاجیانو تلل زیات سول، ځکه چې د ده له هیبته اشرار لړسول او لاري په امنیت سوې. دغه راز ابن کثیر هم په خپل تاریخ کي وایي چې ملك مسعود اقسیس بن کامل په مکه کي له عدله کار اخیستی، زیدیه یې له هغه ځایه وشړل او د حج لاري په امن کي سوې. خو په دې پسي ابن کثیر هم د هغه د ظلم او تعدٰی یادونه کوي والله اعلم. پاته دي نه وي چې سلطان صلاح الدین ایوبي په کال589 س. کي وفات سو او د هغه تر وفات وروسته د هغه پر واکمنۍ د هغه دکورنۍ نه تنه نارینه او یوه ښځینه واکمن سول. د دوی ټولود واکمنۍ پېر ( 82 ) کاله اوڅلور میاشتي وو، چې بیا تردوی وروسته په مصر کي د ممالیکو واکمني رامنځته سوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



165ـ د مصر مماليك، مكه اوكعبه

مماليك د مملوك جمع ده او مملوك مريي ته وايي. په مصركي د ايوبيانو تررواكمنۍ وروسته په كال648س. كي د هغو مماليك ( مريان ) واك ته ورسېدل. د دوی واكمني په تاريخ كي سترځای لري. د دوی دور په حقه سره د پرله پسې خو ځښت او غورېدو دور وو، چې په بهركي به يې جګړې، پراختيا او بري په برخه وه. او په دننه مصركي يې اقتصادي سمونونه، علمي لاسته راوړني او ټولنيز بدلونونه را منځته كړل. دوی ځيني تاريخ ليكونكي ترك اوځيني يې تركمن بولي. او پردوو ډلو بحريه اوچراكسه مماليكو يې وېشي. ( چركسيان اصلاً د قفقاز وه ) په دوی كي ډېر سترسړی ملك ظاهر بيبرس تېر سوی دی. ډېر موْرخين دی د ده دښواعمالو، سمونونو او فتوحاتو له امله د مماليكو د واكمنۍ رشتيانی بنسټ ايښودونكی بولي. ده عباسي خلافت چې مغولو په بغدادكي له پښو وغورځاوه بيرته په مصركي را ژوندی كړاو هلته يې په كال659س. كي احمد ابو القاسم عباسي د المستنصر بالله په نامه او ترهغه وروسته يې په كال661س. كي ابو العباس احمد د الحاكم بامرالله په نامه په ډېر درناوي د اسلام خليفه ګان وټاكل. چې دې لړۍ بياتر 923س. كال پوري دوام وكړ. او په دغه كال هم د مصر عباسي خلافت اوهم د مصر د چراكسه مماليكو حكومت دواړه د سلطان سليم خان عثماني لخوا پای ته ورسېدل. د مصر دغو واكمنو د نورو ښو چارو ترڅنګ د مكې،كعبې او حج چاروته هم پاملرنه كول. لكه چې همدغه ملك ظاهر بيبرس د مغولي تاړاكګرو په وړاندي په مېړانه ودرېدی. او پرهغو باندي تربرياليتوب وروسته يې هركال د مكې مكرمې او مدينې منورې سپېڅلو حرمينوته سوغا تونه او تحفې لېږلې او هلته يې ډېر متبرك اماكن ترميم او ودان كړه. هغه ابو نمي رسماً د هغه ځای والي وټاكی. او بيا يې د هغه د زامنو د ولايت په مهال هم د مكې چاري سمبالولې. دغه راز هغه په كال 667س.كي حج ته ولاړی، پرخپلو اوږو يې كعبې ته اوبه ور وړلې او په خپلو لاسونو يې هغه پرېو له. او بيا يې هرحاجي دكعبې دننه ته پرېښووی، چې د هر يوه سره به يې جلا جلا روغبړكاوه. دغه راز د مماليكو يوه بل واكمن ملك الصالح په مصركي د باسوس او سندبيس په نومونو دوه كلي دكعبې شريفي د غلاف د جوړولو د لګښتونو لپاره وقف كړه چې د ده له وختو څخه بيا ترسعودي پېر پوري به دكعبې غلاف له مصر څخه د مصري محمل سره ورلېږل كېدی. چې د مصر له خزانې څخه ډېري پيسې د دې كار لپاره بېلي سوي وې. د مماليكو يوه بل واكمن ملك شعبان قلاوون د مكې د حرم د الحزورې مناره جوړه كړه. ملك ناصر فرج، مسجد الحرام، چې په كال 802 س.كي د اور اخيستلو په ډېره ناوړه او دردونكې پېښه كي متضرر سوی وو،له سره ترميم كړ. هغه د بيسق په نامه خپل يو امير ور ولېږی او په ډېره لږ موده كي يې تر پخوا لا ښه جوړ كړ. بيا ملك موْيد شيخ محمدي د 618س. كال په وروستيوكي مسجد الحرام ته يو ښكلی منبراو دكعبې د دروازې زينه ور وليږل، اود حُنين د اوبو چينه يې هم له سره پاكه كړه او د هغې اوبه يې مكې ته ورسولې. دغه راز ملك ظاهر ططرد مكې شريف حسن بن عجلان ته هركال د مصرله خزانې څخه شل زره ديناره ور استول. اوكله چې ملك عزيز يوسف واك په لاس كي واخيستی. د مكې شريف بركات بن حسن بن عجلان ته يې سوغاتونه او خلعتونه ور ولېږل. اميرسودون محمدي يې د پنځوسو تنو اسپكيانوسره د مكې د امنيت ساتلو لپاره ور ولېږی. دغه راز د ملك اشرف يوه امير، جان بيګ نومي منا ته نژدې يو بڼ جوړكړ، او ډول ډول وني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پکښې کښېښوولې. بيا سلطان اشرف قايتباى د مکې شريف محمد بن برکات ته سوغاتونه ولېږل، د مکې له حاجيانو څخه يې د حجو اخيستل له منځه يوووړل او د 874 س. کال په وروستيو کې يې د خيف جومات ډېر پراخه کړاو ښه يې ودان کړ. هغه ته نژدې يې د حج د اميرانو لپاره کورهم جوړکړ، او هلته يې د حاجيانو د چښلو د اوبو د تسهيلاتو د برابرولو ترڅنګ څه نور عمراني کارونه هم ترسره کړه. د څلورو مذهبونو د تدريس، څلور مدرسې، د بې وزلولپاره مرستون، د يتيمانولپاره ښوونځي او نور يې هم هلته ودان کړه. دغه راز يې يو شمېرکتابونه هم د دغو مدرسو د شاګردانو لپاره ور ولېږل. هغه په مصرکي ډېري مځکي د مکې لپاره وقف کړې، چې د هغو حاصلات به يې هر کال د مکې اوسېدونکو ته لېږل. دغه راز د دغه پاچا په امر په کال884 س. کې کعبه د باندي او دننه په ډېرو درنو مراسمو پرېولل سوه او په دغه کال کي يې حج هم وکړ. مصري محمل يې هم وروړ، اود مکې د امراوو، مخورو او نورو ډېرو اوسېدونکو سره يې هم ډېري نېکۍ وکړې. بياکله چې په کال886س. کي مسجد نبوي د اور اخيستلو په ناوړه پېښه کي وسو،نو دغه ټولواك هغه بيرته تر پخوالا په ډېره ښه توګه ودان کړ، او په مدينه کي يې هم د مکې غوندي مدرسه او مرستون جوړکړه. اود مسجد نبوي کتابتون ته يې هم ډېرکتابونه ولېږل. بيا ددې لړۍ وروستي واکمن قانصوه الغوري په مسجد الحرام کي ډېرتعميراتي کارونه وکړه، ډېري ودانۍ يې جوړي کړې اود مصري حاجيانو په لارکي يې هم د هغو د هوسايي وسايل او د چښلو د اوبو آسانتياوي برابري کړې.

166 ـ عثماني واكمني، مکه اوکعبه

کله چې سلجوقي واکمنو د چنګيزي تاړاکونوله امله خپل ټاټوبی پرېښود او روم ته يې مخه کړه، د ترکو د اغوز له ټپۍ څخه يو سړی چې ارطغرل نوميدی ورسره ملګری سو،کوم چې ( 340 ) تنه غښتلي مېړني ورسره وه ، د سلطان علاوالدين کيقباد سلجوقي خدمت يې غوره کړ او د هغه په پلوي يې ډېري سوبې وکړې. کله چې دغه ارطغرل په 697 س.کي وفات سو. سلطان علاوالدين د هغه زوی عثمان ته سوغاتونه، توره او نغاره ولېږل او دکفارو د ملکونو نيولو ته يې وګوماری. بيا چې سلطان علاوالدين مړسو عثمان د پاچهي پرتخت کښېښنستی او د عثماني پياوړي امپراطورۍ بنسټ يې کښېښود. عثماني واکمني د اصحابو او تابعينو تر واکمنۍ راورسته ډېره ښه واکمني وه. په دې دوره کي قسطنطنيه فتح سوه،کومه چې د هغې له جوړېدو څخه چانه وه فتح کړې. لومړنيو مسلمانانو له 47 س. څخه څو ځلي د هغې د فتح کولو کوښښ کړی وو، خو بريالي سوي نه وه. دغه راز عثماني دولت په اروپاکي هم ستري سوبي وکړې چې د اسلام دښمنان يې پېړۍ پېړۍ هرځاى غلي کړي وه او د اسلام او د مسلمانانو برم او عزت يې ډېر ښه ساتلی وو. عثماني واکمني پاى د صليبي او صهيوني طامعو ، حاسدو او مغرضو ځواکونولخوا د آزادۍ ، د بشرد حقوقو، برابرۍ او نړۍ والي سولي او امنيت تر شعارونو لاندي ؟! را وپرځول سوه. کله چې په کال 923 س. کي سلطان سليم عثماني مصر ونيوى او پر زياتره اسلامي نړۍ يې واك ټينګ سو. دغه مهال د مصر وروستي عباسي خليفه د خلافت عنوان هم هغه ته وسپارى اود مکې والي شريف برکات د خپل ديارلس کلن زوى شريف ابو نمي په لاس د رسول ﷺ خرقه، رپۍ، هغه قرآنونه چې د حضرت عثمان او حضرت علي په لاسونو ليکل سوي وه، د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويس قرني خولۍ اود حرمينو کلۍ سلطان سليم ته ولېږلې. چې په دې سلطان ډېر خوښ سو او د مکې او مدينې امارت يې د پخوا په شان هغو ته وسپارى. دغه مهال وو چې د هغه رسمي خطيب په قاهره کي د خطبې په ترځ کي هغه ته " خاقان البرين والبحرين و خادم الحرمين الشريفين " وويل. چې تردې وروسته نورو عثماني واکمنو هم دغه لقب کاراوه. د مکې په هکله د عثمانيانو د دولت نظام داسي وو: پرمکه به د علوي اشرافو څخه يو تن امير وو. بل ترکي به ترامير په ټيټه رتبه د مکې والي بلل کېدى، چې مالي او پوځي چاري به يې سمبالولې. د محکمې قاضي به هم ترك وو، چې د استنبول له " دار مشيخآ الاسلام " څخه ټاکل کېدى او چې يوکال به يې پوره سو، نور به يې په مکه کي قضا نه سواى کولاى او بل به يې پرځاى ورتى. دغه راز به په مکه کي عثماني پوځ او د پوليسو ځواکونه، چې له ترکي او عربي پوځيانو او ساتونکو څخه به جوړ وه، د هغو د مشرانو سره به هلته اوسېدل، چې د عامه امنيت خوندي کول به يې پرغاړه وه. عثمانيانو اسلام ته د ډېرو سترو او تاريخي خدمتونو په لړکي د حرمينو چاروته هم ډېره کلکه پاملرنه کول او د حرمينو او د حج د لارو د امنيت ساتلو، د مکې او مدينې منورې د ودانۍ او د هغو ځايونو د عالمانو، فقها وو، فقراوو اوعامو خلکو د هوسايۍ او سوکالۍ لپاره يې تاريخي او له و ياړه ډك کارونه کړي دي. چې مونږ دلته يوڅه بيانوو: په 923 س.کي عثمانيانو يوه ډله افريقايي کارگران وگومارل چې د مکې د لارو او د چښنگ د اوبو د زيرمو د سمون چاري ترسره کړي. چې په پايله کي يې د مکې په بيلو بيلو سيموکي د څښاك د اوبو آسانتياوي برابري سوې. د حجاز علوي شريفانو او اوسېدونکو به هرکال د عثماني خلفا وو څخه نغدي مرستي ترلاسه کولې. هرکال به د قسطنطنيې دربار د حج له قافلې سره د سرو زرو صندخ لېږى، څو په حجاز کي ووېشل سي. د ټولواکمنۍ د زيرمتون اود مصرله عوايدو څخه به ډېري پيسې او غلې دغو مقدسو اماکنو ته لېږل کېدې چې ترېوې اندازې به د دغو ځايونو د خلکو بې وزلي په ليري کېده. دغه راز عثماني ترکانو د مکې او مدينې د دغو سپېڅلو حرمينو امنيت ښه ټينگ کړى وو، او د حاجيانو د کاروانونو سره به يې هم امنيتي ځواکونه لېږل. د سلطان سليمان قانوني په وختوکي له يوې خوا په مکه کي ودانيزکارونه پيل سول. له بلي خواد مکې د زبيدې د مشهوري ولې دله سره او سم جوړولو او مکې ته د عرفات د چينې د اوبو د رسولوکار پيل سو. سليمان قانوني نامتو معمار او د استنبول د جامع جومات جوړونکى مکې ته ولېږى، څو دکعبې شريفي د بيا رغوني نقشې برابري کړي. چې يوشمېرکارونه د ده په وختوکي وسول. او د ولې کار د لسوکلونو تر زښت زيات زيار او درنو لگښتونو وروسته بشپړ سو. دغه راز د مسجد الحرام د ودانۍ کارهم د دريم سلطان مراد په وختوکي سرته ورسېد. بيا سلطان مراد غازي دکعبې شريفي د بيا ودانۍ تاريخي کار ترسره کړ. چې د دې سترو ودانيو په هکله د دې کتاب په نورو پاڼوکي په بېله بېله توگه خبري سوي دي. لنډه دا چې د دغه پېر دواکمنو لخوا په مکه، مدينه او نورو ځايوکي پرله پسې ودانيز او ترميماتي کارونه روان وه. چې ستر ستر لگښتونه به يې پرکول او ډېر تکړه ترکي معماران به يې ورلېږل. چې پاى مکې او مدينې کټ مټ د عثماني ښارونو بڼه غوره کړه. چې په هغو کي به په لرغونې څېره کورونه، زياتي گومبتي، ښکلي منارې، او په ودانيوکي ښکلي ترکي ښويي خښتي ترسترگوکېدې. دغه رازد مکې په وچه دره کي ښکلي بڼونه را منځته سول، او د ترکي خلفا وو او هندي او نورو امراوو په بخششونو، لرغوني متبرك آثار او اماکن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمیم سول، او نوي ماڼۍ او ودانۍ هم ﭘکښې جوړې سوې. ډېرې مدرسې،کتابتونونه او جوماتونه ﭘکښې جوړ او ډېر مرستونونه، روغتو نونه اوﭘځلنځي ﭘکښې تاسیس سول. اود دې ترځنګ د جوما تونو او زیارتونو هم ښه ﭘالنه کېده.

167 ـ د سلطان مراد لخوا د کعبې بیا جوړول

د حجاج بن یوسف لخوا د کعبې تر بیاجوړوني وروسته د ( 966 ) کالو ﭘه موده کي،کعبې شریفي کله کله ترمیم ته اړتیا ﭘیداکول، چې د وخت د واکمنو لخوا به ترسره کېدل. ( ﭘه دې هکله به ﭘه راتلونکو ﭘاڼو کي څرګندوني وسي ). خو ﭘه کال1039 س. کي د برات ( شعبان المعظم ) د میاشتي د نولسمي نېټي د چارشنبې ﭘه سهار ﭘه مکه شریفه کي داسي یو زورور اورښت وسوچي د مخه یې چا سارى نه وولیدلی. دغه توﭘاني اورښت د ﭘنجشنبې ﭘه ورځ د برات ﭘه شلمه هم و اورېدی. چې د سېل اوبه یې دکعبې دننه د دېوالو ترنیمي لوړې سوې اوﭘه نتیجه کي شامي یا دحطیم د لوري دېګوال او دکعبې د ختیز اولوېدیزد لوریو دېوالونه یوځه ونړېدل او دکعبې دننه زینه هم ولوېدل. د دې ترڅنګ دغه سېلاب د خلکو کورونه وران کړل، ﭘه زرګونو وګړي یې ووژل او نور ډېر مالي تاوان یې ورساوه. کله چې د دغه زړه دردونکي ﭘېښې خبرخپورسو، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مکې شریفي ته دغونه وګړي ورغلل، چې تابه ویل د حج موسم دی. بالاخره د څلورم مراد عثماني ﭘه امرلایق مهندسان راغونډ سول، مشوره یې سره وکړه او دا متبرك مکان یې د 1040 س. کال د لوی اختر ( ذي الحجې ) د میاشتي ﭘه دوهمه تقریباً د شپږ نیمو میاشتو شپه او ورځ هلوځلو وروسته بیا کټ مټ د حجاج د ودانۍ ﭘه ډول، ودان کړ. ﭘه دې بیا جوړونه کي زیاتره هغه ﭘخوانۍ ډبرې وکارول سوې. خو د هغو ډبرو ﭘرځای چې د وخت ﭘه تېرېدو سره شوړېدلي وې د " شبیکه " د غره ډبرې ﭘکښې کارسوې. دکعبې شریفي د ودانولو ﭘه دغه کارکي د مکې امیر مسعود بن ادریس بن حسن او د هغه ترمړیني وروسته د مکې بل امیر عبد الله بن حسن، د مصر امیرمحمد ﭘاشا الباني، د مدینې قاضي سید محمد افندي، رضوان بیګ معمار او نورو دولتي چارواکو، دیني عالمانو او مخورو برخه اخستې وه. د نوموړي ټولواك دکعبې د ودانۍ ﭘه کارکي، دکعبې شریفي دېوالونه له حجر اسود ﭘرته ټول ونړول سول، خو تهدابونه یې هماغسي د ﭘخوا ﭘرحال ﭘاته سول او ﭘرهغو ﭘخوانیو بنسټونو باندي، نوي دېوالونه ﭘورته سول. چې ﭘه دې ډول ترحجر اسود لاندي برخه اوس هم د عبد الله بن الزبیر وداني ده. خو له دې ﭘرته دکعبې اوسنۍ ودانۍ هماغه د عثماني څلورم مراد ودانۍ ده چې د حجاج د ودانۍ ﭘه شکل ودانه سوې ده. تردې وروسته نورو هم دکعبې ودانۍ د ضرورت او د وخت د غوښتنو سره سم ترمیم کړېده.

168 ـ د ترکا نو ﭘه ﭘېر کي د حج څرنګوالی

د عثمانیانو ﭘه وختوکي ﭘه مکه مکرمه، ﭘه تېره ﭘه عرفات کي د حج مناسك او مراسم ﭘه ډېرو خوښیو، سترتوب او ﭘرتمین توب لمانځل کېدل. د لوی اختر د میاشتي ( ذي الحجې ګ) ﭘه نهمه کله چې به د عرفات ﭘرغونډۍ ( جبل الرحمت ) اود هغه ﭘرشا وخواﭘه لکونو ماړه او بې وزلي ﭘه یوه لباس ( احرام ) کي سره راغونډېدل. یو نېك چارى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیری چې د مکې قاضي به وو، په داسي حال کي چې احرام به یې تړلی وو او پراوښ به سپور وو را څرګند به سو، شامي، ترکي او د مکې د شریف توپونو به په داسي درزي سلامي ورکړه چې په ټوله شا وخوا، دښتو او غروکي به یې ازانګې پورته سوې. د دې امام په لیدو به د حاجیانود لبیك ویلو زوږ آسمان ته وخوت. امام به منبرته نژدې ورغی، وبه دریدی ترشابه یې یو پراوښه سپور حبشی مریی ولاړ وو او پرامام به یې سپین سایوان نیولی وو. امام به په ډېر خوندور او فصیح آوازخطبه ویل. او ترهرو پنځو دقیقو وروسته به یې دسمال ښوراوه. چې ورسره سم به له څلورو خواوو نورو خلکو هم دسملونه ورته ورپول او په زوره زوره به یې تلبیه وویل. دغه مراسم به د ورځې له څلورو بجو څخه پیلېدل او خلکو به په ډېر شوق او ذوق د خداتعالی حمد او ثنا او تلبیه ویل او د خدای د رحمت هیله به یې کول. په دې ترڅ کي به شامي او مصري محملونه ( کجاوې ) راغلې. دغه مهال به له یوې خوا د باجې غږوونکود ډلي خوږ او موزون آواز په غرونوکي پورته سو او له بله لوري به د توپونو درزی سو. محملونه به جبل رحمت ته په نژدې کېدو سره ودرېدل، امام به خطبه پای ته ورسول او په ډېره عاجزي او زاریو به یې دعاوي وکړې. چې په هغوکي به د مکې شریف، رئیسان، امیران، د پاچاهایب، مخوراو بې وزلي ټول شامل وه. د دعاتر ویلو وروسته به د حج د مبارکی آوازونه په غرو او دښتوکي پورته سول. د خوښیو د څرګندولو په دود به اورلوبي ( آتشبازی ) پیل سوې اود سلامۍ توپونه به وویشتل سول. پوځیانو به د سلامۍ مراسم ترسره کړل. بلېندي ( مشعلونه ) به ولګېدل او د لمر تر لوېدو وروسته به ټول حاجیان د مزدلفې په لوري رهي سول او دا مراسم به په عرفات کي پای ته ورسېدل.

169ـ په عثماني پېرکي د مکې د حکومتي چارواکو ورځنۍ کړني

د ترکانو په وختوکي د مکې د حکومت اداري د حرم د امهانئ د دروازې ( باب امهانئ ) مخامخ سهیل لوري ته په بازار کي وې. هلته به د مکې والي، د پوځ د مشر او د پولیسو دفترونه وه. د باب القضا سره به د قاضي القضات محکمه وه. څنګه چې مکه د حجاز دارالخلافه وه، هلته به دوه ډوله حکومتي چارواکي په کار بوخت وه. انتظامي چارې به د مکې د شریف په لاس کي وې چې " سید الجمیع " به یې ورته ویل. او مالي او پوځې چارې به د مکې والي اداره کولې. والي به په عامه توګه ترك وو او د ترکانو لخوا به ټاکل کېدی. چې شیخ الحرم به یې ورته ویل. بیا ترکانو مسجد الحرام ته د " دائرآ الاوقاف " په نامه اداره جوړه کړه. چې د دغې اداري مشرته یې " مدیرالاوقاف " ویل. کوم چې د مسجد الحرام ټولي اړوندې چارې به یې پرمخ بېولې. او په ځانګړو دفا تروکي به یې د مسجد الحرام د ټولو موْ ظفینو نومونه ثبت سوې وه. دا اداره به له اداري پلوه په شیخ الحرم پوري، کوم چې د مکې والي وو مربوطه وه. او د مالي پلوه به یې د آستانهْ علیا ( قسطنطنیې ) په نظارت الاوقاف ( د اوقافو وزارت ) پوري اړه درلوده. د مکې شریف به له سهاره ترمازدیګره اهمي مسالې او مقد مې فیصله کولې. د مازدیګر او ماښام لمونځ به یې په مسجد الحرام کي کاوه. د ماښام ترلمانځه وروسته به یې په خپل کورکي د خپلو اولادونو او مېلمنو سره لیده کاته کول او ډوډۍ به یې ورسره خوړل. د جمعې په ورځ به یې په دارالاماره کي چې په شاهي کلا کي وو،د مکې د والي اونورو چارواکو او مخورو سره لیدل. تردې لیدنو کتنو وروسته به خلك د والي سلام ته ورتلل او شریف به د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمعې لمونځ په حرم کې کاوه. کله کله چې به په خپل اوړني استوګنځي ( طايف ) کې وو، په پرتمينو مراسمو به حرم ته ورتی او د جمعې او مازديګر ترلمانځه وروسته به بېرته طايف ته تی. دغه راز د مکې د خلکو دا معمول وو چې د مکې شريف ته به يې په کال کې يو وار د مکې د باندي په يوه سيل ځای کې ډوډۍ کوله. چې هغه به په سترو او پرتمينو مراسمو جوړولو سره هلته د خپلو خاصو ملګرو سره ورتی. خلکو به دعاوي ورته کولې اود ده په مخ کې به يې ده ته د " يعيش " ( ژوندی دي وي ) شعارونه ورکول. د ډوډۍ ترخوړلو وروسته به يې د " بدو " خلکو د آس د سپرلۍ او خنجر او توري وهلو د هنرننداره کول او بيا به بېرته ښارته تی.

170 ـ محمد بن عبد الوهاب، سعودي مشران، مکه اوکعبه

په کال 1223 س.کې سلطان محمود ثاني د عثماني ترکيې پاچا سو. د ده په وختوکي چې عيسوي هيوادونه د ترکانو سره په جګړه بوخت وه. او نوري کورنۍ ستونزې هم ور پېښې وې، د نجد ربړه د يوې ستونزمني ربړي په توګه را منځته سوه. نجد د اوسني سعودي عربستان هغه برخه ده، چې د مکې او بصرې په منځ کې پرته ده. نجد د لوړي مځکي په معنادی. ځنګه چې دغه مځکه ترحجاز او نورو لوړه ده، ځکه نو نجد ورته وايي. محمد بن عبد الوهاب نجدي په کال 1115س. کې چې د 1703ع. سره سمون خوريد نجد په العينيه کي وزېږېد،کوم ځای چې د ده کورنۍ هلته اوسېدل او پلار يې هم هلته قاضي وو. ده تر علم حاصلولو وروسته خپل تحريك په لاره واچاوه. وايي چې خلك د ده د افکاروله امله له ده ځخه ګوښه ګرځېدل اوپه ښه سترګه يې نه ورته کتل. پلار يې هم د ده له انتقادونو او اعتراضونو ځخه خوښ نه وو. او ورور يې هم چې شيخ سليمان نومېدی، د ده د تعليماتو مخالفت وکړاو د ده د افکارو په رد کې يې کتابونه وليکل. خو وايې چې بيا بيرته ورسره پخلاسو او د ده افکارېي ومنل.کله چې د العينيې حاکم هغه له خپلي سيمي وايستی، نو د نجد اړوند " درعيې" ته ولاړی. ځکه هلته ځينو عالمانو او د محمد بن سعود مېرمني ( کله چې محمد بن عبد الوهاب د محمد مېرمني ته خپل دعوت وړاندي کړ، هغې له خپل مېړه ځخه وغوښتل چې د هغه بلنه ومني ) او پخپله محمد بن سعود،کوم چې هغه مهال د درعيې حاکم وو او د سعودي کورنۍ د سر سړی دی، د هغه ننګه وکړه، د هغه عقايد يې ومنل او د هغوخپېرولو ته يې ملا وتړل. محمد بن عبد الوهاب ويل چې زه خلك له شركياتو ځخه توحيد ته را بولم. اوځان يې د امام احمد بن حنبل په مذهب باله. خوکله چې د ده عقايد د مکې مکرمې عالمانو ته ورسېدل، پرهغه يې دکفر فتوا ورکړه او مکې ته يې د وهابيانو ورتلل منع کړه. محمد بن عبد الوهاب په 1206 يا 1207 س. کې د ( 92 ) کالو په عمر وفات سو. هغه مهال چې محمد بن سعود، محمد بن عبد الوهاب ته پناه ورکړه، يعني د 1158 س. کال په شا وخواکي، د محمد بن سعود امارت پردوو، درو ښارونو باندي وو،کوم چې د نجد په حنيفه ناوه کي واقع وه. دغه محمد بن سعود چې په کال1726ع. کې د درعيې امارت ته رسېدلی وو، د خپلي مړيني ترکال (1760ع. ) پوري د دغه ځای حاکم وو. د هغه تر مړيني وروسته، د هغه زوی عبد العزيز د پلار ځای ناستی سو. د ده د واك ارشو ډېره پراخه سوه او تر رياض، الاحساء،کربلا، بحرين، عمان او رأس الخېمې پوري وغځېده. په کال 1218 س.کې عبد العزيزد يوه ايراني لخواچي عثمان نومېدی و وژل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو او زوی يې سعود نومي د هغه ځای ونيو. د ده په وختو کي هم د سوبو لړۍ پر مخ روانه وه. چې په دې لړکي په کال 1218س. کي مکې معظمې ته ننوتى. دوه کاله وروسته مدينې منورې ته ورسېدى او د مکې شريف غالب نومي يې د سعودي واکمنۍ اېل ( مطيع ) کړ. بيا يې د يمن، عسير، تهامه، نجران او د خليج د غاړو رياستونو ته مخه کړه او مسقط او عمان يې په سعودي واکمنۍ ورګډکړل. د سعود په پېرکي د عربو جزيره د ده د سلطنت ترسيوري لاندي راغله، له دې امله ده ته سعود کبير وايي. د خلاصآ الکلام او تاريخ مکه ليکوالان پردغه سعود لګيېږي او وايي چې هغه ډېر مسلمانان قتل عام کړه، د معلیٰ د هديرې قبې او د حضرت عبد الله بن عباس او رسول ﷺد زامنو د روضې، د بي بي خديجې د زيارت او د رسول ﷺ ، ابو بکر او علي د زېږېدو دځايونو قبې يې ونړولې. په کال 1221س. کي يې شاميانو او مصريانو ته خبر ورکړچې بيا به د حج محملونه مکې ته نه لېږي. دغه راز يې هغه د طبلو او مزاميرو له راوړلو او وهلو څخه هم منع کړه. بل کال چې شامي محمل مکې ته نژدې ورسېدى، څنګه چې وهابيانو مکې ته نه پرېښووی، نو د شام حاجيان بېله حج کولو، له لاري بېرته وګرځېدل او مصري محمل چې مکې ته ورسېدى، سعود د هغه د سوځولو امر ورکړ. او د دې سره سره يې په مکه کي جار و واهه چې بيا به مکې ته ړيرخريلي نه راځي. ځکه نو تردې وروسته مکې ته د شامي او مصري محملونو ورتلل بند سول. دغه راز په 1221 س. کي وهابيانو په مدينه منوره کي هم لوټ وکړ او د ټولو زيارتونو قبې يې ونړولې. او د نبوي حجرې د خزانې ډېر بيي جواهرات يې هم لوټ کړه .

)دا د خلاصآ الکلام او تاريخ مکه څرګندوني دي، چې په سمتيا او ناسمتيايې خدای ﷻ علم لري .( عثماني دولت چې د سعود دا چاري او پر مختګونه ونه زغملای سوای، نو يې د عراق والي پر راپورته کړ. هغه چې څه ونه کړای سوای، بيايې د شام والي پر راوپاڅاوه. خو چې هغه هم څه ونه کړای سوای بيا يې په 1805ع. کي محمد علي الباني د مصر والي وټاکی اود سعودي واکمنۍ له منځه وړلوته يې وګوماری. هغه ډېره موده د عثمانيانو په مرسته د سعودي واکمنۍ پرضد جګړې په لاره واچولې چې په دې ترځ کي يې په کال 1228س. کي بيرته مدينه، مکه، جده او طايف له سعود څخه ونيول. په کال 1229 س. کي سعود کبير وفات سو او د هغه زوی عبد الله واکمن سو. هغه په پوځي چارو کي ډېره تجربه نه درلوده او له بلي خوا د هغه د پلار اکا عبد الله بن محمد بن سعود دواکمنۍ دعوه وکړه. چې په دې ډول د سعودي کورنۍ په ليکوکي درز ولوېدى .

محمد علي پاشا خپل زوی ابراهيم پاشا د ډېروځواکونو سره د نجديانو سره جګړې ته وګوماری. چې پای يې نجديان مات کړه. په کال 1818ع.کي درعيې سقوط وکړ او دغه نوې را منځته سوې واکمني له منځه ولاړه. عبد الله بن سعود، د هغه وزير او د هغه يو بل نژدې ملګری مصرته، بيا قسطنطنيې ته ولېږل سول او بيا د سلطان محمود له خوا د " آياصوفيې " په ډګرکي اعدام سول. درعيه د ابراهيم پاشا په امر ورانه سوه، په زرګونو مسلمانان ووژل سول اوکورونه يې ونړول سول .

171 ـ د ترکي بن عبد الله بن محمد بن سعود را پاڅېدنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکي چې د عبد الله د پلارد اکا زوی ووځه مهال پټ وو، خو په کال1823ع. کې په نجد کې راڅرګند سو او ځانته يې ملګري او مرستندويان وموندل. رياض يې ونيو اوتر 1834ع. يې حکومت وکړ. د دغه کال د مى په نهمه د سعودي کورنۍ د يوه غړي مشاري نومي په اشاره ووژل سو او مشاري خپل ځان واکمن اعلان کړ. چې بيا يوه مياشت يا څلوېښت ورځې وروسته د ترکي زوی فيصل نومي، مشاري له واکه را وپرځاوه او اعدام يې کړ. او د پلار پرګدۍ کښېنستی. خو ترلسوکالو وروسته، د 1837ع. د مى په مياشت کې مصريانو رياض ځني ونيو او فيصل مصر ته بندي بوتلل سو.

172 ـ د ترکي د زوی او لمسيانو واکمني

فيصل بن ترکي په1843ع. کال کې له بنده وتښتېدی. د دغه کال په دوبي کې يې رياض ونيواو د سعودي واکمنۍ د بيا ژوندي کولوکوښښونه يې له سره پيل کړل، چې په دې لارکي ډېر بريالی پرمخ ولاړ. په 1282س. (1865ع.)کې فيصل ووژل سو او د ده د دوو زامنو عبد الله او سعود ترمنځ د امارت پرسرجګړې پيل سوې.چې تردېرشوکالو يې دوام وکړ. بالاخره په 1875ع. کې سعود وفات سو. په دې ترڅ کې ځيني سيمې بيرته عثمانيانو ونيولې. د نجد ځيني سيمي د حائل امير ابن رشيد ونيولې او انګريکزانو پرعمان واك ټينګ کړ. علاوتاً په کال1888 ع.کې ابن رشيد رياض هم ترخپل واك لاندي راوستی. په 1889ع. کال عبد الله هم مړ سو. خلکو د فيصل دوهم زوی عبد الرحمان خپل واکمن وټاکی. عبد الرحمان رياض بيرته ونيو. خو ابن رشيد بيرته ځني قبضه کړ. ځکه نو عبد الرحمان د خپلي کورنۍ سره لومړی قطر بيا دوې مياشتي وروسته بحرين او بيا کويت ته مهاجر سو. دغه مهال يعني د 1294س. کال د څلورمي خور پر ( 14 ) د مکې شريف عبد الله بن محمد بن عبد المعين تر ( 19 ) کالو امارت وروسته وفات سو. له 1295س. څخه تر1299س. پوري د نجد او حجاز حالات ډېرګډوډ وه. اوپه 1299 س.کې عون بن محمد بن عبد المعين د مکې والي وټاکل سو.

173 ـ د اوسني سعودي بنسټ اېښوونکی ملك عبد العزيز

په کال 1880 ع.کې چې سعودي کورنۍ په جګړه اخته وه د عبد الرحمان بن فيصل په کورکي عبد العزيز وزېږېدی. په 1901 ع.کې د يوويشتوکالو وو چې دکويت د شيخ مبارك الصباح په مشوره او مرسته يې وپتېيل چې بېله لښکرو په څو تنو رياض ونيسي. نو د څلوېښتو تنو سره په دې نيت له کويت څخه ووت. څو مياشتي يې په ربع الخالي کې تيري کړې. بيا دکويت شيخ مبارك الصباح او د هغه پلار عبد الرحمان بيرته ور وغوښت، خو هغه د شپېتو تنو سرتيرو سره د رياض په لوري وخوځېد. کله چې رياض ته د يونيم ساعت مزله په واټن نژدې سو، شپه يې هلته تېره کړه. بيا يې شل تنه ملګري، اوښان او نور سامان هلته پرېښوول او ورته ويې ويل چې که په څليرويشتو ساعتوکې تاسي ته زما لخوا کوم پيغام ونه رسېدی، تاسي به بېرته کويت ته درومئ. بيا پياده مخ پر رياض ور رهي سو. د ښار په د باندي بڼونوکي يې خپل ورور محمد او نور ( 23 ) تنه ملګري پرېښوول. ترسهار د مخه د ( 15 ) تنو ملګروسره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رياض ته ننووت او د خرما وو د ونو په بڼونوکي په پټګه د آل رشيد کلا ته ورسېدى. د آل رشيد دکلا دروازه يې په توره ووهل. ( وايي چې اوس هم پردغه دروازه باندي د توري نخښه سته اودغه دروازه دیادګار په توګه ساتل کيږي ) او سمدستي په کلا ننوتی،د آل رشيد د محافظانو سره يې مقابله وکړه او د آل رشيدو د واکمن په ګډون يې ټول له منځه يووړل. دا د 1902ع. د جنورۍ ( 15 ) نېټه وه. سهار په رياض کي په هرلوري آوازه خپره سوه چې عبد العزيز،د آل رشيد واکمن له منځه وړی دی. له دې سره عبد العزيز د يوه پياوړي واکمن په څېر د خپل ملك ډېري سيمي يو په بل پسې خپلي کړې او د نجد واکمن سو. خو ځيني تاريخ ليکونکي، لکه برناديت غانم او نور په دې عقيده دي چې :" څنګه چې انګرېزانو د ترکانو سره دښمني کول، نو د هغو دښمنان يې هم تقويه کول. او څنګه چې دکويت دولت د انګرېزانو لخوا حمايه کېدی، نو عبد العزيز هم دکويت په مستقيم او قوي ملاتړ او د انګرېزانو په غير مستقيم ملاتړدغو بريو ته ورسېدی". ان چې پل بون آنفان او پي يرمارتلو فرانسوي تاريخ ليکونکي وايي چې:" عبد العزيز عثمانيان له هفوف نومي ځای څخه د انګرېزانو په مرسته وايستل". دغه راز دغه تاريخ ليکونکي زياتوي:" څنګه چې عثماني ترکانو په حائل کي د آل رشيد له کورنۍڅخه ملا تړکاوه، نو وهابيان دې ته اړسول چې د سرجان فليـبي په هڅونه د انګرېزانو پلو ونيسي". دوی وايي چې: " فليبي دابن سعود سره د انګرېزانو پټ جاسوس وو،چې د انګرېز ـ هند د دولت لخوا دې کار ته ګومارل سوی وو.

174 ـ د مکې شريف حسين او پر حجاز باندي د عبد العزيز بريد

له بله پلوه د عثماني خلافت د لمر ډوبېدو په شپېوکي چې د استنبول مقاماتو امير حسين ته د مکې د شريف عنوان ورکړ، په خپل لاس يې داسي سړی وټاکی چې پای يې پرعثماني واکمنۍ او خلافت وروستی ګوزار وکړ. د دغه شريف حسين په هکله ډول ډول نظريې ورکول سوي دي. د ده پلويانو هغه يو پياوړی ولسپال باله. څنګه چې هغه ليدل چې د عثمانيانو واك له منځه تلونکی دی،له فرصته يې ګټه اوچته کړه او د انګرېزانو سره يې په پرده کي اړيکي ټينګي کړې. په کال 1916ع. کي يې د طايف او مکې خلك د ترکانو پرضد را وپارول او جنګ يې پيل کړ. دغه مهال ترکي عسکرو د شريف حسين ماڼۍ بمبارد کړه، خو نابېره يوه مرمۍ پرکعبه شريفه ونښته او دکعبې غلاف اور واخيست. کله چې ترکانو دغه اور واژه د مکې خلکو داسي ګومان وکړچې دغه کار ترکانو قصدي کړی دی. نو يې دغه ټول ترکي سرتيري ووژل او د هغو قوماندان يې چې په پښه يې ترلی وو، د مکې په کوڅوکي وګرځاوه. په دې جنګ جګړو او الوګولوکي کرنيل ټی0 ای0 لارنس شخصاً اغېزه لرل. اوله حسين څخه يې ننګه کول. دغه سړی چې په لارنس اف عربيه ( د عربو لارنس ) مشهور سو د 1928ع. کال په شا وخوا کي په اوسنۍ پښتونخوا (صوبه سرحد) کي هم د اعليحضرت شاه امان الله غازي پرضد د پاڅوَنو لپاره د مکار انګرېز لخوا په پټ ماموريت ( جاسوسي ) وګومارل سو، او په ميران شاه کي يې د " ايرمين شاه " په نامه جاسوسي فعاليت کاوه. بيا د ملا په جامه کي د افغانستان ختيز ته ننووت او د اغتشاش اور يې بل کړ. القصه په دې ډول شريف حسين د 1334 س. کال د برات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میاشتي پرنهمه د عربي هیوادونو د خپلواکۍ په نامه، خپل ځان په حجاز کي له عثماني واکمنۍڅخه، خپلواك او" د مسلمانانو خلیفه " اعلان کړ. دغه مهال هغه د خپل زړه له هیلو پرده پورته کړه او ویې ښوول چې هیله لري چې د ټولو عربو پاچا سي. له بله پلوه ده ته داسي یو ترون د لاسلیکولو لپاره وړاندي سو چې د ده د خپلواکۍ له منځه وړونکی او په حجازکي د لوېدیزیانو دواك ټینګوونکی وو. چې ده هغه ونه مانه. د ده د خپلي کمبلي سره د پښو داسي سم نه غځوني او د ټولو عربو او اسلام د یوموټیې کېدو او پرهغو باندي د ټولواکۍ ټینګولو خیالونو انګرېزانو ته( چې پرده باندي یې ډېره پانګه ښندلې وه ) ور وښوول چې د حسین له ملاتړه د لاس اخیستو اوپه خپل برخلیك پسي د هغه د روانېدو مهال را رسېدلدی. ځکه انګرېزان د دې غوښتونکي وه چې د عربو واړه واړه او یوله بله دښمن دولتونه جوړ او پردغه حال وساتي. او د خپل نفوذ سیوری پرهغو او د اسلامي نړۍ پرنورو برخو وغوړوي. د هند یو لیکوال ناز انصاري د سعودي د تاریخ په هکله په خپل کتاب کي وایي چې: " سلطان عبد العزیز بن عبد الرحمان د 1914 ع. کال په جګړه کي د برتانیې دغولوني په دام کي ونه نښتی او [ د آزادو عربو ] د را منځته کېدو په جال بندنه سو. خو څنګه چې یې د ترکانو سره پلرنۍ دښمني درلوده، انګرېزان د هغه په بیطرفه پاته کېدو کي بریالي سول او له دې پالیسۍ څخه پای انګرېزانوته ګټه ورسېده. چې د دې په بدل کي انګرېزا نو، ملك عبد العزیز ته د جنګ ترپایته رسېدو پوري د میاشتي پنځه زره پونډه معاش ورکاوه ". د جنګ تر پایته رسېدو وروسته برطانیه او فرانسه د مکې د شریف سره پرخپلو ژمنو ونه درېدل. شریف په قهر او مایوسه سوخوځه یې نه سوای کولای. د تهران د پوهنتون استاد دکتور حسین قره چانلوپه خپل کتاب حرمین شریفین کي وایي چې د انګلستان لخوا په یوه سترګي وهلو سره د " اسلامي خلافت کمیټې " عبد العزیز ته لیك ولېږی او وړاندیز یې ورته وکړچې حسین له حجازه وشړي. دلته باید ووایو چې که د اسلامي خلافت له کمیټې څخه مطلب په هند کي جوړه سوې خلافت کمیټه وي کومه چې د رئیس الاحرار مولانا محمد علي جوهر او د هغه د ورورمولانا شوکت علي او نورو لخوا په بمبئي کي د انګریزي ښکېلاك پرضد تاسیس سوې وه، نو د قره چانلو خبره دغي کمیټې ته د انګلستان د اشارې په هکله د باور وړنه ده. البته په دې هکله د انګلیسانو او عبد العزیزاړیکي د برنادیت غانم له څرګندونو هم جوتیږي. هغه وایي چې په دې اړه د برتانیې سیاسي معتمدکوم چې د مخه یې هم د عبد العزیز سره ملاقا ت سوی وو، ریاض ته ولاړی او د عبد العزیز سره یې وکتل. نو هغه وو چې عبد العزیز د حجاز دولت ته د جنګ اعلان وکړ او د 1824ع. کال په جون کي یې د نړۍ مسلمانانو ته پیغام ولېږی او له هغو څخه یې وغوښتل چې دغه، د ده په وینا درواغجن خلیفه په رسمیت ونه پېژني. انګلیسانو هم د شریف حسین له ملاتړه لاس واخیستی او د فرانسې د دولت سره یوځای یې د وهابیانو په وړاندي خپله دوستانه بېطرفي وساتل. پای حسین د 1343س. کال د لومړۍ خور پرځلورمه، د 1924ع. کال د اکتوبر پر درېیمه د اویاکالو په عمر د خپل زوی علي په ګټه له واکه لاس واخیستی، د دغه کال د لومړۍ خور پرلسمه جدې ته ولاړی. هلته تریوې اوونۍ تېرولو وروسته عقبې ته ولاړی. بیایې د انګرېزانو د لوربینو له امله هغه ځای هم پرېښووی او د قبرس په جزیره کي یې اوسېدل غوره کړه. څو چې د 1931ع. کال د جون پرڅلورمه یې له نړۍ څخه سترګي پټي کړې. د ده زوی علي هم په ده پسي څو ورځي وروسته جدې ته وتښتېدی او سلطان عبد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



العزيز د 1924ع. کال د اکتوبر پر اتلسمه مکې مکرمې ته ننوتی. د 1925ع. کال د جنورۍ په میاشت کې یې جده هم محاصره کړه او پای علي هم د 1925ع. کال د دسمبر پراتلسمه له واکه لاس واخیست او د سلطان عبد العزیز پوځونو جده هم ونیول. درې ورځې وروسته امیر علي د عدن له لاري عراق ته ولاړی او د 1344س. کال د څلورمي خور پراوومه چې د 1925ع. کال د دسمبرد ( 25 ) سره سمون خوري ټول حجازد سلطان عبد العزیز تر واك لاندي راغي او په دې ډول نجد او حجاز سره یوځای سول. پای عبد العزیزته د 1344 س. کال د څلورمي خور پر ( 25 ) د 1926ع. کال د جنورۍ پرلسمه د جمعې په ورځ باب الصفا ته نژدې په حرم شریف کې د یوې ستري غونډې په ترڅ کې د حجاز د سلطان نوم ورکړه سو، او په دې ډول د نجد او حجاز پاچاسو. پرده باندي ځیني پوهان په خپلو کتابو نوکي د نیوکو په لړکي وایي چې ده په 1915ع. کې د انګرېزانو سره یو تړون لاسلیك کړچي د هغه له مخي یې ځان د هغو تر اثر لاندي راوستی. بل وایي چې بریتانیا د 1925ع. د نومبر په پیل کې دوه تړونونه؛ یو د عراق اوبل د اردن سره پر عبد العزیز باندي وتپل. چې د یوه له مخي یې له هغه دښته چې نجد او سوریه یو له بله سره نښلوي، سترګي پټي کړې. او هغه یې ختیز اردن ته پرېښووی. اود دوهم له مخي د نجد او عراق د پولود اختلافاتو په هکله د پرېکړې حق انګلستان ته ځانګړی سو. دغه راز د دوهمي نړۍ والي جګړې په پیل کې ملك عبد العزیز سعودي عربستان بیطرفه وباله خو وروسته اقتصادي ستونزو د امریکا او انګلستان مرستوته اړکړ، او په کال1944ع.کې امریکا د دغه هیواد په ظهران کې یو لوی اوسمبال هوایي ډګرجوړکړ. چې له دې سره سعودي عربستان د المان پرضد جګړې ته ور ودانګل، او امریکایانو په سعودي عربستان کې خپل موجودیت ته پراختیاورکړه. که څه هم په کال 1927ع. کې انګلستان د مې د میاشتي پرشلمه د سعودي عربستان خپلواکي په رسمیت وپېژندل؛ د سعودي واکمنۍ سره یې د دوستی او حسن تفاهم تړون لاسلیك کړاو د 1915ع.کال تړون یې لغو اعلان کړ او د سعودي مطلقه او تامه خپلواکي یې ومنل. خو دا یوڅرګند حقیقت دی چې امریکایان، انګرېزان او نورکفار د عربي هیوادونو او ځینو نورو اسلامي هیوادونو په چارو کې ستر لاس لري. هغوی یې په ډول ډول بڼو په ډول ډول ناخوالو اخته کړي، او خپله کفري او نوې ښکېلاکي ولکه یې پرټینګه کړې ده. ان چې دکال 1990ع. را په دې خوا کله چې عراقي پوځونو پرکویت ور ودانګل، امریکایي پوځونه د سعودي په خاوره کې مېشت سول، چې تراوسه هلته پراته دي. او د اسلامي هیوادونو د ناپامیو او اختلافاتو له امله دکفارو واك نور هم پر اسلامي هیوادونو غلبچ اوپیاوړی کیږي. لکه چې دغه دی د 1382 لمریزکال د پسرلي په لومړۍ ورځ د امریکا او انګرېزجنایتکاروکفارو د عراق پر اسلامي خاوره وسله وال یرغل وکړاو په شلو ورځوکي یې په عراق کې تربې خرته قتل عام او شدیدو بمباریو او ورانیو وروسته د صدام حسین حکومت دړي وړي کړ. او عراق یې اشغال کړ. القصه تر1932ع. کال پوري سلطان عبد العزیز ته " ملك الحجاز و نجد و ملحقاتها " ویل کیدل، خو د دغه کال د سپتمبر په اتلسمه ملك عبد العزیز د یوه پاچایي فرمان په ذریعه د خپل هیواد نوم " المملکآ العربیآ السعودیآ " کښېښود. او د سپتمبر پر ( 23 ) په دغه نامه رسماً ونومول سو. چې په دې مناسبت هرکال دغه ورځ په سعودي کې د ملي ورځې په توګه لمانځل کیږي. ملك عبد العزیز د 1373س.کال د لومړۍ خور پردوولسمه د1953ع. کال د نومبر پر نهمه وفات سو او پرځای یې د هغه زوی ملك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعود بن عبد العزيز پاچاسو. د 1964ع. کال د نومبر پر دوهمه ملك سعود له کاره گوښه کړی سو او پرځای یې ملك فیصل پاچا سو. د 1975ع. کال د مارچ پر ( 25 ) فیصل د خپل اکا زوی لخوا ووژل سو او پرځای یې د فیصل ورور ملك خالد پاچا سو. د 1982 ع.کال د جون پردوولسمه ملك خالد وفات سو، پرځای یې اوسنی ملك فهد پاچا سو.

175 ـ په عثماني پېرکي مصر، مکه اوکعبه

لکه چې د مخه مو وویل عثماني دولت د سعود اعمال او پرمختګونه ونه زغملای سوه. اوپه دې لټه کې سو چې د هغه مخه ونیسي. په دې لړکې یې محمد علي الباني د سعودي واکمنۍ له منځه وړلوته وګوماری. خودې سړي هم پای لکه د مکې شریف حسین، عثماني واکمنۍ ته ستونزي وزېږولې. مصر بالاخره د نورو ربړو په لړکي ترکانو ته یوه نوې ربړه سوه. چې د اروپایانو لاسوهني ته یې هلته لار پرانیستل او د ترکیې د تجزیې اود مصر د خپلواکۍ لامل سوه. د دې ربړو سترلامل دغه محمد علي وو. محمد علي یو هوښیار او زړه ور سړی وو. چې د البانیې اوسېدونکاو د هغه د زېږېدو په ځای " کاوالا " کي د تنباکو وو سوداګر، اوپه عین حال کي د ایله جاري لښکرو صاحبمنصب وو. په 1798ع. کي د مصر د نیولولپاره د فرانسې د ناپلیون بوناپارت د لښکرکښیو په مهال په مصرکي دندي ته وګومارل سو، چې په ښه توګه یې ترسره کړه. بیاکله چې یې له مصرڅخه د فرانسویانو تروتلو وروسته په مصرکي د عثماني سلطان د ولکې د تش په نامه ټینګولو لپاره څه خدمتونه وکړل، په کال 1805ع. کي د دې لپاره چې ګوندي د درعیې سعودي واکمني راو پرزوي، د سلطان محمود ثاني لخواد مصرحکومت ته وټاکل سو. هغه د مصر د پرمختیا لپاره څه کارونه وکړل. د مصرد پخوانیو واکمنانو ( ممالیکو ) پاتي شوني یې چې بغاوتونه به یې کول له منځه یووړل. په مصرکي د پنبې دکښت د ښه دودولو له لاري یې ډېر شته په لاس راوړل او د مصر پوځ یې د هغو فرانسوي صاحبمنصبانو او انجنیرانو په استخدامولو ښه جوړ او د اروپا په طرز یې تربیه او سمبال کړ.کله چې د محمد علي پښې په مصرکي ټینګي سوې اود عثماني واکمنانو لخوا هم پرله پسې د درعیې د واکمنانو سره د ډغري وهلو غوښتني ځني کېدې، نو هغه لومړی د حرمینو شریفینو چارو ته پام واړاوه. څو هم د هغو هندي او یمني مالونو پرتجارت چې د جدې له لاري ترسره کېدی، ولکه ټینګه کړي او هم وهابیان له مکې او مدینې څخه وباسي. وایي چې ترکي واکمنو د محمد علي سره ژمنه کړې وه چې که هغه وکولای سي چې مکه او مدینه د وهابیانو له منګولو وباسي د ده له زامنو څخه یوه ته به د دمشق د ولایت چاري وسپاري. نو هغه وو چې محمد علي پر عربي جزیره باندي د بریدونو لپاره تیاري ونیول او پرسعودیانو باندي یې تاکتیکي بریدونه پیل کړه. د محمد علي اود مکې د شریف غالب تر منځ د لیکونو په واسطه پټ تماسونه ونیول سول. د مکې شریف چې سعود په زور اېل ( مطیع ) کړی وو، محمد علي ته پټ لیکونه لېږل؛ د ملاتړ وعده یې ورکړې وه او ورته څرګنده کړې یې وه چې د حجاز اوسېدونکي دې ته سترګي په لاره دي چې ترکان یې له وهابیانو وژغوري. د درعیې د امارت لخوا دکربلا ترنیولو او ورانولو او پرحجاز باندي د واك ترټینګولو وروسته د نولسمي پېړۍ په پیل کي له یوې خوا د درعیې د امارت یرغلیز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیات بابېز سول، له بلي خوا د 1804 او 1809 ع. کلونو په منځ کي په عربي جزیره کي کاختي او وچکالي سوه. له بله پلوه دکولرا وبا تیته سوه، لکه چي هره ورځ به په درعیه کي په لسګونو وګړي مړه کېدل. او بالاخره په پوځي چاروکي د درعیې د وروستیو واکمنو د نه تجربې اوخپل منځي اختلافاتو له امله محمد علي پاشا او د هغه دوه زامن طوسون پاشا او ابراهیم پاشا ترډېرو جګړو او تلفاتو وروسته په کال1813ع. کي بریالي سول چي مدینه، جده او مکه ونیسي او په کال 1818ع. کي بریالي سول چي درعیه ونیسي او بیایې له وګړو خالي او ورانه ویجاړه کړي. کله چي محمد علي جده ونیول د مکې شریف غالب یې هرکلي ته ور ووتی او بیا دواړو په کعبه شریفه کي د یوبل سره د دوستی لوړه وکړه. خو له دې امله چي ترکي واکمنو له محمد علي څخه غوښتي وه چي غالب ونیسي، هغه ورته په چم کي وو اما څنګه چي د مکې د شریف مرکز ډېر غښتی او پیاوړی وو په ښکاره یې نه سوای نیولای. نو یې دی او د ده زامن په چل ول ونیول. د هغه دکور سامانونه اوشته یې لوټ کړل او د هغه دکورنۍ سره یې ډېره بده وضع وکړه. محمد علي د هغه پرځای د هغه خپل یحیٰی بن سرور د مکې د شریف په توګه وټاکی او د هغه سره یې خپل استازی حسین پاشا پرېښووی. بیا یې غالب او د هغه زامن مصر ته بندي بوتلل اود مکې د نیولوله امله یې هلته جشن ونیوی. بیا یې غالب او د هغه زامن د ترکي واکمنو په امر په سلانیك نومي ځای کي بندیان کړل، څو چي په کال1231 س. کي غالب وفات سو. خدای دې وبخښي. خو په دې ترځ کي یو په بل پسې داسي پېښي رامنځته سوې چي بالاخره انګرېزانو خپل اروپایي استازی ج. سادلرد محمد علي د زوی ابراهیم پاشا د ملاقات لپاره ور ولېږی او له هغه څخه یې وغوښتل چي د انګرېزانو او مصریانوګډ عملیات د وهابیانو پرضد تر سره سي. خو ابراهیم پاشا دا ونه منل ځکه هغه د انګرېزانو په بدو نیتونو پوهېدی. له دې امله د 1819 ع. په منځ کي جدې او بیا مدینې منورې ته ولاړی او سادلر یې له جدې څخه وشړی. او په عین وخت کي یې خپل زیات پوځونه له نجد او د جزیرآ العرب له ختیزو سیمو څخه وایستل. ټولي کلاوي او دفاعي مورچلي یې ړنګي کړې ؛ ډېر ښاروي یې ووژل؛ وني یې پرې کړې اوکښتونه یې وجاړ کړل. په دې ډول د محمد علي ولکه پر مکه او ټول حجاز ټینګه سوه او ترکال 1840ع. پوري په مکه کي د ده واك چلیدی،چي هلته یې څه سمونیز کارونه وکړل او ډېرو اشرافو ته یې معاشونه وټاکل. محمد علي پاشا د دې فداکاریو په بدل کي له ترکي واکمنو وغوښتل چي د هغو د وعدې سره سم په مصرکي د ده واك موروثي کړي او د شام حکومت هم وروسپاري. خو سلطان محمود د ده یوه غوښتنه هم ونه منل. ځکه نو محمد علي وغوښتل چي له زوره کار واخلي. هغه په کال1831ع.کي خپل زوی ابراهیم پاشا د پنځو زرو تنو پوځیانو سره شام ته ولېږی. په 1832ع. کي یې دمشق ونیوی،کوچنۍ آسیاته یې ور ودانګل اوقونیې ته ورسېدی. چي په دې ډول به یې هرځای ترکان د ماتي سره مخامخ کول. د ابراهیم پاشا دې بریو ټوله اروپا ولړزول. عثماني سلطان هم قسطنطنیې ته د مصریانو له نژدې کېدوڅخه وارخطاسو، نو یې د روس له ځار ( تزار ) څخه مرسته وغوښتل. ځار چي دا موقع له خدایه غوښته سمدستي یې جنګي بېړۍ او پوځیان د " بوسفور" څنډوته ولېږل. خو دې اقدام انګرېزان، فراسه، او اتریش سخت وبیرول. ځکه یې نو پرسلطان فشار راوړچي د محمد علي غوښتني ومني او بهانه یې لیري کړي. هغه وو چي په کال1833ع.کي سلطان د محمد علي سره سوله وکړه شام اود " اطني" په نامه یو بل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت یې هغه ته ورکړ، چې په دې توګه محمد علي پرمصر، شام او حجاز او څه نورو ځایونو واکمن سو او یوه لویه ټولواکمني یې تشکیل کړه. په دې ډول ځار نیکولای اړسو چې خپل پوځونه له اسلامبول څخه ور وبولي. خو د عثماني دولت سره د 1833ع. کال د اسکلهٔ خونکار د تړون له مخې یې هغه ټولي ګټې چې په پام کې یې لرلې ترلاسه کړې، سلطان د روسیې تحت الحمایه سو، او تورسمندر د روس پراخه پوځي بندر سو. چې له دې امله بیا ټول ستراروپایي هیوادونه اړسول چې په ډېره څیر تیاسره د ترکیې چارې وڅارې او پای داسې سوه لکه ترکیه چې د اروپا ترساتنې لاندې راغلې وي. پنځه کاله وروسته بیا سلطان محمود د شام د نیولولپاره د محمد علي سره د خورا ډېرو منظمو لښکرو په ور استولو ډغرې ووهلې، خوبیا یې ماته وخوړل. د دې ماتې خبرهغه مهال ترکیې ته ورسېدی چې سلطان محمود د 1839ع. کال د جولای په لومړۍ ورځ مړسو. او د هغه شپاړس کلن زوی عبد الحمید د هغه ځای ناستی سو. دغه مهال د اروپایي هیوادونو جاه طلبۍ او سیالۍ پرخروښ راغلې او په رشتیا سره یې پر ترکیه باندې دکالخوایي ( قیمومیت ) په لوري لومړي ګامونه اوچت کړه. پای په داسې حال کې چې انګرېزدغه مهال، یعنې په 1839 ع. کې عدن نیولی وو. او خپله سمندري اډه یې د هند په سمندر کې تاسیس کړې وه. د انګرېز او اتریش پوځي بېړیو د اسکندریې په وړاندې لنګر واچاوه او ګواښ یې وکړ چې ښارپه توپونو ولي. ځکه نو محمد علي تسلیم سو، خپل پوځونه یې له شام څخه راو بلل اوپه 1256س. (1840ع.) کې د سلطان عبد الحمید سره د محمد علي د سولې په پایله کې هغه یوازې د مصر پاچا سو او د سلطان لخوا فرمان ورکړه سوچې هغه دې د مصرخدیو وبلل سي. او دا خطاب دې د هغه دکورنۍ په لړۍ کې پاته سي. د خلاصآ الکلام لیکوال سید احمد بن زیني دحلان وایي چې د دغې سولې له شرایطو څخه یودا وو چې محمد علي پاشا به حجاز او شام خوشې کوي اود ترکیې پاچا ته به یې پرېږدي. ځکه نو هغه خپل ټول پوځونه له حجاز څخه مصر ته ور وبلل. چې البته د دې ور بللو یو سبب د انګرېزانو فشار او بل سبب یې دا وو چې مصر په ځواکمن کړي. څو د اړتیا په مهال وکړای سي د انګرېز او ترکیې سره په وجنګېدلای سي. او په دې ډول د هغه لاس له حجاز څخه وختی، خو په مصرکې د هغه اود هغه د اولادې خپلواکې واکمنۍ ترڅه مهاله دوام وکړ. چې بیا مصر د انګرېزانو ترواك لاندې راغی. له پورتنیو سیاسي او جنګي چارو پرته د مصرخدیوګانو کعبې شریفې ته د هغې پوښ او څه نور ورلېږل، چې دکعبې د پوښ او مصري محمل ترسرلیکونو لاندې خبرې پرسوې دي.

176 ـ د ترکانو، وهابیانو، سعودیانو، شریف حسین او نورو د شخړو پایلې

د عثماني دولت اوخلافت د وروستیو واکمنانو د ناسموکارونو، د ترکانو د لویانو او سیاست بازانو د یوله بله د مخالفتونو او ناوړوکړنو، د وهابیانو، سعودي مشرانو، مصریانو، شریف حسین او نورو عربو د یوله بله شخړو، جنګونو، بېلتون غوښتنو او بغاوتونو او د انګرېزانو او نورو سره د ځینو واکمنو د ساز و باز په پایله کې، عثماني دولت او خلافت چې د ټولې نړۍ د مسلمانانو سترګې ورته کږې وې، په ډول ډول کړاوونو اخته او پای له منځه ولاړی. پرنګیانو پرعربي خلیج واك ټینګ کړ. مصراو نور ځیني هیوادونه یې ونیول. شریف حسین یې له واکه بې برخې او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوارکړ. د عربي هیوادونو په چاروکي د برطانیې او نورو لاسوهني ته لار اواره سوه. لوېدیز د اسلامي نړۍ پرسیاست برلاسی سو. یوله بله ناجوړ او بې واکه واړه واړه عربي حکومتونه را منځته سول. او د زیاترو اسلامي هیوادو رهبران د هغو لاسپوڅي سول.

177 ـ سعودي عربستان ، د آسیا په جنوب لوېدیزکي

د عربو د ټاپووزمي په کابو ( 75 ) فیصده مځکه کي، چې تقریباً (2149690) مربع کیلو متره کیږي، موقعیت لري. دا هیواد چې د عربو د ټاپووزمي په زړه کي د شمالي عرض البلد د ( 16°،5-32° ) او ختیز طول البلد د ( 35°-56° ) ترمنځ پروت دی. د ختیزلوری له فارس خلیج څخه، د لوېدیزلوری ته ترسره سمندرگي پوري غځېدلی دي. څلورخواوي یې: شمال : اردن، عراق اوکویت. جنوب : یمن او عمان. ختیز : عمان، قطر، عربي متحده امارات اوفارس خلیج ( عربي خلیج ) اولوېدیز : سور سمندر گی ( بحیرهْ احمر یا بحر قلزم ) . د سعودي عربستان د ټولو پولواوږدوالی په وچه کي ( 4415 ) کیلو متره دی. اوپه ختیز اولوېدیزکي له اوبو سره ( 2640 )کیلو متره پوله لري. کوم د یادولو وړ سیند نه لري. وچه او سوځنده، توده هوا لري. او اورښت یې خورا لږدی. دغه هیواد د عربو په ټاپووزمه کي د آسیا تر ټولو لوی عربي هیواد دی. د دغه هیواد په جنوب ختیزه برخه کي د ( ربع الخالي ) لوی، وچ ډاگ پروت دی. ریاض یې پلاز مېنه ( پایتخت ) دی او 1999ع.کال د جولای د میاشتي د سرشمېرني له مخي ( 21504613 ) تنه نفوس لري. چې په دې کي ( 5321938 ) تنه بهرني کارگران،کوم چې په سعودي کي کارکوي هم شامل دي. سعودي عربستان د اداري وېش له پلوه پرڅوارلسو ولایتونو وېشلی دی. اساسي قانون نه لري او چاري یې د اسلامي شریعت پربنسټ اداره کیږي. په سعودي کي د سیاسي ډلو د جوړېدو او سیاسي فعالیت اجازه نسته. د دغه هیواد اقتصاد پرتیلو ولاړ دی او د نړۍ د تیلو تر ټولو غټه زېرمه ( د نړۍ د تثبیت سوي زېرمي26 فیصده ) لري. اوس اوس د نفتو لومړۍ درجه صادرونکی او سترتولیدونکی دی. او د تیلو د صادرونکو هیوادونو په ټولنه ( OPEC)کي د مشرتابه چاري پرمخ بیایي. په سعودي عربستان کي د بودجې ( 75 ) فیصده عواید، ( 10 ) فیصده غیر خالص کورنی تولید او د صادراتو ( 90 ) فیصده عواید له تیلوڅخه لاس ته راځي. او د سړي سرکلنی عاید یې نه زره ډالره دی.

178 ـ د سعودي تاریخي سوابق

اوسنی سعودي عربستان د اسماعیل ﷺ د اولادې اصلي ټاټوبی دی. دا هیواد د قبایلي استوگنو پراستوگنځایونو مشتمل یوداسي ملك وو،چې بېل بېل مدنیتونه پکښي ټوکېدلي دي. حضرت محمد ﷺ د 571ع. کال د اپریل پرشلمه د همدغه هیواد په ډېر ستراو متبرك ښار مکه معظمه کي زېږېدلدی. پرڅلوېښت کلنۍ د اسلام په پیغمبري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې مبعوث سوی او له همدغه ځایه د اسلام د لمر په راختو سره د عربو د یووالي، سترتوب او نېکمرغۍ پېر پیل سوی، او له همدغه ځایه اسلام په ډېره لږ موده کي په شمال کي تر هسپانیي او په ختیزکي تر اندونیزیا پوري خپور سوی دی. کعبه، مکرمه، مسجدالحرام او د حج نور مقدس اماکن او د حضرت محمد مصطفی ﷺ مقدس قبر، نبوي مسجد او د اسلام نور تاریخي سپېڅلي آثار په سعودي عربستان کي دي. په شپاړسمه عېسوي پېړۍ کي پرتگالیانو چې مخکي یې ځیني نوري سیمي هم نیولي وې، پر مکه معظمه د تېري پلان جوړکړ. ځکه نو عثماني ترکانو د مسیحیانو د احتمالي خطر د شنډولو په مقصد د عربستان لوېدیزو برخوته پوځونه واستول او بالاخره یې دغه سیمه ونیول. خو لکه چې د تاریخ له مطالعې څخه څرگندیږي، پرهغې یې واك دونه ټینگ نه وو. په تېره د منځني نجد پرسیمه باندي عثماني خلافت یوازي په نامه واك درلود. ترلومړۍ نړۍ والي جگړې ډېر د مخه انگرېزانو د سعودي عربستان د ساحلي سیمو، ان له نجد سره اړیکي ټینگي کړې. په کال 1914ع. کي چې ترکانو جگړه وبایلل، نو انگرېز د عثمانیانو په خلاف د عربو ملاتړ وکړاو د عثمانیانو پرضد یې د مکې شریف حسین راوپاڅاوه. چې بالاخره هغه خپل ځان د حجاز خپلواك واکمن اعلان کړ، چې بیا وروسته ملك عبد العزیزحجاز ځني ونیوی او د حجاز او نجد له گډون څخه یې اوسنی سعودي عربستان تشکیل کړ.

179 ـ د سعودي عربستان پرمختیا

له اوس څخه شپېته کاله د مخه د سعودي عربستان د خلکومالي او اخلاقي حالت ډېر خراب اوکمزوری وو. دغه مهال سعودي یو بې وزلی هیواد وو. اوستره عایداتي منبع یې د حج موسم وو. د دې ځای خلکو به په وچوخرما وو، د اختري په غوښو او د حاجیانو په خیرات گزاره کول. کله چې ملك عبد العزیز پاچا سو، نو د هغه دا هیله وه چې د ده د هیواد خلك ښه ژوند ولري او د حاجیانو هم ښه خدمت وکړي، او د هوسایۍ اوسوکالۍ اسباب یې برابر کړي. ده په هیوادکي د راډیو سټېشنونه تاسیس کړه، د جدې د څښاك د اوبوشبکې یې سمي کړې او د ټولنیزو خدمتونو نور وسایل یې رانیول. له دې امله خورا ډېر بهرني پوروته پر واوښتل، چې د ورکولو لپاره یې هیڅ نه درلودل. ملك عبد العزیز ډېر زیرك، هوښیار، روڼ اندی اود متحرك شخصیت درلودونکی سړی وو. ده گټل چې کوم ولس چې ښه ژوند ونه لري نه یې دین سرلوړی کیږي نه دنیا. د دې روحیې په درلودلو سره هغه یو سړی د چارلس گرین په نامه په جده کي خپل ملاقات ته ور وباله. چارلس گرین یو موړ امریکایي وو، چې سوریې، فلسطین او د منځني ختیز ځینو نورو سیمو ته یې تگ راتگ کاوه. او په یمن کي یې څه سړکونه او پلونه جوړکړي وه. چارلس گرین د ملك عبد العزیز اود هغه د خزانې د وزیرشیخ عبد الله سلیمان سره د 1923ع. کال په مارچ کي وکتل. هغه دوی ته وویل چې عرب تر مځکي لاندي ډېر ښه ذخایر لري، چې د هغو د رااېستلو لپاره بایدکوښښ وسي. او وعده یې ورکړه چې د سعودي د خاوري دکانونو د پلټني لپاره به یو ماهر ور ولېږي. دوې میاشتي وروسته د مسټر کارل ټوچل په نامه یو جیولوجیسټ ( مځکپوه ) جدې ته ورسېدی. هغه لومړی په جده کي د څښاك د اوبو د سمون کار ترسره کړاو بیا یې په نجد کي تر یو نیم کال پوري د تیلو د پلټني کار بشپړکړاو خپل رپوټ یې پاچا ته وړاندي کړ. پاچا د شهزاده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصل پرلاس، چې دغه مهال لندن ته تی، د برتانیې سره تماس ونیو. خو څنګه چې دغه مهال برتانویان په بحرین، ایران، عراق،کویت اونوروکې د تیلو د را ایستلو په کار بوخت وه، د سعودي د تیلو د راایستلو سره یې دلچسپي ونه ښوول، نو ټوچل د امریکا د تیلو شرکتونه په خبرکړه. پای د " ستېنډرډ آیل کمپني اف کالیفورنیا " ( سوکال ) سره د شپېتو کالو لپاره تړون لاسلیك سو. دغي کمپنۍ بیا د " عربین، امریکن آیل کمپني " ( ارامکو ) په نامه شهرت وموند. چې په نړۍ کې د تیلو د را ایستلو ترټولو ستره کمپنۍ ده. دې کمپنۍ یو په بل پسې شپږڅاګان وکیندل چې ګرده وچ وختل. خو تر پنځو کالو پرله پسې پلټنو وروسته په کال1938ع. کې له اووم څا څخه چې ( 4727 ) پټه کیندل سوی وو، ډېر تیل را ووتل. چې په نتیجه کې سعودي نه دا چې له بهرنیو پورونو خلاص سو؛ بلکې د نړۍ د تیلو د تر ټولو غني زیرمو په درلودلو سره د تیلو تر ټولو غټ صادرونکي هیواد سو. چې د تیلو د صادرونکو هیوادونو په ټولنه )ګګ (OPEC کې د مشرتابه چاري پرمخ بیایي. پای د تیلو له برکته سعودي د دې وړ سو چې د ملك فیصل په وختو کې د روس او امریکا سره ډېغري ووهي او هغوی دې ته اړ کړي چې ومني چې سعودي عربستان هم یو ځواك دی. خو د سترو ځواکونو د ملك فیصل دا جراءت خوښ نه سو او د یوې توطئې په لاره اچولو سره یې هغه د خپل وراره په لاس وواژه. بیا ملك خالد د سعودي دواك پرګدۍ کښېنستی. خو دی د سترو ځواکونو په مکاری او چل ول نه پوهېدی، ځکه نو د سعودي د ځواکمنتیا کچه را ټیټه سوه. او اوس چې د ملك فهد پېر دکه یې څه هم په دیني او دنیوي دواړو برخوکي د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي، خو په مجموعي توګه د ملك په اقتصاد کې کومه ښکاره پرمختیا نه ده راغلې. ده پرکویت باندي د عراق د برید له امه د امریکایي پوځنو مرسته وغوښتل، چې سمدستي هلته مېشت سول. امریکایان د ځنځو غوندي د سعودي د خلکو او نورو عربو ملي شتمنۍ زبېښي او په یو ډول نه یو ډول د دوی د تیلو ذخایرلوټوي. اوس په ظاهره په سعودي عربستان کې هم هغه څه تر سترګو کیږي چې یو پرمختیایي هیواد یې باید په ابتدایي توګه ولري. خو د دې سره سره د پرمختیا دا بڼه سرسري ده او واکمنو په دې برخه کې هغه کارونه چې ښایي، نه دي کړي. دلته باید ومنو چې بهرني پردي ځواکونه نه غواړي اونه پرېږدي چې په سعودي کې بنسټیز صنایع را منځته سي. خو بیا هم باید سعودي واکمني په هیواد کې د بنسټیزو صنایعو ودې، پراختیا او را منځته کېدوته زیاته پاملرنه وکړي. ځکه صنعت د یوه هیواد د پرمختیا د ملا د تیر هډوکی باله سي. او له دغسي بنسټیزو صنایعو پرته به دا هیواد سره د دې چې د تیلو ستر ذخایر به هم ولري، هیڅکله به په تېره په همدې یوویشتمه پېړۍ کې د سیالانو سیال نه سي. که سعودي دولت همدغسي د بهرنیانو پرپالیسیوکړنه وکړي، نو راتلونکې به یې هیڅکله روښګانه نه وي. او تل به د هغو لاس ته ګوري. او څرګنده ده چې هغه ملك چې د نورو لاس ته ګوري، هیڅکله په خپلواکي کې ژوند نه سي کولای. د سعودي اوسنی حال ډېر ښکلی او زړه راکښونکی بریښي. پراخ پراخ سړکونه ،ښښپړ ترافیکي نظام، هوایي ډګرونه، د بسونو اډې، هرځای د ټیلیفونونو سهولتونه، مشروبات، ډول دول ایرکنډېشنډ موټران، په سلګونو تر مځکه لاندي او پر مځکه سربېره د ترافیکو د تلو راتلو لاري او تونلونه، ډول ډول هوایي پلونه، ایرکنډېشنډ مانۍ، د ډول ډول ګېڼو او د ژوند د نورو وسایلو ستر ستر مارکېټونه، اتومات زینې او لفټونه او په ډول ډول وسایلو سمبال هوټلونه او ودانۍ، د هیڅکله نه تلونکي برېښنا پرمختللی نظام،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو د دارو درملو ډېراو پرمختللي سهولتونه، امن و امان او عدل و انصاف دا ټوله هغه څه دي چې سړي ته وریه زړه کوي چې دا هیواد د نړۍ یو نادر هیواد دی. خو د دې سره سم دا په پام کې راګرځي چې آیا سعودي به د ژوندانه دغه طرز ترپایه وساتلای سي ؟ نو دلته سمدستي دې ته پام اوړي چې نه ! ځکه ترڅوچي په دې هیواد کي بنسټیز درانه صنایع را منځته نه سي او له تیلو پرته نور صادراتي اقلام ونه لري دا نظام به خدای مه کړه ډېر بد را وپرځي. نو کشکي سعودي له اغیارو څخه وژغورل سي. څو د درانه صنعت د ټکنالوژۍ د ترلاسه کولو لپاره لاس په کارسي.

180 ـ د سعودي حکومت لخوا د کعبې بیا رغونه

سعودي کورنۍ ته،کومه چې دکال 1902ع. څخه پرسعودي عربستان واکمنه ده، خدای ﷻ د حرمینو شریفینو د عظیم الشان او ډېر عصري تعمیراو توسیع او د حاجیانو د ډېر ښه خدمت، ډېر ستر ویاړ ور په برخه کړی دی. موږ به دلته سمدستي دکعبې د سعودي رغوني په هکله معلومات وړاندي کړو او بیا به په خپل ځای کي د مسجدالحرام د سعودي ستر ودانیز او پراختیایي کار په هکله څرګندوني وکړو. د 1377س. کال د حسن حسین د میاشتي په لومړیوکي ملك سعود بن عبد العزیزبن عبد الرحمان آل سعود، دکعبې شریفي د بام اودننه چت د بدلولو حکم ورکړ. د دې پاچایي فرمان سره سم د عالمانو، انجنیرانو اوکارګرانو یوه ودانیزه کمیټه جوړه سوه چې مشر یې د دغو تعمیراتي چارو قراردادي شیخ محمد بن عوض بن لادن وټاکل سو. کله چې دکعبې د بیارغوني لپاره د تیاریو چاري بشپړي سوې، ترټولو د مخه د 1377س. کال د دریمي خور په یوویشتمه نېټه پرکعبه شریفه باندي د عبد الله بن الزبیرد پردې غوندي، پرده راوګرځول سوه او بیا د همدغه کال د خدای تعالی د میاشتي په اتلسمه نېټه د جمعې په ورځ ولیعهد شهزاده فیصل بن عبد العزیزد ملك سعود په نماینده ګي ( ملك سعود د یوې سختي ناروغۍ له امله دې مراسموته نه سوای راتلای )، دکعبې د بام د نړولوکار د یو لړ مراسمو سره پیل کړ، او ورپسې د یکشنبې په ورځ دکعبې د بام د ودانۍ کار پیل سوچي د 1377س. کال د برات د میاشتي ترشپږویشتمي نېټې پوري دکعبې بام،دکعبې دننه د لرګین چت زینه، دننه د لرګیو چت ، دننه دېوالونه، دننه درې ستونونه، دکعبې دروازه او د هغې ملحقات اونور په عصري او قیمتي موادو او وسایلو په ښکلي او عصري ډول جوړ او ترمیم سول. او هغه لرګین مېخونه چې دکعبې پوښ په بندېدی هم د اوسپني په مېخونو بدل سول. بیا په کال 1417س. کي څلوېښت کاله وروسته څرګنده سوه چې دکعبې شریفي چت بیا سمون او رغوني ته اړتیا لري. نو هغه وو چې د سعودي عربستان د اوسني پاچا ملك فهد په امردکعبې شریفي پرشا وخوا د یو ډول لرګي پرده راوګرځول سوه، چې یوازي حجر اسود ځني ښکارېده او په داسي حال کي چې د عمرې طواف کونکو طواف پرکاوه د هغې چت نوی او ترمیم کړل سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



181 ـ سعودي واکمني او دکعبې او حاجيانو خدمت

لکه چې د مخه مو هم وويل د تيلو په برکت سعودي د نړۍ د پرمختيايي هيوادونو په ليکه کي ودرېدی او ستربدلون پکښي را منځته سو. دغه رازسعودي واکمنو هلته داسي يو امنيت را منځته کړی دی چې نه يې د عربو په تاريخ کي ساری موندل کيږي او نه يې په اوسنۍ نړۍ کي بل ځای ساری سته. هلته خلك بيله کومي بيري دکورونو دروازې پرانيستي پرېږدي او بيديږي. ځيني هټۍ وال ( دکانداران ) د شپې لخوا د خپلو هټيو ورونه نه تړي د لمانځه په وخت هټۍ وال يوه معمولي پرده د هټۍ پرمخ راځړوي. يا يوازي ورپوري کوي او د جماعت لمانځه ته ځي اودا بيره نه وي ورسره، چې څوك به يې له هټۍ څخه څه غلاکړي. ټکسي وان موټردروي اولمانځه ته ځي اودا بيره نه وي ورسره چې څوك به يې د موټرکومه هينداره يا بل شی غلاکړي. اوسمهال د حج د لارو او مکې امنيت او د حاجيانو د سر، شتو او عزت خوندي توب د راشده خلفا وو ترواکمنۍ را وروسته د حج او مکې په تاريخ کي ساری نه لري. چې دا ټول د قرآن کريم د احکامو د پلي کولو پايله ده. په مکه مکرمه کي اوس هم ځيني لرغوني آثار او پخوانۍ سپېڅلي ودانۍ سته چې ښايي ځيني د اسلام په لومړيوکي هم وې. چې د وخت د حاکمانو او اميرانو لخوا مهال په مهال ترميم سوي او تراوسه خوندي پاته سوي دي. خو په نورو برخوکي د مکې ښارد سعودي د نورو ښارونو غوندي ډېر بدلون موندلی اوداسي نوی او ښکلی سوی، چې د نړۍ د ډېرو پرمختللو ښارونو غوندي ايسي. هلته هرځای پراخه واټونه، ستري ستري مانۍ اود نوي تمدن او پرمختيا ډول ډول نمونې ترسترګوکيږي. چاچي شل، دوه ويشت کاله د مخه حج يا عمره کړې وي او اوس مکې مکرمې يا مدينې منورې ته ولاړسي. هلته به دی يوازي د هغه مهال کعبه اود نبوي جومات يوه برخه وپېژني او نوربه هرڅه ورته نوي وي. هلته دکعبې او نبوي جومات شا وخوا دونه پراخه سوي او دونه ودان سوي اوښکلي سوي چې نور سړی نه سي ويلای چې دا يانه دی سم يا دا لا پاته دی. هلته لکه څنګه چې دکعبې او نبوي جومات سربېرنه شا وخوا ودانه سوې، هغونه د دغو مقدسو ځايونو تر مځکي لاندي برخي هم په ډېره عصري او مډرنه بڼه ودان سوي دي. ترحرمينو لاندي د هغو اړوند ډېر تاسيسات، د موټرانو سړکونه او تمځايونه هم ودان سوي دي. د مکې ټول ټرافيك د تونلونو له لاري ترحرم لاندي تېريږي، راتېريږي. د حرمينو اړوند په زرګونو تشنابو نه چې خورا پاك او نظيف هم دي د ډېرو اوبو سره تر مځکه لاندي جوړ سوي دي. چې د تلونکو راتلونکولپاره ډېري ساده او اتومات زينې لري اوڅليرويشت ساعته د حاجيانو دګټې اخيستني لپاره په کار لوېدلي دي. دغه راز د حرمينو په غولي کي داسي ډېري کارسوي دي چې د ډېري تودوښي سره سره سړې وي اوپښې نه سوځي. چې دا ټول د علم او پوهي او نننۍ پرمختللي ټکنالوژۍ له برکته دي. لنډه دا چې سعودي حکومت دکعبې، مسجد الحرام اونورو متبرکو اماکنو د بې ساري ودانولو په باب ستركارونه کړي. چې د هريوه په باب په دې کتاب کي په جلا جلا توګه څرګندوني سويدي. سعودي واکمنۍ له ښايسته ډېروکلونو راپه دې خوا دې ته ملاتړلې ده چې د مکې او مدينې د زيارت کونکو لپاره ډېرښه خدمتونه اوسهولتونه رامنځته کړي. څوزيارت کونکي خپل مذهبي فرائض په امن، هوسايي او ډاډسره ترسره کړي. د دې مقصد لپاره سعودي واکمني هرکال خپلي هلي ځلي زياتوي اوهرکله چې د حج موسم رانژدې کيږي خپل ټول انساني اونور وسايل پرکار راولي اود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجیانو خدمتونه اوخوندي توب یقیني کوي. د حاجیانو له راتلو څخه ترستنېدو پوري د سعودي له هوایي ډګرونو څخه نیولې د حکومت ټول اړوند وزارتونه اواداري یوله بله په همغږي اومرسته کي کوښښ کوي چې حاجیانوته ډېرښه او په لوړه کچه خدمتونه اوهوسایی برابري کړي. د حکومت اړوندي اداري خپل پلانونه او تدابیر د حاجیانو تر ورتلو ډېر د مخه چمتوکوي او د حج د لويي کمېټې،کوم چې کالخوایي یې دکورنیو چارو وزیر پرغاړه لري، سپارښتونوته عملي جامه وراغوندي. مثلاً حج په مهال دغه وزارتونه او اداري د حج او حاجیانو د چارو په سمبالښت کي برخه اخلي: د حج او اوقافو، دکورنیو چارو، عامي روغتیا، مخابراتو، ټرانسپورټ، ملي دفاع او هوایي چلند، اطلاعاتو او سوداګرۍ وزارتونه او سعودي سره میاشت، ملي ګارډ، د اسلامي نړۍ سازمان، د حرمینو د چارو اداره، د حج ساتندوی ځواکونه، د مسجد الحرام د چارو اداره، د مکې مکرمې ښاروالي، د سعودي عربستان د څارندویانو ټولنه، د اوبو رسولو د چارو اداره، د قرباني د غوښوڅخه دګټې اخیستني پروژه او د حج د موسم د څېړنو مرکزاو داسي نور.

182ـ په سعودي پېرکي د کعبې په حرم کي جګړه

د اسلام په څوارلس کلن تاریخ کي په خپل نوعیت کي دا لومړۍ بده او زړه بوږنوونکې پېښه ده چې کعبه شریفه ځینو عناصرو ونیول اوپرله پسې څوارلس ورځې طواف ونه سو او د حرم ارشو د اذان او اقامت له نېکمرغۍ څخه بې برخي وه. دغي ډلي دکعبې شریفي سپېڅلتیا ترپښو لاندي کړه اود حرم فرش یې د حاجیانو په وینو ولاړه. د 1400س.کال د حسن حسین د میاشتي په لومړي سهارچي د 1979ع. د نومبرد شلمي سره سمون خوري،کله چې د حرم امام شیخ عبد الله بن سبیل د سهار د لمانځه څخه سلام وګرځاوه، دغه ډله په داسي حال کي چې د الله اکبر او جهاد جهاد ناري یې وهلې او تفنګچې، توپکان اوماشین ګنې ورسره وې، د بوټو سره حرم ته ننوتل. څو تنو امام ونیوی اوځینو په مُکبره کي لاوډسپیکرقبضه کړ. دغه مهال په حرم کي نژدې یولك لمونځ کوونکي موجود وه. کوم چې زیاتره بهرني حاجیان وه. د برید کوونکو شمېرله دوو سوو څخه تر پنځو سوو پوري اټکل کېدی. چې زیاتره یې سعودي اوځیني مصري، یمني،کویتي، سوډاني، عراقي او پاکستاني وه. دغه وګړي د یوه مخکي جوړ سوي پلان له مخي اوډدې جګړې ته تیار راغلي وه. د دوی سرغنه اووه ویشت کلن محمد بن عبد الله قحطاني وو چې څلور کاله یې د مکې مکرمې په پوهنتون کي د اسلامي قانون په برخه کي زده کړي کړې وې. دوی د حرم ټولي دروازې وتړلې اود اذان کوونکي له کوټې څخه یوه سړي په عربي ژبه اعلان کړه چې: " موعود مهدي، کوم چې نوم یې محمد بن عبد الله دی راغلی دی ". بل سړي په عربي لیکل سوې وینا واورول اود هغه اردو ژباړه یوه بل سړي وویل. دغه تش په نامه مهدي هم په میك کي اعلان وکړچي :" زه د نوي پېر مهدي یم. زما سره بیعت وکړئ ". بیا مقام ابراهیم ته ورغی. د وسلې په زور یې خلك بیعت ته ور وبلل. اودغه مهال پخپله د دغي ټولۍ غړو د هغه سره بیعت کول پیل کړل، چې ګوندي نور خلك وغولېږي او بیعت ورسره وکړي. خو هیڅ حاجي داکار ونه کړ. دکعبې امام هم بیعت کولو ته اړ ایستل سو. خو هغه داکار هیڅ ونه کړ. دغه مهال دولتي چارواکود برېښنا مزي وشکول چې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرم کي توره تياره سوه، اوخلك سخت وبېرېدل. کله چې هغو وغوښتل چې له حرم څخه د باندي ولاړ سي ټولي دروازې تړلي وې. چې له دې امله نورهم وارخطاسول. زيات وګړي له هغي لاري څخه چې نوي باب السلام ته ترمځکه لاندي بهرته وتلې وه، ووتل او ډېر نور د صفا اومروه په منځ کي د لوړوکړکيو څخه بهر وغورځېدل او ځانونه يې وژغورل. د حرم امام د برید کوونکو له منګولو په يو ډول ځان وژغوری، سمدستي يې له يوې کوټې څخه دولتي چارواکي له پېښي څخه خبرکړه. ده هم خپله چوخه وغورځول او په عامو خلکو کي بهرته ووتی. په دې ترڅ کي برید کوونکي د حرم په منارو او نورو مهموځايونوکي خزه سول اوکله کله يې دګوليو واري هم کول. سمدستي ملك خالد د ( 32 ) تنو ديني عالمانو غونډه جوړه کړه. هغو د قرآن او نبوي احاديثو په رڼاکي د رايو په اتفاق پرېکړه وکړه چې د دغو وسله والو کسانو په وړاندي له تشدد څخه کار اخيستل د شريعت سره سم کاردی. اود مسلمانانو د ځانو د ژغورني او ساتني لپاره وړکړني ډېري ضروري دي. تردې فتوا وروسته د حرم دباندي پارکينګ له پوځي جيپونو، چې ماشين ګڼې پکښي درول سوي وې ډك سو. سخت امنيتي تدابير ونيول سول، شا وخوا کورونه او ودانۍ خالي سوې او بيا سخت جنګ پيل سو، چې څوارلس ورځي يې دوام وکړ. د دې جګړې له امله د مروه لوري ته د مسعٰی وروستۍ دروازه ماته سوه، د هغې د دواړو لورو دېوالونه ونړېدل، دحرم ختيزلوري ته هغه دېوال چې مروه له صفا څخه بېلوي بشپړ وران سو، پردېوالو، دروازو اوکړکيوباندي دګوليو اورولو نخښي ښکارېدې، د برېښناټيوبونه، بادپکې او ايرکنډېشنونه وران ويجاړ سول. د حرم پرمنارو باندي چې برید کوونکوګولۍ ځني اورولې، د دولتي ځواکونو لخوا دګوليو د اورېدلو نخښي له ورايه ښکارېدې. د حرم ډېر ستونونه ونړېدل. د مسجد الحرام ځيني دروازې په بشپړه توګه له منځه ولاړې. د حرم د دوهم پوړ ټولي زينې وراني سوې. د حرم د ستونو د مرمر ښکلي اوقيمتي ډبري جلاسوې. د حرم په زير زمينيو کي اوبه ودرېدې. د جګړې په جريان کي سعودي پوځيانو د دې لپاره چې برید کوونکي د وسلو پرمځکه اېښوولوته اړکړي ټايرونه وسوځول چې تر ډېرو ورځو يې ډېر بد بوی پورته کېدی. بالاخره د حسن حسين د مياشتي د څوارلسم او پنځلسم په شپه ترخونړي برید وروسته ځيني ياغيان ووژل سول او ځيني ژوندي ونيول سول. د دغه کال د حسن حسين پر شپاړسمه چې د دسمبرد اوومي سره سمون خوري،کله چې حرم شريف بيرته د عبادت لپاره پرانيستل سو، سعودي ټلويزيون داسي تفصيلات خپاره کړه: د سعودي عربستان دکورنيو چارو وزير پاچازوي نايف بن عبد العزيز وويل :" له مفسدينو څخه دکعبې شريفي د پاکولو او پرهغې باندي د بيا کنټرول ترلاسه کولو لپاره د سعودي د ملي ګارډ او وسله والو برید کوونکو ترمنځ شديد جنګ وسو. په دې جګړه کي ( 75 ) تنه ياغيان او ( 60 ) تنه د ملي ګارډ سرتيري ووژل سول او د څلورو پاکستانيانو په ګډون ( 26 ) تنه حاجيان شهيدان اوپه سلګونو نور ټپيان سول. ( 170 ) تنه د بيت الله شريفي د حرمت او سپېڅلتيا له منځه وړونکي ژوندي ونيول سول". چې له هغو څخه پنځوس تنه د ټلويزيون پرپرده هم وښوول سول. د سعودي دکورنيو چارو د وزارت د يوه بل بيان سره سم له نيول سوو څخه ( 63 ) تنه اعدام سول، ځيني د بېلو بېلو مودو په بند محکوم سول او يو شمېر ښځي چې د برید کوونکو په ډله کي وې دارالنسوان ته وسپارلي سوې. د تاريخ مکآ المکرمه ليکوال مولانا محمد عبد المعبود وايي چې په دې شخړه کي هلي کاپټرو له پاسه د ګازو ګولۍ و اورولې. او ټانکونه، توپونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوسله وال پوځ نور وسایل هم په کار ولوېده. 183ـ په سعودي پېرکي په حرم کي د ایرانیانو مظاهره او اړودوړ ځوکاله د مخه لکه چې د لیبیا مشر معمر القذافي ویلي وه چې حرمین شریفین دي د اسلامي نړۍ یوه ګډ انتظام ته وسپارل سي. په دې پسي دغه خبري ایرانیانو هم کولې او په د هکله به یې کال په کال د حج سمینارونه اوکنفرانسونه جوړول او ایراني حاجیانو به په مکه مکرمه کي کله ناکله مظاهرې هم کولې. چې سعودي حکومت به د هغو په وړاندي له زغم څخه کار اخیستی. د سعودي واکمنو د ادعاله مخي په کال 1406س. کي په هوايي ډګر کي د ایراني حاجیانو له ( 95 ) بکسونو څخه یوپنځوس کیلوګرامه چاودېدونکي مواد ونیول سول. چې دا یې په مکه کي دوران کارئ ترسره کولو لپاره سعودي ته لېږدول. په نوي ډېلي کي د سعودي د سفیر شیخ فواد له خولې به پخوا له ایران څخه دېرش، پنځه دېرش زره تنه د حج لپاره مکې ته تلل. خو بیا سره له دې چې ایران د عراق سره د جګړې په اقتصادي ستونزو هم اخته وو په 1407س. (1987ع.) کي د هغو شمېر نژدې یونیم لکوته لوړسو. سعودي سفیر زیاتوي چې موږته پته ولګېده چې په دغو وګړو کي ستر شمېر " پاسداران انقلاب " ، پوځیان او د حزب الله غړي او نور دغسي کسان وه. دکال 1407س. د لوی اختر د میاشتي شپږمه د 1987ع. کال د جولای ( 31 ) د جمعې ورځ د مازدیګر مهال وو، چې د مکې د العزیزیه په محله کي پارکینګ ته نژدې د ایراني حاجیانو راغونډېدل پیل سول. چغې، نارې یې پیل کړې. د آیت الله خمیني د عکسونو پوسترونه یې بېل بېل ځایونه ونښلول. د ټیلیفون او نورو خادوته د ورختلو لپاره یې زینې استعمال کړې. سوټې او ډنډې یې راوړلې او هغه چاقو ګان او چړې یې چې په کالوکي یې پټې کړي وې په لاسوکي ونیولې. د ځینو مظاهره کوونکو په لاسونو داسي ساعتونه وه چې پرلیکل سوي وه: " لبیك یا خمیني " او په داسي حال کي چې ځیني غټ غټ عکسونه، شعارونه، بیرغونه او لاوډسپېکرونه یې هم را اخستي وه، پرسړکونو او لارو یې بندیزونه واچول او د ترافیکو عادي جریان یې مختل کړ. چې له دې امله په زرګونو په موټرانوکي ناستي ښځي او واړه ماشومان وبېرېدل. دغه مهال ځینو عربو او نورو حاجیانو د مظاهرې له مشرانو څخه وغوښتل چې دا لړه پای ته ورسوي. خو هغو و نه منل او د مسجد الحرام پرلور رهي سول. کله چې د مکې ځینو اوسېدونکو مداخله وکړه هغو هجوم پر ور وړ. دغه مهال د څارندوی ساتونکو چې هلته یې امنیتي چارې ترسره کولې د ایرانیانو ، د مکې د استوګنو او نورو حاجیانو ترمنځ د تصادم د مخنیوي لپاره مداخله وکړه. خو ایرانیانو په ډنډو، چړو او ډبرو پرخلکو او امنیتي ساتونکو بریدونه وکړه او څارندوی او امنیتي ځواکونه یې مداخلې ته اړکړه. کله چې اوبه ترسر واوښتې، نو هغو اود ملي ګارډ پوځیانو ته حکم وسوچې مظاهره کوونکي تیت او خپاره کړي او د امنیت ټینګښت ته پاملرنه وکړي. چې له دې سره سم اخ وډب پېښ سو او مظاهره کوونکو په تېښته پیل وکړ. چې په دې ځغاستو او منډوکي مرګ ژوبله را منځته سوه. مظاهره کوونکو موټرانو او موټرسیکلانو ته اوروونه واچول، د امنیتي ځواکونو وسایط یې وسوځول او د ټیلیفون او نورو دفاترو ځینو ودانیوته یې د نقصان رسولو او اور اچولوکوښښونه هم وکړه .

سعودي واکمنو ادعا کول چې امنیتي ځواکونو مردکي نه دي اورولي. اوکوم ایرانیان چې ووژل سول زیا تره ښځي اوسپین بږیري وه. کوم چې په مظاهره کي ګډون ته اړکړی سوي وه. کله چې ځغاستي پیل سوې دغه وګړي د مظاهره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو تر پښو لاندي سول. دغه راز د سعودي امنيتي ساتونکي ايرانيانو په چړو ووهل او مړه سول. د دې لګي درګي په پايله کي ( 402 ) تنه ووژل سول چې ( 85 ) تنه يې سعودي وګړي او امنيتي سرتيري وه، ( 42 ) تنه يې د بېلو بېلو هيوادونو حاجيان وه ( 275 ) تنه يې ايراني مظاهره کوونکي وه. چې زياتره يې ښځي وې. د دې پېښي ټپيان ( 649 ) تنه وه چې ( 145 ) تنه يې سعودي وګړي او امنيتي ساتونکي ، ( 201 ) تنه د نورو هيوادو حاجيان او ( 303 ) تنه ايرانيان وه. تر دې پېښي وروسته سعودي واکمنو ادعا وکړه چې ايرانيانو غوښتل چې پر مسجد الحرام باندي قبضه وکړي. او ځينو نورو ويل چې د هغو دا خيال وو چې د حرم په نيولو سره غوښتنه وکړي چې حرمين دي تر اسلامي نړۍ وال کنترول لاندي راسي. دا ادعاوي هم وسوي چې په دې مظاهره کونکوکي د ايران ځيني پوځي او ملکي غټ چارواکي هم شامل وه .

د " صهبای حج " په نامه د يوه نسبتاً ضخيم کتاب يوه ايراني ليکونکي آيت الله عبد الله جوادي آملي هم په دغو مظاهروکي ګډون درلود، هغه دغه ورځ د جمعهْ خونين او دغه پېښه د فاجعهْ خونبار او حادثهْ سهمګين اعصار په نامه توصيفوي او وايي چې دغه لاريون له مشرکانو څخه د تبرا او د مسلمانانو د يووالي لپاره، د آيت الله خميني په لارښوونه او د سعودي حکومت په مخکني توافق په لاره اچول سوی وو، خو سعودي چارواکو د دې لاريون غريب او بې پناه ګډون کوونکي په خورا بې رحمۍ وټکول، چې په سلګونو تنه ښځي او نارينه مسلمانان مړه او په سلګونو نور ټپي اوخفه سول. دغه آيت الله وايي چې دغه وژني په سړه او توده وسله او اوښکي بهوونکي او خفه کوونکي ګاز ترسره سوې او د ماشينګنو درزی د الهي امن په حرم کي پورته سو او په حرامه مياشت او بلد امين کي يې محرم زيارت کوونکي له مشرکانو څخه د تبرا په جرم داسي په وينو ولړل او د شهيدانو د جسدونو له ورسپارلو څخه يې هم ترډېرو مودو ډډه وکړه. له دې پرته يې نور اروايي او غيراروايي جرمونه هم وکړه، چې نه يې قلم د ليکلو او نه يې ژبه د ويلو وس لري. ( لويه څښتنه زموږ د مهال د ډېرو پوهو مسلمانانو يو له بله حال ان په الهی حرم کي لا له دغه قبيله دی، نوته د دي خپل اسلام او بې وزلي مسلمان حافظ سې ).

184ـ دکعبې شريفي د ودانۍ بيا بيا سمون او روغونه

مخکي څرګنده سوه چې کعبه شريفه يوولس واره بيا جوړه سوې ده. دغسي په اسلامي دوره کي دکعبې وداني څوځلي ترميم او روغه سوې هم ده چې، تفصيل يې په لاندي ډول وړاندي کيږي: په 814 س. کال کي دکعبې شريفي بام کمزوری سو. ميزاب رحمت ته نژدې او د کعبې دننه په لرګين چت کي د نصب سوو کولکونو ( روشندانونو ) سره پردېوال اوبه څڅېدلې چې ممکن ډېر تاوان يې رسولی وای. خو هغه په خپل وخت له سره ترميم سو، دکولکونو خراب سوي لرګي بدل سول او يماني رکن ته نژدې دکولك چوکاټ نوی ورته نصب سو. دغه راز پر بام باندي هغه لرګين ميخونه کوم چې دکعبې پوښ به په بندېدی هم بدل کړی سول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 838س. کال کي اميرسودون المحمدي دکعبې چت نوی کړاو په 843س. کال کي بيا دغه اميردکعبې شريفي د بام هغه برخي چې اوبه ځني څڅېدلي په اهاکو اوگچو پلسترکړې او د بام د مرمر ډبري يې هم مرمت کړې. دغه راز ده دکعبې د دنني چت د ځلورو واړو کولکونو چوکاټونه ايسته کړل او او له سره يې دکعبې دننه سم کښېښوول. په 848 س. کال کي دکعبې شريفي په لوېديز دېوال کي څه نقص پيداسو چې د پلستر په واسطه سم سو. همداراز د ميزاب رحمت لاندي چې کومي ډبري را لوېدلي وې، هغه هم اصلاح او بيرته هلته نصب سوې. په 883س. کال کي هم دکعبې د دېوالونو او ستونونو څه مرمت کاري وسوه. په 931س. کال کي د مصر د والي ابراهيم پاشا په حکم، د جدې د امير او د مکې مکرمې د مشايخو ترڅارني لاندي دکعبې د چت پرماتو سوو لرگيو د اوسپني پتري ووهل سول او د هغو وی نو خوړلي ځايونه په سميټو ډك سول. خو داكار پايښتی جوت نه سو او په 959س. كي بيا د هغو ترميم ته اړتيا وليدل سول. چې عثماني پاچا سلطان سليمان خان بيا د هغو د ترميم حكم وركړ. ځيني ديني عالمان په دې نظروه چې ترڅو دكعبې شريفي كوم شی ونه لوېږي. يا د هغې دكوم ځای ترميم ته ډېر سخت ضرورت پېښ نه سي. نو د هغې د تعظيم دا تقاضاده چې نه دې ترميمېږي اونه دې بدلېږي. خو چې چت يې ښه وكتی، نو ځيني لرگي مات سوي وه او ولوېدل، نو يې د هغو پرځای نوي لرگي وركړه او گردسره يې د پخوا په شان جوړكړه. د يوولسمي پېړۍ په لومړيوكي دكعبې په شامي دېوال كي درز پيداسو چې په 1019 س.كال كي ډېرسو. نو عثماني سلطان احمد خان د سلطان محمد زوي دكعبې د نړولو اراده وكړه او و يې پتېيل چې دكعبې يوه ډبره به په سرو زرو او بله به په سپينو زرو وپوښي. خو ديني عالمانو له دې كاره منع كړاو ورته وېې ويل چې دكعبې د دې درزونو چاره په يوه كمر بند كېږي. نو سلطان احمد خان د اتيا زرو دينارو په بيه د ژړو د پيتل كمربند چې په سرو زرو پوښلی وو ورته جوړ كړ. په 1045س.كال كي د مكې د امير په وړانديز، د عثماني پاچا لخوا، رضوان بيگ معمار دكعبې شريفي د ترميم د چارو د تر سره كولو لپاره، مكې ته ورغی، دكعبې د ترميم چاري يې ترسره كړې اود هغې بام يې د مرمرپه نوو ډبرو فرش كړ. په 1073س.كال كي دكعبې د چت د يوه لرگي د ماتېدوله امله د هغه بيا ترميم ته اړتيا وليدل سوه چې د جدې د والي سليمان بيگ ترڅارني لاندي دكعبې د چت د ماتو اوخرابو لرگيو پرځای نوي لرگي وركړه سول. په 1099س. كال كي دكعبې د بام هغه لرگين مېخونه كوم چې دكعبې پوښ په بندېدی، خراب سوي او نوي كېدو ته يې اړتيا پيداسوې وه. محمد بيگ نومي معمار له جدې څخه غټې غټې تختې وغوښتې، يو چوكاټ يې ځني جوړكړاو دكعبې پربام يې د دېوالونو پر پای كار نصب كړ او دكعبې پوښ يې په وتاړه. د 1106س. كال په حسن حسين ( محرم الحرام ) كي دكعبې د چت هغه لرگی چې خراب سوی وو، بدل كړه سو. د 1109س. كال د حسن حسين په مياشت كي بيا دكعبې ځيني وران سوي لرگي بدل كړی سول او دكعبې دننه زينه له سره جوړه سوه. چې اووه پلې يې د مرمر له ډبرو او نوري يې د يوډول كلك لرگي څخه جوړي سوې. كله چې داكار د لومړۍ خور ( ربيع الاول ) په مياشت كي بشپړ سو، د جدې والي په همدې مناسبت څلوېښت وزگړي حلال كړل او پربې وزلو يې ووېشل او څه نغدي پيسې يې هم خيرات كړې. په 1295س. كال كي دكعبې شريفي پربام د مرمرد ډبرو نوی فرش ووهل سو. په 1297س. كي د چت ځيني لرگي بدل سول او فرش يې هم نوی كړه سو. په1316س.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال کي د بام د مرمر ډبرو په فرش کي څه درزونه پیدا سول چې د هغو له امله دکعبې دننه اوبه ننوتلې، او دغه درزونه د اهاکو، سمیټو او هګیو د سپینو په یو ډول سره ګډه سوې مساله بندکړی سول .

185ـ د کعبې شریفې سدانت ( خدمت )

دکعبې شریفې سدانت عبارت دی د هغې د دروازې د پرانیستلو، تړلو،کلي ساتلو، دروازه وانی اوخدمت څخه. دغه خدمت لکه چې په دې بحث کي به څرګنده سي په بني شیبه وو پوري اړه لري. او دوی ته د خدای او رسول لخوا سپارل سوی او بل چا ته نه سي سپارل کېدای. ( دکعبې تولیت، د مکې امارت او اسماعیل ) تر سر لیك لاندي مو وویل چې: لوی څښتن د کعبې تولیت اوخدمت او د مکې او د نورو ملکونو د امارت چارې حضرت اسماعیل ته وسپارلې، چې بیا د هغه زوی نابت د هغه ځای ناستی سو. او بیا د هغه په مورنۍ نیکه مضاض د بیت الله شریفي متولي سو. بیا عمالقه وو، جرهمو او خزاعه وو د کعبې د خدمت چارې سمبالولې. بیا د یمن واکمن اسعد تبع الحمیري کعبې ته پوښ ورکړ او د لومړی ځل لپاره یې په کعبه کي دروازه هم نصب کړه او قلف یې هم ور واچاوه. خو دا نه ده معلومه چې د دې قلف کلي به د چا چا سره وه. خو په تاریخونوکي چې څرګنده ده، هغه دا ده چې تر تبع وروسته ډېر پخوا دکعبې د قلف کلي د حُلیل خُزاعي سره وه، کوم چې د کعبې متولي او د مکې واکمن وو. بیا هغه دا کلي خپلي لور حبٰی ته وسپارل، بیا هغې خپل مېړه قُصیٌ ته وسپارل. ځیني وایي چې حبٰی وویل چې زه د کعبې د سدانت ( خدمت ) چارې نه سم سمبالولای، ځکه یې دکعبې کلي خپل ورور ابو عبشان ته ورکړه، خو هغه شرابخور وو او د کعبې کلي یې پرقصي په یوه کوچني مشك شرابو خرڅه کړه. په هرصورت لکه چې د " قصي بن کلاب " تر سر لیك لاندي مو وویل د بیت الله تولیت قصي ته ورسېدی. قصي په خپل ژوند کي د حجابت، سقایاَ رفاده، ندوه، لواء، قیاده او ځیني داسي نوري اړانې جوړي کړې. او کله چې سپین ږیرتوب ته ورسېدی هغه یې د خپلو زامنو ترمنځ ووېشلې او د حجابت او څه نوري دندي یې خپل مشر زوی عبد الدار ته ورکړې او د کعبې کلي یې هم ور وسپارل. بیا عبد الدار د حجابت چارې خپل زوی عثمان ته وسپارلې. بیا دغه دنده د هغه زوی عبد العزٰی، بیا د عبد العزٰی زوی ابو طلحه عبد الله او د ابو طلحه عبد الله ترمړیني وروسته د هغه زوی طلحه ته او د طلحه ترمړیني وروسته د هغه زوی عثمان ته ورسېده. بیا لکه څنګه چې مو ( دکعبې کلي بیرته عثمان ته ورکول ) ترسرلیك لاندي وویل د مکې ترفتحې وروسته رسول دغه دنده هماغسي د پخوا په شان عثمان ته وسپارل. څنګه چې عثمان د رسول سره مدینې منورې ته ولاړی، دغه دنده یې خپل د اکا زوی شیبه بن عثمان بن ابي طلحه ته وسپارل چې تر نن مهاله د کعبې حجابت د همدغه شیبه په کورنۍ کي پاته دی. د شیبه پلارعثمان چې د طلحه ورور او د ابي طلحه عبد الله زوی وو د احد په جګړه کي د مشرکینو بیرغ لېږداوه اوکافر ومړ او شیبه د مکې ترفتحې وروسته مسلمان سو. د کعبې د اوسنیو خادمانو ( شیبیونو ) د توکم لړۍ همدغه شیبه بن عثمان بن ابي طلحه ته رسیږي.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**